# العروة الوثقی

د سید جمال الدین افغاني د نړیوالې غونډې
دده د اتیایم تلین په ویاړ
کابل ۱۳۵۵ ش

مؤلف: سید جمال الدین افغان
مترجم: قاضی عبیدالله



پښتو ټولنه
۱۳۵۵



شرق نابغه افغانی سیدجمال الدین



شیخ محمد عبده دالعروة الوثقی دجریدی مسوول مدیر ·

العدد الاول | السنة الاولى

مدير السياسة
جمال الدين الحسيني الافغاني
DIRECTEUR POLITIQUE
GEMAL-ED-DIN EL-AFGHAN

ترسل الجريدة الى جميع الجهات الشرقية مجانا

قد عينت اجرة للبريد خمسة فرنكات في السنة
ان تيسر جمعها

# العروة الوثقى

لا انفصام لها

LE LIEN INDISSOLUBLE

المحرر الاول
الشيخ محمد عبده
REDACTEUR EN CHEF
CHEICK MOHAMED ABDO.

من شاء ان يبعث الينا بتحارير او رسائل
في اي موضوع كان رغبة نشرها في
الجريدة او التنبيه على امر مهم فليرسلها الى
ادارة الجريدة بهذا العنوان
6, rue Martel, à Paris

جريدة سياسية ادبية

تصدر يوم الخميس

يوم الخميس في ١٥ جمادى الاول سنة ١٣٠١ | ١٣ مارس سنة ١٨٨٤

بسم الله الرحمن الرحيم . ربنا عليك توكلنا واليك انبنا واليك المصير . هذا ما تمده العناية الالهية من قول الحق متعلقا باحوال الشرق وعلى الله التكل في نجاح العمل .

خفيت مذاهب الطامعين ازمانا ثم ظهرت . بسدلت على طرق ربما لاتنكرها الانفس ثم التوت . اوغل الاقويا من الامم في سيرهم بالضعفاء حتى تجاوزوا بيدآء الفكر وتعدوا البابهم حتى العليم من انفسهم وخرجوا بهم عن محيط النظر وبلغوا بهم من الضيم حدا لاتحمله النفوس البشرية .

ذهب اقوام الى ما يسوله الوهم ويغري بشيطان الخيال التي تبعث لدفع ما لا يطاق اذا قام بتدبيرها قيم عليها ومدبر لسيرها لايكفي في توقيف سريانها او محو آثارها قهر ذلك القيم واهلاك ذلك المدبر فان العلة ما دامت موجودة لاتزال آثارها تصعد رهتها فان ذهب قيم خلفه آخر اوسع منه خبرة وانفذ بصيرة . نعم يمكن تخفيف الاثر او ازالته بازالة علته ورفع اسبابه

جرت عادة الامم ان تأنف من الخضوع لمن يباينها في الاخلاق والعادات والمشارب وان لم يكلفها بزائد عما كانت تدين به لمن هو على شاكلتها فكيف بها اذا حملها ما لا طاقة لها به . لا ريب انها تستنكره وان كانت تشكره وكلما

ثقلوها وشدوا عليها بما لا تألفه فعارت البابها والزموها بما ليس في قدرتها فا شمعت عليه قواها وحضروا من شوكة المنازع تحت اسم العدالة ليمشوا وكل ذلك وسيلة لنيل المطمع فكانت الحركة العرابية المشوّه فاتخذوها ذريعة لما كانوا له طالبين فاندفع بهم سيل المصائب بل طوفان المصاعب على تلك البلاد وعموا الوجع لا اريب ولكن اخطاء الظن وعموا بما لم ينالوا لم تكد تخمد تلك الحركة في بادي النظر حتى خلفتها حركة اخرى وخرج ناب كان مستوردا وقام قائم بدعوة لها المكانة الاولى في نفوس المسلمين بل هي بقية آمالهم ولا ندري الان ماذا تستتبعه هذه الحركة الجديدة وربما يوجد من بعد ذلك ان

دالعروة الوثقى دجريدى دلومړى گڼى لومړى مخ .

# فهرست


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه | الف |
| ۲ | دمترجم له خوا | لومړی |
| ۳ | دمدون مقدمه | ۱ |
| ۴ | دجریدې پرانستنه | ۳۱ |
| ۵ | داجریده او دتګلاره یې | ۳۲ |
| ۶ | دقوم او داسلامی دین پالنه | ۳٦ |
| ۷ | داسلامی ټولنې پخوانی ... | ۵۳ |

٨ نصرانت، اسلام او .... ٧١

٩ دمسلمانانو ځای پرځای ... ٨٣

١٠ تعصب ٩٦

١١ قضا او قدر ١١١

١٢ ښه او تیټ خویونه او ... ١٢٦

١٣ اسلامي یووالی ١٣٠


١٣ اسلامي یووالی ١٣٠


١٤ یووالی او پربل مشري کول ١٥١

١٥ دامید او دلویې غوښتنه ١٦٣

١٦ ددولت اشخاص او ... ١٧٥

١٧ درښتینې ستاینې په ... ١٨٣

١٨ شرف ١٩٢

١٩ ټولنه اودمستبد حاکم واك ٢٠١

٢٠ له پښتنوسره یووالی ته ... ٢٠٤

٢١ په مومنانو باندې ... ٢٠٩

٢٢ دهیواد دساتلو اسباب ٢١٥

٢٣ په ملتونو کې دخدای (ج) ... ٢٣٤

٢٤ وهم ٢٤٥

٢٥ بې زړه توب ٢٥٦

٢٦ په سوډان کې دانګریز ... ٢٦٤

٢٧ یوه بله خبره ٢٧٣

# العروة الوثقى

د غټو لارښوونکو او مصلحو حکیمانو

سید جمال الدین افغان

او شیخ محمد عبده

رحمت الله علیهما

راټولوونکی او خپروونکی: محمد جمال
په مصر کی د اهلی کتابخانې خاوند
محرم الحرام ۱۳۴۶ هـ ق - ۱۹۲۷ عیسوی کال

د قاضی عبیدالله ترجمه

پښتو ټولنه

دخیړنیار محمدعارف غروال

او

پاکی محمد

په

اهتمام

چاپ شو

# سریزه

نن سبا چی د افغانی سید جمال الدین د مړینې اتیایم تلین لمانځل کیږی د هغې مقصد له یوې خوا د یوه نومیالی هیوادوال او ناستو ختیځ وال د خدمتونو یادونه او ستاینه ده او له بلې خوا د دې ستر مفکر او مبارز شخصیت له افکارو سره اشنایی او د هغو څخه د ټولنې د ویښتیا او پرمختیا د پاره ګټه اخیستنه ده .

افغانی د داسې عصر زیږنده دی چی له یوه پلوه په ختیځ کې د کورني استبداد اور په لمبو و، او له بل پلوه استعمار د امپریالیزم بڼه غوره کوله او ځینی لویدیځ قوتونه د پانګولی وروستي پړاوته نژدې کیدل . له همدې امله ' افغانی جمال الدین په دوو جبهو کې مبارزه کوله: له کورنی استبداد او بهرني ښکیلاکګرسره .

افغانی د پرله پسې انقلاب پرخواو . د ده پيغام ټولو ختيځ والو او په تيره مسلمانانو ته
چې اکثريې دفقر، ناروغی، اوبيسوادی په لومه کی ښکېل وو — متوجه و .

ده مسلمانانو ته د يووالی، پرځان ويسا، د کهتری له احساس څخه د ځان ژغورنې،
د پرمختيا غوښتنې ، دخپلو کلتوری ارزښتونو دساتنې ، اوله عياشی اوتجمل خوښونې
څخه د ډډه کولو توصيه کوله .

افغانی جمال، په حقيقت کی، دختيځ جمال و. له شرق څخه راوخوت رڼا يې ترغربه
پورې خپره شوه . دی هغه وخت راوخوت چې شرقيان د غفلت په درانه خوب ويده وو.
افغانی به له ډېر وسبارز وو روسته دخپل ژوند په پای کی د خوشحال خان خټک دغه
ناره تکرار کړی وي :

په بل غشی تو پک هيڅ ويشتلی نه يم

که ويشتلی يم خوبيا په خپل تو پک يم

سيد جمال الدين لکه څوسره چې داستعمار دستر گوا غزی و، هماغسې دمطلق العنانه
واکمنو په زړو کې لکه لکه غشی و. له دې څخه ښکاريږی چې کو رنی استثمار هميشه
د زاړه يانوی استعمار سره ملگری دی. دوی دواړو دحسينی جمال الدين دمبا رزو
دشنډولو د پاره لاسونه سره يو کړی وو. هغه ډيوه چې دجمال په واسطه بله شوې و ه ،
لاتراوسه روښانه ده . اوس چې دافغانی په کور دجمهوريت لمر راختلی دی، داباوری
خبره ده چې افغانستان به پرمخ ځی، ختيځ به د پرمختګ لوړو پړ اوونو ته رسيږی، اوزړی
به دسولې ، برابری ، وروروگلوی اونيکمرغی غېږ کی ژوند کوی .

خيږ نوال محمد صديق رو هـی
دپښتو ټولنی رئيس

# د مترجم لـه خوا

## دوه دری خبری

څرنګه چې د نولسمې او شلمې پېړۍ ځینې اختراعات انسان پـــه تعجب کی اچوی چې مخترع به یې څوك او څنګه شخص ؤ. څنګـــه ما غزء او فکر ؤ چې د غسې یو نااشناخه یې ډګر ته راوویستل. تر دې پورې چې د غه اختراع د ځینو په سترګو کې د عادا تو شلول بریښی•

همداسې په عالم کی د لو یو انسانا نو هغه لوېچارې چې د پوهانو او عاقلانو افکار یې په ځان پسې راښکلی وی، فکری نړی یې په بل مخ اړولی وی او اغیزی یې پر له پسې تل تر تله څرګندی شوې وی او لانورې هم پسی څرګندیږی ، انسان په حیرت کې اچوی چـــې د غسې انسان به څنګه یو سو ر په څنګه کو رکی زیږولی او په څه توګه به یې په غیږکی ګرځولی او لوی کړی وی؟ د څنګه هبوا د په خاورو، اوبو او هواکی به یې وده موندلی وی او په څنګه یوې کو رنۍ کی به غټ شوی وی؟ د څنګه یو پلار د پامار نی لاندې

په رو زل شو ی وی؟ د څنګه ښو ونکی په ښو ونی سر ه به یې رنا اخیستی وی او په‌های کی به‌یې د نړ ی په مخ د نا پوهی او بیخبر ی تو رتم ځیر ی کړ ی ، خلک به یې ویښ کړ ی او په سمه لار به یې روان کړ ی وی.

دد غه را زلو یو اونو ابغو څخه‌یو حضر ت علامه‌سیدجمال الدین افغانی رحمت‌الله علیه دی چې د شر ق د آزادی لو مړنی محرك او د اوسنی نهضت لو مړ نی موسس دی. که‌څه‌هم په نړ ی کی ددوی شهرت او د ستاینی لو ړمقام یو ه زمانه مخکی یو ا زې د پو هنی او ادب او د سیا ست په ډ ګر کی ښکاره ؤ او هغو ی پر ې خبر وو. مګر د ی دوو روستنیو خبر و ددوی بشپړ ستر مقام په نړ ی کی لا پسی ډ یر وخلکو او په تیر ه بیا په ا فغانستا ن کی تولولو یو ، کوچنیو ، ښارو الو ، کلیو الوپو هانو او خلکو ته وښو د .

۱ – د پښتو ټولنې له‌خوا په(  ) کال کی ددوی د تلین دود په ځای کو ل .

۲ – د افغانستان ددولت له‌خوا په(۱۳۲۳) کال کې افغانستـــــان ته ددوی د تابوت راوړ ل .

همدا خبر ې او انګازی وی چې‌زما پښانه مینه او عقید ه یې د سید صا حب سر ه څو چند ه کړ ه او دا سی ارزو و ه چې کا شکی یو ځل سی د دوی ا ثاراو په تېر ه بیا ددوی مشهو ره جر یده ( العر وة ـ الو ثقی ) کتلی وا ی .

لیکن‌د ار ا ته ناشو نی ارزوښکا رید ه ځکه چې د سید صا حب دتشخیص شخصیت په نسبت با ندې ز مو ږ د هېوا د هر لیکوال

پخپل وار سره به د غو دوو وختونو کې هیڅ کومه نیمګړتیاو نه کړه ،
او ددوی د هر راز محاسنو او فضایلو څخه یې یو څه وویل. لیکن
د ده العروة الوثقی او یا یې کومه بله مقابله او اثر دنمونې به
توګه څېړنه شو. نو له دې امله د لیدلو او کتلو څخه بې
نا امیده وم او ګومان مې کاوه چې سره له دومره تینګې مینې او
اړیکې نه چې تول شرقیان او بیا مونږ افغانان یې ورسره لرو
العروة الوثقی چیرې را ونه ویله ، نو ثابته ده چې لکه پخپلـــــه
ددوې ودروح سره یو ځای نړۍ څخه پاسنی عالم ته الوتلی او هلته میشته شوې وی.

همدا وه چې خدای دغه زما په نظر محال ، ممکن بلکه واقع راوښود
او خپله ورکه العروة الوثقې مې په دې ډول وموندله چې
د ۱۳۳۱ کال په وزګارو ورځو کې د یوځو ملګرو سره د
پیاوړي مولوي صاحب رحمت الله احمدزی د لیدلو له پاره (چې
د اسد یې په مدرسه کې مدرس و) بلخ ته لاړم. زمونږ یو ملګري
د مولوي صاحب نه وغوښتل چې د اخلاص په سورة باندې
د ابن سینا تفسیر راوړي. مولوي صاحب هم چې یو پښتون سړی و
او غوښتل یې چې د مېلمنو سره به پښتو و پالی او هر امر یې منلی وی ،
نو په ډېره بیړه کوټه ته لاړ او یو کتاب یې راوړ. ګوروچې
د تفسیر په ځای العروة الوثقی راوختله.

په دغه وخت کې زه د ډېرې خوشحالی نه په ځان پوه شوی نه
یم چې ما به د مولوي صاحب نه څومره تشکر کړی وی او څومره
ښکېنه به یې ما پر ځان اخیستی وی. خو دومره ویلای شم چې
ددې کتاب د مینې په لړ کې د شپې لمسخی زما څخه یو دوړوکتوب

غوندې وضعیت هم وشو. هغه دا چې د خوب په وخت کې مې دغه کتاب له ځان سره یو ځای خملاوه هیڅ زړه مې نه کېده دغه ګرانه لیلی چې زه یې د خوب سره سودې را په دې خوا د لیدلو ارمانجن وم، یوه شېبه هم که په خوب کې وی او که په ویښه له ما څخه جلا شی. خیر خو د ځان سره مې راوړه او په کتلو یې بوخت شوم، رښتیا چې د دې سبارکی جریدې هره مقاله او د دې ښکلی اصطلاح سره هر فصل او هره جمله یې ماته د یوې قیمتي ملغلرې حیثیت درلود او په کتلو یې هیڅ نه مړېدم.

یو څو ورځې وروسته یې چې ډېر خوند راکړ، نو د ځان سره مې وویل چې د دې کتاب څخه یوازې خوند اخیستل کومه ځوانی نه ده نو لازمه ده چې دا ډېر خوږ او خوندور اثر خپلو، خپلوانو خوږو یارانو، سپېڅلو مسلمانانو، د آزادۍ مینانو او داسې کسانو ته پښتو شوی وړاندې کړم چې د سید صاحب په مینه کې رښتینی وی او غواړی چې قدم په قدم د دوی په نظریاتو پسې لاړ شی.

د دې کتاب په پښتو کولو کې پر مالوی باعث دا شو چې یوازې زموږ په ملک کې نه بلکه په ټول شرق کې د ډېر پخوا راهیسې دا رواج دی چې په ستاینه کې د ډېر اغراق نه کار اخلو. نو ما ویل هسې نه چې د سید صاحب په شان کې څوک د دغه راز افراط او د حد نه اوښتې مبالغې تو هم وکړی. نو که موږ هرې خواته سترګې واړوو نو نه په پخوانیو او نه په وروستنیو کې د پوهنی سیاست او یادونو رو حیثیاتو په لحاظ داسې یو څوک وو ینو چې د هغه شخصیت تر دغه حده پورې منلی شوی وی، چې د نیمې پېړۍ نه وروسته یوازې د ده تابوت ته د خپلو او پردیو

له‌خوا دوسره تجليل، د رناوي ،شاندارستړي مه شي او هر کلئ شوي دي چې تاريخ يې ساري نه شي سو ندلای.

ليکن که څوك د سيد صاحب د غې جر يدې ته وګوري نو ښکه يقين به يې راشي هر څه‌چې ددوي په شان کي ويل شوي اوليکل شوي دي ، داټول پرځاى ، بلکه لالږ دي. او د غه اوصاف او ښيګڼې د دوي اوددوي د پياوړي اوسلى شاګرد شيخ محمد عبده په ذات کي شته.

دد غو ستايلو ښېړ مصداق په دغه ښکلي ګټور اثر کي په ذاسې توګه‌سو ندلای شي چې د دوي د ښېړ شخصيت د پاره يولوى سند، يو غښتلى حجت اويو څرګند برهان شي او په عين اليقين سره ورڅخي راوځي د آزادۍ په لاركي د هنديانو دخوکالو قرباني هرډول کړاوزغمل اود سراومال نه تېرېدل اوپه پاى کي د هند نيمه قاره د آزادۍ نعمت ته رسېدل د سيد صاحب دلارښو د نو نتيجه ده.

اندونيزيا هم ددوي د ويښولو د بركت نه د آزادو دولتونو په صف کي ځاى ونيو تركيه‌يې پخپلو وينا واو كنفرانسو نو سره څرګ وبه كړه او پنځه كاله يې مخصوصاً تركي ز لمي پوهان وروزل چې د ځان غوښتنى او استبدا د ييرغ پکى راښکته کړ ي او نتيجه يې دا شوه چې د خلکو له خوا ټاکلى نن يوملي حکومت چليږي او له دې کبله نن په اسلامي هېوادوکي غښتلى ده.

ايران چې نن په‌ښه‌و ودرېدو اوخپله ملي غښتليا يې ډګرته راوويستله او بيا يې دخپل تاريخي نوم نه کار واخيست او د تېلو اوملي پانګو واګي يې پخپل لاس کي ونيولې او په پوره

میږ انه‌یې تیر ی کوونکي اوپر دي له خپلی خاورې نه وویستل دا ټو له د سید صاحب د تبلیغاتو اغیزه وه.

په مصر کی‌چې کومې وروستني پیښې‌را غلی‌او د سویز کانال مسئلی ته په ټینګه و دربدل اوتل دا راز پریکړې او روچې مصر یان غواړی خپلی ټولې چارې په خپل لاس کی ونیسی. همدا سی د سوډان مسئله هم‌ده دا هر یو ددوی د تحریکاتو امواج او څپې دي چې یوه په بله پسی جو تیږ ی.

خپل ځان ته چې ګوروا‌و‌په سو ړ کی د خپلو اکی دسینی ټینګو لو نه نیو لی، تر ننه پو رې چې د پښتو نستان د آزادی مسئله ده او سو ړ و رته په ټینګه سره د حکو ست تر څنګ ملا تړلی ولاړ یو او دا مو یوه مهمه ملی ارزو ده، دا هم د شرق د عمو می نهضت په سلسله کښې د سید صاحب د مجا هد ې اغیزه بولو.

حتی زه ویلی شم چې د شر ق په د غوټولو یاد شو یو هېوادو کی به پو ها ن ددې‌څخه کوم انکارونه کړ ی چې ګو ندې ددوی په مملکت کی هر څو سره پو هنی او‌سیاسی او اقتصادی او نو ر ګټو ر تحو لات چې راغلی وی او یا ورخ په ورځ پکی را تلو نکی وی، ددې ټو لو لوسړ نی بنو ونکی او محر ك د سید صاحب نه پر ته بل څو ك نه دی او مصر یا ن په دی قایل دی. ځکه ددې جر یدې د مجمو عی سر ه یې خپل تقر یر ونه په دې شا هد ي وایی. که د چا پکی کوم شك وی، نو پخپله دی دا جر یده وګو ری او قا نع به شی.

په دې جر یده کی پو هنه، سیاست، ادب، تا ریخ، اجتماعیات اخلاق، عقاید او فلسفه ټول شته. د پا ك قر ان ا یتونه او نبو ی

احادیث یې پکې په داسې توګه سره لګولي دي چې ته‌به‌وایې د همدې مور د له پاره راغلي دي.

دا جریده د راټولونکی (مدون) له خوا په دوه برخو ویشل شوې ده. یوه یې د مقالاتو او فصلونو په نامه او بله یې د اخبار په نامه ده. او س تر یوې اوږدې لوړنۍ برخه (مقالات) تر جمه شول. خدای (ج) دې وکړي چې د پښتو ټولنې په توجه سره چې غواړي په پښتو سره ګټور آثار وباسي، دا برخه یې چاپ شي نو که بیا ددوی خوښه وه نو وروستنۍ برخه به یې هم ترجمه کړو چې هغه د سیاست په عالم کې د لوړنۍ برخې څخه لا ډېر اهمیت لري.

په پای کې وایو چې دا کتاب دې خدای زموږ د نیمګړتیا و د بشپړید و او نیکمرغۍ سبب وګرځوي او زموږ کارونه دې سم کړي او سم دې خدای نه کړي او نه‌دې شوي وي. د خدای نه په هر وخت کې د ښو ګټور وچارو سرسته غواړو.

قاضي عبیدالله — مزارشریف

د استالفیانو کندی. د سلواغې ۲۸

۱۳۳۱ ش کال.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## د مدون مقدمه

الحمدلله رب العلمین و الصلوة والسلام علی سیدنا محمد و آله و صحبه اجمعین

اما بعد :

بېشکه چې اسلامی شرقی عالم د ډېرې مودې راهیسې ناروغ او د علاج لاندې دی چې یو مورخ به یې علاج او درمل وشی او نژدې ده چې د دغسې دوو غټو نومونو په برکت سره نیکمرغی او لوړوالی ته ورسیږی. دې دواړو د زمانو او پېړیو ترمنځ یو داسې فصل او بېلتون راوستی دی چې اوس ترې ځرګنده نښه او علامه جوړه شوې ده. لکه څرنګه چې د یوې قبیلې او بلې قبیلې ترمنځ او یا لکه د یو او بل ملت او یا لکه د نړۍ د یوې برخې تاریخ چې د بلې برخې د تاریخ سره بېلتون او بېلوالی لری.

دغه دوه غښتلو نه سید جمال الدین افغاني او شیخ محمد عبده رحمة الله علیهما دي. چې د شرق د وروستنی زماني نهضت د دوی څخه پیدا شوی دی او د اسلامي اصلاح برکت دوی ته منسوب دی. ځکه چې د همدې دواړو افکار او نظریات وو چې د اسلامي نړۍ د خلکو په عقلونو کې یې رڼا واچوله او تحریک یې کړل. همدوی دواړه وو چې شرقي فکر یې د خطا څخه وګرځاوه او شرقیانو ته یې د ژوندانه بیلې بیلې ( دیني ، اجتماعي او سیاسي ) لارې وښودلې.

ددوی د ملغلرو خزانه او د پوهې امانت ځای او د فکرونو د مجلو بانۍ همدا مجله وه چې د فرانسې په پایتخت ( پاریس ) کې یې خپره کړې وه او نوم یې ورته العروة الوثقی ایښی ؤ.

دا رښوتیا هیڅ وخت نه شو او رڼا یې تر ننه پورې هماغسې خلنده او روښانه ده چې د دغو دواړو لویو لارښوونکو روحونو ته یې پلوشې رسیږي. په شرق کې داسې یو ادیب لیکوال او پوه به نه وي چې د دې مجلې به یې د فکر په تیا کلو کې اغیزه نه وي کړې، په ادب کې به یې د ځینو ګانو او ملغلرو څخه ګټه اخیستې نه وي او په آثارو کتابونو کې به یې ددې مجلې د مفاخرو څخه استفاده کړې نه وي.

له دې کبله ما پر ځان لازمه وګڼله چې اسلامي عالم ته د دې مجلې په بشپړه ډول په مخکې کولو په ذریعه خدمت وکړم او مقالې او خبرونه یې یو هم پرې نه ږدم.

ځکه چې دا مجله اوس د یو ثابت تاریخ حق لري. د کوم داسې سیاست حق نه چې خلک یې کومې بلې خوا ته اړوي او ګوتې پکې وهي بیا هم

سو بڼنه ا جا زه و شو ه چې یو څه یې خپره کړ واو یو څه بر خه یې پریښودو .

زه د خدای (ج) نه هیله کو م او خدای چارې پای ته ر سو ی چې ددې نهضت د ودانۍ سر ه سې یو څه سرسته کړ ی و ی او دا د ب سینا نو ته سې یو داسې اړ خ څرګند کړ ی وی چې ته ر و خت و رځنی پټ واو څیړ نه یې پکی نه شو ه کو لا ی .

## د سید جمال الدین افغانی ژوند ګلوي

د شیخ مصطفی عبدالرزاق په قلـــم

هغو کسانو چې د سید جما ل الدین ژو ند ګلوي بیان کړ ی د ه ، ټو ل په دې متفق دی چې اصلی نو م یې محمد جما ل الدین او د پلا ر نو م یې صفدر دی . کو مو کسانو چې په عر بی ژ به دی معر فی کړ ی دی نو دد ه د پلار نو م یې اړ و لی او د صفد ر پر ځای یې «صفتر» لیکلی دی . صفدر (۱) فارسی تر کیب دئ چې د حضر ت علی (ر ض) یو لقب دی او د (صف) او (د ر) د کلمو نه مر کب د ی . د (صف) کلمه عربی او د (د ر) کلمه فا ر سی د ه چې د (د ریدن) څخه اخیستل شو ې د ه چې د شلو لو او یا د و یشتلو معنی لر ی .

په د ی کتا ب کی هم چا ا ختلا ف نه د ی کړ ی چې جمال الدین په ۱۲۵۴ھ = ۱۸۳۸—۱۸۳۹م کی زیږ یدلی دی .

---

(۱) ددې کلمې معنی ، صف شلو و نکی او یا صف و یشتو نکی د ه ، نو دد ې معنی له مخی حیدر هم چې د حضر ت علی (ر ض) یو لقب د ی ، د قبیلې شلو و نکی او یا د قبیلې و یشتو نکی دی .

دا کلیمه هم ددو ه تو ر و (حی) او (د ر) د کلمو نه مر کبه ده چې (حی) د قبیلې په معنی او (در) په هما غه معنی د ی چې پاس ذ کر شو ه .

جمال الدين په اسعد آباد نوسی خای کی زیږېدلی دی چې د کونړ د سیمې یو کلی دی او د کابل حکومت پرې جاري دی د هغه وخت علوم یې په کابل کی بای ته رسولی دی په هیواد کی یو یې لویې کورنۍ ته منسوب دی او مذهبا حنفي دی چې نسب یې سیدعلی ترمذی ته رسیږی چې په پای کی د الحری حسین بن علی بن ابي طالب ته رسیږی.

سید یو کلی حقیقت دی چې صورت یې د هرچا په زړه کی د هغه د ذهن د تو ان سره سم خلېدلی دی. او یا لکه یو روحی حقیقت دی چې هر کنونکی ته په بیلابیله څېره څرګند شوی دی.

پلاریې د ده روزنې ته ډېره ښه جه وکړه او د غې روزنې د ده د فطری قوت له کبله په ده باندې ښه اغیزه وکړه، د عربي، شرعي او عقلي علومو او د ریاضي فنونو او فطری طب او تشریح درسونه یې پای ته ورسول. د غه ټول فنون او علوم یې د هغو ځایو نو د سرو جې طریقې سره سم د پیاوړو استادانو څخه ولوستل. ده په اته کلنۍ کی په لوست پیل وکړ او په اتلس کلنۍ کی یې د غه ټول علوم او فنون بشپړ کړل. جارج کوتشي وایي چې: سیدجمال الدین د زلمیتوب په وخت کی په عسکري مسلک پوری سر بوط ټول فنون هم زده کړل.

کله چې یې درسونه بشپړ کړل، نو هند ته لاړ او هلته یو کال پاتې شو. په د غه موده کی یې اروپایي علوم او رواجونه زده کړل. وروسته د حج دادا کولو په نیت حجاز ته لاړ او یو کال د عربو په ښارونو کی وګرځېد په ۱۲۷۳ هـ = ۱۸۵۷ م کال کی مکی ته لاړ

بیا بیرته افغانستان ته راغی او د امیر دوست محمد خان په خدمت کی منتظم مشر شو او لوړه رتبه یې ورنه ورکړه . امیر په ځینو غزاگانو کی له ځان سره ملګری کړ . کله چې دغه امیر مړ شو ، نو جمال الدین د محمد اعظم خان ملګرتیا غوره کړه .

محمد اعظم خان دخپل کشرورور شیر علیخان سره جګړه وکړه چې د افغانستان تخت یې د انګریزانو په مرسته نیولی ؤ . سید د محمد اعظم خان سره په جګړه کی یو ځای مرسته کوله او دمحمد اعظم خان د لښکر و د قوماندانانو د مشر قوماندان ؤ چې د خپل زیات لیاقت او کفایت له کبله د نورو نه ممتاز شو ، لیکن دمحمد اعظم خان په زړه کی ورځخه ویره پیدا شوه ، هسی نه چې تخت رانه واخلی ، نو دده خبرو ته به یې غوږ نه اینښود .

کله چې محمد اعظم خان د امیر شیر علیخان له لاسه ماتی وکړه ، نو دواړه یو ځای هندته لاړل او په دغه وخت کی هند د اغتشاشونو له کبله خوټکید ، نو انګریزی حکومت نه د ې کبله نورهم په ډار کی شو چې داوړ د سید جمال الدین له خوا لا پسی تازه نه شی ، نو سید یې د کوسې ځوانه چی راغلی و ، په هماغه پلو بیرته د هند ځخه ویوست .

امیر شیر علیخان د سید د شهرت له کبله ډاړه نه واوسید هم د امیر په دغه وسوسه پوه شو ، نو د حج اداکولو اجازه یې تری واخیستله او د خپل یو نوکر ( ابوتراب ) په ملګرتیا د هند په لور وخوځید .

کله چې د هند سرحدته ورسیدنو د هند حکومت ورته شاندار هرکلی

او ستړی مه شی وویل، لیکن د دې وخت له پاره یې په هند کې هرې نه ښود او د حکومت له لویو اشخاصو نه پرته یې هرچاته له ده سره د لیدلو او کتلو اجازه ورنه کړه. په هند کې د یوې میاشتې استوګنې نه وروسته یې د کوم یو بندر څخه مخ په سویس رخصت کړ. د لارې ټول لګښت یې حکومت ورکړ. دی لومړی مصر ته لاړ او څلوېښت ورځې یې هلته تېرې کړې چې په دغو ورځو کې به جامع الازهر ته راته او د سوریې د دې ښار وعلمی طالبانو سره یې وکتل او پخپل استوګنځی کې یې ورسره د دې ښاری مرکی وکړې بیایې د حجاز د تګ نه عزم وګرځېد او په ۱۲۸۷ ه = ۱۸۷۰ م کال کې د ترکیې د دربار په طرف رهی شو.

ترکیې ته د سید د تګ نه مخکې د ده د شهرت انګازې هلته رسېدلې وې او د لویانو او وزیرانو زړونه د ده پوهې او فضل ته راماتشوي وو، او یو تر بله یې یادونه کېده کله چې ترکیې ته ورسېد نو هلته د ادب او پوهې د خاوندانو سره یو ځای شو او د شپږو میاشتونـــه وروسته د صدر اعظم عالی پاشا په خواهش سره د معارف د مجلس غړی شو نو موړی صدراعظم هم د سید د نصیحتونو او افکارو حق ادا کړ او سید ورته د پوهنې د تعمیم لارې چارې وښودلې. لیکن د مجلس ملګرو یې ورسره موافقه ونه کړه، ځکه چې د هغو لاروچارو څخه یوه لار هغه وه چې د هغې زمانې شیخ الاسلام حسن افندی فهمی ته پرې کینه وزغله ځکه چې د غې لارې دده رزق او ګټو ته زیان پېښاوه نو د اکینه یې ورته تل په زړه کې ساتله تر څو چې د ۱۲۸۷ ه کال د روژې میاشت راورسېده او د هغه ځای

د پوهنتون مدیر د سیدنه خواهش وکړ چې د صنایعو په تشویق کې یوه وینا خلکو ته واوروی. د دې کنفرانس او ریدلو ته د ډیرو لوړو طبقو ډیر خلک راغونډ شوی وو.

سید پخپله وینا کې انسانی ژوند یو ژوندی بدن سره مشابه کړ او ویې ویل چې هر صنعت د بدن د یو غړی په شان دی. بیایې وویل چې د همدې نه دا نسانی ټولنه غې جسم جوړیږي او هیڅ جسم بې ساه ژوندنه شي کولای نو ددې جسم ساه یانبوت وی او یا حکمت. په دې ځای کې شیخ الاسلام خوشحال شو او ددې له پاره پلمه په لاس ورغله چې د حق پر ځای باطل ودروی او خپل مطلب ته ورسیږی او د سید نه کسات واخلی، نو دا خبره یې په خلکو کې خپره کړه چې سیدجمال الدین وایي: نبوت صنعت دی او دلیل یې دا راوړچې په صناعتو پورې سر بوطی وینا کې یې دغه خبره کړې ده. بیا یې د جوماتونو واعظین ورته ولمسول چې خلکو ته وواییی: سید پخپله وینا کې خرافات وویل او ددینی عقید وڅخه یې مخالفې خبرې وکړې په جراید وکې هم دا خبره په زوراوزور سره خپره شوه او خلک پرې خوډلی شول.

په دې وخت کې سید ته ځینو ملگرو مصلحت ورکړ چې د شیخ الاسلام دغه وضعیت وزغمی او هیڅ ونه وایی. ځکه چې زمانه د دغه راز خبرو د ورکاوی ضامنه ده او اغیزه یې له منځه وړي. لیکن جمال الدین عصبی ؤ، مزاج ئې تریخ او خپه ؤ د شیخ الاسلام سره یې لانجه پیل کړه او هغه دده مجاکمه وغوښتله چې په پای کې

لوړو مقامونو له خوا د هنګامې د سرولو له کبله امر وشو چې سید دې نور د ترکیې له خاورې ووځي.

د سید زیات ملګري باعث شول چې بېرته مصر ته لاړ شي، نو هماغه وه چې د ۱۲۸۸ هـ = ۱۸۷۱م کال په سر کې مصر ته راغی او دغه د اسمعیل زمانه وه. که څه هم دده په زړه کې نه وه مګر د ریاض پاشا پرو سعیو اسمعیل مجبور کړ چې سید ته یوه رتبه وټاکي او مصري حکومت ورته د کار په مقابل کې نه، بلکه یوازې په اعزازي توګه اکراماً په کال کې ۱۲۰۰ پونډه وټاکي.

سید د ډېرو پردیسیو او د ژوندانه په ډګرونو او جګړو کې د ډېرو مشغولیتونو نه وروسته د نیل په وادي کې د استوګنې ځای ونیو. سید جمال الدین ددې ټولو مشغولیتونو او خنډونو سره خپله مخه د لوی علمي درسونو ګرځوله، دی به چې په هر هیواد کې ګرځېده کتابونه به ورسره وو او په ډېره مینه به یې مطالعه کول چې هیڅ به پرې نه مړېده. په عربي او فارسي ژبه کې یې ټول پخواني تالیفات کتلي وو په کتابونو کې داسې نوی کتاب تري پاتې نه و چې په شرقي ژبو ترجمه شوی و.

جمال الدین نه لهواني و او نه شهواني. د وسره ملږه ډوډۍ به یې خوړله چې فقط ساه یې پرې ساتله په ورځ کې په څو ځله چای څښلو به یې قناعت کاوه او د سګرټو په څکلو عادي و. دده په پولادي زړه باندې د ښکلو ښځو او ښایسته ونجونو، کوم فریب او د غولولو هیڅ اغېزه نه شوه غورځولای.

سید جمال الدین مصر ته دا سماعیل په وروستیو اودتوفیق په لومړنیو وختونو کی راغی او دغه یو داسی وخت ؤ چې مصر په اقتصادی اجتماعی اوسیاسی مخمصه کی لوغړېده، ځکه چې له یوې خوا نه اسماعیل مسرف ؤ او توفیق ضعیف ؤ ، له بلې خوا د زړو او خوانانو تر منځ تصادم موجود ؤ. له بله پلو د سیاسی د سیسی او د پردیو لاس ؤ. دا تولی خبرې د دې سړي د کارو وسائل وګرځید ل . سړی هم داسی سړی چې بویه برخه ورته ورکول شوې وه ، نفس یې لوی . خلق یې تیښک ذکا یې داورلمبه ، حافظه یې غښتلی ، ملاحظه یې بیخی نری ، پوهنه یې طبیعی چې خوشحالی یې نه سړ اوې کېده او داسی زړورتیا یې درلوده چې وېره یې نه پېژندله ، پهلیکوالی او وینا کولو کی یې خارق العاده بلاغت درلود ، اغیزه یې ساحره او هیبت یې جلالی ؤ .دا ټولی د سید غښتلی ښکلې وې چې د ډېر و مسر واشخاصو او دلوړ و مقامو څښتنا نو او د ادب او پوهنو خاوندانو زړونه یې خپلی خوا ته را ښکلی وو. دغو خلکو به ورسره په ټهوه خانو او خصوصی خایونو کی لیدنه او کتنه کوله . سید به که په هر ځای کې ؤ هلته به د پوهنی ادب ، حکمت او د سیاست سر کی جوړې وې او ښه کره او پوه طالبان به پر ې راټول شوی وو چې یوشمېر ډېر پوه طالبان یې دازهر او سیدونکی وو. ده به دوی ته په ادب ، منطق فلسفه ، توحید ،تصوف ، دفقهی په اصولو او نجوم کی پهداسی خاص سادهټول سره درس ورکاوه چې هیڅ راز قید او تکلف به پکی نه و. خپل استوګنځی یې مدرسه وه او ازهر نه هیڅکله د مدرس پهصفت نه وتللی ، یوازې بهد جمعی په ورځ دازهر د زیارت له پاره هلته

وړته، او په خپلو شاگردانو به باعث کېده چې په لیکوالۍ او ادبي
او اجتماعي او سیاسي مقالو په لیکلو کې ډېر کار وکړي. شاگردان
به یې هم د نظر یې سره سم په دغو چارو بوختېدل. تردې پورې
چې دده په تشویق دده په مخکې راپورته شول او دادبي
نهضت لمریې په مصر کې راوخېژاوه او ددغه نهضت موسسان شول.
سید په ماسوني کې منتظم شو او په خپلو نمبرونو کې مخکې شو. بیایې
د خپلو پوهو او خیرکو طالبانو او خپلو مریدانو څخه یو وطني ډله جوړه
کړه چې د غړو شمېر یې (۳۰۰) تنو ته ورسېد او پخپله دې یې مشر ؤ.
پخپلو شاگردانو به یې د وینا کولو مشق کاوه او د خطابې
اصول به یې ورښودل او د کار له پاره به یې چمتو کول. په
دوی کې به یې د وطن پالنې، عواطف وېښول او تحریکول، ددوی
په زړونو کې به یې د آزادۍ زوندانه سره کلکه مینه او عشق روزه
او په دستوري نظم به یې پوه کول، تردې پورې چې د خپلو
زړورو او ازادی خوښوونکو شاگردانو څخه یې یو ادبي، سیاسي
او اصلاحي ډله د عمل ډگرته راووېستله او په بېړه یې په سیاسي
حرکاتو پیل وکړ.

سیدجمال الدین یو لوی سیاسي شخص ؤ چې خپلو ملگرو یې ډېر
ستر وطن پالونکی او ملت روزونکی گاڼه، مگر مخالفینو یې یو
هنگامه پیدا کوونکی او کتهمټ خطر باله.

د مخالفینو په لمسونه په ۱۲۹۶ھ = ۱۸۷۹م کال د خدیوي توفیق
له خوا امر صادر شو چې سید او دده نوکر ابوتراب دې
د مصر له خاورې نه ووځي، ځکه چې دده سیاسي کوششونو له

کله چې د انګریزي جنرال قونسل (مستر فیفان) کینه ورسره زیاته شوې وه له بلې خوا د ده فلسفي تعلیم له اسله . وج کلکتې او بې مغزه ازهریان هم پرې سره شول او ددواړو خوا و نه ورته د سیمې جوړې شوې او سید یې د مصر نه په وتلو مجبور کړ . سید په لوی سیند کې د سویس نه د (بوچیر) په لور سپور شو او د هغه ځای نه د هند حیدر اباد ته لاړ . هلته یو کال واوسید چې په دغه وخت کې یې په فارسي او پښتو ژبه باندې ډېر یادداشتونه ولیکل او په فارسي ژبه یې همدلته په دهریانو باندې د رد رساله ولیکله .

کله چې په مصر کې (عرابي) اخوند جوړ شو ، نو سید د حیدراباد نه کلکتې ته وغوښتل شو او د هند حکومت مجبور کړ چې د دغه اور ترسره کېدو پورې به په کلکته کې اوسیږي . ځکه چې انګریزي حکومت داسې اټکل کاوه چې په دغه اغتشاش کې به دده لاس وي. کله چې په مصر کې د غه اور مړ شو نو ده ته اجازه وشوه چې هر چېرې ځي ، لاړ دې شي . سید اروپا ته تلل غوره کړل او لندن ته لاړ . هلته لږې ورځې تم شو او پاریس ته لاړ هلته یې د ډېرو کلونو نه زیاته موده تېره کړه او دخپل تګ په لار کې یې د پورت سعید څخه شیخ محمد عبده ته لیک واستاوه چې زه لندن ته لاړم او دا یې هم ورڅخه وغوښتل چې زما د لیک ځواب د شرق او غرب د جریدې په عنوان باندې رالولیږه او یایې مستر بلانټ ته وسپاره ماته رسیږي .

پورته یادونه په دې دلالت کوي چې سید د هند نه لندن ته تللی دی لیکن جولدچیر په اسلامي دایرة المعارف کې د مستر براون له

توله چې هغه د مستر بلانټ نه نقلو ی دا سی لیکلی دی چې :-« سیداله هند نه امریکاته تللی دی او هلته یې څو سیا شتی په دې فکر تېر ی کړ ی د ی چې خا ن ا سر یکنی کړ ي » لیکن څو مره چې مو ږ تهمعلو مه ده دا عزم یې سر ته رسولی نه دی څکه چې مو ږ په ۱۸۸۳م کال کې سیدپه لندن کی گو رو چې هلته د لږ وخت له پا ره ختلهپدلی دی ، بیا بیر ته د خپل هغه ا شنا او امانت گر مر ید محمد عبد ه سر ه پاریس ته تللی دی چې وروسته په مصر کی مفتی شو ی د ی . دا خبر ه صحت ته نژدی ښکاری چې سید جمال الدین په ۱۸۸۳ م کال کی له لندن نه پاریس ته تللی دی ، لکه چې جا رج کوتشی هم پخپله د (شیخ جمال الدین الافغانی او د سلطا ن عبدالحمید الثا نی صاحب الجلا له الا مپر اتو ر یته د خا لتونه ) نو می رساله کی وا یې :-

« شیخ محمد عبد ه په پا ریس کی تر هغه و خته پو رې و رسر ه ملگر ی ؤ چې تر څو پو ر ې سید هلته ؤ . څر نګه چې نو مو ړ ي د سید د پیژندگلو ی په بر خه کی د هغې رسا لی په عر بی تر جمې کی لیکلی دی چې د د هر یانو په مقابل کی یې لیکلی ده . دارساله یېد ۱۸۸۳م کا ل په وروستنیو وختو کی لیکلی و ه څکه چې شیخ محمد عبده مو ر یې ته د ۱۸۸۲ م کا ل په وروستنیو وختو نو کی شر ل شو ی د ی اوله یو کال نه وروسته د خپل استاد په بلنه پاریس ته تللی دی نو سید جما ل الدین د ۱۸۸۳ م کا ل په سر کی په پا ریس کی و .

او د هغه ځای فیلسو ف رینان سر ه یې لیدلی د ی لکه څنګه چې رینا ن پخپله د سیدجمال الدین په ر د کې د ۱۸۸۳ م کا ل د مې په سیا شت کی دا سی لیکنه کړ ې د ه « ماشیخ جمال الدین له د و ومیاشتو راهیسی

پېژندلې دی. دده شان راته داسې څرګند شوی دی چې ده پر لږ کسان د غسې حال لری دده لیدلو پر سابلندی ژبته ډیره اغیز کړې ده. زما او دده د بحث موضوع (د اسلام سره د علم علاقه) په سریو ن کی سنخ ته راغله.

شیخ جمال الدین یو افغانی سړی وچې خپل ځان یې په هغه غښتلی ملت پورې نښلاوه چې خاوری ته یې افغانستان ویل کېږی او د هند په حدود باندی پروت دی او خلک یې تل داسلام په برده کی د ننه ژوند کوی.

ماته ثابته شوه چې دی د ازاد فکر، لوی خوی او ډېری زړورتیا خاوند دی. زه چې دده سره خبری کوم داسې راته برېښي لکه چې د هغو پخوانیو لویو کسانو سره خبرې کوم چې زه یې پیژنم ځان راته داسې ښکاری لکه چې دابن سینا، ابن رشد او یا له داسې نورو لویانو سره ناست یم او هغوی پنځه پېړی پخوا الګیاوو چې بشریت د بندی توب نه آزاد کړی.

رینان د ۱۸۸۳ م کال د مارچ په میاشت کی داسلام او علم په شاو خوا کی ورسره مباحثه کړې وه کله چې رینان خپلې خبرې د« دیبا » په جریده کی خپری کړې، نو سید جمال الدین ددې جریدی مدیر ته په عربی ژبه ځواب ولیږه چې په فرانسوی ژبه ترجمه شو او څو هفتې وروسته خپور شو. رینان د سیدجمال الدین ځواب په ډېره غوره سالی سره ولیکه.

سیدجمال‌الدین هلته دخپلو سیاسی‌افکارو په‌خپرولو پیل‌وکړ او د اسلامی دولتونو خصوصاً دهنداو مصر په‌شئونا توکې د غربي دولتونو گوتو وهلو باندې یې د خپلو مقالو په‌ترڅ کې‌سختی حملې وکړې چې هغه به‌لویو جرایدو رااقتباس کولی او دتولو هغوسیاسی دوایرو مخه یې ځان‌ته‌راوگرځوله چې‌دشرق په‌شئوناتو باندې بوختې‌وې.

په دې ټولو برسېره په‌پاریس کی‌د(العروة الوثقی)خپرونه دده دسیاسی‌او ادبی‌لویې‌خوشحالی سبب‌شوه. داسجله په‌عربی ژبه په‌اوونی کی یو ځل خپر یده‌چې‌سیدیې‌دسیاست مدیر او شیخ محمدعبده یې‌لیکوال ؤ.دد ې خپرونی‌لگښت د(جمعیت العروة الوثقی) په‌نامه لویې‌ډلی په‌غاړه اخیستی ؤ چې ددې ډلې‌ځانگی په‌مصر او هند او نورو ختیځو اسلامی هیوادو کې وې. کاریې‌داوچې اسلامی‌دولتونه راپورته کړی او له ضعف‌نه‌یې خلاص کړی، و یې‌یې کړی او په‌خپلو شئوناتو یې‌ودروی‌په‌ترڅ کی بې داهم وه‌چې دبر تانیادولت راو پرزوی‌او دشرقی‌او داسلامی‌هیوادو څخه یې سیوری ایسته کړی.

دې جریدی‌دشرقیانو او په‌تېره‌بیادمسلمانانو په‌زړونو کی دوسره‌اغیزه وکړه چې دهیڅ واعظ وعظ او دهیڅ محرک تحریك به‌دومره اغېزه نه وی کړی.لنډه‌یې داچې‌ددې نه‌وروسته چې‌په‌شرق کی‌څومره دوطن پاللو حرکات‌او دآزادې‌غوښتنې غبرونه‌پورته شوی‌دی، هغه ټول به ددې جریدې داغېزی‌نه‌خالی نه‌وې.

داجریده په هنداو مصر کی دهرډول مصادره کولو سره مخامخ شوې د هتر دې‌پورې چې‌پټه‌په‌تیکو کی خپلو مشتر کینو ته لیږل شوې‌ده او تر دې‌حده‌پورې بندیز پرې‌لگول شوی‌وچې دمصر په یوه‌رسمی جریده

کی اعلان‌شوی ؤ :ـ دهر چاسره‌چې ،(العروة‌الوثقی)وسوندله شوه،د پنځو مصری پوندو څخه‌ذنیولی،تر پنځه و یشتو پوندو پورې‌به‌جریمه تحویلوی . په اتوسیاشتو کی ددی‌مجلې ۱۸ گڼی خپرې‌شوی‌چې‌وروستی گڼه‌یې‌د ۱۳۰۱ ه کال‌دلوی‌اختر په‌سیاشت کی مصادره شوه .

دانگلستان‌دکاږه نظر اوناوړې ځارنې له کبله د (العروة‌الوثقی) غړ کښیناست او شیخ محمدعبده پاریس پرېښود او بیر ته سوریې ته‌راغی، مگر په‌خپله‌سیدجمال‌الدین په‌اروپاکی پاتی‌شو ، کله‌به‌په‌لندن کی ؤ او کله به پاریس ته‌راغی. دپوهانو ، لیکوالو اوسیاسی اشخاصو سره به یې لیدل او کتل ا و خپلې مقالی به‌یې لویو جریدو ته ورکولی.

مستر بلانت ،سید، لارډساسبیری او لارډتچرچل‌سره راغونډکړل چې دسوډان‌په‌هغه‌اعتشاش‌باندې سره‌خبری‌وکړی‌چې مهدی راپورته‌کړی ؤ. دغه داسی ورځې وی‌چې‌دخلکو توجه ددوی خواته وه ، مگر سید دهغوی‌خبرې کله‌منلای شوې !

د ۱۳۰۳ ه کال‌په‌دریمه‌خورکی سیدد‌شاه ناصرالدین په‌بلنه ایران ته لاړاو هلته لویې مرتبی‌ته‌ورسید چې دهغه‌ځای حاکمان ، مجتهدان ، لویان به‌ورته‌ډلې ډلې راتلل اوورنه چا پیر به‌وو . سیدپه‌ماسوینې کی ځای ونیواوشاه ته له‌دې کبله شک اووېره پیداشوه چی‌جمال‌الدین په‌ایران باندې معنوی اوروحی سلطنت کوی‌اوهسی‌نه‌چې سبادده لویی اوډیره‌سینه پرخلکو اغېزه وکړی. له‌بلی‌خوا جمال لدین هم‌په‌خبره پوه‌شوچې‌شاه ، ورته په‌ښه نظرنه‌کوری، نودفارس نه‌روسیې ته‌لاړ، هلته یې د روسی مقاماتو له‌خوا ډېر درو ندهر کلی وشو. څه‌موده هلته تم شو او لویو لویو غونډو ته به‌بلل کېده او په‌روسی جرایدو کی به‌یې‌داسی مقالی‌خپرولی

چې دسیاست په‌علم کی به‌یې انګازې هرې خواته خپره لی .

بیابیرته‌پاریس‌ته‌راغی او دخپل پخوانی استوګنځی لیدلو ته لاړ. کله چې دپاریس نه‌راوګرځېد، دلارې‌په‌سنځ کی‌یې دشاه ناصرالدین سره ولیدل او شاه ورته په‌ډیرو غوړو او پستوخبرو کی فارس ته‌دبیرته راتګ بلنه ورکړه، سره‌له‌دی چې‌دشاه غلیمی ورته‌ښه څرګنده شوې‌وه. خو بیا یې هم‌دابلنه ومنله .

داخل بیاپه‌ایران کی‌تول خلك پرې‌راټول شول‌چې‌دپخواغو ندې‌د خطر احساس ترې کېده‌ځکه هغو کسانو چې دسیدسره مرکې کولې او ده به‌ورته خپل ازاد افکار او معلومات‌بیانول،نو هغوی‌هم‌ددغو خبرو په‌خپرولو کی کومه‌نیمګړې تیانه کوله.ادارو‌هم‌وسیله‌لټوله‌چې‌خپل‌اداری وضعیت ښه کړی او عدل قایم کړی او دقانون مراعات وکړی. ددی‌هڅو په‌پای کی د اصلاح نهضت پیل‌شو، لیکن صدراعظم ورسره مخالف‌ؤ او شاه یې‌دعواقبو څخه‌ویر اوه، نو شاه ته‌یې چغلی وکړه او دسید نه‌یې زړه تور کړ.

جمال‌الدین هم‌دمرکز نه‌ووت او دشاه «عبدالعظیم» ته‌لاړ چې‌دتهران په‌شل کیلو متری کی‌پروت دی‌او یو مقدس ځای دی .لیکن دلته هم خوشی او هوسا کښېنناست بلکه دلته‌هم د ظلمیو ضابطانو پورې‌دمنورینو مختلفی ډلې دسیددلیدلو له‌پاره‌شاه‌عبدالعظیم ته‌وررروانی وې .

شاه ناصرالدین ددې‌نه‌وډارشو چې‌دغه‌حرکت به‌په‌پای کی‌د ده مطلق العنان سلطنت‌واړوی ،نو په سیدجمال‌الدین پسی‌یې پنځه‌سوه مسلح سپاره ولېږل . په‌دغه وخت کی‌سیدپه‌کټ کی‌ناروغه‌پروت ؤ‌چې دغه‌عسکر ورته راورسیدل او دهغو نه‌پنځوسو سپرو دناروغی په‌حال کی‌دایران د حدودو څخه ووېست او دعراق خاورې ته‌داخل شو. جمال‌الدین په

بصره کې تر هغه وخته پورې تم شو چې د ناروغۍ نه ښه شو. تل به يې د خپلو ملګرو سره په پارس کې سرسته کوله او د ليکلو له لارې به يې په دوی کې د مېړانې روح او چټاوه او د دوی زړونه به يې د وطن پالنې په رڼا رڼول او د هغو خلکو احساسات به يې پاړول چې د شاه له خوا به خوړېدلي وو.

د فارس حکومت په ۱۸۹۰ م کال د تماکو د حق امتياز يوې انګرېزي شرکت ته ورکړ، سيد جمال الدين دغه وخت غنيمت وګاڼه، نو د مجتهدانو مشر ميرزا حسين شيرازي ته يې يو ليک ولېږه چې د دغه کار له امله يې د حکومت عيب او بد پکې ليکلي وو. چې دا کار د وطن د بهايي په ضرر او د غليمانو په ګټه دی.

د دې ليک اغيزه دا شوه چې شيرازي مجتهد فتوی ورکړه، تر څو پورې چې حکومت د دې کار څخه ونه ګرځي، د تماکو څکول حرام دي.

په پای کې حکومت مجبور شو چې د دغه امتياز د ورکولو څخه ډډه وکړي او شرکت ته عوض او مجرايي ورکړي. په همدې توګه به فارس کې د ازادۍ او د وطني چارو د اصلاح غږ زياتېده چې خبره د شاه ناصر الدين ...

سيد بل ځل بيا په ۱۸۹۲ م کال کې لندن ته لاړ او هلته مياشتې يې هلته تېرې کړې. سيد خپله ټوله توجه او همت د شاه ناصر الدين سره جګړې ته وقف کړ او د قلم او ژبې د وارو په قوت سره يې د استبدادي حکومت د ظلم او تېري نه د فارس د خلکو خلاصون وغوښت. هلته يې د «ضيأ الخافقين» په نامه يوه مياشتنۍ مجله راوويستله چې په عربي او انګرېزي ژبو به خپرېدله. په دې کار باندې د مجلې د ټولو کارکوونکو څخه دی زيات خوشحال ؤ.

د ترکيې پاچا سلطان عبدالحميد د خپل سفير په واسطه سيد جمال الدين ته يو د ټکي نه ډک ليک ولېږه او خپل دربار ته يې وغوښت، ليکن سيد ونه منله او عذر يې وغوښت ليکن سلطان دويم ليک ورولېږه چې په هغه کې يې ډېره غوړه مالي

او پښتې خبرې لیکلې وې سید ورته په ځواب کې ولیکل چې زه ستاسو جلالتماب
او د لوی خاوند بلنې ته لبیک وایم ، خو په دې شرط چې ستا سو له لیدلو نه
وروسته اجازه را کړه شي چې بېرته اروپا ته لاړ شم .

جمال الدین قسطنطنیې ته لاړ او سلطان عبدالحمید وغولاوه . یو ښکلی ځای یې
ورته جوړ کړی و چې په جګ ځای باندې و دانې یې له ورو یه معلومېده چې د ( یلدز )
ماڼۍ نه لیرې نه وه . دمیاشتې یې ورته پنځه او یا ترکي پونډه وټاکل .

سید جمال الدین د ترکیې په دربار کې پنځه کاله تېر کړل «او په ظاهري
مهرباني او تګی سره یې پرې دومره شپې او ورځې واړولې او دومره دسیسې
یې ورته جوړې کړې وې چې پای یې هیڅ معلوم نه و .

دیلدز د ماڼۍ خلکو به ورسره یو ځای شپې تېرولې او ډېری زاري به یې
ورته کولې چې د باندې سفر کولو ته یې پرې نه ږدی ، نو پاتې عمر
یې هم په تګی برګی هلته وساته .» دغه وینا د یو جرمني سیاح وه چې سید یې په
۱۸۹۶ م کال کې هلته لیدلی و .

سید جمال الدین د ۱۸۹۷ م کال د مارچ د میاشتې په نهمه نېټه په ۱۲ بجو او
۱۳ دقیقو د ېټو خوږو له کبله مړ شو . د ده له مړینې نه وروسته سلطان په بېړه
سره د ماڼۍ ځینې موظف کسان ورولېږل چې د ده ټولې پاڼې او مولفات یې
راټول کړی او یو یې سی .

ډېر ایرانیان او نور هغه کسان چې د سید حالات څیړی په دې خبره
ټینګار کوی چې مړینه یې طبیعي نه وه او په خوله کې یې کومه زهرجنه ماده
ورڅخول شوې وه او داسې حالت ور پېښ شوی وچې د سرطان ناروغی ته
ورته و . داسې ویل کیږی چې دا کار (ابو الهدی) کړی و .

دسید د مړه کېدو نه وروسته سلطان امر وکړ چې په دوو ساعتونو کې

دی ښخ شي نو دده جنازه يې ددې وېرې له کبله چې دده د سلګرو له خوا کوم بغاوت پورته نه شي د يو لوی پوليسو په حمايت او څارنه کې واخيسته او خاورو ته وسپارل شوه ځکه چې دده سلګري دده د سملاسي مړينې په علتونو باندې شکمن شوي وو.

سيدجمال الدين په دې توګه مړ شو او په دې ډول يې د جنازې مشايعت وشو. دده يو ممتاز او موثر شخص په توګه د اسلامي ختيځ په پېښو کې شل کاله عمر تېر کړ چې په دې اندازه دده په زمانه کې بل هيچا د شرق په پېښو کې دومره برخه نه ده اخيستې.

لنډه دا چې د وړوکتوب د وخت نه يې خپل ژوند په بېلو بېلو هېوادونو کې تېر کړ. عربي هېوادونه مصر او ترکيه يې وليدل، په افغانستان، فارس او هند کې يې استوګنه وکړه او د افغانستان د حکومت سره د زلميتوب په وخت کې يو ځای شو او د هغه ځای په داخلي جګړو کې يې ورسره برخه واخيسته. په ټولو ختيځو هېوادو کې يې د نهضت حرکات پيل کړل او د ډېرو اروپايي مملکتونو پايتختونه يې وليدل. په جرايدو کې يې مقالې خپرې کړې د غونډيدنو په ځايونو کې يې وېناګانې وکړې او د ادب، پوهنې او سياست د خاوندانو سره يو ځای شو او سر کې يې ورسره وکړې انګريزانو د مصر او ځينو نورو ځايونو څخه وشاړه او د (العروة الوثقى) مجله يې ورته په خپله زانګو کې مړه کړه او داسې منځونه يې ترې چاپېر کړل چې دا پته يې معلومه نه شوه چې العروة الوثقى څه شوه؟.

ددې خبرو له کبله سيدجمال الدين خپل ځان په يو هېواد پورې هم ونه نښلاوه چې ګوندې زه يوازې ددې يو هېواد يم او نه دده په اجتماعي مذهب کې په دې معنی د وطن پالنې فکر رانه نوت! له همدې کبله د انګرېزانو مخالفت

و رسره پيد اشو او دی‌هم د يو ډېر کلك غليم په‌خير ددوی سخې‌ته‌و دربد او په دې لار کی يې خپل ژوندپای ته‌ورساوه.

سيدجمال‌الدين په‌ار و پايی هېوادونو کی پرسختګ او آزادی و ليدله‌او په‌هغو ختيځو هېوادونو کی يې‌چې ده‌ليدلی‌وو، تيتوالی‌او دپرديو نفوذ او دکورنی استبدادی حکومت دظلم‌او تيری اغيزه‌يې پکی‌وليده، نو دې‌ته‌يې فکرشو چې دغه هېوادونه هم‌په‌مجموعی توګه‌او هم‌بيلابيل راويښ او راپورته کړی، او په‌تېره‌بيا ځرنګه‌چې‌داسلامی‌ختيځو هېوادو سره يې ډېره مينه‌لرله. نو غوښتل يې‌چې‌ټول سره‌يوکړی او په‌يوسزی‌يې سره‌وتړی.

دده‌په‌فکر په‌دې‌هيوادو کی دنهضت اساس‌داو چې لوسړی‌يې‌د پردي و اك‌نه‌خلاص کړی‌او بيايې په‌داخل کی‌داستبداد ی حکومت نه آزاد کړی. اوورو سته ددی‌هېوادو ترمنځ داسی يووالی ټينګ کړی‌چې يو تربله سره سرسته وکړ ای‌شی‌چې‌له‌دې‌امله به‌هر و سرو غښتلی‌او دقوت‌خاوندان شی.لکه‌ځنګه چې‌استادبراون وايی :

«دسيدجمال‌الدين تاريخ‌او په‌نوی عصر کی دټولې ختيځې مسئلې تاريخ سره يوشی‌دی. په‌دې کی‌دافغانستان او هند تاريخ داخل‌دی‌او په‌يوې‌ډېرې خاصې وجهی سره‌دترکيې ،مصر او ايران تاريخ پکی ځای لری .په‌دې دريوو روستيو هېوادو کی به‌دده اغېزه تل‌ژوندی پاتی‌وي.

کله‌چې دسيدجمال‌الدين قبر په‌استانی کی ونړيد او له سترګوولويد، نو ورته ستر کېن ا سريکايي راغی او بيرته يې ښه سزبوت او ښکلی جوړ کړ او بيايې راځرګندکړ، دسيدله پاره‌همدابس ده‌چې‌دده افکار دده‌له‌مړينې نه‌ورو سته اوډظلم او استبداد او دمرګ نه وروسته په استانی کی ژوندی‌ولاړدی او دده داستراحت پرځای (قبر) رون‌ځليږی .

دجمال الدین دلو یو الی او لوړ والی له پاره دابس دی چې دی د نوی ختیځ په‌تاریخ کی دازادی دځراغ لوسړی بلو ونکی او دازادی په‌لار کی لو سړنی شهیددی. »

## دشیخ محمد عبده پیژندګلوي

### دشیخ مصطفی عبدالرزاق په قلم

دشیخ محمدعبده دپلار نوم عبده‌خیر الدین دی. محمدعبده دشبر اخیت دسر کز په‌یو کلی (نصو یه کندی) په‌مدیر یت بحیر ی کی‌زېږ بدلی‌دی. پلار یی‌دو نی نه‌دنګ او په وجو دغښتلی ؤ. دنښی‌و یشتلو او اس‌زغلو لو په کا رو کی ډېر ماهر ؤ او ښه مشق یې‌پکی کړ ی ؤ. په‌خپل قوت‌او سړ انی‌سره‌یې مال او غیرت لاپسی ډېر شول. مو ریې جتینه‌نومېده او ډېره زر کو نده شوې‌وه، یوازی یوزوی یې‌دو رلود.

جتینه اصلادشیشیر دسیمی وه‌چې په‌مدیر یت غر بیه کی د سنطی سر کز دی. هغه‌و خت‌چې‌دشیخ محمدعبده پلار دځینو حا کمانو له‌خوا له‌خپل‌خایه شړ ل شوی ؤ دغه‌ښځه یې‌و اخیسته.

شیخ محمد عبده په‌خپل‌ښار کی‌قرآن یاد کړ او بیا طنطاته‌لاړ او په‌جامع احمد ی کی‌یې قرآن دتجو یددقو اعدو سره‌سم‌زده کړ او نو ر دعلم په‌زده کړه پسی و نه‌ګر ځېد په‌دی فکر خپل ښارته‌بیر ته راستو ن شو چې‌د کر نی په کار بوخت شی. دغه‌و خت نو ی‌زلمیتوب ته‌رسېدلی‌و او واده یې‌و کړ. دپلار دماما ګنی‌ځخه یو‌متصو ف‌سړ ی‌ؤ چې‌شیخ در و یش خضر یې‌باله او شیخ محمدعبده یې هم‌متصو ف کړ اودعلم دز ده کړ ې له‌پاره یې‌بیر ته‌طنطاته‌و لېږ ه. څه مو ده و ر و سته‌شیخ محمدعبده‌ازهرته‌لاړ او‌هلته‌یې‌دلو یو علماو و څخه‌په مختلفوعلو مو کی په‌در س‌لوستلو پیل‌و کړ چې په‌ځنګ کې‌یې په‌تصوف هم‌بو خت‌ؤ ، په‌همدی‌وخت کې

سيدجمال‌الدين افغاني مصر ته‌راغي، نو دی‌دسيددرسونو ته‌ورغی او و رسره يوځای شو او په‌لږ وخت کی‌دسيددملګر توب او علومو په‌برکت د ده‌ګټور اثار ډګرته راووتل .

په‌تصوف کی‌يې (رسالةالواردات) وليکله .بيايې دعقايدعضديه په‌شرح باندې چې‌تصوواني ليکلی‌ده، په‌توحيد کی يوه حاشيه وليکله او په‌جرايدو کی يې د مقالو په‌ليکلو پيل‌وکړ چې‌دخلکو دتوجه وړوګرځيدې .
دازمو ينی نه وروسته‌يې دعالمية دويم نمبر بری‌ليک واخيست .
په‌ازمو ينه کی‌ځرګنده شوه‌چې‌دهغو ازادو افکاروله کبله يې استادان ډېر خوروی چې‌دسيداستاد نه‌يې رنګ اواغيزه اخيستی ده.وروسته‌دخديوی مدرسی د ژبو په‌ځانګه او دارالعلوم کی مدرس مقرر شو . کله چې سيد جمال‌الدين دمصر نه‌وشړل‌شو ،نو دغه‌شاګرديې هم‌معزول شو او امرورته وشو چې د ښارنه د باندې لاړ نه‌شی. ديوځه موده‌وروسته وبخښل شو او درسمی ژورنال (رسمی‌پښتو )ليکونکی وټاکل شو چې بيادليکونکی ډلی‌په مشر توب‌مقررشو .
په همدې وخت کی‌دعرابی‌اخ وډېشځړه‌پورته شوه‌او عبده دنورو مشرانو سره‌يوځای ددې‌شخړی دپورته کولو په‌تورمحاکمه شو او بيا حکم پری وشو چې درې کاله او درې مياشتی دې‌دخپل هيوادنه‌جلاوی.
نو څه‌وخت يې‌په‌سوريه کی تېر کړ . بيادخپل استاد دافغاني سيدپه‌بلنه‌اروپا ته لاړاو په‌ګډه سره‌يې‌د(العروةالوثقی )جريده‌راو يستله چې‌داتو مياشتو نه زياته موده ونه‌چلېده .

بياعبده‌بيروت‌ته‌لاړاو په‌سلطاني مدرسه کی داستاد په‌حيث‌مقررشواو د تدريس په‌ترڅ کی‌په‌تاليف اوليکلو هم بوخت‌شو ،او (رسالةالتوحيد)يې

و لیکله او دسیدجمال‌الدین رساله‌یې چې‌ددهر یانو په‌ر دکی‌یې‌لیکلی‌وه‌په عر بی تر جمه کړه او هم‌یې‌پر (نهج البلاغةاو مقامات‌بدیع الز مان الهمدانی) باندې شر حې و لیکلی او هم‌یې په‌جر ایدو کی ډېر ې‌مقالی خپر ې‌شو ی.

په بیر و ت کی‌یې‌دلو سر نی ښځی‌له‌سر ینی نه‌و روسته بله‌ښځه و کړ ه څه مو ده‌و ر و سته دبیر و ت نه‌بیر ته‌مصر ته‌را غی او محلی‌قاضی مقر ر شو .بیا داستیناف په‌محکمه کی‌مستشار و بیا کل‌شو. دځو مو دې‌نه‌و ر و سته داز هر دادارې مجلس غړ ی‌شو او ددې‌مجلس لو مړ نی بنسټ‌دده په‌لاس کېښو دل‌شو، ده پکی‌داصلاحی‌رسول‌غو ندې و ظیفه سرته‌ور سو له‌څه‌و خت و ر و سته‌دټو ل مصر لو ی مفتی‌مقر ر شو او دمړ ینی‌تر و خته پوری‌په‌دغه‌منصب‌پاتی‌شو .

کله‌چې‌ده‌ته‌دافتامنصب‌و ر کړ شو ، نو دشر عی محا کمو په‌اصلاح کی‌یې یو ه‌لو یه‌ایکنه و کړ ه او یو ه‌شانداره فتاو ی‌یی‌خپره کړ ه .د «عم» سپار ی او د ځینو نو ر و سو ر تو نو او مشکلو ایتو نو تفسیر یې و لیکه او مجلو او جر ید و ته یې‌په‌دینی‌او نو ر و مو ضو عاتو کې پخې‌او کره مقالی و لیکلی .

که‌څه هم‌په‌دې‌لنډبیان کی‌دشیخ محمدعبده‌دتار یخ نه‌دده منصبو نه او مولفا ت و ښو دل‌شو ل خو بیاهم‌دده‌دلو یو الی ټو لې‌خو او ې‌څر ګندی شو ی‌نه‌دی ، ځکه‌چې منصبونه او کتابو نه دشیخ محمدعبده‌بشپړ لو یو الی ا و عظمت پو ره نه‌شی‌ښو دلای. که‌څه‌هم‌د هر چاسره‌چې یو ځای شو ی‌دی، هغه‌ته‌یې‌دشر افت او عظمت‌و ړ مه ر سېدلی ده .

په‌دایمی‌توګه دیو عالم نو م‌او یادو نه دهغه‌د کتابو نو په‌و اسطه ژوندی پاتی کیږ ی چې‌دخپلی‌سیر انې او پو هې‌نښی‌یې‌پکی پر یښې‌و ی او دیو متخصص او فنکار نو م دهغه‌فنی اثر تل‌تر تله ساتی.

څو ک‌چې‌مصلح وی‌خپل‌قو م ته‌داصلاح او سمو ن دا سی نقشه جو ړ و ی

چې د هغه نه چا سخکې لیدلې نه وې مصلح غواړي چې دغې نقشې ته د خلکو زړونه په داسې ډول راواړوي چې په هغې کې د ده د نفس او عزم پیاوړتیا او پېژندله شي او خدای (ج) ورکړې سپېڅلې انه او الهام یې پکې څرګند شي.

شیخ محمد عبده دوسره زړور مصلح ؤ چې د بشر په نزد باندې یې د یو داسې لوی هیکل رنګول او ودانول غوښتل چې خلک یې دین بولي. دی پخپل دین باندې د ټولو دیندارو مسلمانانو نه زیات ټینګ ولاړ ؤ. دی د ټولو خلکو نه په دین باندې زیات غیرت ناک ؤ او د هغو ټولو شیانو ساتندوی ؤ چې د دین په نامه یادېدل او له دې لارې یې شرق ته دیني ښېګڼې ورانديکړې.

محمد عبده خپل غږ لوسړی په ازهر کې پورته کړ او د ازهر د استادانو په منځ کې یې انګازې پورته شوې، که څه هم په هغه وخت کې دی یو لوی عالم نه ګڼل کېده، لیکن هر و مر و متعصب هم نه و سره ددې چې د برضر ربه و رته ورسید، لیکن بیا یې هم د هیڅ راز ضرر رسېدلو پروا نه لرله.

شیخ محمد عبده په و نه، نه ټیټ او نه ډېر لوړ و، بلکه منځنی او یا لږ څه جګ ؤ پوزه یې ډکه، وجود یې پلو نه او پلی یې کلکی وی. په تګ کې ښکلی او خوشحاله ښکاره کېده د ده د رانه مخ ښکلو پلو شو د ده ښایست او هیبت لا پسې زیات کړی ؤ.

د ده د ښایسته ګردې، سپینې، حیانا کې او ځلانده زیری، رانه وچولی، د مخ ګونجو او پراخې و ینښتو سر څخه داسې ښکاریده چې داسړی د عقل، ارادی او خیر کتیا خاوند دی.

د ده غټو برابرو سترګو یو سحر ناک بریښ درلود چې زړه به یې د هیبت او خوشحالۍ نه ډک او. تا به و یل چې د ده داټول ښایست او خوږ غږ د یو لښکر په څېر د ده د فضیلت د پاره ګوماړل شوی دی.

هغه وخت چې شیخ محمد عبده از هر ته راغی نو زه هم دا ز هر یو کشر محصل



PROPERTY OF ACKU 1507

وماو زمو د استادان دې خدای (ج) و بخښي، ده ته يې په ښه نظر نه کتل او موږ ته به يې دده غندنه کوله، ځکه چې هغوی دی د دين له پاره يو خطر باله او دده سلکرۍ يې يو ه بلا گڼله. زموږ کوچنی عقلونه به يې په دې راز خبر و غولول که څه هم دی زما د پلار اشنا ؤ، خو کله به چې ما د غه استادو ليدل او ده د درس غږ به مې واورېد، نو د هغه ځای نه به له دې وېرې تښتېدم چې دين راڅخه يو نسي.

يو ځل د ده درس ته په دې نيت ورغلم چې د دهر يانو به څنگه ناولی ځوانه وی او زړو نه او عقلونه به يې څنگه ناپاك وی ؟!

کله چې ورسره مخامخ شوم ، نو گورم چې هغه سړی په عباسي ساني کې ناست دی او د خدای (ج) د کتاب تفسير مې وړ ځني واورېد، نو د هغی و رخی راهيسې مې ووېل چې: ای لويه خدايه ! که چيرې د هر يت داوی، نو زه تر ټولو لوی دهري يم (شعر ).

او که چيرې د محمد (ص) داولادسره مينه لرل رفض او ښکنځل وی، نو بنی آدم او پيريان دی دواړه پر دې شاهد وی چې زه هرو مرو رافضي او ښکنځل ساريم .

شيخ محمد عبده له جسماني پلوه رشا او فطرتاً ښه غښتلی او پلو نه ؤ. پلار يې ښه ژوند درلود او داسي ښکاري چې په مور او پلار باندې ډېر گران ؤ. ځکه چې دی يې کشر زوی ؤ او په نور وزامنو کې يې ډېر پاك او سپېڅلی ؤ . لکه څنگه چې مشتاز زامن لوييږي، دی هم هغسي ازاد رو زل شوی و .

ځکه چې مشتاز زامن په پای کې د خپلو اکې ، زړو رتيا او کار کولو خاوندان شي .

د دې استاد د تصوفي اغېزې څخه څوك انكار نشي کولای، ځکه چې ده د زلميتوب خوندونه د قدسيه مزو له پاره پرېښي وو ، چې دا د خدای ( ج ) د خلکو کار دی . د نوی روژنې غوښتنه داده چې ذوقونه د حسي ښکلا په

پەفنو نو ښايسته و ی او تصو فی ر و ز نه غو اړي چې اسر ار په بدنی او ر و حی ر ياضت سر ه لطيفو ساتل شی .

ابن سيناداشارت پەړو لو يلیدي‌چې «خدای(ج)پيژ ندو نکی،پاسته،ر و ڼ مخی او خو شحاله و ی،نو خو ګ چې په حق او هر څه‌باندې خو شحاله‌و ی، نو څنګه به‌د پاسته خو ی‌خاو ندنه‌و ی؟.ځکه‌چې‌دی‌په هر څه کې‌حق‌گو ر ی . خدای(ج)پيژ ندو نکی‌ز ړه و ر و ی، ځکه‌چې‌د مر گ‌له‌و یر ی‌ځان‌په هيڅ ډو ل نه‌په څنګ کو ی.خدای(ج)پيژ ندو نکی دار ت‌لاس خاو ندان و ی ، ځکه چې دباطل او تلو نکي ميـنه‌په‌ز ړه کی‌نه‌ساتی‌او دهر ناو ړه کار څخه مخ اړو ی ځکه‌چې‌تل دحق‌په‌يادو نه ليگيا و ی .»

ددې ر از تصو فی تعليمو نو دشان‌سر ه‌ښايي‌چې‌و جدانی‌خوا و ر و ز ی او پټ‌ر از ښه‌و ساتی او خپل‌نفس ښکلی‌او ښايسته کړ ی. شيخ محمدعبده ار و مر و اخلاقاً صو فی‌و او دسيدجمال‌الدين ر و ز نی يې‌تصو فی اړ خ ،ښه ښايسته کړ ی ؤ او هغه څه‌يې‌چې‌دسفر و نو او فر انسو ی‌ژ بې دز ده کړ ی له‌لياری‌گټلی و و ، هغو دده‌ښکلالا پسی‌ز ياته کړ ې و ه .

سرحو م‌قاسم بيك‌امين دده‌په‌ستاينه کی‌ويلی‌دی:«دد ددننس سپیڅلتیا تر یوې تيا کلی‌اندا ز ی پو ر ی‌وه نژدی‌ده‌چی وو ايو انداازه‌يی نه لرله ،هررا زښيګنی‌يی خپل‌ځان خو اته‌داسی ر اښکلی لکه‌چې‌مقناطيس‌و سپنه ر اکا ږ ی . ډ ېر ز يار يې و يسته چې‌عام او خاص او هر چاته‌گټه و ر سوي‌دی د ييو ز لو ،اتيمانو ، سظلو مانو ،پر ديسانو او د هر ر از غم ز پلو له‌پار ه‌يو ډاډؤ . ده به ډ ېر ه‌مر سته داز هر يانو سر ه کو له ،ځکه چې ددوی اړتياوی د ټو لو خلکو نه ډ ېر ې وې . دوی دنوی تمدن په منځ کی و ر و سته پاتی و و او دژ و ندانه په

ډګر کې یې دخپلو ځانو څخه دفاع نه شوه کولای . دوی ته به یې خپل مالونه ورکول اوددوې چارې به یې دازهرپه واکوالانو سرته رسولې . ده په دې لارکې دو سره زیار ګاله لکه چې څوك یې دیوګران خپلوان دپاره ګالي .

ده به دداسې اړو کسانو سره همښلې وهلې چې دهته به ښه ښکاره وه چې ورسره یې بد کړې دی او یا یې ورته بد ویلي دي او ده د مخالفینو سره یې په ده پسې د کنځلو، بدوخبرواو چغلی کولو قسم خوړلی دی دغه حال او دغه لوړ خوی ده یوه ورځ هم پرې نښود.

استاذ عقیده لرله چې په بدی او مېرخی کې هېڅ ګټه نشته او هرناوړه شخص او ناوړې چارې نه سخ اړول او سترګی پټول ډېر ښه لاره ده چې دغلیمی علاج پرې کیږي او بدې چارې اصلاح کوي او سموي یې . »

شیخ محمدعبده حکومتی منصبونو ته ورسېداو په ډېرو سیاسي چارو او په علمي، ادبي او نورو چارو یې لاس پورې کړ چې په دې ټولو بر خوکې یې داسې اصلاحي فکر درلود چې نتیجه او ثمره به یې ګټوره وه او دی به پرې خوشحاله ؤ.

دی دداسې عزم خاوند ؤ چې بیرته نه راستنېداو دتکامل او سرته رسولونه پرته یې نیمګړ تیا نه پېژندله. لیکن هغه ډګر چې شیخ محمد عبده دهغه په ارتوالی او پراختیاکې، خپله خدای (ج) ورکړې روغتیا، همت، عقل او پوهنه ولګول، هغه ددینی اصلاح سیدان ؤ او ددینی اصلاح دخراغ بلوونکی شو، ځکه چې ده د هر راز اصلاح له پاره دینی اصلاح اساس ګاڼه .

ددینی اصلاح نظم یې په دریوشیانو پورې مربوط ګاڼه :-

۱- دهر راز تقلید او بندنه فکر ازادول، په دې ډول چې دعقل، برهان او

استدلال نه پر ته، بل څه ته غاړه کې نه ښودله شي چې دنيوي او ديني مشران
پکې حکم او ګوتې وهل شروع نه کړي .

۲- د دين او علم دواړو سره اشنايي او خوږه مينه ولري ، نه دا چې
په کوم ځای کې به سره يو تر بله ټکر و کړي، ځکه چې هر يو پخپل ځای کې
خپله وظيفه سرته رسوي ، يو ازي په يو باندې کار نه کيږي بلکه بشر دواړو ته
اړتيا لري .

۳- د هغو پخوانيو دلارې سرمسم د دين په معنی پوهېدل دي چې هغه وخت
لا په دين کې خلاف پيښ شوی نه ؤ او هم د ديني پوهنو لومړنيو منابعو ته هڅه
کول او مخه کول دي. د دين هغو ساده ؤ منابعو ته توجه وکړي چې پخپله د دين
خاوند موږ ته راوړي دي چې قران او په عمل کې لږ احاديث دي.

دا يو قانون دی چې زموږ د استاذ مذهب يې غواړي چې اسلام دې په
دغه ډول سره وي . څرنګه چې متواتر حديثونه لږ روايت شوي دي ، نو
ستاذ دفاتحې دسورة په تفسير کې وايي دي « د الازمه ده چې قرآن دټول
دين ستنه و بلله شي او په دين کې نور هر څو مره مذهبونه او فکر ونـــه
چې راغلي دي ، ټول دې قران ته وګرځول شي . »

له همدې کبله دشيخ مخه دقرآن تفسير ته را وګرځېده او عزم يې
وکړ چې خپل ټول ديني طاقت په همدې لارکې مصرف کړي .

داستاذ په تفسير کې يو ه لويه ښېګڼه داده چې په څېړنه او تحقيق کې يې
ښه لار غوره کړې ده او دقرآن معنی يې ددې وختونو دذ وقونو او
اړتياو سره سمه کړې ده او په دې کار کې يې دنوی فکر د لارو چارو څخه
رنګ او اغېزه اخيستې ده .

په دې کې شک نشته چې شيخ د غربي ژوندنه رنګ او اغيزه اخيستی

وه اودا اغیزه یې‌په‌شخصي اوعقلي ژوندکې هم معلومېده . ځکه چې ده فرانسوي ژبه زده کړې وه او څوځله اروپاته تللی ؤ او د اروپایانو سره یې په مصر او نوروځایو نوکی یوځای شپې اوورځې تېرې کړې‌وې او دخپلو سیاستونو اوددوی سره ناستو ولاړ وڅخه‌یې ګټه اخیستې‌وه او هم یې دهغوی دراز راز فنونو دکتابونو دکتلو نه‌استفاده کړې وه. همدا اغېزې وې‌چې دده په فکر، کتابونو او اصلاحي بلنو کې څرګندې شوې:

هیڅ یو سورخ نه شي کولای چې دشیخ محمد عبده پېژند ګلوي وکړي او دده دهغه عزت مرتبې او حرمت نه سترګې پټې کړي چې په ژوندکې دده په برخه شوي وو. ده ډېر مخالفین لرل چې ده ته یې په بده سترګه کتل او دسیسې به یې ورته جوړولې او دده په اصلاحي لارکې به یې ورته خنډونه پیداکول،لیکن هیڅ‌اد ده‌دلویوالي نه سترګې شوې پټولای او دخلکو په زړونو کې یې دده دلوړ مقام‌نه‌انکار نه شو کولای.

شیخ محمد عبده دمصر او په مصر کې دپردیو خلکو په‌از ادو ډلو کې لوړ مقام درلود او په هغوی ډېر ګران او منلی‌ؤ.دده دمشرۍ‌مقام ساري نه درلود اوتول دده لوړمقام ته قایل وو. په‌تول ختیځ کې دده دلوی والي غږ خپور شو او دخلکو دافکار ودتوجه وړوګرځېد .که چیرې ده غو ښتلای‌نو هر ومرو به ډېر بډای وای او هرومرو به یې‌خپلې محترمې مېرمنې ته یوڅه پانګه پرېښې وای چې دسپین سر توب او زړښت په وخت کې یې کار پرې کېدای‌او دبیوزلۍ نه یې بچ کړې وای،

خو ددې لار ښود استاذ روح ډېر لوی ؤ او داورته شرم ایسیده چې خپل پام د مال غونډو لوته وګرځوي . همداوه چې دښوزای په حال کې یې ژوندتېر کړ او دډېر لوی شخصیت په توګه په بې وزلۍ کې مړ شو .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## دجریدی پرانستنه

« ای زمونږ روزونکیه‌خدایه ! په‌تاموتوکل دی‌او تاته به درګرځواو تاته موبیرته درتګ دی . »

( د آیت شریف ترجمه )

دادی دخدای (ج) په مهربانۍ سره دشرق حالات‌په رښتیانی توګه بیانو و او پرخدای باندی توکل کوو چې په دی‌کار کی موبری په برخه شی .

په زمانو زمانو دطامعانو لارې پټې وی ، بیاښکاره شوې او په دی لاروېې داسې ښکاره تګ پیل کړچې دچاکړ که و رځخه نه کېده ، بیا و درېد ل :

زور ور او غښتلي ملتونه په کمزورو قومونو ورننوتل او داسې يې د پښو لاندې کړل چې فکر ورته حيران پاتې کيږي . د کمزورو پرعقلونو يې داسې سحر وکړ چې دخپلو ځانونو څخه يې بې خبره کړل . دنظام ددايرې نه يې وويستل او دبشري زغم او تحمل نه پورته ظلم او تيري يې ورباندې وکړ .

ډېر قومونه وهم تېر ويستل او دخيال شيطان وغولول ، نو په دې عقيده شول چې که څه هم دتخنيکي قوت کاريگر او خاوندان لږ وي خو بيا به هم په ډېرو باندې تل تر تله زور ور او غښتلي وي . دوی داگومان هم کوي چې که چيرې دغه ډېر وگړي سره يو شي ، بيا به هم دغه زښت ډېر په دغو بيخي لږو کی ورك او مدغم شي .

ليکن دادغسی گومان دی چې قياس يې نه شي منلای او برهان يې ايسته غورځوی ، ځکه په نړی کی چې څو سره واقعات او پېښې په پخوا زمانو او يا نژدې وختونو کی شوی دی ، دټولو نه دا ثابتيږي او په دې حکم کوی چې : که څه هم کېدای شي چې يوه وړه قبيله ديو غټ قوم په وگړو کی ورکه شي او نوم او ژبان يې بيخي پاتې نه شي ، ليکن داسې پېښه هيڅ وخت نه ده شوې چې يو لوی قوم او غټ ملت په هغو مره قوم کی ورك شي چې په شمېر کی ورسره سم وي او يادشمېر له پلوه سره يو څه نژدې نسبت ولري ، که څه هم ددغه لوی ملت قوت او زور داسې حدته رسېدلی وي چې ايله په خيال کی راتلای شي . هغه څه چې عقل پرې په ښکاره توگه حکم کوی او دتاريخ دورځې نه ترنن پورې دانسانی ټولنی جريان ورباندې شاهدی وايي دادی: کله چې غټ قومونه کمزوري شوي دی ، علت يې بې اتفاقي او يا عاقبت ته پام نه کول دي . ياله دې امله

ضعیف شوي دي چې يې دوامه هوساينه يې غوره کړې وي او يا د خو ورخو په بنه ژوندغوليدلی وی . نو بياپرې بل قوم غلبه وکړی او زور پرې را وړی نو په دغه وخت کې وخو څمړ ی او په خپل ځان پوه شی کله يې چې حوادث وسکوندي او دخوړ ونه ناهوساشی ، نويې دی ته پام شی:
څه چې په لاس کی لری ، هغه دلاسه نه وباسی او څه يې چې دلاسه وتلی دی ، هغه بير ته خپل لاس ته راوړي . لاکن هر څو مره چې فکر کوی ، د خلاصوی لاره نه موسي . نو په د غه وخت کی حقیقی قوت په ځان کی گوری . داحقیقی قوت يو تر بله دخلکو يووالی او کلك روابط ،خدايی الهام ، فطری او شرعی تعليمات دی چې دوی ته ديو والی نه پرته دبل کار لار ښو نه ، نه کوی او دا کار دهر څه نه و رته اسان دی .

د انسانی تولنې خو ی او عادت که تراخر ينی او وروستنی د رجی پورې هم خراب شی ، ليکن څرنگه چې شمېر يې ډېر دی او د يو ی پڅندل شوی تولنی دحساب لاندې راغلی دی ، نو د غه تولنه هيڅکله په ځان باندې دچاتيری او ظلم نه شی زغملای . هو کی ! دو مره تيری به و زغملای شی چې طاقت يې لری او امکان يې موجودوی ، مگر که چیری ددې حدنه واوښت ، نو داتولنه خپله قوه راغبرگوی او دلپوه نه يې زمری او دگېدړ نه يې پرانگ جوړيږی او هر وسرو دخلاصون هڅه کوی او په دې هڅه کی به ورڅخه سمه لارو رکه نه شی .

کېدای شی چې لو مړی ځل تېروځی او بېر ته راوگرځی . ځکه دغه ښو ئيدنه او تېروتنه ورته دهغه نيمگړتياو رښيی او دبياښو يدو څخه يې ساتی . تر څو په پای کی خپل مطلب ته و رسيږی او برې ورپه برخه شی.

کله چې دوس نه پو رته‌تیری‌په‌مقابل کی دیو پوخ مدبر له‌خوا حرکت پیل شی ، نو بیا و روسته هم ددغه مدبر په مغلو بېدواو وژلوسره دغه حرکت نه ځنډیږی او نه ددغه حرکت اغېزی له منځه ځی .ځکه ترڅو پورې چې علت موجودوی نو آثار یې حتماً پاتی کیږی .نو که چېری دغه مدبر له منځه لاړشی پرځای یې بل راپیدا کیږی چې دهغه‌لوسرې نه ډېر باخبره او دډېر لوی‌فکر خاوندوی .

هو کی ! کېدای شی چې دغه حرکت او اغیزه غلی غوندې‌شی او یا بیخی له منځه لاړشی خو په دې شرط چې‌علت او اسباب یې‌هم ورك‌شی.

قومونه په‌دې عادت شوی دی چې هغه چاته غاړه نه ږدی چې‌په عاداتو ،اخلاقو او دین کی ورڅخه بیل وی او کرکه‌ورڅخه کوی . که څه‌هم دوسره ځوربدلی نه وی چې دوی یې نه شی زغملای . مگر که چیری دوسره وځوریږی چې دوی‌یې نه شی زغملای ، نوشك نشته چې بیا ډېره کرکه ورڅخه کوی ، که څه هم ورته غښ بر ینښی . کله یې چې کرکه ډېره شوه نوورځنی لیری کیږی ، نوهغه وخت چې ورځنی لیری شول او هغه یې نا اشناا‌وپردی وگانه ،پخپلو منځو کی‌سره‌نږدی کیږی او هغه پردی ورته وړوکی او کوچنی بر ینښی‌او دخپلو ځانونو او خپلو هېوادونونه یې داسی غور ځوی لکه چې څوك د سپوې نه زړی غورځوی او داڅه دنه منلو خبره نه ده .

کله چې په خلکو باندې دجدنه زیات تیری وشی ، نو هغه وخت دخلکو د زړونو نه نژادی او مذهبی اختلاف‌وځی او دیووالی په‌لارکی دخطر دلیری کولو په خاطر داضروری گنی چې‌وړی مذهبی‌اونژادی

ډلې جوړې نه کړې او دداسې ډلو جوړولو نه ډډه کوی . په داسې وخت کې ددې پرځای چې دیوې ډلې په گټو پسې وگرځي ، بشري طبیعت هم داتفاق او یو والی خواته بلنه ډېره ضروري گڼي .

ایا ددې نه وروسته اوس هم کوم دتعجب ځای دی چې سوړپه دې ورځو کې دختیځ په ډېر وسیمو کې یوفکري حرکت گوروچې هره یوه‌سیمه یوازې دخپل ځان خلاصون غواړي او څومره چې دهر یوه دفکر اوفن توان رسیږي ، هڅه کوی چې خپل خپاره و اره‌قوتونه په‌داسې توگه سره راغونډ کړي چې دټولو حقوق پرې‌واخیستلا شي.

هوکې! دایو کار دی‌چې‌ښه‌نومیالی‌او سړنی‌پوه یې‌وینی کله‌چه همسرابڼ‌یې نه وینی او داسې نه شی کېدای چې سر ابڼان په‌بر هان‌سره‌قانع‌شی،بلکه څه چې زمانه دخپلو عاداتو سره سم راوړي ، هغه مستقبل دی ،بلکه‌په کوم کار چې دخدای (ج) حکم شوی وی ، هغه کېدونکی دی او دایې‌پخپل مخلوق کې سنت او عادت دی او نژدې ده چې دوی ته دخپل کار او عقیدې نتیجه ورڅرگنده شی .

په شرقیانو باندې ډېر تېرې او ظلم شوی او خپل وروستنی‌ټکی‌ته رسیدلی دی او په تېره بیاپه مسلمانانو باندې استعمارچیانو ډېر زور راوړی دی . ځکه چې‌د دوی پاچایان‌یې په ربړولو سره دتختونو نه راښکته کړل ، دهموچارو خاوندان‌وو ، دخپلو حقوقو څخه یې بې‌له کوسې پرې محروم کړل دعزت خاوندان‌یې سپك‌او خوار کړل ، لوړ خلك پکې وو چې ټيټ یې کړل ، ددوی بډایان‌یې بیوزلی کړل روغ یې ورته ناروغه کړل ،زمریان‌پکی‌وو ، بې زړه یې‌کړل او اوښ سرغان بې ځنی جوړ کړل ، او په ټولو خلکو کې داسې څوك پاتې نه شول‌چې

دحر یصانو له خوا و رته زیان و نه رسېد ، په تېره بیا ددې نو یو پیښو له کبله چې دمصر په خاو ره کې دپنځو کالو راپه دی خوا دحر یصانو له لاسه ناو لی تخمو نه شیندل شوی دی . داسی شیان یې خپلو هېو اد و ته یو ړل چې‌نه یې پژندل او عقلو نه یې و رته هك پك شو ل‌او داسی څه یې پری دپاسه و تړ ل چې و رسره آشنانه‌و واو و رته حیران شو ل او داسی څه یې پری و لګو ل چې دهغو توان یې نه درلو د. نو غاړه‌یې و رته کېښو ده او د خپلو قو تو نو په زو ر پرې راپو رته‌شو ل او دعدالت تر نامه لاندی یې دو اکمن دظلم او تیری داغز یو نه یو څه راپرې کړ ل‌چې په دې تو ګه د خپلی طمعی دحصو ل هر ه و سیله تیاره کړی .

دهمدې پېښو او چارو په پای کی ړو ند (عرابی ) حر کت پیل شو او هغه یې دخپلو غوښتنو او مقاصدو له پاره یوه و سیله ګر ځو له او په دغو ښارو نو یې د غمو نو سیلاب ، بلکه دخو اشینی تو پان‌ر او ست او ګو مان یې و کړ چې ګو ندې خپل مقصد ته و رسېدل ، لیکن‌دغه ګو مان‌یې خطا و خوت او څه یې چې غو ښتل په لاس و رنغلل .

دغه لو مړ نی حر کت به لا پر ځای درېدلی نه وی‌چې بل به و ر پسی شر و ع شی او دهغه ځای به و نیسی او هغه‌پو رې شوی‌او ر به‌بیا پر انیزی‌اودې حر کت ته‌به درابلنې له پاره یو داسی شخص‌ر اپیداشی چې‌دمسلمانا نو په زړو نو کی به دلو ړ مقام خاو ندوی او و رباندې به ډېر ګر ان وی . ځکه چې دا کار ددوی یو پاتی شوی ارمان دی : او س سو ړ نه شو و یلای‌چې کو م شیان به دانوی‌حر کت منځ ته را و لی او کله به‌داسی‌شخص‌ر اپیداشی لیکن دومره وایو چې ددغو چارو خاو ندان به یې د تلافی‌په چاره کی حیر ان وی .

هو کی ! دوی نیالگی کېښودل نو زړ او یالړ و روسته بهو رځنی سړغونی وشکوي او پمنکی به یې وخوری . ځکه چې دا داسیعواقب دی چې هیڅکله ترې هغه کسان خلاصېدای نه شی چې په دېطمع و رننوتلی وواو ډېر حریصانوو که دوی په دغه وخت کی چارې حقیقیځاوندانو او مستحقانوته پرېښی وای او دهرې پیښی علاج یې داسیکسانوته سپارلی وای چې باخبره ، پوه او دمدافعېاودګتهو په لارو چارو پوهېدلی نو هروسر و به یې خپلی ګټی او ښېګڼی پرې ساتلی وای او خوسرهګټی چېارزووای، بې له دی چې پښی یې ښویېدلی او بیرغ یېرانسکورشوی وای ، ترلاسه کړې به یې وای .

لیکن دوی ډېر لیریلاړلاو دخلکو په بې اتفاقی او خپرووروا فکارو و غولېدل او داشی دېخوانه ددوی په فکر دخلکو دوژلودپاره ډېر کاریګر عامل دی او پهدېنه پوهېږی چې که څه هم دغه مادهدوژلو تخم دی ، مګر بیرته زر تلونکی او موقتی دی او خلك ډېر په بیړه دیو والی او اتحاد داسې کاریګر تهراتلولیږی چې دمتجاوز ینو زړونه وږخخه راتېر نه شی . ځکه دظلم او تیری بلاچې دکومی ټولنېیوېبرخې ته ننوځی او یوڅه ترې روغ پاتې شی،نودپاتی شو یو کسانو روغو الی دغم زپلوله پاره یو ډاډ وګرځی او ددغو کسانوله پاره یوه داسېحایله پرده ده چې روغ کسان دخپلو غم زپلو ورونو ، خوږ حس کولای نه شی . لیکن که خوږ او تیری د ټولنی ټولو خلکو ته ورسیږی نو هرو سرو یې زړ ونه تنګیږی او نور صبر کول ورته ګران وی او په ګډه سره په هغه لار باندې ځغلی چې د دوی پکی ګټه ویاو د مقابل طرف پکی تاوان وی .

هغه بدحالت چې نن په‌مصر باندې راغلی دی، بېشکه‌چې‌ټول مسلمانان یې‌نه‌شی زغملی ،ځکه چې مصر دټولو مسلمانانو په نزد یوه هسی پاکه ځمکه‌ده‌چې په ټولو اسلامی هېوادو کی بل ځای داسی موقعیت نه‌لری. ځکه چې دادحرمینو شریفینو دروازه ده . نو که‌دادروازه په امن کی وی . نو د مسلمانانو زړونه د دې هېواد و نوله پلوه ډاډه وی او که‌نه! نو افکار به‌یې‌پر بشانه‌وی‌او داسلامی‌دیانت دیوغټ‌رکن د سلامت پاتی‌کېدو په‌سو داکی‌به‌وی .

بېشکه‌کوم خوږچه‌مصر ته‌رسېدلی‌دی، دهغو له کبله د ټولو مسمانانو لړسونو نه‌خو تکیږی‌او زړونه‌یې‌ژوبل‌شوی‌دی.نو ترڅوپوری‌چې دغه‌پرهارونه سوځی، دردونه او خوږ به‌یې خوزوی‌او هوساینی ته‌به‌یې نه‌پرېږدی او داخبره دمسلمانانو دشان سره نا اشناده ،ځکه چې ددوی دینی رابطه دنژادی‌او ژبنی رابطی نه کلکه او ټینګه ده.

ترڅوپوری‌چې‌په دوی کی‌قران لوستل کیږی‌او دایتو نو په معنی‌یې لوستونکی پوهیږی ،نوزمانه هیڅکله نه شی کولای‌چې مسلمانان تیت کړی .دالوی غم چې‌مصر ته‌راغلی دی،پټ دردونه یې راوپارول او داسی غمونه یې‌نوی‌او تازه کړل چې‌دچاپه‌فکر کی‌هم نه‌راتلل .دا خوږاو درد د مسلمانانو په‌اروا کی داسی ننوتلی دی‌لکه چې‌ددوی‌په زړونو کی دینی اعتقاد ننوتلی‌دی . دوی دتېرو پېښو دیادولو او داو سنیو دلیدلو له کبله خپله ساه په‌تکلیف سره‌و کاږی‌او مو ږ دانه شو ویلای چې دغه ساه‌و یستل به‌په‌پای کې‌زګېروی‌شی،یوغږاو کړیکه‌به‌شی او دهغو خلکو دغوږونو پردی‌به‌وشلوی‌چې حرص کاڼه کړی‌وو .

په فاتحانو او استعمارچیانو کي یوه ډله خلك و چي د دې عواقبو نه یې
ځان ساته او ویل به یې چي: زمو ږ په فتوحاتو کي د اصلاح نه پر ته بل مقصد
نشته او په عسکري سوقیاتو کي سوله دوستي پر ته بل غرض نشته او د تېرو
وسلو په استعمال کي سو یوازې دوطنونو ساتنه او د خلکو خوښي او
خوشحالي مطلب دی. دغو خلکو ځان په داسې توګه ځرګند کړ چې صورتونه
یې سره بېل او ځېرې یې یو بل ته وړ ته وې. مثلاً ویل به یې: د پاچهانو د تاج
او تخت ساتندوی یو، د هېواد و نو مدافع او د امیرانو د سرکزنو
ټینګوونکي یو. فتنې او لانجې غلي کوو. د حکومتونو مخلصان یو او خلک یې
د حکومتونو څخه نافرماني ته نه پرېږدو او د کمزورو د ښېګڼو او ګټو
او په خپله د هغوی ساتندوی یو.

نو د دوی دو یناسره سم د هرڅه نه لوسېږی د غو زورورو ته په دې تګ
لاره کي دا کتنه ضروري وه چي هیڅېرې او هیڅکله یې داسې کار کړی نه
و ای چي د دوی د سیاست د غه نرۍ پرده تر ې پورته شوې وای. چي د هغې پر دې
د شکولو له پاره یوازې تش کتل او سترګې اړول کافي وو. د وی ته په
کارو و چي ځان یې د داسې ټولنی له خورولو او ربړولو نه ساتلی وای چي
تاریخ په دې شاهد دی کله چي قهر و رغلی دی نو بل یې د سری نه نیولی
او سایې تر ې و پستلی ده، دغه زورور ه ډله دې په خپل قوتونو یاړی، سره له دې چي
په دې پو هیږ ی: که هر کله په اتفاق او سره یو شول، نو منځګړی یې هم بیر ته
مخه نه شي نیو لای او تل تر تله به قوی وی او د خپل سیاست د پر مخ بیولو له پاره
به یو تر بله سر سته کوی. قهر یدلی او پار یدلی که هر څو څلی د سرېږ یني ځایونو
ته و دانګی، څه پر وانه لري چي روغ به پاتې شي او که به سر شي. څرنګه
چي د ځان په تکلیف او ربړ باندې ډېل نه وی، نو بل هم هر و سر و ې ربړوی.

رښتیا خبره دا ده چې د حریصانو عقلونه د ځان سره ولو پردې پټ کړی دی او هغه نری غږونه نه اوري چې د هند نه ترمکې او د مکې نه ترهنده پورې رسېږي نه هغه اوږده زګېروي اوري چې د مصر نه ترمکې او له مکې نه ترهنده پورې خپاره دي او د اټول د هغو کسانو په چنغو کونو کې را غونډ شوي دي چې په خپل قوت باندې ویاړي او د هر راز تیري او ظلم نه لاس نه اخلي.

د غو وروستیو غمونو چې سرقیانو په یوه ډېر مهم ځای ورننوتلی دی، زاړه روابط یې تازه کړل او د اعتقاد په جامعې سره یې لیرې هېوادونه سره نژدې کړل، نو د عقلاو او پوهانو فکرونه یې ویښ کړل او د دوی افکار یې خپل عاقبت ته متوجه کړل او ټول هغه علتونه یې ځانته معلوم کړل چې دوی یې په دې بده ورځ اخته کړي دي، نو افکار و کې سره نژدې شول او د حق سره یو ځای شول او ویې غوښتل چې د حق علاج او د ضعف علتونه مونده کړي. او په دې هیله وخوځېدل چې د لاسه وتلې قوه بیرته ترلاسه کړي او په امید راپاڅېدل چې د نویو پېښو د راتګ په خاطر یوه داسې لار ځان ته جوړه کړي چې خپل دین او شرف یې پکې وساتل شي. دا وخت د دوی له پاره غنیمت دی او غېږه یې ورته ارته کړې ده او سمه نه ده چې دغه وخت ورځنې تېر شي. او که دغه وخت ورنه تېر هم شو، نو په غیب او پټه پرده کې، نور قوتونه هم ډېر دي او د ټولو چارو عاقبت د خدای په واک کې دی.

د دې لوړ مقصد د پاره په خو هېوادو کې په تېره بیا د مصر او هند په ښارونو کې ښې غوره ډلې جوړې شوې او په دې یې فکر وکړ چې د هر راز بري موندلو اسباب ولټوي او په هر ځای کې د یووالي له پاره کوښښ وکړي او په دې لاره کې دومره زیار وباسي چې یو ژوندی په خپل ژوند کې تر وروستۍ حده پورې په هغه شي زهیر یږي.

څرنګه چې په دې کار کې په دوی باندې لوړ ی فرض داو چې دهغه چاسره سرسته وکړي چې دهمدوی په خپر حال لري، نو دایې ښه وګڼله چې داسې یو تربله سره ټینګښت بهت کړي او دهغو خلکو سره ترو ن وکړي چې دهمدوی په خوړ و اخته شوی دي او عمومي عدالت ښه ګڼي او دارو پایا ته دتیري او ظلم کولو نه یې وساتي. دایې په ځان فرض کړې دهچې دعامې اسلامي واکمنۍ چار و ته خیر شي او دامعلومه کړي چې په دې لار کې څه شیان او چاري فرض دي او اسلام په څه باندې قایم دی .

څرنګه چې مکه مکرمه ددین دزیږیدلو او ټینګې عقیدې ځای دی او هر کال دلته دله ی حج مراسم را ځي چې دختیځ او لویدیځ خلک پکې را غونډیږي او یه سپیڅلو ځایو نو کې ، واړه ، لوی ، ښځې او بیوزلی راټولیږي، نو ددې شان فکرونو د راټولو لو له پاره غوره ښار دی چې بیانو ر وخواو ته خپر یږي .او خدای هغه چاته سمه لار ښیي چې خه ښه یې شي .

په داسې تو ګه مطلب ته رسیدل چې دخطر او وېرې نه لیري وي او برې سوند لو ته نژ دې وي لوړ ی داغو اړي چې ددې چارې بلو نکي او مشر دې په هر سپیڅلې ز ړه کې ځای ولري او دحق او ریښتیا باور دې ورباندې وکړي .

ددې له پاره چې هغو نو روو رونو ته هم ورسیږي چې دا کار او لارې و رځنې پټې وې، نو دخپلو افکار و دخپر ولو دپاره یې خو لارې و لټولې او دایې غوره وګڼله چې ددوی له پاره په دې ور ځو کې په یوه روانه او ښه ژبه جریده و باسي چې عربي ژبه ده او سر کز دې دپاریس غونډې از ادښار کې وي تر څو په دې و اسطه خپل فکرونه خپاره کړای شي او خپل غږ ونه لرې هېوادونو ته و رسوی چې ویده پرې و یښ او بې خبره پرې پوه شي. نو د افغانی

حسینی سیدجمال الدین نه‌خواهش‌وشوچې‌ددوی‌له‌پاره یوه‌دغسی جریده وباسی چې‌ددوی‌په‌مشرب‌او مذهب پسی‌روانه‌وی .

دەدغەغوښتنه پەدېره ښەتوگه ومنله،بلکه خپل غږیې پورته کړاو و یې و یل چې:داکارپه‌ماباندې‌دخپل دین‌او وطن له کبله حق‌او فرض دی او شیخ محمدعبده ته‌یې تکلیف و رکړچې‌دجریدې دلیکلو مشر دې شی، نوځکه‌چې‌سید دخپلی‌ولی خبره ومنله، نو شیخ هم دده خبره و منله او په‌ټولو احوالو کی‌پرخدای(ج)باندې‌توکل دی .

## داجریده‌او د تنگ‌لاره یې

څو مره‌چې‌ددې‌جریدې‌دوسی کیږی‌دشرقیانو له‌پاره به‌خدمت‌وکړی او هغه‌اړتیاوی به‌څرگندې کړی‌چې‌دنیمگړتیا وله کبله یې خلک غو رځیږی او بیوزلی‌کیږی او داسی لارې به‌خلکوته په‌گوته کړی‌چې په هغولارو دتنگ په‌برکت ټول‌بایللې‌شیان لاس‌ته‌راولی‌او دراتلونکو مهلکاتو نه پرې خانونه وساتلای شی .

ددې‌خبرې‌په‌ترڅ کې به‌دهغو اسبابو او علتونوسته‌ې‌او جرړې و پلټل شی‌چې شرقیان یې‌دبدمرغی خواته بیولی‌دی او دهغو پېښو علتونه به وښیی چې‌دوی یې د حیرانتیا اه گړنگونو غورځولی او لارې یې خړې او تتی شوی‌دی‌او هغه کسان هم هک‌پک‌و لاړدی چې‌خان ته دېرسیږنی اولار ښوونکی‌وایی او لارترې‌ورکه‌ده. تردې‌پورې چې لاروی په دې نه‌پوهیږی چې په دې لارکې به‌موږ ته‌له کوم پلوڅخه خطر پېښیږی ، کوم سدهشات موریږدوی او کوم‌ې و پرې‌موو ژنی .

داجریده به‌ترخپلی‌وسی پورې له‌هغو اشتباها تو او تېروتنو څخه

پردہ پورته کړی چې شتمن او دښمن ژوندخاوندان یې غولولی دی او دوی نه یې سمې لارې ورکی کړې دی. داجریده به هغه وسوسې لیری کړی چې دد غو کسانو عقلو نه یې له منځه وړی دی او دې حدته رارسیدلی دی چې د خپلو نارو غیو د درمل او علاج څخه مایوسه شوی او داسی گومان یې کړی دی چې گوندې اوس د علاج وخت تېر او خبره تر پای پورې رسېدلې ده .

داجریده به فکر ونو ته داسی خبرې وښیی چې د مقصود ټکی ته د رسېدلو له پاره د هغو سره لو یې دایرې نه چورلېد لو ته حاجت نشته ، ځکه چې د دو سره او پرده مزل تصور په همتو نو کی سستو الی او په عزمونو کی تېټوالی راولی او په دې دلیل چې د دو سره ارتی دایری تصور او خیال، مقصود ته شا گرځول دی. حال دادی چې مطلب او مقصد نژدې دی او یوځه ځیر کېدل او یوځو لنډ قدمونه اخیستل په کار دی او په هغسی اصولو سره په یو غټ قوت د موانعو او خنډونو مخنیوی لازم دی چې د شرقیانو پلرونه او مشران پری تللی دی
او دایوه داسی لاره ده چې د اروپا غښتلو ملتونو تعقیب کړې ده .

دنوی قوت د پیداکولو له پاره دو اسطولتولو هیڅ ضرورت نشته
او په هغو لارو دې روان شی چې ځینی غربی دولتونه ورباندې تللی دی ضرورت نشته چې شرقی لاداوس نه د غربی د دربدلو پر ځای و دریږی ، بلکه لازمه ده چې هغسی خیال و نه کړی . او څه چې مخکی تېر شوی دی په دې رښتیاني شاهدان دی: چاچې هغسی لار لتولی ده ، نو هغه خپل ځان او خپله ټولنه یې غولولی او ښوزلی کړی ده او په کږه لاره یې بیولې ده .

داجریده به جوته کړی چې :- که څوک په ذاتی او کسبی قواو کې یو تر بله یوشان وی، نو ټول اړیکی او سیاسی مزی ټینگولی او ساتلای شی ،

او که دو اړه سر مسم نه وی ، یو زو رو راو بل کمزو ری،وی. نو دغه رابطه ددې باعث کیږی چې کمزو ری دغښتلو له خوا ښو ی تېر کړی‌شی .

داجر یده به دپر دیو ددو ستی هغه پوستکی‌دو سره را ښه او نر ی کړ ی چې شايې هم‌تر ې ښکاره او څر گنده شی. په‌دې‌پو ټکو د غو ړه‌سالی درنکو نو ټکی پر اته دی‌او دمجاملی په‌رنگارنګ شکلو نو او ا نځو رو نو يې ر نګ کړ ی دی‌او دحر یصانو هغو نر یو نر یو لاروته بەلیکه او کر ښه و باسی چې دوی پر ې‌دغفلت‌په‌تکو تو ر و تیارو کی پټ‌ر و ان‌دی .

داجر یده‌غو اړی‌چې دهغو تو لو شیانو نه‌مدافعه‌و کړ ی‌چې تول‌شرقیان‌او په تېره بیامسلمانان پر ی‌و یشتل کیږ ی اوداسی کسان پر ې ځنیی ناو ړه تو رو نه لگوی چې‌ددو ی دچارو او حقایقو څخه‌بې‌خبره‌دی. داجر یده به د ځینو کسانو داعقیده لیر ی کړ ی چې مسلما نان تر هغه وخته پو ر ې ښا ر یتوب او مدنیت‌ته‌نه‌شی‌رسېدلای‌چې‌څو پو ر ې‌دد وی‌تر منځ هغه‌اصو ل جار ی و ی چې دخکینیو پلر و نو يې ټینګ کړ ي‌و و .

داجر یده به‌دشر قیانو او هغو عمو می سیا سی پېښو په تبلیغ کی‌سستی و نه کړ ی‌چې‌سیاسیو ن ورڅخه پخپلو سیاسی‌چارو کی کاراخلی ا و ر ښتیا او ثابته لاره يې‌غوره کړی‌وی .

داجر یده به‌تعهدو کړ ی‌چې دقو مو تر منځ عمومی را بطی ټینګی‌شی او دخلکو تر منځ یو تر بله مینه او محبت پیدا کړ ی ا و په د اسی تو گه به‌دهغو ی دگډو گټو او سمو سیاستو نو ټینګو الی و غو اړ ی چې دشر قیا نو حقو قو ته پکې زیان و نه‌رسیږ ی او نه کوم زیاتی و رباندې راشی .

ددې‌تو لو خبر و سره سره به داجر یده دخپلی ډلی ا و خپلو کار یگرو په‌مز ل او تګ پسی‌ر و انه‌و ی. که‌دوی‌غلی‌تلل، دابه څر کنده ا و ښکا ره

لاړه نه‌شي، که‌دوی په‌ژوره‌کې تلل، دابه‌په لوړه‌ونه خیژي او په‌سمه لاره به‌روانه وي‌او دخدای(ج) په‌مرسته‌به‌هغو کسانو ته لاروښيي چې دخدای(ج) په‌ازلي‌علم په‌ښه‌لارسم‌شوي‌او روان‌شوي‌وي‌او خدای‌هغه(ج) چاته سمه‌لارښيي چې خوښه يې شي.

داجریده به هغو کسانو ته ورياولېږله‌شي چې موږ يې نوم‌ونه پيژنو، چې پاچااو فقير، بډای اوبېوزلی ورنه‌هريو بېلابېل ګټه‌و اخلي. دچانوم چې‌موږ ته‌معلوم نه‌وي او غواړي‌چې‌استفاده‌وړ څخه‌وکړي، نوددې‌جريدې اداري‌ته‌دې خپل‌مشهور نوم‌او داستوګنې‌ځای‌هر راز‌چې يې خوښه وي وليکي‌او خدای(ج) مرسته‌کوونکی‌دی.



## دقوم او د اسلامي دين پالنه

که چېرې څوک د يوه قوم د وګړو حال و پلټي او د هغوی له ازو ګانو نه په سر سري او يا څېر سره ځان خبر کړي، نو کتو نکي ته څرګند يږي چې په ډېرو خلکو کې قومي تعصب او په قوم باندې د غيرت کولو روحيه شته او قومي متعصب د خپل قوم په لوړو چارو و ياړي او د کوم پلو څخه چې قوم ته يې تکليف او زيان پېښيږي نو خوابښيني کيږي او که چېرې مخه يې و نه نيول شي بې له دې نه چې پر سبب يې ځان پوه کړي او د وجدان او حالت په علت کې څېړنه و کړي، بل پر ې و ژني. له همدې کبله ډېرو حقيقت پلټونکو ګومان کړی دی چې قومي تعصب د طبيعي وجدانيا تو يوه برخه ده، مګر سو بږ د دوی د غه ګومان د حقيقت نه لېري بولو، ځکه که چېرې

دمثال په‌توگه یوورړوکی چې‌په‌یوقوم کې‌زیږېدلی وی او بیاد خپلو او پردیو له‌پېژندلو نه‌مخکی‌دبل‌قوم‌ځمکی‌ته‌تللی وی‌او هلته لوی شوی او پوه شوی‌وی‌اودخپلو زیږېدلو ځای ورته‌یادنه‌وی ،نوسو بې گور و چې په‌طبیعت کې‌یې دخپل لوسېږنی ټاټوبي کومه هڅه‌نشته او په‌زړه کې یې‌هم نه‌تیریږی‌او خپل‌پخوانی‌اولوسېږنی‌ځای ورته‌دنورو ځایونو غوندې پردی ښکاری‌او دخپل دویم ټاټوبي سره‌یې مینه اخیستې وی .

حال‌دادی‌څه‌چې‌طبیعی‌وی ،هغه‌په‌هیڅ رازنه‌اوړی،نود همدې دلیل له مخې‌سوبې دانه‌شو منلای‌چې قومی‌تعصب‌ته‌طبیعی وو ایو ، بلکه د هغو نفسی ملکاتو یوه‌برخه‌ده چې‌انسانی‌اړتیاوې یې دنفس په‌تختو اولوحو باندی ښکل کوی. ځکه‌انسان چې‌هرچېری او هرځای کی‌وی،دېری‌اړتیا وی لری او که د ښی سپیڅلی روزنې لاندې نه‌وی نو هریو د شخصی گټی لپو نی وی‌او خوندې‌یوازی خپل حق‌بولی .نو که په‌دوی کې کوم یوسرا ښ او حریص وی‌او دقوت او زورخاوندهم‌وی،نوطبعاًپه‌نورو باندې ورځخه تېری اوظلم هم کیږی .

له همدې کبله‌ځینی خلك دنورو دلاس‌څپونی شوی دی اود ډېرو پېږ یوراهیسی په‌خپلو منځو کې په‌لانجواوجگړو اخته‌شول. ترڅو په پای کې‌دې ته‌اړشول چی‌په‌بیلوبیلود رجوسره‌په‌نسبی رگو پورې ځانونه و نښلوی ترڅوچې خبره‌قوسونو ته‌ورسېده او څوڅوقوسونه ورځینی جوړشول ،لکه‌هندی، انگریزی، روسی، ترکمنی، او داسی نور .

او داو یشنی‌ددی‌له‌پاره‌منځ ته‌راغلی‌دی‌چې‌دخپلو وگړو په راغونډولو سره دنورو دتجاوز څخه خپلی گټی‌او خپل حقوق وساتی .

ډېره سوده وروسته لکه څنګه چې خپلو چاروکې دانسان عادت دی. دې قوسو نو دخپلو اړتیاو و څخه اخواهم پښې و غز ولی او په نورو یې و اکمنی پیل کړه. نو په پای کې هرقوم دبل قوم دوا ک څخه کر که و کړه او دا څکه چې په دې یې یقین راغی چې پردي هروسرو په خپل حکم چلولو کې زیاتی کوی. او که په عدل سم روان وی، نود هغو حکم منل و رته دځان سپکاوی او شرم ښکاری .

که چېری ضرورت او اړتیا دقوسی تعصب نه لاړه شی، نو لکه څنګه چې سخکینی تعصب اړتیا او ضرورت سنځ ته راوړی ؤ .

په خپله قوسی تعصب هم په دغه اړتیا او ضرورت پسی هروسر و دروسی.

دغه ضرورت او اړتیا په داسی یو حاکم باندې په اعتماد کولو سره له سینځه ځی چې دهغه **دلو** یوالی په سخ کی ټول قوسونه واړه دی او د هغه وا ک او قدرت ته وګړی با لطبع غاړه ږدی او ټول ورته یوشان وی، هغه یو داسی حاکم دی چې تر ټولو په وجود کې لوسړ نی او ځمکی او اسما نونه یې په واک کی دی .

هغه بیا د خپلو احکاسو د چلولو له پاره یو داسې څوک ټاکی چې د هغه ذات دحکمونو په منلو کې یې دټولو نورو خلکو سره یوشان او سمه برخه اخیستې وی. کله چې خلک دهغه لوړ واکمن په وجود باندې یقین وکړی او په دی باندې یې هم باور راشی چې دهغه داحکاسو چلوونکی زمو ږ سره یوشان دده احکاسو ته غاړه ږدی، نو په دغه و خت کی ددې سپېڅلی و اکمنی په خاوند باندې یې دحق په ساتلو او شر په دفع کولو کې د خلکو داډ او اعتماد پیدا کیږی او خلک نور دقوسی تعصب نه لاس اخلی او پر وایی نه ساتی.

ځکه چې نو ره کو مه اړ تیاو ر ته پاتې نه وی ، نو دقو می تعصب اغېزه له ز ړو نو
څخه و ځی او یو از ی یو لوی او قادر خدای ( ج ) ته حکم پاتې کیږ ی .

همدادلیل دی چې دټو لو و طنو نو مسلمانان له اسلامی تعصب نه پر ته له نو ر و
قو می تعصباتو نه ډډه کوی او بل هر راز تعصب پر یږ دی. ځکه کله چې
داسلامی دین په منو نکو کې اعتقاد ټینګښی، نوهغو ی بیا دقو م او خپلو انو پروانه لری
او دخاصی علاقې پر ځای په عامه علاقه پسی هڅه کوی چې هغه اسلامی عقیده ده
ځکه چې داسلامی دین اصو ل خلك یواز ی حق خدای (ج) ته رابولی او یو از ی
دانه غواړي چې خلك دې روحانیت ته مخه کړ ی او ددې ټیټ عالم څخه دی جګ او
لوړ عالم ته و خېژ ی بلکه څر نګه چې ددې ضامن دی، همدار نګه یې دبند ګانو
او خلکو تر منځ دټو لو چارو او لویو او وړ و حقوقو حدو د ټا کلی او روا ړ ی
دی او د هغه و ا کمن له پاره بې اندازه ټا کلی د ه چې په شر عی لار مسم ر و ان و ی
او حدو دټا کی. او تر دې پو رې شر طو نه یې پر ېایښی دی چې یو و ا کمن
ته تر و روستی پایې پو رې غاړه نه ایښو دله کیږ ی او نه و ا کمنی چا ته
په وراثت رسیږی په قومی او ځانی امتیاز اویا دجسم په قوت او بډایی توب سر ه رسیږ ی .
بلکه هغه چا ته رسی چې دشر یعت په احکامو خبر و ی، دچلو لو استعداد پکې
و ی او هم و ر باندې دقوم خوښه را غلی و ی .

دمسلمانانو حقیقی و ا کمن خدایي شر یعت دی چې د قو مو نو تر منځ او
دیو ې ټو لنې در ایو دغو نډو لو په بر خه کې فر ق نه کوی او نه له نو ر و نه
ددوی کوم و ا کمن ته ځانګړ ی امتیاز و جو دلر ی. هو کې! ددو مره امتیاز
خاو ندد ی چې دشر یعت په ساتلو او دفاع کې دی د نو ر و و نه مخکې وی.

هغه و یاړ چې قو مو نه او نسبو نه یې خپلی خو اته را کا ږ ی او هغه امتیاز
چې حسبو نه و رڅخه کو مه ګټه اخلی شار ع و ر ته دحقو قو ، مالو نو ،

ساگانو او د خلکو دابرو په ساتلو کی کومه اغېزه نه ده تاکلی ، بلکه دشرعی‌حقی‌رابطی‌نه‌پر ته بله‌هره رابطه دشارع په‌قول گناه گڼل شوې ده او په عصبیت باندې هر اعتماد کوونکی غندلی شوی او متعصب پړ بلل شوی‌دی، ځکه‌چې صلی‌الله‌علیه‌وسلم فرمایلی‌دی:«هغه‌څوک چې عصبیت ته خلك بولی زموږ له ډلی‌څخه نه‌دی او هغه‌څوك زموږ نه‌دی چې په‌عصبیت جگړه کوی او هغه څوك‌چې پر عصبیت مړشی، موږ یې د ځان‌نه‌بولو.»

نبوی حد یثونو او نازل شویو ایتونو په‌دی برخه کې یو بل ته‌قوت ور کړی دی . لیکن دلویې‌او احترام او درناوی ور هغه‌څوك دی‌چې له نورو‌څخه‌په‌تقوی کی‌جگ‌ وی. شریعت‌وایی: «بېشکه چې‌په‌تاسو کې دخدای (ج) په‌نز د هغه‌څو ك‌لوی‌دی‌چې‌دخدای(ج)نه‌ډیر ویریږی.»له همدې کبله دمسمانانو د کارونو دچلولو دپاره په‌ډېر ووختونو کې د بیلو بیلو قومونو ځنی داسې خلك ټاکل‌شوی‌دی‌چې په‌خپل قوم کې‌یې‌څه اعتبار نه‌درلوداو نه‌یې‌په کوم‌خپل کې‌داستیاز خاوندؤ ،نه‌ورته له‌پلرو نو ځنی‌پاچهی په میراث پاتی‌وه او نه‌یې‌په‌خپل‌حسب‌او نسب سره یوځه غوښتلای شو ل او نه‌دکوم حکم‌چو کی ته‌رسېدلی‌و وبې له‌دې‌څخه چې شریعت‌ته‌یې غاړه ایښی‌وه او دشرع ساتلو ته‌یې ملخه کړی وه .په‌مسلمانانو کې به دوطنی‌چارو چلول او واك هغه چاته سپارل کېده چې‌دهغه‌له شان‌سره به‌وړو ، یعنی‌چا به‌چې په‌چلوونکواو واکمنو دخدای(ج)احکام‌ښه‌په ځای کول او په هماغو لاروبه‌روان‌وو او ځان به‌یې دنورو نه‌هیڅ لوړنه‌باله ،نو هغه ته به لویې چاری اولوی وطن‌سپارل کېده .څوك‌به‌چې راښکته وو، ددرجی په مراعات سره به‌ورته‌ښکته چاری‌سپارل کېدې.

کله چې یو و اکمن یوازې خپل ځان په نور و باندې لوړ ګڼلی او فخر یې کړی دی، ځان ته یې ښه ژ وندغو ره کړی دی او له محکو مانو ځینې یې څه زیاته برخه اخیستې ده نو په دغه وخت او حال کې قومونه بیرته خپل تعصب ته راګرځیدلی دی او اختلاف پکې پیښ شوی دی او ددغه و اکمن دلاس څخه و اک و تلی دی.

د کومې و رځې نه چې اسلامی د ین پیداشوی دی تر ننه پو رې د مسلمانانو چال چلند په همدې ډول ښو و ل شوی دی چې د خپلو نو ر ابطو او قومی تعصبو نو ته اعتبار نه ورکوی او یوازې دینی ټولنی ته ګو رې. تاسو به و ینئ چې عر بی د تر کی له و اکمنی نه کر که نه کوی او فارسی د عر بی مشر تو ب منی، هندی د افغان مشری ته غاړه ږدی او یو هم په دې خبره نه تندی نه تر یو وی او نه ځان راغونجوی او هیڅ یو مسلمان د حکومتو نو له تبدیل څخه کر که نه کوی او د دې څخه بدنه وړی چې دحکومت شکلونه بدل شی او د یو خپل نه بل خپل ته لاړ شی. مګر په دې شر ط چې دحکم خاو ند د شر یعت د شان ساتندوی او په سمه لار ر وان وی.

هو کی: که چیری په خپل تګ کې د شر یعت د لارې نه و اوړی او په حکم کې د مقر راتو نه تیری و کړی او په داسې لاره لاړ شی چې سمه نه وی، نو د خلکو زړو نه و رځنی تو ر یږی او دده سره مینه یې له زړو نو و ځی. نو دغه و اکمن که څه هم د دوی د خپل وطن وی، خو بیا هم د پر د ې نه و ر ته بدښکاری.

ښښکه چې د ټو لو دینو نو په خاو ندو انو کې یوازې مسلمانان دی چې کله و او رې کو م اسلامی ځای له اسلامی حکم څخنی و تلی دی، بې له دې چې قو م او قبیلی ته یې نظر و کړی، افسوس کوی او و ر باند ې خو اشینی کیږ ی. که

دیوقوم کمزوری حاکم دبل‌مسلمان قوم په‌منځ کې وی‌چې‌دخدای (ج) په اوامرو بسی روان‌اوورباندی ټینګ وی‌او ددې‌اوامرو دحدو دونه اخواغوک نه‌پریږدی او دمحکومانو په شان‌یې ورته پخپله هم غاړه ایښی‌وی او بیځایه‌وړ باندې‌خان نه‌پړسوی ،نوکېدای‌شی چې دده دوا کمنی لمن پراخه‌اولویه شی‌اوخپل‌مطلب ته‌به‌ورسیږی.او ددې‌دین په‌خاوندانو سره‌به خپل‌شان‌په‌تولو ودانو هیوادو کی‌ځکه وساتی او په دې کارکې به‌ډېر تکلیف او ډېرو لګښتونو او ډېرو لښکروته هم اړنه‌شی او نه به دلویو دولتونو مرستی‌او تمدن او ازادی دمرستیالانو مداخلې‌ته اړتیاپیدا کړی .
که‌دراشیدینو خلفاو په لارتګ وشی‌او بیرته‌داسلامی دین اصولو ته سخ وګرځول شی‌نو په‌دغوشیانو کې‌به یو ته‌هم اړتیاپاتې نه شی او ددې لارې نه قوت او دلوړوالی لوازم ډېر یږی .زه‌بیاتاسو ته‌داخبره وایم چې ددې‌تولو چارو سبب اسلامی دین‌دی او ددغه‌دین‌توجه لکه‌دنورو دینونو غوندې یوازی اخرت‌ته‌نه‌ده، بلکه دخپلوبندګانو دښېګنې او مصلحت له پاره‌یې یو داسی څه‌راوړی‌دی‌چې ددوی‌ددنیااو خرت‌دواړو نیکمرغی پکې شته او دشریعت په‌اصطلاح ددارینو په‌نیکمرغی تری‌تعبیر شوی دی.اسلام پخپلو احکامو کې دبیلوبیلو قومونو او هرخپل ترمنځ مساوات راوړی‌دی.
دزمانی‌سترګی سپینی‌شوی‌او رنګ‌یې‌واوښت ، تر دی پورې چې څینو مسلمانانو ته‌تکلیف رسیدلی او زړونه‌یې‌تنګ‌شوی دی،څکه‌چې‌حاکمان یې ربړوی‌او دشرعی‌عدالت سرمسم ددوې‌چاری نه اجراکوی،نوخلك غواړی

چې د دوی دتیری نه دخلاصون په غرض ځان دپر دیو واک ته تسلیم کړی. لیکن که په دې لار کی یې لوسړی قدم کښېښود نو پښېمانه به شی. د دغو مسلمانانو داسی حال دی لکه چې یو سړی وغواړی خپل ځان و وژنی، لیکن کله چې خپل خوږ احساس کړی، بیر ته راو ګرځی او په ډېره پښېمانی سره و وایی: اناالله وانا الیه راجعون.

د دغه بده ورځ چې نن په اسلامی هېوادو کې راغلی ده او یوتر بله سره بیل شوی دی د هغو منشاء د حاکمانو نیمګړ تیاو د اسلامی دین دسمو اصولو نه او ښتل او سخ اړول دی.

له بلې خوا د خپلو پخوانیو له لاروځخه هم اوښتی دی، له همدې کبله د ثابتو اصولو پرېښودلو او داشناو لاروځخه اوښتلو دې لویې واکمنی ته سخت ضرر رسولی دی. نو که چیری حاکمان بیر ته داسلام شرعی قواعدو ته وګرځی او دتېرو پخوانیو په لار باندې لاړ شی، نو لږ وخت به لا تېر شوی نه وی چې هرو مرو به ورته خدای(ج) لویه پاچهی ورکړی او ددین د لارښوونکو او مشرانو په څېر به دقوت خاوندشی نو خدای(ج) دې زموږ سره دسمې لارې په تګ کی سرسته وکړی او روغه او سمه لار دې راوښیی.

## داسلامی ټولنی پخوانی او اوسنی حال (۱) او علاج یې

(داو دخدای(ج) سنت او عادت له هغو کسانو سره چې پخواتېر شوی دی او هیڅکله به دخدای په سنت او عادت کې تبدیل او اوښتون رانه شی).

دآیت شریف ترجمه.

---

(۱) دمقالو دپر عنوانو نه دامام رحمة الله دتاریخ نه اخیستل شوی دی چې په اسلامی مجلی (المنار) کې چاپ شوی دی. (مدون)

ایا تاسې یو داسې ټولنه پېژنئ چې هیڅ نوم یې نه درلود او بیا یې د نشتوالي پرده وشلېده او څرګنده شوه او د ډېر غېرت خاونده وه ، هر یو غړی یې کاریګر ، نظام یې ښکلی، ارکان یې پاخه، ودانۍ یې ټینګه او په لوی قوت کې نغښتل شوې ده او د داسې لوړو همتونو کلاوو رنه چاپېره ده چې هر راز سیلۍ ګانې او جکړونه یې په غولي کې غلي کېږي او د چلوونکو په لاسونو یې ټول مشکلات لیری کېږي .ستنې او جرړې یې مز بوتې او د عزت ځانګړی یې هرې خواته خپرېږي .پاچهي او واک یې تر ډېرو لېږو ځایو پورې غزېدلی ی.دا ټولنه زړه وره، خبره یې جګه او قوت یې بشپړ وی. اداب یې تر ټولو اداب وجګ او اخلاق او عادات یې تر ټولو لوړ وی. نه یې دو ختینیو او نه یې داو سنیو ساری وی. تر دې پورې چې نور قومونه هم پوه شی چې د دی شریعت او د دې لارې له تګ نه پرته په نور څه کې نیکمرغي نشته.

دا ټولنه سر له دې چې شمېر یې لږ وی،نو وطنونه یې ډېر وی چې سړی گومان کوی چې ټول عالم د دې ټولنې سمبالښت کوی او ټول عالم یې یو کاریګر جسم دی .

دا صفات به ټول لری او قانون به یې هم همدا وی ،خو یو ځل به یې د را غونډېدلو مزی وشلېږی ،ارزوګانې یې بیلې شی، غونډه یې خپره ټولنه یې بیله او دیوالي غوټه یې وسپړو ده شي . دیوبل سره د مرستې او لاس ورکولو پړی یې وشکېږی.د افرادو عزمونه او فکرونه د خپلې ټولنې د ساتلو څخه وګرځي. هر یو د خپل ځان نه چورلی او د ټولنې د لویو اوړو حقوقو غم ورسره نه وی .

حال دا چې دغه شخص له دې نه بې خبره دی چې تر څو پورې د خپلې

تو لني مر سته و رسره نه و ی دده‌خپل ضر و ر یات او اړ تیاو ی‌نه تر سر ه کیږی . ددې پر ځای چې‌خپل‌ستې تینګ کړ ی دخپلی تو لنې ستې تینګو لو ته د بره اړ تیالر ی او دخپلو شخصی ګټو پر ځای دخپلی‌تو لنی ګټو ر سو لو ته د بر ضر و رت لر ی. داشخص‌په‌دغه حال کې‌و یده دی‌مګر کتو نکی‌ته و یښ ښکاری ، وچ کلک و ی، مګر دغولیدلی په‌ستر ګو کی غټ‌او پلو نه‌بر یښی.په پای کی ددغو بښدو دهیلو نه‌نا امیدی چاپیره شی او لا یی‌پسی خوا ره و اره کړ ی او دبی‌ځایه قناعت حس‌پکې پیدااو په هر حال خو ښ و ی.

که‌د کو م غړ ی‌په‌خیال کی‌یې دحق‌غو ښتلو کو م فکر پیدا شی‌او یا یو رابلو نکی پاځیږ ی او دخپل ملت‌دپار ه شر ف او پخوانی بر م‌و غواړ ی ، نو دوی‌ته‌تو کی‌او ملنډ ې بر یښی او و ایی چې‌د دوه‌په‌ځا ن‌او سزا ج کی څه خلل او ضعف پیښ شو ی دی.یا‌ګو مان کو ی چې که‌چاد‌داسی یو را بلو نکې خبره او ر یده نو ګنهګار دی‌او ځان یې په‌لو ی لاس‌د هلا کت ا و مړ ینی په کنده کی و غو رځاوه او یا که‌چادې دو ل‌خبر و ته غو ږ کیښو د، نو نعمتو نه به یې ز وال و سوسی او ژ و ند به‌یې تر یخ‌شی او په‌ځان باند ې حکم کو ی چې دبې زړه توب او نا امیدی‌زنځیر و نه او غر ابو نه ر او اچوی . نو په پا ی کې‌به‌یې لاسو نه د کاراو پښی به‌یې‌دتګ‌نه و در یږ ی او ددې نه و ر و سته د هغه کار د کولو نه ځا ن عا جز ګڼی چې و رته ښه و ی ا و ګټه ورته ر سوی .

کو م کار و نه‌یې‌چې‌پلر و نو او نیکو نو کړ ی‌و ی، هغوی ته‌به‌یې‌لاس او نظر نه ر سیږ ی او دپخوا نیو خبر و ته به‌یې پو هه‌نه‌رسیږ ی . پخو ا نیو خپله ګټلی‌ده ته‌پر یښو ده او دی یې پر ی خلیفه او مدبر تا کلی ؤ .

په‌داسې تو لنه کې به‌دانار و غي دې‌حدته‌و رسیږ ی چې نژ د ې به و ي

تولنه هلاکه‌شی او دسړینی په‌تلتک کې پریوزی او په‌پای کی به‌دهر غلیم او ظالم دپاره تیاره وندی‌او دهر خوړونکی له‌پاره تیاره سری‌شی.

هو! ماداسی قوسونه‌ډیر لیدلی‌دی چې هیڅ‌نه‌وو، بیاپیدا شول او یورته شول غښتلی وو، بیرته بیوزلی شول، زروروو، بیر ته تیټ شول، روغ‌وو،بیاناروغه شول. لیکن د دې ټولو خبرو سره ایا هر ه ناروغتیادرسل نه‌اری؟ هو!لری یې.

ډیر افسوس دی!داخوسره سخته‌ناروغی ده او درسل یې‌خوسره گران دی او علاج کوونکی خرسوه لږدی؟ په‌خه‌ډول به‌دوسره خوا ره واره خلك سره‌بیرته راغونهشی؟ په‌داسی حال کی چې هریویوازی له‌خپل ځان ځنی‌چورلی.. استغفر الله که‌هریورښتیاله‌خپل‌ځان ځینې نه چورلېد لا ی نو له‌خپلوورونو ځخه‌به‌نه‌بېلېده .حال‌دادی‌چې دځان ترټولو غړ ویې ورو ر زیات ورنژدی‌دی.لیکن دی‌دبل‌چاپه‌چارو بوخت شوی دی او گوما ن کوی چې‌گوندې په‌خپلوچارو بوخت‌دی. هو!هریودوسره کوی لکه خوسره چې یوژوندی موجود دخپل فطرت سرهسم دخوړلو په مواد و سره خپل ژوند ساتی .لیکن دغه ژوند ی‌نه‌پوهیږی چې خوراکی مواد دکوم ځای ځخه لاس‌ته‌راوړی‌او دکوسی لارې‌ځخه به‌دده ژوند په اسن کی‌وی؟ نوځنکه به‌سره همتونه وخوزیږی حال‌داچې داهمتونه ځکه سره شوی‌دی‌چې‌دډیرې زمانی راهیسی په‌تیټ‌ژوندا سوخته شوی دی. ایاداسې‌یوسړې‌ته‌چې‌عقیده‌لری‌بری‌په‌بله‌لار کی‌دی‌سمی‌لارې‌ته‌راگرځېدل اسان دی، په‌داسی‌حال کی‌چې‌مقصد ته‌یې شالړولی وی. که‌قدم اخلی نودښو پېد و ځخه‌داریږی .ځنگه به‌خوک‌په‌درانه خوب‌و یده پاځوی‌چې دخپلو خوبو نو په‌لېدو خوښ ،غوړونه‌یې یې کانه او سخی‌ته‌یې پر دی راځړېدلی وی ؟.

ایاداسی یو غږ بهچېری وشی چېددوسره لوی است زړونه وخوځوی چې وطنونه یې یو تربله لیری او عادتونه او طبیعتونه یې سره بیل وی ؟ پهداسی وخت کی چې ټولنه دناپوهۍ څپولاندې کړېوی او تورې پردې پری راخپرې شوې وی او داخیال کوی چې هر نژدی لیری دی او هره اسانه سخته ده نو داسې یوه خبره بهڅوک څه اوری چې بیلی بیلی آروزګانی سره یوځای تــه راغونډې کړی او بیل بیل فکرونه سره یو او متحد کړی .

زه پهخدای(ج) باندې قسم کوم چې دا ډېر ګران کار دی او په علاج کې یې ډېر پوخ او سپېڅلی حکیم هم هڅپك ولاړ وی. ایادناروغ په اصلی ناروغی باندې دخبر پدلو او لومړنیو اسبابو او پېښو دپوهېدلو نه پرته درسل ټاکل کېدای شی؟ .

نو کهیوه ټولنهناروغهوی، سببونه او علتونه بهیې څنګه معلوم شی. مګر هغهوخت بهمعلوم کړای شی چې عمر یې و پېژندل شی او داڅرګنده چې وار په وار ور باندې څومره حالات او پېښی راغلی دي؟.

ایایوطبیب تر څو پورې چې په دی پوه نهشی چې ناروغ ته له ناروغتیانه پخوا څه ور پېښ شوی دی او دناروغی حقیقت ځان ته‌ښه څرګند نه کړی ، د یوسړی علاج کولای شی او څهعلاج بهیې وکړای شی ؟ که په دی پېښوځان پوه نه کړی ،نو دډېر وناروغیو جراثیم د عمر په یوه دوره کی پیداکیږی او بیادعمر پهبلهدوره کې پهبل راز څرګند یږی. څکه کله دطبیعت قوت دناروغتیاپهماده باندې غالب‌شوی وی او دلومړنیو جراثیمو اغېز نه ښکاري. نو داعلاج هیڅکله نهشی کېدای او یوسپېڅلی او ماهر طبیب ته

هم دداسې شخص دنارو غتیا تشخیص او تیا کل گران دی .

څرنګه چې یو سړنی طبیب ته یوازې دیو داسې شخص دنارو غتیا تشخیص او تیا کل گران دی چې دعمر کلو نه یې محدود او دژوندانه پېښې یې شمېرل کېدای شي. نو ایا دیو داسې ملت علاج به څو مره ګران او ستونزمن وي چې عمر یې پېړۍ اوږدې وي؟ . همدا علت دی چې په ستونزکې دخپلې تولنې درا ژوندي کولو او دپخوانی شرف او عظمت دبیرته راګرځولو سړی له سوندل کېږي که څه هم دعوی کوونکي ډېر دی. دادعوی کوونکي داسې مثال لري لکه چاچې ځان طبیب کړی وي او دبدني نارو غیو په علاج کې نیمګړی وي نو که بخت و رسره ملګر تیاو نه کړي، نو دده علاج لا پسې نارو غي زیاتوي، بلکه احتمال لري چې نارو غ مړ شي. په همدې ډول هغه کسان چې د ملتونو داخلاقو سمون غواړي، همدا حال لري. څکه چې د هغوی دژوندانه په چارو پوره پوه نه وي او نه یې دنارو غیو په موجب او نه یې په انواعو خبر وي او دا هم ورته معلومه نه وي چې د کوم عادتونو خاوندان دي، او خلک یې د کوم مذهب دي او څنګه اعتقادات لري او په بیلو بیلو څه کوي او رباندې پر له پسې څنګه پېښې راغلې دي. نه یې په دې خبر دي چې پخوانی مرتبه یې څومره جګه وه او اوسنی یې څومره ټیټه ده او ددغو دواړو مرتبو تر منځ یې څه حال درلود؟ .

نو که اصلاح غوښتونکي ددغو ذکر شو یو شیانو پېژندلو په برخه کې په کوم یو کی تېروت ، نو تداوي یې هرومرو په ناروغی بدله شوه او وجود له منځه لاړ .

څو ک چې دانساني کمال او ښیګڼې نه یو څه برخه لري او زړه ته یې خدایي الهام ورننوتلی نه وي او په ځان کې علماً یاعملاً لږه غوندې نیمګړ تیا

ویئی، نو هغه دازړه و رتوب نهشی کولای چې دسلتونو دروزنې چاروته
ملا وتړی او دفساداصلاح وغواړی .

هو! دوسره لوی کارته هغه کسان زړه بنه کوی چې هیڅ په هیڅه
پهتشنوم خوشحالیږی او غواړیچېخپل ژوند پهداسی چا روکی تیر
کړیچېدمخکی بیولوتوان اوقدرت یې نهلری .

ځینیخلك پهدېوخت کیداعقیده لری چېدملتونو د ناروغیو علاج
دجرایدو پهخپرولو سره کیږی او داجریدې دملتونو د پو رته کولو
دافکارودخوځولو او داخلاقو دسمون ضامنی دی! لیکن داخبره به ښنگه
رښتیا وګڼلهشی! ځکه که موږ فرض کړو چې دجرایدو لیکه الان په خپلو
لیکنوسره دملتونوله خلاصون نهپرته بل څهنهغواړی او دهر راز شخصی
غرضنه هم پاكوی ،نو بیاهم څرنګه چېخلك پهدوسره بیخبری کې ډوب
شویدی او بیسده پراتهدی اولوستونکی اولیکونکی همیکی لږ دی ،
نولوستونکی بهورته لهکومه کړی؟او کهلوستونکییې مونده شول ،
نوپوهېدونکی بهیې چیرې ومدندل شی؟او که پوهېدونکی همموندهشی
نوهغوی بیااصلمطلب بلېخواته اړوی .ځکهچېیادوسره پوهه نهلری
او یایېخپلې خوښیتهرا کږوی او پهپای کې لهبدې اغېزینه پرته بلڅهنه
ښندی .

داکار ددېمثاللری چېیوهغذاطبیعتنهخوښوی‌او هغهپه‌هوځله ضررلاپسی
زیاتوی برسېره پردی کلهچې همتټیته روزنه ا خیستی وی نوڅوك
بهخلکوته دجرایدو ګټهوښودلای شیچېدخلکو یېلهدلوستلوسره مینهپید اشی
او دجرید وپه لیکنو ځان پوهکړی؟ . نوڅرنګه چې وخت لنډ دی
او د،پیښوسلابونهپهمستیرارواندي، نوقسمدیچې د ا کارډیر گران دی .

خینې نور وايي : داسې یو ملت چې د ځمکې په مختلفو برخو کې ، يو تر بله ليرې خپور پروت وي او ارزوګانې يې سره تو پير لرې او تل په دوسره تيت ژوند اسوخته وي چې ساري و نه لري ، په همدې حال راضي وي او تل يې د هغه چاشرف اوعظمت غوښتي وي چې نه ورسره په قوم او نه ورسره په دين کې ګډون لري ،بلکه‌دهغه مشر توب‌ته يې غاړه ايښې وي اوحکمونه يې منې! نو هغه‌هيځکله ددې و ژونکو ناروغيو ځخه نه‌رغيږي . تر څو پورې چې دارو پا دهيواد و نو غوندې په يوو اردتولو هيوادو په هرځاى کې مدرسې جوړې نه شي چې په‌نتيجه کې دمعارف او پوهنې ګټه‌په لږه‌موده کې ټولو خلکو ته ورسيږي نو کله چې معارف تعميم ومومند، اخلاق پخپله سميږي ، خبره‌به يې يوه شي‌اوقوت به يې راغونډ شي .

ليکن داخبره دحقيقت نه ځومره ليرې ده ! ځکه چې د دې لويې چارې دسرته رسولو له پاره يولوی ، غښتلی اوقوی واکمن په کارد ی چې ملت ډير وخت له پاره په هغه څه باندې مجبور کړی چې اوس يې نه خوښيږی . تر څوچې پخپله يې خوندو ځکی اومیوه يې و وينی . چې بيا نور ددې واکمنې ځای دخلکو دزړه رښتيانی مينه و نيسی او پخپله هغه چارې سرته ورسوی چې واکمن دملت‌دګټو له پاره غوښتلی .

ليکن ددې کارله پاره ډيره پانګه لازمه ده چې په دې مدرسوباندې ولګوله شي. حال دادی چې مدرسې ډيرې وي او زمو ږ خبره په بيوزلی او دبيوزلی په علاج کې ده ، نواياد بيوزلی سره متقد ره واکمنې او ډيره پانګه پيدا کيدای شي ؟ که ملت دادواړه شيان لرلای ، نوولی به دوسره وروسته پاتی ؤ . نو که دوی وايی چې : داکار په تدريج سره

کېدای‌شي‌چې ټینګو الی‌او استمرار و رسره ملګری وی . سو بر هم‌وا یو چې :دا کار امکان لری او کېدای شي! خو په د ې شرط که دزو رخا وند حریص نه وای او دده دقوت و ړسه دې خو اته نه شو ای راتېر یدلای . نودوسره وخت چېرې دی چې داشان وسایل په کار واچول‌شی ؟ برسېره پردی که سو بر دزمانی ملګر تیاهم دخان سره فرض کړ واو سلت ته هم دکار کولودپاره دوسره وخت ور کړشی چې دغه پوهنی په ځینو خلکو کی خپرې کړی شی او وخت په وخت پکی نور زیاتوالی‌هم راشی . نو ایا سو بر و یلای شو چې داتدریج به کوسه ځلانده ګټه ورسوی ؟ ایاڅوك چې دغه راز پوهنی زده کړي ، هغه لازم کمال ته تیار بدا ی‌شی؟ هغه کولای شی چې دخپلې ټولنې پاتی نوروزامنو ته همداسی لا ربنوونه وکړی او په سمه لاره یې بو ځی ؟

داړ پر دتعجب‌ځای‌دی ! ! داکار به څنګه سرته ورسیږی ؟ځکه چې ټولنه ددغو نااشناعلوسوله‌پېژند لو نه‌لیری‌پرته ده . ځکه چې په دې نه پوهیږی‌چې‌تخم‌یې څنګه‌سوه نبولی‌ده څنګه‌خړ وبه‌شوې‌اود کوسې خاورې نه‌یې استفاده کړې‌ده.داټولنه‌لاددې‌علوسوپه اصلی‌غرض‌هم خبره نه ده . او په‌دې‌هم‌نه‌پوهېږ ی‌چې‌څه‌نتیجه‌به‌تر ی راوځی؟ او که‌په‌یولږ څه‌ګټه یې پوهشوی‌وی ،نو هغه به‌هم‌تش دخو لی‌خبرې وی‌او په‌حقیقی مفهوم‌به‌یې هیڅ پوه‌او خبر نه‌وی .سره‌ددې خبرو بیاهم ګومان کېدلای شی چې که دځینو کسانو زړو نو ته‌اتفاقاً کوسه‌رڼاو رننوتلی وی سره‌له‌دې‌چې ددوی زړو نه‌له نورو خبرو نه‌ډك وی ،آیاداليوه‌ر ڼا افکار جوړ او اخلاق‌به‌یې‌سم کړ ی ؟ او دوی به په داسې سمه‌لارلاړ شی‌چې‌نورو و رونو ته‌یې‌هم ګټه و رسیږ ی؟

نو روغه خبره داده چې په دې شان یو ملت کې د دغو علومو نقل کوونکي داسي بر یښي، لکه چې د ملت سر ه څه نا اشناشيان و ر ګډشوي وي چې هغه په طبعیتونو کې له فساد نه پر ته نو رڅه نه زياتوي. ځکه چې دوی د زړو و همیاتو سره عادت اخیستی وی او دوړو کتوب له وخته یې په زړو نو کې ځینې خبرې ناستې وي چې د خپل ملت شان او علوم ورته غټ بر يښي. نو د دغو نو يو علومو خاوندان به څه وکړ ای شي؟ ځکه چې د دغه علومو چینې د دوی د مغز و څخه نه دي راوتلي، که څه هم دوی خپلو هېوادو نو ته په خدمت کولو کې صادقان او رشتینی وی.

په دوی کې ځینې داسې کسان دي: څه یې چې زده کړي وي، هغه داسې ادا کوي لکه چې یې اوریدلي وي، دخپل علم او دخپلې تولنې د سشر توب سراعات نه کوي څه عادت لري؟ نو خپله زده کړه په ناوړه ځای کې استعمالوي او څرنګه چې دخپل علم دستې نه بېخبره دي، نو په اوسني بوخت دي او پخوانی ته یې شا کړې ده او راتلونکې ته یې پام نه وي دوی ګومان کوي، کوم څه ته چې سوړ رسېدلي یو، هغه د هر چاله پاره کمال او د هر سړي لپاره ژوند دي نو دوړې چارې د پاره به لوی څه استعمالوي او دلویوله پاره به واړه استعمالوي څه یې چې زده کړي وي یو وازی د هغو صورتو نو ته به ګوري او چا ته یې چې وړاندې کوي د هغه استعداد ته به فکر نه کوي نو ایا داسې کسان به د دغسې تولنې په زړونو کې ځای و نیسي او که کر که به یې نو ره هم زیاته کړي. دا ځکه چې دوی ددې کار د پاره وړ نه دي او یوازې د پر دیو علومو نقالان او حمالان دي.

په دوی کې هغه صادقان چې خدای (ج) په خپل فضل و رسره مرسته هم کړي

وی، داسی‌مثال لری،لکه یو مهربانه مورچې کوم د خوراک‌شی ورته خوندور کړی، نو وغواړی‌چې‌خپل تی‌خورماشوم ته‌یې هم د پېرزوینی له‌مخی ورکړی، مگر هغه ماشوم یوازې دشودورودلونه پرته‌بل‌څه خوړلای‌نه‌شی. نوکله چې‌ماشوم هماغه‌شی‌وخوری، لوسړی ناروغه او بیاپسی مړشی.

ددغوصادقانو په‌خپله‌ټولنه‌کې همدغه‌مثال دی ،چې‌هاتی ټولنه پرې خوره‌ورمشی‌اوزاړه پرهارونه بیرته‌تازه شی. که‌په‌قوم‌کې څه‌روابط‌پاتی وی، هغه‌هم‌ددوی‌دغفلت له‌کبله و شلیږی ، که‌څه‌هم‌دوی دا کار دګټی په‌خاطرکوی.

دغه‌کوچنی‌سوری‌په‌لاپسی پراخیږی چې‌وروسته‌ورڅخه لوی لوی وروته‌جوړشی او دوړوغولونه به‌یې لوی‌لوی ډگرونه جوړ شی چې‌په‌پای کې دمصلحینو او ناصحینو دنامه لاندې پر دې‌پرې رانښاسی او خپله‌ټولنه سره‌کړی اوله منځه‌یې یوسی او داخوسره بده خبره‌ده.

عثمانیانو او مصریانو په‌نوی سودیوشمېر نوی‌شوونځی جوړ کړل، څو ډلې‌یې‌هم‌غربی‌هېوادوته‌ولیږلی‌چې له‌هغه‌ځانونه،علوم، معارف،صنایع، اداب‌اونور هغه څه‌چې دوی ورته‌اړتیالرله، له‌ځانوسره راوړی.هغه‌څه‌چې دوی‌یې‌تمدن‌اوښاریتوب‌بولی، په‌حقیقت کې‌دهغوهېوادوله‌پاره ښاریتوب دی‌چې‌دهغوی‌دطبیعت دنظام او دانسانی ټولنی د پرمختګ سره‌سم پکی‌پیدا شوی‌دی .

ایاعثمانیانو او مصریانو ته‌سره‌له‌دی چې ډېره‌موده هم‌پرې‌تېره شوی‌نه‌ده، دې‌شیانو څه‌گټه‌ورسوله؟ ایادوی‌اوس دپخوانه وربانده ښه‌شول ؟ ایا دوی خپل‌ځانونه دلوږی‌او بیوزلی له‌منگولو خلاص کړل؟ ایادوی په دې

علو سو سره‌د پر دیو تصرفاتو او سهلکاتو څخه خپل ځانونه بچ کړل ؟ ایا
په‌دې شیانو باندې کوم لویوالی ته‌و رسېدل او د غلیمانو له‌یرغل نه‌یې
ځانونه وساتل ؟ایادوی کومې داسې رنځاته وو تل چې‌دخپلو عواقبونه
خبر او خپل افکار داسې‌استعمال کړی چې‌دسر اښانو عزم بیر ته‌په‌شاو تمبوی ؟
ایاپه‌دوی کی‌داسې زړونه پیداشول چې‌دوطنی‌ژوند دروح سره ګډاو
قمز ج‌شوی‌وی‌چې‌دخپل هېواد ګټی له‌بلې‌هر ې ګټې‌څخه غوره ګڼی‌او غوښتنه
یې‌وکړی؟ ایاپه دوی کی‌داسې کسان پیداشول چې‌ددنیایی ژوند نه‌تېر
شول او په‌دغه لار کې یې‌یو داسې سپېڅلی‌وارث ودراوه‌چې‌لکه په‌نورو
دېرو سلتونو کی شته .هو کی! په‌دوی کی‌داسی کسان وسیندل‌شول‌چې
په ازادی، وطن‌پالنې، قومولی‌او داسی‌نورونورونو خولې خوځوی
او سعنی ګانی یې په‌تشو وچو الفاظو کې نغاړي .نه‌یې په‌غایه‌پوه دی او نه‌یې
داول نه‌خبر دی‌او دخپلی خوښی سر دسم داسې لوړنوسونه په‌ځانونو ږدی
لکه :دازادی سشر ان او زعیمان !!او داسی‌نور شول او ددغه حد نه هیسته
نور تللی‌نشی. ځینی‌نور یکی پیداشول چې‌دخپلی زد کړی له کبله یې په‌کار
لاس‌پوري کړ،خویوازي دخپلې وداني‌او داوسېدنی ځایو یونه یې بدل
کړل اود خوراک ،اغوستلو دلو ازسو او نورو سامانونو خبرې یې
بدلی کړې او ددې شیانو په تطبیقولو کې‌یې دوسره هڅی وکړې چې
په‌پر دیو هېوادونو کی هم‌چاپه‌دې اندازه نه‌وې کړی، په‌دې شیا نو به‌یې
ویاړ کاوه او دفخر په‌ځای کې‌به‌یې خلکو ته ښودل نتیجه‌یې داشوه چې
خپله شتمنې‌یې پر دیو ته‌ور کړه او په‌عوض کې‌یې ورنه د ښایست او ښکلا
سامان واخیست په‌لوی لاس‌یې دخپل قوم هغه صنعتګران سره کړل چې

دخپل قوم دپاره به یې سخت او درانده کارونه کول او دهغوی دپاره دستایلو اغېزه لهمنځه لاړه او کاریګران یې ورک شول.

داځکه څرنګه چې ددې نویو علومو څخه تقاضا کېدله چې نویې اړتیاوې بهبشپړې کړي او نویو کمالونو ته بهپرې ورسېږي ، هغهشیان دوی جوړولای نهشول،ځکهچې دوی خپل مصنوعات پهنوې بڼهنهشول اړولای او نهددوی لاسونه پهدې شیانو عادت وو او نهیې دوسره شتمنی او پانګه لرلهچې دغهنوی الاتیې دلیرې هېوادونو څخه راغوښتی وای. نو پههمدې وجه یې دټولنې پوزه پرې کړهمسخ یې ورنهوشکاوه او شانیې را تیټ کړ . ددې ټولو خبرو علت دادی چې دغه علوم په خپل اساس او بنسټ کې نهښودل شول او دوخت نه پخوا ورته رانغلل.

تجربې مونږ ته ښيي او تېرې پېښې څرګندوي چې دهرې ټولنې دمقلدینو او پېښو کوو نکو په چارو کې هرومرو داسې سوړې او سورې موندل کېږي چې غلمیان یکی دورننو تلو لارې لټوي او د دوی دپوهنې ځایونه او حواس د هغوی د دسیسو او وسوسو مخزنو نهشي .

څرنګهچې ددوی زړونه اوس دهغو کسانو دتعظیم نه ډک شوي دي چې تقلیداو پېښې یې کوي ،نو هغهکسان چې ددوی پهخبرنهوي ،سپکیې ګڼي. دخپلې ټولنې خلکو رته خورا تیټ ښکاري او په کارو پورې یې ملنډې وهي ، کهڅههم دغه کارونه لوړ او ښه وي .

کهدټولنې پهځینو اشخاصو کې څهدسرېتوب بوی اولوړ همت پاتې وي، هغههم ورځینې وړي.او دغیرتتو دوخه او دسرانی اغېزه یې سړ وي او دا مقلدین ځانونه دزورورو دلښکرو مخکینې ټولګی او ولجه مار ګڼي. دهغوی لهپاره لارې جوړوي او وورونه ورته بیرته کوي. داځکه چې

دوی دخپل خان نه پرته دبل چاپو هدنه‌سنی او دا يې زړه ته‌نه‌لو یږی چې کوم بل قوت به‌زموږ په‌قوت غالب شي.زه‌داخبره په‌زغرده سره وایم او دچادپرې‌نه‌هم نه‌و یریږم ، که‌چېری دغه‌راز کسان هغه وخت‌د افغانانو په‌وطن کې‌و ای‌چې‌انګلیس‌ددوی په‌خینو خمکو سنګولی ښخی کړې ، نو پښتنو به‌هیڅکله هم‌دخپل‌وطن خنی‌و یستلی‌نه‌وای څکه‌چې‌ددغو کسانو په‌نز ددعلم نتیجه دچل‌جوړولواو دپردی قوتسره‌دخپل‌قوت‌دیو خای کولونه پرته‌نور څه‌نه‌دی.

دوی‌دپردیو تګیواو چلونوته‌ښه راغلی وایی او زیار باسی د خلکو له‌زړونو نه‌هغه‌نوده و ینه‌او غیرت‌و باسی‌چې‌خپل‌حقوق بې پری‌ساتلی دی‌او خپله خپلواکی یې پری خوندي کړی ده .

تاسو به ګوری‌چې‌په کومه‌څمکه کې پردي ورننوتلی‌دی، همدغه دهغوی‌مقلدین‌وی چې‌ددوی هر کلی کوی‌او د هغوی خدمت او چوپړ په غاړه اخلی او دهغوی‌رپورتیان او داعتمادځای وی.داسې‌ښکاری لکه چې دوی هم‌دپردیو دډلې څخه‌وی، څکه چې‌دوی دخپله خانونه او راتلو نکی نسل دپاره په‌خپلو هېوادونه کی دپردیو غلبه یو برکت ګڼی .

نو او س‌څه‌چاره‌او څه‌و سیله‌پکارده ؟جرایدز رګتپه نه شی رسولای که څه‌هم زړونه پاکه‌وی اغیزه‌یې‌ضعیفه‌ده دنه یه علوسو نتیجه سو هم‌و لیدله‌چې بداستعمالیږی‌و خت‌لیږدی‌او خبره‌سخته‌ده. کومه کړ یکه‌به‌وی‌چې‌و بدوله څه به پاڅوی ، کومه سیلی به‌وی چې‌وچ طبیعتو نه وخو څوی او ساړه افکار تاوده کړی . کوم په کی به‌وی چې په‌جسد ونه کی ساه ګانې واچوی او داصلاح‌او فلاح سر کزته‌یې راغه نه کړي. دوطنو نه‌یو تر بله لیری دی، یو بل ته‌سرسته رسېدلای نشی . دختیځ ،لو یدیځ ،شمال او جنوبي په ځای

کو ل ډېر گر ان دی. ځینی سر و نه دپښو نه هم تیښ دی‌او ځینی د اسمانو څخه هم‌او چټ‌خو ز یږ ی .سترگې، ښی‌خو ا، کینهی خو ا،سخکی ا و و ر و سته نه او ړی. غو ږ و نه څه‌نه او ر ی ، په زړ و نو کی یې‌سینه نه د ه پاتی او دو سو سو پاچهی‌او د هه سو نه حکو مت دی.نو دجامعی غم خو ر ان به څه کو ی ؟و خت لږ دی .څه‌غو اړ ی؟ دو ېرې‌سر ه‌مخامخ دی په‌څه‌ځانو نه تینگو ی او دسړ ینی استازی‌یې‌در و از و ته‌و لاړ دی .

زه‌تاسوسر ه‌نو ر بحث‌نه‌او ږ دو م او نه او ږ ده بیانو نه در ته کو م ، لیکن غو اړ م چې ستاسی پام‌داسی خو اته ر او اړ و م چې‌اسباب یې ر اته ل کړی‌او له داسې وسیلی سره‌یې مخامخ کړ م چې‌نه ر وسا یل ر اغونه کړ ی .

فکر دی‌خو شی کړ ه‌اوډداسی‌سنت‌حال‌ته‌وگو ر ه‌چې دو ینبېد له نه و ر و سته و یده‌شه ی‌دی‌او دغښتلتیانه‌و ر و سته بیو ز لی‌شو ی دی‌او دباداری او سشر ی نه‌و ر و سته سر یان شو ی‌دی‌او دله یه الی نه‌و ر و سته‌و اړه شو ی‌دی.دلو سړ نی جنگېدنې او پر مختگ اسباب و گو ر ه چې‌دخلل لارې ا و دنار و غتیا جر ړې یې در ته‌معلو مې شی او په دې‌پو ه شی چې‌دوی‌په‌یو ه‌خبر ه‌ر اټو ل کړې.او ټو لنې دغړ و همتو نه‌یې ر اپه ر ته کړ ی او خلک‌یې یو تر بله‌سر ه یو هه شو ی او داسی مقام ته‌پر ې ر سیدلی دی‌چې دهغو په‌و اسطه یې په‌نر ی حکمت سر ه دنو ر و هېو ادو نو سشر ی کړ ې‌د ه.هغه ،دین دی چې سته یې تینگه قوا عد او دو دو نه یې کلک‌دی.ر از ر از حکمتو نه او پو هنې پکې‌شته،الفت او یو بل سر ه سینه که ل غه اړ ی، نفسو نه سپېڅلی کو ی. دخساست دخیر و څخه زړ و نه پا کو ی، په‌عقلو نو کې دحق رڼار او لی. دته له هغه شیا نو ضما نت کو ی چې انسان و ر ته‌اړ ه‌لر ی او بشر ی‌ټو لنه پر ی و در یږ ی او ددې شیانو دو جو دساتندوی‌دی او عقاید او افکار تمدن ته‌را بو لی .

نو که ددین لار ښار یتوب و ی او دهمدې مقصد له پاره را غلی او تولې
ښې چارې و رڅخه ز یږ پدلی وی ،نو که م څه چې دخلل په ته گه پکې لید ل
کیږ ی او اوس د خپل مقام نه را ښکته شوی دی، ددغو تو لو سبب دادی
چې ددغه دین اصو لشاته غو رځه ل شوی دي او نور داسې څه پکې را ننوتي
دی چې ددې دین نه وو ، او پیر وانه یې د ټینگو ا صو لو پرځای درولی دی،
او دهغو احکامو نه یې سخ اړولی دی چې دهغو له پاره د ین راغلی دی او
لارښه و نه یې کوی او الهی حکمت دهغه دپاره تیار کړی دی اوس دې
حدته رارسېدلی دی چې ددې دین نه څه پاتې نه دی او یه از یو نه سو نه او عبار تو نه
یې پاتی دی .

همدا بدعته نه او نو ی شیان دي چې د تو لنی او دین تر منځ پر ده و رځینی
جه ړ ه شه یده، نو گټو رعلاج یې دادي چې ددین قو اعدو ته بېر ته هسې مخ
و اړول شی لکه څنگه چې یې پخو اددین په احکامو سنگو لې کلکی کړې وې
هماغسې اوس هم پرې کلکی سنگه لی و لگه ی. عامو خلکو ته په ښو وعظو نو
سره داسې لار و ښو دنه وشی چې ز ړو نه یې سپېڅلی او اخلاق یې ښایسته ،دغیرت
او ر یې بل او خبر ه یې یو ه شی او خپل ځانو نه او سرو نه د تو لنې دلو یوالی
او پر مختتگ له پا ر ه و ښندی.

څر نگه چې ددې ر و پیر یو ر اهیسې دخلکه په زړو نو کې ددین جر ړ و
ځای نیو لی دی او زړو نه یې دسینې لېوال دی او هم یې د ز ړ و نه په گه تو نو کې
دسینی پته رښاشته ،نو هغه څو ک چې غه اړي داته لنه ژ و ندی کړ ي ، هغه
د یو ه یو کی کو لونه پر ته بل څه ته نه اړ کیږ ی چې په لږ و خت کې یې
اغېز ه هم هر چېر ی رسېږ ی ،نو هر کله چې دوی دخپلو چار و د جو ړ و لو
لپار ه پاڅی او دخلاصو ن په لا ر کې قدمه نه کیږ دی او ددین حقو اصو لو ته

ستو جه شی، نه په دغه وخت کې به ددوی د کمال او له یې سر تبی ته رسېدله
پهلار کی هیڅ نیمګړ تیا رانشی او څو ک چې فکر کوی چې داته لنه چې حال یې
د دغه بیان شو په بل ډه جوړه شی نود مطلب نه ډېر لیرې تللي دی اوو روستنی یې لوسړی
ګڼلی دی او روزنه یې اړ و لي دهاو دو جه د نظام نه یې مخا لفت کړ ی دی
نو هر و سر و ددهعز م نه تر سره کیږی او تو لنه بهلا پسی سپېر ه او بدمر غه
شی .

ای له ستو نکیه! ایاته زسایه دی خبر و تعجب کو ی چې: حق دینی اصول
چې د بدعتو نو څخه سپېځلی او نورڅه و رسره ګډشوی نه وی، سلتونو ته
دیو و الیته تنه ور کړه ی؟ او یه تر باله یې سره نه راغونډ وی ؟ او دژ و ندانه
په څه ندکی یې دیه و الی نه ګټه نه ور څرګند وی او فضایل یې نه
راغو نډوی ؟ د په هی دایره یې نه ارتوی او دبنار یته ب او تمد ن و روستی
پړ او ته یې نه رسوی ؟ .

که تعجب که ی نو زما تعجب ستاد تعجب نه ډېر دی. ایاتادعر بی تو لنې
تاریخ کتلی دی چې داتو لنه ددین د پیدا کېدو نه پخه اخو مره خپره او څو مره
تیته وه او څو مره ناوړ ې چار ی ټکی وی ؟ کله چې دین ورته راغی
نو سره متحد او غښتلی یې کړ ل او ښایست یې پکی پیدا کړ . عقلو نه یې رڼا
او اخلاق یې سم شه ل او احکام یې و رته و ښه د ل .نو په عالم باندې با داران
او سشر ان شو ل او دعدل او انصاف په سبب سره یې ډېر نو رخلك خپلی خو اته
راو اړ و ل .

څر نګه چې دتمدن دلو از مو څخه خبر نه و و او مقتضیات یې نه پېژ ندل او ددین
نه پخو ا په هیڅ نه پو هېدل نو دغه شر یعت راو ېښ کړ ل ، او راز راز فنون یې
وپلټل او دتبحر درجې ته پکې و رسېدل او خپلو هېـ ادو ته یې دبقر اط

او جالینو س طب،داقلیدس هند سه ، د بطلیمو س هیئت ا و دافلا طو ن او ارسطو حکمت را نقل کړ ل. هر قو م چې ددې بیر غ لاندې مشر ی تېر ه کړې ده دتمدن او قوت سبب یې داو و چې ددغه دین په ا صو لو یې منگو لی کلکی ښخی کړ ې و ی .

کله یو ملت دوا کمن په بلنه د هېو ادو نو په ا خستیلو ا و حکم چلو لو سر ه پو ر ته کیږ ی .



# نصرانیت ، اسلام او

## وګړي يی :

«بېشکه چې په دی دين او قرآن کی دهغه چاله پاره هرو مرو نصيحت شته چې دپوهنې زړه لري او يا يې داو رېدلو غوږ ورته نيولی وی. »

(دآيت شريف ترجمه )

خدای (ج) انسان يوپوه کار ېګر پيدا کړی دی او د کار کولو لاره يې ورته اسانه کړې ده. دجوړولو او اختراع لاريې ورته ښودلې ده ، رزق يې ورته دخپلو لاسونو د کار څخه ټاکلی دی .بلکه کاراو کسب يې ورته د خپل وجود رکن او دژوندستن ګرځولې ده نو دانسان په ټولو

احوالو خواشینی او خوشحالی په هوساینه او تنگی ،په کوراو بیدیا کې داسې دی لکه چې له خپلوچارو څنې جوړشوی وی . خوراکی شیان د کرنې په واسطه دځمکې څخه او یادژو یو په ساتلو سره لاس‌ته راوړی.داغوستلو شیان‌او هر هغه‌چې‌انسان پر ی ځان‌دسړ واو یاتو دو خی‌څخه‌ساتی او هغه‌شیان چې په لاسو سره یې او بی او یایې گنډی او یادځان له‌پاره د استوگنې ځایونه جوړوی ، داټول دده د فکرڅخه راوتلی دی اوټول هغه‌شیان چې انسان پرې ځان‌هوساینی‌ته‌رسوی، دده‌دچارو صورتونه او د فکرونو هنداری دی که‌انسان یوه گړی د کار څخه لاسونه وښنډی او دخپلو لاسونو رغوی قدرت اوطبعت ته‌بیرته پریږدی چې‌خپله یکې د ژوندانه هوساینه راپیداشی ، نوداهیله به‌یې هیڅ‌وخت ترسره نه‌شی بلکه دنیستی کندې ته‌به‌یې تیل و هی .

دی‌پخپل کسب او صنعت کی‌یو داسی‌ښو ونکی‌ته‌اړ دی‌چې‌په‌لاریې سم‌او ښه سیږ نی‌او یویوه شخص‌ترې جوړ کړی .نولکه څنگه چې دژوندانه دلواز سو دډېر ولواودژ وندانه داړتیاو لپاره کار کوی ،ددی‌لپاره هم کار کوی چې‌په دی‌یوه شی‌چې څنگه کاور کړې‌اوڅنگه به کارو کړای‌شی.نوصنعت هم‌دده‌د خپلوچارو محصول دی او دخپل ژوندانه په ټولو چارو کی یو یوه کار یگر دی انسان دطبیعت‌او فطرت او د هغه‌داغیز و نه جلااو بیل‌سوجو دنه‌دی ، نوطبیعت هم انسان ته‌داسی اړدی‌لکه چې یو کار یگرد خپل کار کولو الاتو ته . داپه خوړلو ښبلو ،اغوستلو او اوسېدلو کې دانسان‌حال‌دی .

دایې‌پر ځای‌پر یږ ده‌او نفسی‌حالات‌یې‌و گوره‌لکه : پو هنه،تعقل ،اخلاق، سلکات او روحی انفعالات او داسی‌نور ، چې په دی شیانو کی به‌یې‌هم‌یو یوه

صنعتگر و و ینی،ددهزړ و رتوبا و دېرې‌تیټکی، صبر او سخا ، بخل او

بډه خوانی، بې‌پتی، کلکوالی او پوستوالی ، پاک لمنی او بیحیاتوب او

نوری‌راز راز ښېګنې او نیمګړ تیاوې‌یې دلوسړ نی روزنې په اغېز و پسې

همداشان دانسان په‌نورو تولو خو یونو کی هم‌دغو کسانو اغېزه شته

چې‌دغوی په‌منځ کښې زیږ یدلی او لوی‌شوی‌دی. دده د افکار و ګولی،

دتعقل‌لارې دده‌دمینې‌چارې الهی‌اسرار نه‌خان خبرمه کول دطبیعت په‌خواصو کې

خبر نه کول، دهرڅه‌حقیقت‌معلوم لو ته هڅه کول، یا هرڅه‌ته‌سرسری کتل اوداسی

نور هغه څه‌چې په‌فکری حرکاتو پوری اړه‌لری ، هسی‌امانتونه دی چې

پلرونو، سپندو، قومونو خپلوانو او هغو کسانو چې په‌ژوندانه کی ورسره

ګډوی ،دانسان په‌مغزو کی ځای کړی‌دی :

لیکن دزیږ یدلو ځای ،هوا،دمزاج‌راز ،ددماغ شکل،د پوزې تر کیب

او دطبیعت نورې‌پردې په‌نفسی حالاتو او روحی صفاتو کی کومه اغېزه

نه‌شی کولای .هوداشیان دشخص په‌استعداد او قابلیت کی‌لږه اغېزه کوی.

ځکه چې روزنه‌اوڅه‌چې‌په‌نفس کی‌اغېزل شوی‌دی، دژوندانه‌دملګرو او

لاربنوو نکو دافکار وله‌خوا دهغه فطرت‌او‌طبیعت داسې‌خواته بیایې

لکه چې‌دسره سوجودنه‌ؤ.هو کی! افکار تازه کېږی. معقولات‌له‌نورو

ځنی اخیستل کېږی، صفات‌پورته کېږی ،هستونه جګېږی، تردې پورې

چې‌و روستنی‌دلوسړ نیونه سخکی کېږی او داسی ګومان کېږی‌چې دادطبیعت

تصرف دی‌او دزده کړې‌او کسب‌اغېزه نه‌ده ،لیکن رښتیاخبره داده چې

دنیالګی مېوه سصنوعه‌ده هر و سر و پەسصنوع پسې‌ځی، نو انسان په خپل عقل او روحی صفاتو کی‌هم پوه کاریګر دی او په دی خبره کی هیڅوک نه‌پوهان‌او نه‌ساده ګان‌شک‌کوی.لیکن‌سره‌ددې تولو خبرو ،ستاپه‌یاددی چې بد نی چارې دروحی عزسو او سلکاتو څخه راوځی او روح په‌بدن باندې یو عنبتلی‌وا کمن‌دی .زەعقیده‌لرم چې‌په‌دې خبره کی نور بحث ته‌څه‌اړ‌ه‌نه‌وی. څکه‌چې‌دادخلکو دزړ ونو څخه‌پټه‌نه ده او پخواله دی چې‌په‌سوضوع کې‌ننوځو ،ددین پەبرخه کې‌یوه‌حقه‌خبره کوو او ګومان کوم‌چې هرڅوك به‌یې‌وسنی .

بېشکه چې‌دین الهی‌قانون‌دی، ښو ونکی‌او رابلوونکی یې هم‌بشر دی‌چې دعقلو‌نو خاوندانودرسولانو څخه‌زده کړی‌دی .نو دین‌دهغو خلکوله پاره چې‌په‌وحی سره‌ګمارل شوی‌نه‌وی، کسبی‌دی.او ددغورسولانو څخه د تبلیغ درس او ښوونی په‌ذریعه نقل‌شوی‌دی. دتولو سلتونو پەنزد ، دهر څه نه‌لو سړی په‌زړ‌و‌نو کی ننوځی او پکی کلکیږی .نفسو نه‌په‌عقایدو، سلکاتو او عاداتو سره رنګیږی څه‌چې‌ددین‌څخه‌راوځی .وړې چارې‌وی او کەلویې بدنو نه‌و رسره اسوخته کیږی .نو دین‌دهر څه‌نه‌لو سړی‌په‌فکر و نو عز سونواو ارادو باندې‌حا کمیت‌لری. په‌روح باندې‌وا کمنی کوی او دبدن په‌تدبیر کې ورته لارښیی .

انسان‌چې‌دنیاته‌راځی نو مغز یې دپا کی تختی‌په‌څېر وی، څه‌چې‌دلو سړی څل‌له‌پاره په‌دې تخته باندې لیکل کیږی، هغه به‌ددین لیکڼ‌وی او نورې چارې ددې لیکڼ پەرابلنه اولارښو ونه سرته رسوی،او که کله ددینی اغیز ونه‌پرته نورې چارې ورڅخه راووځی هغه به‌شاذې‌او نادرې وی. تردې‌پورې که‌چیری یو شخص‌ددین‌څخه‌ووځی، نه‌شی کولای چې ددین

له‌تولو اغیز و څخه ځان‌خلاص کړی‌بلکه‌دده په‌طبیعت کې‌د دین اغېزه‌داسی پاتې کیږی‌لکه‌چې‌په‌پوستکې‌باندې‌له‌ر و غېدو نه‌ور وسته‌د پر هار اغېزه او خاپ پاتې وی.ددې‌خبر و نه‌ور وسته زموږ دبحث موضوع مسیحی او اسلامی دینونه دی که‌څه‌هم ددې‌بحث لمن‌اوږ ده‌ده،لیکن موږ یې لنډ یز په داسی توگه راوړو چې تفصیل یې‌و رڅخه څرگندیږی .

دمسیحی‌دین بنسټ‌په‌ر و غه‌او اسانتیاباندې ایښو دل‌شوی دی،دچاملك او و اك نه‌منی و ایی‌چې‌دنیااو اخ‌وړ ب دې‌یکی‌پر ېښو دل شی.دداسی و اکمن اطاعت یې‌و اجب کړی دی‌چې‌نو رخپل‌دین‌ته‌ر ابولی. دپاچهانو مالونه‌یې پاچهانو ته پرینښی دی.دشخصی‌او قومی او حتی‌ددینی جگړ و څخه دې‌ډډه وشی . ددوی داو امر و څخه یو دادی چې(څوك‌دې‌چې‌په‌ښی‌مخ و هی، کیڼ‌مخ دی هم‌ورته‌څېرمه کړه) او و ایی‌چې‌دپاچهانو حکم‌په‌جسدو نو باندې‌دی‌او هغه فانی‌دی او حقیقی پاتې کېدو نکی په‌ارواحو باندې ولایت‌دی‌او د او لایت یوازی‌دخدای‌ج‌دی.نوڅوك چې‌ددین په‌اصولو باندې خبر وی او لکه څنگه چې موږ وویل داهم‌ورته څرگنده وی‌چې دین‌په‌فکر و نو باندې ستر ه‌اغېزه کوی ،او په‌دی هم‌پوه‌وی چې‌دهرچاد خیال اغېزه په ارواده کی شته چې‌جسم‌و رسره‌سم‌خوځوی ،نو هغه‌ددغو کسانوچار و ته‌زښت‌ډېر تعجب کوی چې‌په‌عیسوی دین پسی ځی او په‌همدې عقیده وی .

ځکه‌عیسویان په‌ښه، هوساو ښایسته ژوندکی‌یو دبل څخه مخکی کېدل غواړی او په‌دغوشیانو کی یوتر بله‌سره و یاړی او ددغسی ژوند په‌خوندنه سړ یږی او نه‌و رته‌په‌کومه اندازه او حدقایل‌دی.دهېو ادو نو دلاندې کولو او نیولو لپاره په‌بیړه روان‌دی‌اوغواړی چې‌په‌لویو هېو ادو نو دی زورو راو غښتلی‌وی. هره ورځ دجگړو یونوی فن اختراع کوی

دجگړ ې له پارهنوی و ژ و نکی آلات جوړوی او یو پر بل بې استعمالوی او ددغو شیانو په واسطه په نورو باندې یرغلونه کوی د عسکر و په نظا م او ټینگوالی تر دې حده پورې بوخت دی چې په عسکری فن کی اخرین پړاو ته ورسېدل او دافن یې دټولو فنونو څخه ارت او گران گڼلی دی .سره له دې چې دخپل دین اصولو له د ې څخه منع کړی دي چې خپل ملکونه او سامانونه دې وساتی . داخو یې لاپه ځای پرېږده چې د نورو هېوادونو دنیولو په غم کی بوخت وي او نیسی یې .

داسلامی دین اساس په غلبه،دبدبه ،دملکونو په نیولو او عزت بنا شوی دی .په کاردی هر دوه د چې دشریعت نه خلاف وی دهغه پرېښودل واجب دی او دهغه حکمدارحکم نه منل دی چې شریعت نه شی چلولای. نو چاچې ددې دین اصول کتلی وی او ددې شریعت د کتاب کومسور یې لوستلی وی .هغه بې له شکه په دې حکم کوی چې ددې دین معتقدین د ې په جگړه کی په ټول عالم کې لومړنی ملت وی او دټولو ملتونو څخه د ې دوژونکو الاتو په اختراع او دعسکری علوموپه پراختیا کی مخکی شی. او په همدې توگه دې په علوروفنونو لکه طبیعت، پوهنه، کیمیا ، جراثقال هندسه او نورو کی هم مخکی او سیړنی وی .

چاچې په دی آیت کی فکر کړی ی : (او تیار کړی ددوی په مقابل هرراز قوت ،څومره چې ستاسو دلاسه کیږی) ،هغه په دې یقین کو ی : څوك چې په دې دین رنگ شوی دی هغه هرو مرو دغلبې لټولو په مینه رنگ شوی او غواړې چې ددې کارله پاره هرراز وسیله و لټو ی او دبشری طاقت سره سم په دې لار کی هڅه و کړی .او خپل ځان د ې بنه ټینگ وساتی او هېڅوك دې و رباند ې غلبه ونه شی کړای . او چا ته چې

معلومه وی‌چې اسلامی‌دین‌یو بل ته گروی ایښودل او سراهنه حرامه کړی ده ، مگر داسو نو په غخلو لو او نخښه و یشتلو کی بې نه‌ده منع کړې،نو هغه ته‌به څرگنده شوی وی چې شارع ترکوسې اندازې پورې دعسکری فنونو ښوونی او مشق ته اهمیت ورکړی دی . لیکن سره ددې خبرو ددین خاوندانو ته سړی حیرانیږی .څکه تاسو گوری چې عسکری قوت اولوازموته یې سپك گوري .دجگړی فنونو او دالاتو اختراع ته یې هیڅ پام نه‌دی اوتول نورملتونه په هغو شیانو کی له دوی نه مخکی‌شول‌چې زده کړه‌یې په دوی باندی دهر څه‌نه لومړنی فرض وه او اوس په دغو فنونو کی دنورو تقلید او پیښو کولو ته اړشول . دمخالفینو دحکم او واك لاندې راغلل او دنوروسریان شول او دهغوی حکمونوته یې غاړه کیښوده .

چاچې ددواړو دینونو پرتلنه کړې‌ده ، دهغه فکر دی خبرې ته‌هك‌پك پاتی شوی دی چې درانده تو پونه ، متراليوز او نور شیان دمسیحی‌دین دخاوندانو په واسطه‌اختراع شول اومسلمانانو جوړنه کړای شول . دمارتین توپك څنگه او ولی دمسیحیانو به وطنو کی جوړشو او مسلمانانو جوړنه کړای شو . دهغوی کلاگانی‌ټینگی‌او بخارونه یې یخچل ـ اك کی دی په سیندونو کی دروغی اوسولی دخاوندانو په‌واسطه لارې ومونډل شوې او دجگړی او غلبی خاوندان په‌دې برخه کی محروم پاتې شول .

څنگه به یو پیاوړی‌پوه نه‌حیرانیږی، که‌څه‌هم‌دډیر نری نظر خاوند وی او څنگه به یو خبر داره ستر گو رڅای په څای نه ودریږی‌چی کله وړته دحقیقت ماهیت څرگندشی چې ایا تیر کلونه‌او پخوانی پیړی کافی نه‌وې چې ددواړو دینونو دخاوندانو په زړ ونو کی دینونه ټینگ شوی وای ؟

ایاد هر دین خاوندانو داوړ دو پېړیو راهیسی دخپل دین عقاید شاته واچول ؟ یا نصارئ یو ازې دموسیٰ علیه‌السلام په دین او دیوشعبن نون په خوی پسې لاړل ؟ یاد هغو خطبواو و غطونو په منځ کې چې دمسلمانانو په منبرونو باندې لوستل کیږی ،دانجیل ځینی آیتونه په بیخبری سره راننوتل؟ یاپه دغه وخت کې چې دمسلمانانو ددین ښوونکو او خپرونکو د درسونو له پاره گونډې وهلې ، د دوی په ارزوگانو کې د انجیل نه یوڅه راننوتل؟ ه

ایا دخدای(ج)سنت په دواړو ملتونو کې بدل‌شول ؟ یادطبیعت د چلند لار په دواړو ملتونو کې بدله شوه؟ یاجسمونه په اروا واوښتل ! یادارواحوله پاره دفکر او خیال نه پرته کوم بل مدبر را پیدا شو؟ یاددین دحکم څخه افکار بېخی وگرځېدل ؟ یانفسونوله اره ددین نقشه نه ومنلی، سره له دې چې دین په انسان باندې لوسړ نی حاکم دی او لویه اغېزه ورباندې کوی. یاسعلومات دخپلو علتونو ځنی او سبتل؟ یا هغه نسبتونه چې دسببونو او مسبباتوتر منځ موجود وو،پرې شول ؟څوك به وی چې په بیړه سره په د لار رښا واچوی ، پردې وڅخه جگی کړي او د غه معماگانی حل کړي ؟ ایا داحال دقوسی اختلاف له کبله راغلی دی سره له دې چې ددواړوملتونو وگړی یواصل ته راگرځی او په نسبونو کی سره نژدې کیږی . ایا دا نسبت دملتونو اختلاف ته راجع کیږی ؟ سره له دې چې ددواړو ملتونو خلك دملکونو په طبیعتونو کی یوبل ته ورته او گاونډیان دی.

ایا دمسلمانانو ځنی په دینی چارو کی داسی شیان راوتلی نه وو چې عقلونه ورته حیران شوی وو؟ ایاپه دوی کی فارسیانو ، ترکو او

عربو ئور هېوادونه نیولی نه وو اودسرداری په چوکی باندې نا ست نه وو؟ مسلمانانو په صلیبي جگړ وکی داسی اور لگوونکی آلات درلودل چې دتوپونو په څېر یې کارورکاوه اوعیسویان یې پرې د اورلی وو اوهغوی ددې شیانو لهجوړولو نه عاجز وو. ملکام سرجم انگریز دفارس په تاریخ کی وایي چې : محمود غزنوی به دهنددمشر کانوسره دتوپونوپهزور جگړهمنځکی ببوله اوپه(. . . ه) کیددوی دماتیلوی‌سبب وگرځېد. حال‌دادی‌چې په‌دغه وخت کی عیسویان‌دتوپ‌څخه‌دسره خبر هم‌نه وو.

دزمانی کومه سرسته وه چې عیسوی ملت یې دلاس نه ونیواو داسی شیانو ته یې رابنکود چې ددین په قواعد وکی بیخی‌نه وو. اودزمانی کوم تیندك ؤ چې مسلمانان یې تېل وهل او په دغو تولوشیانو کی‌یې بیرته پاتی کړل! چې هغه ددوی په دین کی پردوی لومړ نی فرض وو . دادېر دحیرت اوتعجب‌ځای دی !لیکن دوسره پوهېږ وچې داتخالف سبب غواړی . هو کی ! سبب لری لیکن تفصیل یې اوږددی اوسوږ به یې دخپل توان سرهسم لنډیز بیان کړ و .

رښتیاچې دمسیحی دین سیوری اوږددی اوپه اروپا کی یې بلنه او دعوت دروميانو له خوا خپور شوی دی . په دغه وخت کی‌دوی داسی عقاید ،ادب ، ملکات اوعادات درلودل چې دپلرونو اودپخوانیو دینونو اوشریعتو نوڅخه ورته پاتی وو. مسیحی دین ورته ددوی دگتهاوپوهې سره سم راغی اودقناعت اودزړونو دصبر کولو دلارې نه رانئوت اوپه زور اوجگړه نه دې خپورشوی . دمسیحی دین دوسره اغیزه په دوی کی پاتې شوهلکه درنگ تکی چې‌په جامه پریوزی . څهچې

دپخوانیونه وړیاتې وو، هغه یې ورځخه بیخی یونه‌وړل . سره له دې چې دانجیل سپاروخلك روغی اوسولی ته رابلل ، په پخوا زمانوکی به هرچاته نه ورکول کېدې بلکه یوازې دروحانیو نوله‌مشر انو سره به وې‌یاکله‌چې دروسیانو علماؤ دشریعت منصب په لاس کی ونیوا و صلیبی جګړه یې سنت وګڼله اوخلك یې ورته راوبلل ، نودصلیبی جګړو اغېزی ددینی عقاید وسره یوځای اوګډې شوی اوددینی اصولو په توګه ورځنی کارواخیستل شو اود دې ځخه وروسته یې په اروپا کی دمسیحیانو عقیدی‌وخوځولی اوخوځومذهبونه ورځنی جوړشول او هری ډلې ددینی واك دترلاسه کولوپه خاطر یوتربله په لانجواوشخړو پیل وکړ . هغه شیان‌چې دوختینیو ،له خوا جوړشوی وو اوددوی په مغزوکی یې ځای نیولی و اودپخوانیو نیکو نوځخه ورته پاتی وو ، بیرته را وخوټکېدل‌اودهر رازفن ډګر یې ارت کړ اوخپل فکر ونه یې پکی‌وځغلول اودعسکری فنونو پرمختګ‌ته یې زوروړکړ اولکه ځنګه چې په نوروفنونوکی مخکی شول دجګړې اودفاع الات یې هم اختراع کړل .

مسلمانانو چې په لومړی‌وخت کی په دین کی څه حاصل کړل او دهرراز جګړې دکمال خاوندان شول وروسته ددین په لباس کی ځینی خلك پکی راپیداشول چې ددین داصولوسره یې داسی څه ورګډ کړل چې هغه په‌دین کی نه وو. نو په دوی کی دالجبر قاعدې شروع شوی او په زړونوکی یې دوسره اغیزه وکړه چې بیخی یې سره بیل کړل او

دنو روښو چارو نه يې وويستل او دا چل د دريمې او څلورمې پيړۍ په سرخ کې زنديقانو (۱) او سو فسطائيانو، مسلمانانو ته وړاندې کړ.

سو فسطائيان هغه ډله د ه چې وايي: په عالم کې څرگند وجود نشته حقايق نشته او تش خيالات دي. ځينو په دروغو احاديث رانقل کړل او نسبت يې دشريعت خاوند صلی الله عليه وسلم ته وکړ او پخپلو کتابونو کې يې وليکل او داسې زهر يې پکې گډ کړل چې په مسلمانانو کې يې دغيرت روح وواژه او کومې خبرې چې ددې څخه د مسلمانانو په زړونو کې پاتې شوې، نو په همتونو کې يې ضعف، په عزمونو کې سستوالی او دحق دخاوندانو په تحقيق او صحيح او باطل په څرگندولو کې يې خرابي راوسته او اغېزه يې لاتر اوسه هم په خلکو کې پاتې ده. په تېره بيا هغه وخت چې په عمومي ښوونه او ددين په هغو حقو اصولو کې نمېگړتيا راغله چې نبي صلی الله عليه وسلم او اصحابو يې ورته خلک رابلل، نو ددين درس پرته له يو څو دواير و او خاصو ټولگيو هيچرې په سمه لار پاتې نه شو. نو کېدای شي چې دا دمسلمانانو د (پرځای دربدو) بلکه دبيرته په شاتگ موجب شي او په دې خبره نن زه خدای (ج) پوره کړی يم او دخدای (ج) نه غواړو چې ددغسې بيرته پاتې کېدلو څخه موو ساتي مگر دوهمه خبره شته، که څه هم دې ښېښو په دين پرده راخړولې ده او دمسلمانانو زړونه يې ددين د رعايت څخه راگرځولي دي او داپرده

---

(۱) زنديق هغه چاته ويل کيږي چې مسلمانانو ته داسلام په رنگ کې ورگډشوی وي چې دين يې ورته ونيجاړ کړي. لکه په دې وختونو کې قاديانيان دي. (مترجم)

ډېره توره او پېړه هم ده ،لیکن ددې پردې او صحیحو عقید و ترمنځ تل شخړه وجود لری او دحق او باطل په منځ کی جګړه داسی مثال لری لکه :دناروغی او دمزاج دقوت‌ترمنځ مدافعه . څرنګه چې زړونه دحق دین په رنګ رنګ شوی او په زړونو کی یې ځای نیولی دی او ددغه‌دین برېښنا ددغو تورووریځو په منځ کی په زړونو ځلیږی ، نوهرو مرو یوه داسی ورځ راتلونکې ده چې دغه رڼا به راووځی او دغه وریځی‌به تری تم کړ ی .

ترڅو پورې چې قرآن په مسلمانانو کی لوستل کیږی‌او دوی یې خپل نازل شوی کتاب او حق لارښودګنی او دقرآن داوامر موجودوی چې خپل انګړدې دپردیو څخه وساتي او دتیری کوونکو غلبه دې پرخپلو ځانونه پرېږدی او خپله لوړتیادې دکومی خاصی وجهی او تاکلی‌لارې څخه نه بلکه په هره برخه کی وغواړي ، نو هیڅ‌شك نشته چې مسلمانان به بیرته په هغه پخوانی حال شی او زمانی چې کومه څه ددوی دلاس څخه ویستلی دی هغه به بیرته په لاس ورشی‌او دنورو فنونو په‌ځنګ کی به دجګړی دفنونو ، په‌شاراتګ او مخکی تګ کی‌وړاندې‌شی، ترڅو چې‌په پای کی خپل حقوق وساتی او ځانونه دخوارۍ او خپل ماتې‌له‌تباهی‌څخه وژغوري .تولی چارې دخدای (ج) په واك کی دی .

# دمسلمانانوځای پر ځای دربدل

## اوراتېټېدل او سبب یې

(او دخدای په رسی (قرآن او دین) باندې سنګولې کلکې کړی او مه‌سره بېلېږی . )

( دایت شریف ترجمه )

بېشکه چې مسلمانان په خپل‌دین کلك، په ایمان ټینګ او په یقین باندې‌قایم دی او په دې خبره په نورو ملتونو باندې و یاړی . په عقیدو کې یې یو ټینګ مزی شته چې دوی یو تر بله پرې تړل شوی دی . په زړونو کې یې دې‌خبرې ځای‌نیولی دی چې په خدای (ج) باندې‌او په هغه څه‌چې پیغمبر صلی الله عنیه وسلم ورته راوړی دی ، په ایمان راوړلو کې ددارینو نیکمرغی ده او څوك چې دایمان څخه بې برخې شوی دی . نو هغه په حقیقت کې ددو اړو نیکمرغیو څخه بې برخې شوي دی . که‌په‌دوی کې یو څوك له دین نه ووځی نوله سړینی څخه ورته ګرانه برېښی .

لکه څنګه چې دې خاصیت دمسلمانانو په علماؤ کې ځای نیولی دی ، همدغسې یې دخلکو په عقیدو کې هم ځای نیولی دی.حتی کهچېرې دد وی څوك داخبره و اوری چې په کوم قوم کې محض په نامهمسلمان دخپل دین ځنې اوښتی دی ،نو کهدهر هېواد او هر ځای چې وی ، پوه وی او که ناپوه ، نو تهبه یې ګورې چې ډېر ې خواشینی نهبه سوځی او افسوس به کوی او :(لاحول ولاقوة الابالله ـاوـ انالله و انا لیه ارجعون) به وایې او دابه دهغه ـ رې او نورو هغو کسانو په حق کی لو یه خواشینی ګڼی چې پهدین کېورسره شریك وی . او که څوك د تاریخ له مخی داسی یوه خبره یاده کړی او ددغې خبرې نهیه سلګونو کلونه تېر شوی وی ، نو بیا به هم ګوری چې ددغه اورېدونکی زړه د ډېر ی خواشینی دلاسه بې واکه او وینی یې دغصی له لاسه خوټکېږی اودارا ز حکایت ورته ډېر ناآشنا بر یښی .

(ج) مسلمانان‌دخپل شر یعت او څرګندو او امر و په حکم‌سره‌د خدای نه دهغو هېوادو ساتنه غواړی چې ددوی په لاس کی دی او ټول په دې مامور دي . دلیری او نژدی او دیو قوم او بل قوم ترمنځ تو پیر نشته او داپه هر یو فرض عین دی چې که چېرې یوقوم یوازې خپل ' ذګړ و نه ساتلای نه شی ،نو دابه دټولو مسلمانانو له پاره لو یه ګناه وی .

په مسلمانانو باندې داهم فرض دی چې دخپلو هېواد و دساتلو له پاره د خپلو مالونو او سـ ونو څخه تېرشی او هر رازسختی او کړ اوونه په ځان ومنی او غېږ ور کړی او تر هغه وخته پورې چې‌حکوست اوواك ددوی لاس ته ورنه شی ،دهغو کسانوسره روغه کول روانه دي‌چې په دوی باندې زور ورشوی دی . شر یعت تر دې اندازې پورې‌ددوی

باداری او سشر ي غوښتی‌ده چې:- که چیری کو م مسلما ن د مخا لفینو په مقابل کی دخپلوا کی او باداری دساتلو څخه عاجز شی ، نو په د ه باندې د کفر ددار څخه هجرت فرض دی دحق خاوند انو دغه ثابت او مزبوت‌قواعد ښه پېژندلی دی او هیڅوك پکی دخپلی خوښې سر ه سم تاویلات او تغیر راوستلای نه شی .

هر یو مسلمان‌په هغه‌غیبی‌غږ پاڅیږی‌چې‌دده‌دگو گل‌دمنځ څخه‌را پو رته کیږی او هغه‌شیان‌و رته‌یادوی‌چې‌ا یمان‌و رباندې‌فرض کړی‌د ی او شر یعت یی و ر نه غوا ړ ی دغه غیبی غږ‌هم‌دده ددین د حقو الهاماتو څخه د ی . لیکن سر ه لـــه د ې د د ې د ین ځینی خلك په د ې و خت کی د خپلو نو رو و رونو‌د خو ږ‌وا‌و درد‌څخه بیخبره ښکار ی او د نو ر و په خو ږ و هیڅ نه خو ږ‌ من کیږ ی .

د ا نگر یزانو عسکر په مصر کی بې پر وا لگیا دی ، خلك و ژ نی مالونه یې لوټوی ، مگر نور شرقیان و رونه د هغو ی د و ینو په بهیدلو هیڅ نه خو ږیږی . بلکه هغو کسانو ته یې هم خو ږ او درد نه و ر رسیږ ی چې‌ددو ی زگیروی او ری او سری سترگی و رته ناست‌او په‌خپل مخ کی یې دپښو لاندې اخوا دیخوا پراته گو ري .

په دغو عقایدو دمسلمانانو منگولی لگول‌او دغی‌حقی‌لارې‌ته‌ددوی‌د رابلنی احساسات سړی په تعجب او حیرت کی‌اچوی او دې ته یې گومار ی چې سبب یې و لټوي او یو څه‌لنډیز یې‌دادی :-

که څه هم‌عقلی افکار او دینی عقاید او نو ر معلومات او نفسانی وجدا نیات ښشکه دچارو په چلند او اجر ا ء باندې با عث د ی . او دد غو دحکم څخه دخدای(ج) دتقدیر سر ه‌سم، چارې و ر څخه را و ځی ، لیکن دچارو

ښینګوا لي او په‌نفس کې‌یې ښکلا هغه وخت راځي چې په زړونو او مغزونو کې ځای ونیسي او ورته ‌وویل شي چې اوس ورځنی خلق او ملکه‌جوړ شول .اوله‌هغې سره مناسبې اوسمې اغېزې وربانديې سر تیې شي .

هو کې! انسان په خپل فکر او عقاید وسره انسان دی . مګر هغه چې انسان په سترګوګوري په حواصویې درك کوي او دعقل په هینداروکې یې ځلیږي ،هغه په انسان کلکه اغېزه کوي، نو دهرموجود سترګو ته ښکاره څیز څخه فکر راوځي او دهر فکر نه دیوڅه دغوښتلو اوکولو اغېزه راوځي .او دهری غوښتنې نتیجه کار بلل کیږي. بیا ددغه کار نه بیرته‌فکر ته راګرځي او دکار اوفکر ترمنځ دفعل او انفعال‌رابطه نه شلیږي.دارابطه تر هغه وخته پوری دوام کوي‌ترڅو پوري چې په بدن کې‌ساوی‌او هرسخکینې دوروستني له پاره دستني حیثیت لري .

سر دله دي‌چې دوی‌پخپل‌دین‌ډېر کلک‌دی،په‌دی‌څرګندو اصولو کې‌له‌سم‌فکر نه‌وروسته‌په‌ټاسو ته‌دمسلمانانودلتې‌او دخپلو ورونوسره دمرستی نه‌کولو علت څرګندشی‌او هغه‌سبب‌او علت‌دادی‌چې:دمسلمانانوپه‌هېڅ‌ټولنه کې‌دتشی بی‌عمله عقیدې څخه‌پرته‌نورڅه پاتې‌نه‌دی.یوتر بله‌سره‌نه‌پیژ نی‌اویوتر بله‌یې‌سره‌روابط وشلیدل.ددوی پوهانو ن چې‌دعقایدوساتلو او خلکوته دلارښوونې ضامنان دی‌یوتربله‌سره نه‌یوځای کیږي او نه‌یې په‌منځ کې کومه‌لیک‌لیږ نه‌شته.تر کې عالم دحجازی عالم په‌حال خبر نه‌وی او لیږیې لاڅه کوي‌چې هندی عالم دافغان عالم نه‌بیخبره‌دی‌او داسې نور بلکه‌پوهان چې‌هرچېرته‌وی‌او دهر ځای وی‌یوتر بله کوم‌ارتباط نه‌لري چې سره راغونډشی .

هو کې ! کله‌دخاصې او شخصې اشنایی‌او خپلوی له کبله دنوږو عامو خلکو

غوندې سره يوځای کيږي او کومه لېږنه او رالېږنه به يې هم ترسنځ وي ليکن د کلي او اجتماعي هيئت هيڅ رازيو والی او خپلوی سره نه لري، بلکه داسې بريښي چې په خپلو کې سره نسبت نه لري او هر يو خپل ځان ته گوري او له خپل ځان نه پرته يې په نورخه سترگې نه لگي. ته به وايې چې هر يو ځانله موجود او هر يو بيله دنياده.

خو سره بېخبري او ليري والی چې د پوهانو په منځ کې شته، د مسلمانانو يا چهانو هم دغه حال دی.

ايا د تعجب خبره نه ده چې عثمانيان په سرا کش کې سفارت نه لري او نه يې سرا کش په عثمانيانو کې. ايا د تعجب خبره نه ده چې عثماني دولت د افغانانو او په مشرق کې د نورو مسلمانانو سره ټينگ اړيکي او روابط نه لري. په مسلمانانو کې داشا په شا کېدل او ديوبل نه بيلتون او هريو په خپل سر کېدل دو سره ډېر شوی دی چې سړی په زغرده سره ويلای شي چې د دوی ديو قوم په منځ کې هم سره اړيکي نه دی پاتې شوی او ديو هېواد او بل هېواد په منځ کې ديو څه لږ حس نه پرته چې هغه هم د ځينو قبيلو په منځ کې ديني او عقيدوی حس دی نور څه پاتې نه دی.

کله چې د حج په موسم کې ځيني خلك سره وويني نو يو بل ته ځان ورښيي او دغه لږ حس فقط دومره کار کوی چې که چېرې کوم مسلمان ديو بل هېواد د مسلمان په حال خبر شي چې پر ديوو رځنی خپل حق لاندې کړی دی، نو دی پرې افسوس ښکاره کوی، مگر د ډېرو زلی له کبله ورسره سرسته کولای نه شي.

اسلامي ملت ديولوی او غټ جسم په څېر ؤ چې جوړ ېې يې عنبتلی او مزاج يې ډېر روغ ؤ و: وسته پری داسې کاني وشوی چې د دغه جسم د تو تو او بر خو پيوندونه يې سست شول او خپر پدو او سپر يدو ته تيار شو او نژدی ده چې دا ټوټې يو تر بله سره بيلې شي او د جسم هيئت ورک شي. د اسلامي ملت

په روابطو کی هغه وخت ضعف او انحلال راغی چې علمی رتبه د خلافت له رتبې څخه بیله شوه او عباسی خلفاء یوازې د خلافت په تش نوم باندې قانع شول او د پوهنی په شرف، داجتهاد او دین داصولو او فروعو په پلټنه پسې و نه ګرځېدل له همدې کبله پکې ډېر مذهبونه پیداشول او د هجرت د دریمې پېړۍ د لومړۍ ورځې نه راپه دې خوا پکې تر دی حده پورې خلاف پیل شو چې په هیڅ دین کی یې ساری نه دی تېر شوی او د خلافت یووالی وشلېد. او په دریو برخو وویشل شو: عباسی خلافت په بغداد کی، فاطمی خلافت په مصر او مغرب کی او اموی خلافت داندلس په خوا او شا کی. دامت کلمه په دې کار سره بیله شوه او مزی یې وشکېد. دخلافت رتبه په سلو کیت او پاچهی سره بدله شوه. هیبت یې دزړونو نه ولوېد او په ملوکیت او باچهی باندې سینانو د قوت او شوکت دوسایلو په راغونډولو لاس پورې کړ او دخلافت دمقام مراعات یې و نه کړ. همداعلت و چې اختلاف ډېر شو او دچنګېز خان او د ده د ځوزات او ګوډتیمور او دده د کړوسیو په ظهور او عام قتل او خواری راوستلو سره د مسلمانانو ترمنځ دیووالی زنځیر و نه وشلېدل، تر دې پورې چې دوی یې دخپلو ځانو څخه بیخبره کړل او ددوی غونډې یې سره خپره کړه او دتولو پاچهانو او پوهانو په منځ کی دیووالی رسۍ وسپړل شوه او هر یو دخپل ځان په خواشینی بوخت شو. غونډې یې بېله او هر څوک یو دبل نه جلاشول، خلک هم څوڅوډلی شول څوک په مذهب پسی لاړل او څوک په پاچاپسی روان شول او دهغو عقاید و اغېزی هم ضعیفی شولی چې خلک یې یووالی او ټولنی ته رابلل. کومو عقیدو چې ددوی په روحیاتو کی ځای نیولی و، ټول خیالی صورتونه شول او اوس یې دنو رو معلوماتو په څېر کله نا کله راپه زړه کوی او کله چې په کوم ځای کی ځینو مسلمانانو ته خواشینی پېښه شی او دوی پرې دډېر وخت نه وروسته خبر شی،

نو ددغو عقيدو داغيز و نه کبله افسوس او حسرت ښکاره کوی او د مسلمانانو دلاس نه ديو څه پهو تلو باندې داسې غمجنې څرگندوی لکه چې خپلو ان يې په سرو بدندې ښکاره کوی .

دوی د بلاگانو او مهلکاتو دفعې ته هيڅ راز هڅه نه کوی. په يو ها نو فرض دهچې دهغهو راتت پهحق و دريږی چې دشارع پهژبه دوی ته څرگند شوی دی او هغه دادی چې دوی دينی رابطی دژوندې کولو له پاره پاځيږی او کوم اختلاف چې پهدوی کې پيداشوی دی، علاج يې پهداسې اتفاق سره وکړی چې دين ښو دلی دی. داتفاق غوندې پهجوماتونو او مدرسو کې پهدی ترتيب جوړې کړی چې هرجومات او مدرسه ديو والی دروح ځای شی او دغه هر جومات او مدرسه ديو والی پهزنځير کې ديوې کړی پهڅېر شی چې که يوه خوايې لږ څه وړپيږی بل سر يې هم و رسره وخوځيږی او دخمکې په ټولو برخو کې پو هان، خطيبان، امامان او واعظان يو تر بله پهيو والی بوخت شی او په هر ځای کې دراغوندېدلو ځايونه او مرکزونه وټاکی او په هغو کې خلکو ته ديو والی چارې و ښيی او دلاسو نو څخه يې و ايسی او په هغه لاره يې سم کړی چې قرآن شريف او صحيحو حديثو و رته ښو دلې ده. ټول و اړه مرکزونه دې پهيو لوی مرکز پورې و نښلول شی او دلوی مرکز له پاره دې يو ډېر سپېڅلی ځای و ټاکی. دټولو نه ډېر سپېڅلی ځای بيت الله الحرام دی . داز يار د ې تر دې حده پورې و رسول شی چې تر څو ددين ملاښه ټينګه و تړ له شی او دظلم او زياتی څخه يې و ساتی .

که کوم وخت خلل و رته پيښيږی او پردې پکې دوړنو تلو لاره پيدا کول غو اړی چې شان ته يې صدمه و رسوی، نو پهدغسې وخت او ضرورت کې دې د علاج د پاره کلکو د ريږی .

دعلوموخپرولو او دفکرونو د رڼا کولو په لار کې دې زیار وباسي او دبدعتونو څخه د دین دساتلو په غرض دې هڅې وکړي. دغه رابطه د علمي درجاتو او وظایفو په ټاکلو سره ښه ټینګیږي. که کوم مبتدع ورنه بدعت رانباسي، نو په دې یووالي سره دغه بدعت دخپرېدلو نه پخوا ورکېدلای شي او پوهان په دې پوه دي چې په دې کار داست قوت او جګوالی زیاتیږي او د هرې لویې خواشینی مدافعه ورباندې کېدلای شي.

مګر دوسره خبره ده چې موږ په دې ډېر افسوس کوو چې د مسلمانانو د پوهانو او عاقلانو د زړونو د دې وسیلې ته مخه شوې نه ده! سره له دې چې به ټولو وسیلو کې دانن دې وسیله ده او په دې ورځو کې دغیرتیانو یوې ډلې ورته مخه کړې ده او موږ د مسلمانانو پاچهانو، پوهانو او دغیرت او حق دخاوندانو څخه هیله کوو چې داتولګی لاپسې مزبوت کړي او په هغو چارو کې نیمګړتیاوې نه کړي چې ددوی غونډې پرې جوړیږي او خپاره یې سره پرې راغونډیږي.

څکه چې پېښکه تجربو دوی ته داسې مفصل درسونه ورکړي دي چې نور ورباندې زیاتي او تجاوز نه شي کېدای. دا کار دوسره ګران نه دی. هغه څوک چې ورڅخه لیرې وي د هغوی د رابلنې هڅه دې وکړي او څوک چې ورته نژدې وي، د هغوی لاسونه او ورغوي دې یو بل په لاسونو او ورغوو کې سره ټینګ کړي او یو د بل په احوال دې ځانونه خبر کړي او په هغو شیانو دې ځان ښه پوه کړي چې ددوی ددین ګټه یا تاوان پکې وي. نو دوی به په دې لوی کار سره خپل فرض ادا کړي او نیمګړي به یې په نصیب شي. څکه چې په ژوندانه کې اوس هم ساه شته او امیدونه هم په مخکې دي او خدای (ج) ته ورتګ دی.

## د حق د خاوندانو بېخبري
## او د بې حقو ځغاسته او خوځېدل

ټولو اروپايي دولتونو او خصوصاً فرانسې دې ته سترګې نيولې دي چې په مصر کې يې حقوق، ښېګڼې او تجارت له لاسه ولې ووت. په جرايدو کې د يو څه ښکالو نه پرته، د دې خبرې له پاره نه کوم غږ شته او نه څوک حرکت کوي. عثماني دولت چې مزبوت او غښتلى دى او د هنديانو په زړونو کې محترم دى نو د هر انګريز زړه د عثماني دولت د ګوتو په منځ اوړمونې د ګوتو په څوکو باندې پروت دى. عثماني دولت فکر کوي چې په مصر کې د انګريز پاچهي سخ په ختميدو ده او له منځه تلونکې ده او نژدې ده چې تش درباري نوم ورته پاتې شي، مګر سره له دې يې نه کوم کار کړى دى او نه يې په دې لار کې کوم قدم ايښى دى. يوازې دلايل وړاندې کوي او نورو دولتونو ته خپله استغاثه رسوي او تر دې پورې چې چيغې او کړيکې يې د خولو نه ووېستلې ليکن نه يې څوک اورې او نه ورته څوک هو ! وايي .

په مصر کې هغه کسان چې د حق خاوندان او د ولايت او حکم واګې يې په لاس کې دي، دا ميدونو په پړو تړل شوي دي او لاسونه يې دوبړي په زنځيرونو کلک دي. دوى په يو فکر نه دي ولاړ او نه په يو خيال درېږي. د وهمونو د بوړبکيو په منځ کې راايسار او د تورو خيالاتو د څپو په منځ کې لاهو وهي. د ښېښو ځايونو ته يې کلکې سترګې نيولې دي او داسې هکک پک ولاړ دي چې بانه يې هم نه رپېږي. د مصر خلک په داسې ښوزلې پراته دي چې نژدې ده کاختې او لوږه ورباندې راشي او په نظام کې يې خلل او په حکومت کې يې ښوزلې راشي او ټولې چارې يې داسې ويجاړې شي چې د اصلاح او سمون هيله ترې قطع شي .

په دغه حال کې چې دوی ته د سړینې د هرې څو امخه ده، خپلو حاکمانو ته یې د امید ستر ګی نیولې دی چې ګوندې زموږ چارې به سمې او حالات به سم جوړ کړي. د مصر یانو سره د انګریزانو وروستنۍ وعده داوه چې موږ ستاسو د وطن څخه ځو، تاسو پوهېږۍ او خپل هېواد مو! لیکن سره د دې د بر تانیې د مامه او س هم د دوی په ملک کې غګیږی او دوی ته هیڅ برخه نه ورکوي او په خپل ملک کې د پردیسانو په څېر ژوند کوي او انګریزان یې نه پروالری او نه یې حال ته ګوري.

د انګریزانو د سیاسی سړیو تر منځ په دې لانجه ده چې ځینې وایی: د انګریز حکومت دې د مصر نه لاس واخلي او نوردې په دې خمکه کې له باداری اعلان نه کوي او واګی دې یې خوشی کړي. ځینې وایی چې دا کار دوا کمنی د دو دونو څخه مخالف دی او د غه شر یعت یې روانه ګڼې.

موږ ته پکار دی چې په مصر کې خپل عسا کر تر هغه وخته پورې وساتو چې څه غواړو هغه پرې سرته ورسولای شو. بیایې تر هغه وخته پورې تش پرېږدو چې د بیرته بیاموجودیت موجب یې راپیدا نه شی.

د دې خبر و عبارتونه بیل دی. مګر معناګانې یې سره ورته دی، دوی یو تر بله سره لانجه او شخړه کوی، مګر په حقیقت کې سره جوړ او موافق دی. دوی به یو تر بله مخالفت کوي، لیکن په واقعه کې سره یو دی. دو ی د خپلو مختلفو رایو څخه خپل روغ مطلب راوباسی. نو ځینی جر یدی لکه تایمز او نورې چې د دې جریدی پلوی کوی، جنرال کوردون کللك او تینګځو ښیی او کومه وېره چې په ده باندې راغلې ده د هغې نه ښو یه تېر یږی او د انګلیسی حکومت څخه یې غوښتې دي چې دې دې د خطر څخه خلاص کړی شی او بې له دې نه دده د خلاصون بله وسیله نشته چې حکومت په مصر کې د باداری اعلان وکړي.

حکه چې په دې اعلان کې په معنوي لحاظ دوسره قوت شته چې هغه په يو توپانې لښکر کې نشته لیکن عسکر هغي خو اته نه شي لېږل کېدای، محکه چې لاره ډېره گرانه ده لګښت پکي ډېر دی او تو دو خه يې زياته ده. که حکو مت دې ته قصدو کړي ، نو د ناامیدی نه پرته بل څه په لاس نه ور ځي .نو دې جر بدو داډ و ل خبرې د دولت په ګټه ګڼلې دي، مګر عثماني دولت او دشپږ و ميلو نو مصر يانو حقوق يې دجنرال کو ردون له سره جار کړي دي. ددوی ګومان دادی چې ګوندې دا فکر يوازې ددې جريدو دخاوندانو دمغز و څخه راو تلي دی. حال داچې دغه دتو لې بر تانوی تو لنې فکر دی او ښايي چې دغه ګومان رښتيا او همدغسې وي .

څینې نو رې جر یدې چې دتا یمز جریده همو ر سره ملگری ده،خپل مطلب په دې ډول څرګندوی چې: په مصر يانو کې دپو رو نو خاوندان د خپلو پو رونو له کبله په سوداو تشو يش کې دي.نو دغه تشو يش پرته له دې چې انګليس په مصر باندې دحکو مت کولو اعلان و کړي،بل هيڅ کار او هيڅ شی نه شي لیری کو لای او داسو داپه بل راز له منځه نه ځي .

څینې نو ر وايې چې:دمصر په خلکو باندې ډېرې آفتونه او خواشيني راغلي او په بې نظمي او اختلال کې ژو ند کوی.داکډو ډې او ناوړه حالت دانګر يزی حکو مت له کو لو نه پر ته په بل څه نه لیری کیږی او دوی تو ل په دې متفق دی چې د داسې نارو غيو له پاره په نو رو باندې زموږ حکو مت کول لو ی اکسير دی .دوی وايي: هر چېری چې زموږ حکو مت ښکاره شوی دی، هر ه نارو غي په رو غتيا بدله شوې ده او دېو زلي ځای بډايي تو ب نيو لی دی او هر و يجاړ پرې سم شوی د ی .

دامفهو م (په نو رو باندې حکو مت کو ل) څو مر ه جاد و او طلسمو نه لری ؟

چې نه د لښکرو سوقیاتو، نه د مالونو لښکت، نه د مړیو شمېر او نه بل څه ته کومه اړه لري؟! موږ ځکه په دې باندې باور کولای نه شو چې د انګلیس په دې نوم کې دی په رښتیا سره دومره عبثلتیا او یا دومره عجیب الاسرار پکې نغښتې وي .

که موږ فرض کړو چې نور د حقوقو خاوندان، لکه اروپایي دولتونه، عثماني دولت او نور د شان خاوندان د خپلو حقوقو څخه تېر شي او دا کار جایز وګڼي چې د انګلیس د حکومت له پاره پخپلو رسمي پاڼو کې د مصر په خاوره د باداری کولو تکی ولیکي. نو ایا دا ورته اسانه نه ده چې دغه راز ساتنه دومره زیاته کړي چې د هغې نه ډېر مهلویه ماچهي جوړه شي او ټوله اروپا پرې وساتي. دا هم ټولو ته معلومه ده چې د دغه حکومت د قوت اغېزې په هغه وخت کې چې مصر ته داخل شوي وو او بیا پېرته ورڅېني وتلي وو، څرګندې شوې وې او هغه وخت د مصر خلک د هغې وعدې په انتظار بیخي هوسا ناست وو چې د انګلیس حکومت ورسره کړې وه او دا یې ویلي وو چې موږ ستاسو له هېواد څخه وځو.

کله چې د انګلیس دولت د حکومت کولو او باداری اعلان وکړ، نو د امیدونو مزې وشکېدل او زړونه ورنه تور شول او خلک بیرته دې ته راوګرځېدل چې پردي خلک د خپلو وطني او ملي حقوقو څخه وشړي. مصریان د دغه قوت څخه چې په مصر کې یې ځای نیولی دی، نه ډار یږي. ځکه چې اوس ورته د دوی حال ښه څرګند شو او د مصریانو له پاره د محمد احمد د دعوی په تائید کې یو نوی حجت او سند دی ځکه چې دی د هغه نه وروسته د انګلستان د باداری له تش نوم څخه نه

نه ویرېږي، چې د جنرال هکس او کراهام د لښکرو څخه و نه ډارېد
ده دلو سړني جنرال لښکر له منځه یووړ او دد ویم جنرال
لښکر یې د سرې بحیرې د بندرونو ترډاګونو پورې وځغلاوه. نو دغه مبارک نوم
به څه حیثیت او شان ولري. هو کې دلو سړي ځل له پاره په مصر کې دا کارګران
دي او خدای(ج) د چارو په عاقبت باندې ښه ه پوه دی.



# تعصب

(په هغه څه پسی لاړ شیء چې تاسو ته د خدای (ج) له خوا نه راغلی دی او د خدای (ج) د حکم نه پرته په بل څه پسی مه ځی. او مه نیسیء په دوستی سره د خدای (ج) د حکم نه پرته نور څه.) (د آیت شریف ترجمه)

تعصب یو لفظ دی چې په ټولو سیمو کی او په تیره بیا د ختیځ خلکو له خولې په مجلسو نو او ټولنو کی راوځی. او س تر دې پورې معمول شوی دی چې د هر چا له پاره تکیه کلام او د هرې خبری ټولی خواوی یې نیولې دي. ډېر لږ عبارت به وی ، مگر د تعصب کلمه یې په سر او یا پای کی د سر باری په توگه راغلی وی.

ددې لفسمطۍ د هر راز بلاوهرې خوا شينې زېږندۍ گنمې . دوې يې د متعصبينو او دبرې مو ندلو ترمنځ يوه توره پرده اولوی مانع گڼمی او دهرې نيمگړ تيا عنوان او د ټېتو خو يونو نوم يې بولی .

هغه کسان چې ځانونه د پرنگيانو په څېر جوړوي او د هغوی يېښی کوی او ډېر او بد و بيلتون نه شی کولای. په دې نوی بدعت د هر چاځنی زياته خوله خوځوی او د تعصب دمفاسدو په بيان کی سر و نه ښوروی او په ډير و سره بهلو يې کوی. که وغواړی چې د کوم شخص شان ښکته و ښيی نو د معنی دځر گندولو له پاره به پر نگی لفظ (فناتيك) هم ور سره سرادفراوړي . دوی هغه چاته متعصب وايی چې يو بل څو ک د خپل مشرب نه مخالف وگوری داکلمه ورته مخامخ هم وايي او په غياب کی يې هم استعمالوی او يو بل ته پری ستر گکونه هم و هی. کله چې دوی د غسی شخص و گوری نو تندی به تروه کړي او ځانونه غونج و نيسی او پوزی به دلو يی او کبر له کبله راکاږی شابه و روگر ځوی او ډير افسوس به ښکاره کوی .

زه نه پو هيږم چې ددوی په فکر کی دالفظ څه معنی لری؟ او څه مفهوم يې تری اخيستی دی؟ چې اوس يې حتی د هرې ناوړې او هرې نيمگړ تياموړ گنلی ده . ايا ددې لفظ په لږ حقيقت خبر دی او که نه؟.

تعصب په عصبيت باندی در بدلو ته وايی. دعصبيت کلمه له نسبتی مصادرو څخه ده چې عصب ( پلی) ته نسبت دی او اوس د شحص هغه قوم ته ويل کيږی چې قوت يې ډېر وی او د بل تيری په ځان نه پر يږ دی ،نو تعصب دانسانی روح له پاره يو صفت دی .د هر چا په سنځ کی چې د غه راز پيوستون او اتصال وی ،د نورو دزياتی څخه پرې ساتل کيږي او پردی و رباندې د خپل حق نه شړ ل کيږ ی ځکه چې د نفس په معلوماتو او معارفو کی د اتصال و جهی د نفس د احکامو تابع دی .

داداسی یو صفت دی چې خدای(ج) پرې قبیلی سره بیلی کړی دی او دملتو نو ودانی یې پرې دروليږده او دهر ملت سزې پرې سز بوت شوی دی ، بلکه یو روغ مزاج دی چې بیلی بیلی تو تی پرې دیو ه نوم لاندې رایوځای شوی دی او دخدای(ج) په تقدیرسره یو خلك ورځنی جوړ شوی دی. لکه بدنونه چې دټو ټو او عناصرو څخه جوړ شوی دی او روح یې پالنه کوی او لکه دیوسړی غوندې شی چې پخپلو چارو ،شئوناتو ،نیکمرغی او بدبختی کی له نورو خلکو څخه بیل دی .

همدا یو والی دی چې دیوملت او بل ملت او دیو خپل او بل خپل په منځ کی دښکېنی او ددوارو متقابلو ملتونو ترمنځ یو تر بله دفخر او ویاړ کولو باعث دی . په دې کی چې هر یو غواړی دهوساینی او ښه ژوند، عزت او عظمت وسایل او دلوی مقام اسباب تر لاسه کړی، په دغه صفت سره ملتونه یو بل باندې هغو سره و یاړی ،لکه چې یو سړی پر بل سړی باندې ویاړ کوی او دکمال تر وروستیو درجو پورې د ژوندانه په لوازمو کی دطاقت سره سم ځانو رسوی .

تعصب یو کلی روح دی چې داستوګنی ځای یې دټولنې هیئت او صورت دی او حواس او مشاعر یې دخلکو ارواح دی. کله چې دکوم پردې په ناوړه خبره دغو مشاعرو ته درداو خوږ ورسیږی ،نو دغه کلی روح متاثر او منفعل کیږی او دمدافعی له پاره راپورته کیږی ،له همدې کبله تعصب د خلکو دغیرت نخښه ده او دقوسی اوربلوونکی دی. تعصب له و ګړو نه هغه تیټ خو یونه او خیانتونه لری کوی چې ټولنه پرې دضرر سره مخامخ کیږی او یاناوړه عاقبت پېښیږی .څو سره چې دیوې ټولنې په خلکو کی تعصب ډېر وی هماغو سره به دغه ټولنه دښه طبیعت او غوره فضیلت خاوندوه وی .

په ټولنه کی هر متعصب فرد دیو روغ هدپه څیر دی ، لکه څنګه چې

دژ وی‌په بدن کې چې سر یې بې پښو تینګېدای نشي او نه‌دوا ړه‌پښې د تګ په حالت کې دو جو دله ر تبې ځنی ر انېکته لیدل کیږی او هر یو غړی د بدن د ساتلو او پاتې کېدلو له‌پاره خپلې و ظیفې سر ته ر سو ی، او که چیری د ټو لنې د خلکو تر منځ د غښتلتیا سزی د تعصب د ضعف له کبله او سړی شی، نو پلې سستیږی او سپنسی یې نری کیږی او بالاخر ه سزی شکیږی او د ټو لنې و دانی و یجاړ یږی .

له دی نه‌و ر و سته د غه کلی ر و ح سړی، که څه هم و ګړی پاتې وي، مګر ټو ل نې هیئت له منځه ځي. نو د غه افر اد او خلک د خپر و ټو ټو غو ند ې دی چې یا به د کو ن او قدر ت په دو د سر ه په نو ر و جسمو نو پو رې و نښلی او یا به د مر ګ په منګو لو کې ر ا ایسار شی او تر هغه و خته پو ر ې به و ی چې تر څو پور ې خدای(ج) پکې بیا ساه‌ننباسی. (دا د خپل مخلوق سره د خدای(ج) سنت دی).

کله چې په یو قو م کې عصبیت ضعیف شی، نو خدای(ج) و ر باندې و یره ر اولی او یو د بل نه‌یې بېخبره کړی او و ور سته یې د نژ دې و الی سزی و شکیږ ی او یو تر بله شا په‌شا سر ه ګر ځی. نو د پر د پو او نا اشنا عناصر و د نو تلو ځا یو نه پکې پیدا شی او بیاد پو ر ته کېدلو نه تر هغه پو رې‌و و ځی چې بیا پکې د تعصب سا ه ننو ځی لکه‌چې پخوا پکې وه .

هو کې! تعصب د نو ر و او صافو غو ندې یو و صف دی . اعتدال او دافر اط او تفر یط اړ خو نه هم لری. اعتدال یې هغه کمال دی چې ښېګڼې بې مو ږ د مخه ځر ګندې کړی او تفریط هغه نیمګړ تیا ده چې تیېنوالی یې وښو د ل شوا و افر اط یې هغه دی چې تیری ته لاس او ږ د کړی. ځکه چې افر اط کو و نکی د خپل تعصب له امله په حقه ‌ی که په ناحقه د خپل او نژدی له پاره مدافعه کوی او یوازې خپل عصبیت د کرامت او عظمت مستحق ګڼی ، هر ډو ل پر دي ته په‌بده ستر ګه‌ګو ر ی. نه یې په‌حق اعتر اف او نه یې د ذ مې مر اعات کوی .نو په‌د غسی تعصب سر ه دعدل

له لاري څخه وځي او د تعصب ګټه په تاوان بدله شي او د ټولني قيمت لاړ شي، بلکه عظمت ته صدمه ورسيږي .

عدل دانسانی ټولني قوام او ټينګو ونکی دی او ملت پرې ژوندی دی، نو هر قوت چې عدل ته غاړه نه ږدی، اخر يې ورکيدل دی او د تر دې اندازې پورې تعصب د شارع په دې وينا بد ګڼل شوی دی چې وايی: (څوک چې خلك عصبيت ته رابولی، هغه زموږ له ډلې څخه نه دی. (د حديث شريف ترجمه )

تعصب لکه چې د مخه ذکر شو ، د قومی غيرت حس ترې مراد دی چې معنی يې د نسب اړيکی او ټولنه ده . په يوه پلرينه کی همدغسی خلکو دغه معنی ارته کړی ده او د دينی اړيکو له کبله ، ديو بل سره مرستی کولو ته هم تعصب وايی، او هغه افراط کاران چې د پرنګيانو پېښې کوی، دا راز تعصب بد بولی او وايي چې: دينی متعصب دي مړ شی. ليکن داخبره د عقل سره سمه نه ده ځکه دا سی نژ دی ـ والی چې پيل شوی سره داسی يو والی ته راغونډوی چې د مهالکاتو دد فع کولو او د کمالونو د کسب او زده کړی له پاره قوت ورڅخه راپيدا کيږی. د هغه حال نه مختلف کيږی چې مرجع يې دين وی او که نسب . ځکه چې د خدای(ج) په تقدير کی دغه دوه اړيکی د بشر په مختلفو قومونو کی شته او د هر يو څخه په عالم کی دومره اغيزی راوځی چې د انسانيت نړی پرې ولاړی .

د عقل په نزد په دې کی هيڅ فرق نشته چې يو قومی خپل د بل غز يز (قومی خپل) مدافعه او د ژوندانه په اړتياو کی ورسره مرسته کوی او يا د عقيدې او مذهب له کبله د دوو نژ دې خلکو ترمنځ دغه مدافعه او مرسته موجوده وی. نو د داسی کسانو تعصب چې په دين کی سره شريك او د عقايدو په اصولو کی سره يو وی او په اعتدال ودريږی او په معامله کی تيری ته ونه رسيږی او د مخالف د حرمت سپکاوی ونه کړی او د هغه د ذمې ساتلو رعايت

وشي. نو دا په انساني ښېګڼو کې لویه ښېګڼه ده او ګټه یې ډېره زیاته ده. بلکه ډېره سپېڅلې او جګه رابطه ده. او که ټینګه وساتلې شي، نو سړی د لوی مقام او د باداري او مشرۍ ځای ته رسوي، په تېره بیا په هغسې ټولنه کې چې د دین حکومت پکې ښه چلېږي او په قوسي خواهشونو یې د دین قدرت دومره غښتلی وي چې ورک کېدو ته نژدې وي لکه چې د اسلامي دیانت په خلکو کې چې دا صفت موجود دی او موږ ورته د جریدې په دویمه ګڼه کې اشاره کړې ده.

په دې خبره دې موږ څوک نه نیسي چې تعصب مو ولې په ټولو اړیکو سپېڅلې او اقدس وباله. دا ځکه: لکه څنګه چې د خلکو ترمنځ اختلافات ورکېږي او په لویو مقصدونو او غټو چارو کې سره یو کېږي ، همدا راز د یو بل نه د کرکې او مخ اړولو هغه اغېزه هم له منځه ځي چې د خیلونو او ټبرونو ترمنځ، بلکه د هغو قومونو په منځ کې هم وجود لري چې په پلرنیو ، ژبو ، عاداتو ، صورتونو او شکلونو کې سره بېل وي او ډول ډول ارزوګانې یې یو قصد ته راغونډېږي چې هغه هم لویوالی ، کلکوالی او ټینګوالی او تل ترتله یادونه ده چې هغه ټول د دغه ښه نوم (دیني تعصب) لاندې راغلي دي. روغ عقل موږ ته دا لارښوونه کوي او تاریخ شاهدي وايي چې قومي اړیکې په دې ځای کې ټینګېدلای نه شي.

په دې وختونو کې یو ټولکي چې ځانونه یې زندیقان کړي دي ، د دیني تعصب په برخه کې داسې وايي: «څوک چې د خپلو دیني ورونو د مرستې کولو خیالونه او ورباندې غیرت کوي او د دې له پاره سره یو ځای کېږي چې د دین سپکوالی، بېوزلي او دردونه ځنې لیرې کړي، نو همدا سړي انه او غیرت دی چې مسلمانان یې د تمدن د لارې څخه را اړولي او د پوهنې او معرفت د رڼا څخه یې راګرځولي او منع کړي دي او د ناپوهۍ په کنده کې یې ګوزار کړي دي او پر

ځینو خلکو باندې یې په ظلم او تجاوز کولو ته هڅولي دي چې په دین کې ورځنې بېل دي. دوی عقیده لري چې د مفاسدو مخنیوی او ښېګڼو استکمال د دیني عصبیت او د هغه د اغېز و د منځه وړلو او د دې عقایدو څخه د عقلونو د خلاصون نه پرته نه حاصلېږي. دوی تل په اسلامي هېوادونو کې دغه راز پروپاګنډونه کوي او د تعصب زښته ډېره بدي بیانوي.»

دې دروغجنو دروغ ویلي دي. ځکه چې د دین لوړ ښوونکی او غوره استاذ دی چې عقلونه د علومو په هڅه او د معارف په ارتوالي پسې راکاږي. دین ډېر مهربانه، ادب ورکوونکی او ستر ګور پالونکی دی چې په ارواحو کې ښه ادب او ښه خوی یونه روزي او د عدل په لاره یې سم بیایي او د شفقت او مینې عاطفه پکې ویښوي. په ټېره بیا د اسلام دین چې داسې ټولنه یې لوړه کړې ده چې د نورو ټولو ټولنو ځنې په وحشت او زړه کلکوالي کې زیاته وه او په لږ وخت کې یې تمدن او حکمت ته ورسوله هغه هم عربي ټولنه وه.

که له دیني تعصب هم د قومي تعصب غوندې د افراط درجې ته رسېږي چې وروسته ور څخه تیري او تجاوز جوړېږي. که د دین خاوندان پاځېږي او غواړي چې خپل مخالفین لوټ او ورک کړي، لکه څنګه چې غربي ملتونه پاڅېدل او د ختیځ په ښارونو یې د وژلو او ولجې له پاره یرغل وکړ او فتح او دیني رابلنه یې مقصد نه ؤ.

یا لکه په هغه لویه هیبت ناکه شخړه او جګړه کې چې صلیبي جګړه بلل کېږي یا لکه څنګه چې هسپانویانو د اندلس په مسلمانانو باندې وکړل، یا لکه په هغه وخت کې مسیحي دین د لومړي ځل له پاره قوت ومونډ، نو د عیسویانو ستر واکمن په بیت المقدس کې یهودیان راغونډ کړل او ویې سېځل.

داسې پېښې له دې اسله چې د دين داصولو سره مخالفې دي، نو لږه موده تېره شوې نه وې چې د دين خاوندان بېر ته خپلو هغو اصولو ته ر و اګر ځې چې په روغه، سينه او عدل باندې بناوي.

که څه هم دمسلمانانو ځينې ډلې د پخوانو قومونو څخه په تعصب کې وړاندې لاړې، مګر خپل افراطي دې حدته ونه رساوه چې د بل دين خاوندان له هغو ځمکو څخه و شړي، او دهغې نه وروسته چې مسلمانان د جزير العرب د حدو دو څخه وتلي دي، دمسلمانانو په تاريخ کې چا ته دغسې افراط معلوم نه دی، په دې خبره زموږ غوره دليل دادی چې: دهغې ورځې نه راپديخوا چې مختلف ملتونه او دهر راز دين خاوندان دمسلمانانو دواک لاندې راغلي دي، هغوی تر اوسه پورې خپل هماغه پخوانی عقايد او خپلې ګټې ساتلې دي او مسلمانان ورته هيڅ نه وايي. سره له دې چې په لوسرېيو وختونو کې مسلمانان څو سره غبنتلي وو او دنورو دينونو خاوندان بيخي بيوزلي وو. هو کې! مسلمانان د هېوادونو په ارتوالي او دفتوحاتو په ډېرښت کې سرا بڼ دي او څوک يې چې حکم نه مني له هغوی سره دشدت او سختۍ څخه کار اخلي، مګر بيا هم دهغوی د دينو حرمت ساتي او دذمي مراعات کوي. چاچې ورته غاړه ايښې وې دهغه حق پېژني او څوک نه پرېږدي چې زياتی او تجاوز ورباندې وکړي او ددوی په زړونو کې يوه ټينګه عقيده داده (څوک چې زموږ په «ذمې» باندې خوبن شو، نو څه چې زموږ دوی

هغه به د دوی هم وي او څه چې پر موږ وي، هغه به په دوی هم وي.) دوی دنورو سره په معامله کې دخدای (ج) له حکمه نه دې ګرځېدلي: (ای مؤمنانو په عدل ټينګ اوسی. په داسې حال کې چې دخدای (ج) لپاره شاهدې وايې. که څه هم دغه شاهدي ستاسو په خپلو ځانونو باندې وي يا سو په مور او پلار او ياسو پخپلوانو باندې وی.)

«د آيت شريف ترجمه»

مگر هغه وخت چې بشري طبيعت و رځنې بېخي خلاص پداى نه شي پر تيا نشته مسلمانانو دلومړى ورځې نه ترننه پورى هيڅ يو ديني مخالف د استحقاق، جگى رتبي او مقام نيولو څخه منع کړى نه دى او په اسلامي دولتونو کې دنورو دينونو خاوندان ،ډېر ولويولويو څوکيو ته رسيدلي دي او هغه هم په داسي وخت کي چې ددوى ددين زلميتوب او بشپړ قوت ؤ او داحال تل موجود ؤ او اوس هم شته.. زماگومان دادى چې غربي دولتونه يو هم دعدل په درجه کې ترنن ورځي پورې دې حدته نه دي رسيدلي (نو لعنت دى وى په داسي قوم چې ناحقه گومان کوى چې مسلمانان دتعصب له امله دنورو دينونو خاوندان له خپلو حقوقو څخه منع کوى. )

مسلمانانو خپل دين په چاباندې په الزام او اجبار سره منلى نه دى.سره ددى چې په لومړيو وختونو کې يې ډېر قوت او ډېر فتوحات لرل او خپل همتونه يې په هغه وخت کي دملکونو دنيولو لپاره په کار اچولي وو .دوى به په دغه وخت کي خلکو ته اسلام رساوه، که چا به ومانه خو ،ښه به وه او که به يې نه مانه،نو د عادله شروطو دمراعات نه وروسته به يې پرې باج وټاکه چې هغه داسلامي فقهه له کتابونو څخه جوتيږى حال دادى چې هغو روميانو او يونانيانو چې ځانونه يې نصرانيان بلل او په خپل وخت کي د پوره برم خاوندان وو ،داسي ونه کړل، بلکه دوى چې هر محکمه نيولې وه په خلکو يې دخپل دين دمنلو الزام لگولي ؤ او دخلکو غاړو ته يې دخپل دين مسيحيت غړوندى وراچولي وو .دا کار يې په مصر سوريه او حتى په خپله دپېرنگيانو دملکونو په خلکو سرته ورساوه .

داخبره يو څه اوږده شوه.څوک چې فکر لرى، د هغه له پاره پکي رڼا شته، او څوک چې نصحيت منونکى دى د هغوى لپاره پکې پند شته،زه اوس بيرته خپلې

پخوانی او مقصود دي خبرې ته راګرځم. ایاداسې یو عاقل به وی چې عقلی اختلال هم ور پېښ شوی نه وی او داعتدال په حال کې دینی تعصب ته نیمګړ تیاو وایی اباد دینی او قوسی تعصب په منځ کی پرته له دی کوم توپیر شته چې دینی تعصب اقدس او ډېر سپېڅلی او ګټه یې ډېره ده، سو بز باور لرو چې هیڅ عاقل او پوه به ددې خبر و په صحت کې کوم شک و نه کړی .نو ولی دغه ډله په داسې خه پورې سلنډې و هی چې پری نه پوهیږی؟ او دعقل په اصولو کی کوم قانون دی چې دوی دی یو ازې په قوسی تعصب باندې و یاړی او په دغه عقیده ټېنګېدل یوه لو یه ښېګڼه ګڼی او دوی و رځنی دهېوادو په مینه تعبیر کوی. دبشری ودانۍ دقاعدو څخه کومه قاعده ده چې دو ی و رباندې تکیه وکړی او دینی معتدل تعصب سپک و بولی او ډېره کو ل تری و اجب و ګڼی.

هو ! پرنګیانو ته دا ثابته شوې ده چې دمسلمانانو ترمنځ دار تباط ټینګ مزی همدادین دی او په دې پوه شوی دی چې ددوی قوت داعتقادی تعصب نه پرته په بل څه کې نه دی. پرنګیان ددوی دملکونو په طمع دی او هڅه کوی چې دمسلمانانو په منځ کی دغه ناوړه فکرونه خپاره کړی او ددغی سپېڅلی رابطی پرېښو دل ورته ښه او ښایسته ښکاره کړي چې تر څو ددغه اړیکی رسۍ و شکوی او په پای کې داسلامی ملت ټینګه ودانۍ رنګه او په ډلو ډلو او ټولګیو ټولګیو سره یې بیل کړی .

ځکه څرنګه چې موبز پوهېږو ، دوی هم پوهیږی او ټول هوښیاران په دې پوه دی چې مسلمانان ددین او عقیدی نه پرته په بل څه نه پېژ نی. په ځینو اسلامی ملکونو کې ځینی مفسدین بریالی شوی دی. او ځینو مسلمانانویې د ناپوهی او تقلیدله مخی متابعت کړی دی او له دینی تعصب څخه یې دځیو نو رو غو ندې کر که و کړه او دغه عصبیت یې و رک کړ .لیکین په عوض کې یې هغه قومی

رابطه او تعصب چې دوی د هغه په تعظیم او احترام کې ډېر کوشش کوي، هم د حماقت له کبله لاس ته رانه وست.

نو دوی داسې مثال لري لکه چې یو سړی پخوا له دې چې د خپلې استوګنې له پاره کوم ځای پیدا کړي، خپل اصلي کور ونړوي. نو بیا دې ته اړ شي چې په ډاګ شپې تېرې کړي او سیلیو، او ربښت، جکړونو، تناوو، بریښناو او نورو ټولو هغو شیانو ته ځان ونیسي چې د ده په ژوندانه یرغل راوړي.

په همدې توګه کله چې انګریز په هند کې د حکومت کولو خیال وکړ، نو د مسلمانانو له فکرونو څخه وچورلېداو داورته څرګنده شوه چې د دوی په دین کې د لاس نه وتلي حق له پاره خوځېدنه او غوښتنه ضروره ده او د ډېرې څېړنې او کتنې څخه وروسته ورته دا څرګنده شوه چې د مسلمانو ژوند په دیني روابطو ولاړ دی او ترڅو پورې چې په دوی باندې محمدي اعتقاد او دیني عصبیت حاکم وي نو د خپلو حقوقو د غوښتنې له پاره هرومرو راپورته کېږي. نو د دې چارې له پاره یې داسې تدبیر وسنجاوه چې یو ټولګی یې غوره کړ چې په ځان یې د اسلام نوم کېښود او د مسلمانانو په لباس کې راووتل او په زړونو کې یې تګي، نفاق، کوږوالی او بې دیني وه.

د غه ټولګي د هند په ښارونو کې په نیچریانو او دهریانو سره شهرت لري، انګریزانو هم د مسلمانانو د عقیدو د خرابولو او بېچاړولو او د دیني تعصب د ماتولو له پاره همدغه ټولګی د ځان له پاره سرستیالان و نیول چې ترڅو د مسلمانانو د غیرت او رسړاو تاوېږي ورک کړي. غوڅه یې بیله کړي او ټول نه یې تجزیه کړي.

انګریزانو د دوی سره په «علیګړ» کې د یوې لویې مدرسې په جوړولو کې مرسته وکړه او د هندیانو په عقیدو کې یې د ضعف پیدا کولو او د هغوی

په منځ کې يې د دوی د مزخرفاتو د خپرولو له پاره يوه جريده‌و پستله چې د مسلمانانو تر منځ د روابطو مزی وشکوی. تر څو چې انګريزان په هوسايي سره و ربانديې حکومت وکړی او زړه يې ورنه داسې ډېغمه شي لکه چې د نورو نه ډېغمه شوی دی .

دغه بېخبره بې‌دينان په دې غوليدلي‌دی چې د برتانيې دولت‌دوی ته‌تش صورت ښکاره کوی او په ټېټو چارو ورکولو کې يې ځانونو ته‌نژدې کوی (سره‌دی‌وی هغه کسان چې‌خپل ملت په يوه مزی او حق يې په ټيټ ژوندباندې خرڅوی). او داتبليغ ورته کوی چې :«دادارو پايی‌سياست نوې لارده او ډېر دولتونه پرې روان‌شول او نتيجې‌يې ورځنی‌واخېستلې. نو‌شرقيان دی هم پرې روانشي چې ګوندې د دوی اميدونه به هم ترسره‌شی». د دغو دولتونو په عثمانی، مصری او نورو اسلامی ملکونو کې داسونه وغوړول او اميران د نوی تمدن اونوی پوهنې خاوندان يې پرې ښکار کړل .

سوړ په دې دومره تعجب نه کوو چې‌ځينې هغه دهريان او زنديقان چې داسلام په‌لباس کې‌داسې باطلو خيالاتو ته‌ځغه کوی، ليکن زموږ تعجب په‌دې کی‌دی‌چې ولی‌ځينې ساده مسلمانان، سره‌له‌دې چې په‌خپلو عقيدو ټينګ او په‌خپل‌ايمان کلک‌دی ،دينی‌تعصب او هم دغو متعصبينو ته بدوېيی او داوسنی‌مدنيت ځغه بې‌ليری‌بولی. مګر دغه مسلمانان‌نه‌پوهېږی چې‌په دې خبرو سره يې‌ديو والی مزی‌شکيږی او شان‌ته‌يې صدمه رسيږی او خپل کورونه د دهريانو سره په‌ګډه رنګوی. ځکه‌چې‌دوی د معتدل تعصب ورک کېدل غواړی .حال‌داچې د دې‌تعصب په‌ورکېدلو سره‌ملت‌ورکيږی او د پردیو لاس‌ته‌يې تسليموی چې‌خپل سريان يې کړی .

ترڅو پورې چې‌ځمکه ،ځمکه‌ده‌او اسمان اسمان‌دی، قسم‌دی‌چې‌سوږ نه دوی

ته‌او نه هغوی ته نه په تعجب کې کېږو. بلکه هغو غربي ملتونو او پرنګیانو ته ډېر تعجب کوو چې ځانونه یې د شرقیانو په منځ کې د دغسې فکرونو خپرولو له پاره وزګار کړي دي. دوی په دې نه شرمېږي چې د دیني تعصب نوم په خوله اخلي او خوله یې پرې نه بدخونده کېږي او د متعصبینو په غندلو هم نه شرمېږي.

پرنګیان په دې ډول تعصب کې د ټولو خلکو نه ډېر کلک دي او د ټولو نه په دې لار کې زیاته هڅه کوي چې نور خپل دین ته راواړوي. د دوی په سیاسي حکومتونو کې یوه اساسي قاعده خپلو مبلغینو او د هغو کسانو څخه دفاع ده چې د دین په خپرولو کې زیار باسي او هم ورسره په کارونو کې مرسته کوي. که کوم وخت د دوی په دین او مذهب کې یو چاته داسې خبره پېښه شي چې د هغې نه بشري ټولنه نه شي خلاصېدای او هغه د ختیځ په کومه سیمه کې وي، نو ته به یې چیغې او سورې واورې او په ټولو غربي ښارونو کې به یې خپې خوځېږي، ټول به چیغې وهي چې لویه بلا نازله شوې او غټه مهمه پېښه ده. ویښ شئ او ځانونو ته فکر وکړئ او د دې مهمې پېښې علاج وکړئ او پام وکړئ چې بله داسې پېښه ونه شي او دیني ټولنه رنګه او ویجاړه نه شي! !

سره له دې چې په قومیت بېل او د سیاست له مخې بېسره تبعیض او کینه لري او هر دولت به په دې انتظار وي چې کله به دغه بل په بلا اوړي. مګر بیا به هم سره نژدې وي او سینه به سره کوي او په سیاسي او حربي قوتونو کې به سره یو کېږي. که څه هم دوی سره یو تر بله په ډېرو لرې سیمو کې پراته وي او قومي نسبتونه یې پرې شوي وي، مګر بیا هم د خپلو هم دینانو حمایه او ساتنه کوي لېکن که چېرې د فتنو توپان راښکته شي او د ځمکې مخ ونیسي او د دیني مخالفینو له وینو څخه یې وطنونه ډک شي، نه به په دوی کې کوم احساس ولیدل شي او نه به د دوی کوم رګ وخوځېږي، بلکه ځان به ناګاره واچوي او تر هغه به یې پرېږدي

چې دخپل حدڅخه و اوړي او څه چې دبشري فطرت او انساني شفقت تقاضاده
خانو نه بهو رڅخه بېخبره و اچوي .

دوی دخپل دین نه‌سنو نکی خلك دځرپدو نکو ژ و یو غو ندې گڼي‌او د هغې انساني نوعي څخه یې‌نه‌بو لی چې‌ار و پایان یې‌خپل ساتونکي او خپل‌سر ستونکي گڼي.داخوی په‌دوی کي‌یو وازی له‌دې څخه‌پیداشوی دی‌چې پر خپل دین ټینګ‌دي؛ بلکه‌د هریان‌او هغه‌چې‌به خدای(ج) اورسول(ص) او کتابونو باندې اعتقاد نه‌لری هغوی‌ددوی‌څخه‌په‌دیني‌تعصب کې و ړاندی کیږی ا و دخپل‌عصبیت په‌سز بو تو لو کې هیڅ ډو ل نیمګړ تیا نه کوی،دوی کاشکی چې‌په حق‌او یو حد باندې در پدلی او ډېر و رځني‌او ړی.نو په‌دې خبر شيء چې په‌دیني تعصب‌باندې دپر نګیانو منګو لی لګو ل‌ډېر ه‌ناآشناخبر ه د ه .

کله‌په‌دوی کي‌ځیني کسان‌لکه‌ګلادستو ن‌اوداسی‌نو ر ، دازادی و روستنی درجې ته‌رسیږی بیابه هم‌ددوی په‌خپر و نوکی‌دداسی اشخاصو له خولې یوه کلمه‌همو نه‌لیدله‌شي. مګر دپتر س ر اهب‌دروح پو کی‌به‌هر چیری لیدل کیږی . بلکه‌دده روح‌به‌دهغو دروح‌نه‌دیوې نسخې مثال‌لری. ( دګلادستو ن کتابو نو او تېر و شو یو و یناو ته سر اجعه‌و کړی‌ء . )

نو ای‌دز ړه‌سواندی و ړتو لنې! داستاسو ژ و ندو ن دی، و یې ساتی،دغه سو و یني‌دی،سه‌یې تو یوی،دغه‌سو ساه ګاني‌دی،سه‌یې و باسی او دامو نیکمر غی ده‌په کو ته‌پېسو یې سه‌خر څوی‌ء ،دیني‌اړ یکی‌مو دسړ یني تر نېتې پو رې ټینګ او سز بوت و ساتی‌ء . په‌و سو سو سه‌غو لیږی‌ء‌او بنایسته‌او تجملي‌ژ و ندسو تېر نه‌باسی بنکلی‌شیان‌در څخه عقلو نه‌یو نه‌سی.دو هم‌پر دې سو له سترګو پور ته کړی او ددیني اړیکو په‌رسیو باندې منګو لی‌ټینګی کړی‌ء‌چې تر تو لو ا ړ یکو ټینګ دی او تر کی‌دعر بی سر ه،فارسی د هندی‌سر ه او مصری‌دمغر بی‌سر ه پرې ر اغو نډشو یدي

تر دې کېږي که يو سړی ته د زماني د ښېښو له کبله خوږ او رسېږي نو د ابل که دنړۍ په لیرې گوټ کې هم پروت وي، پرې خوږمن کېږي .

دا اړیکې تر ټولو مز بوت دي او د خدای (ج) له خوا رالېږل شوی دی او ستاسو عزت، پاچهي او باداري پکې خوندي ده، نو مه يې سپکوئ. ليکن تاسو يې هغه وخت ساتلای شی چې د عدل حکم ته غاړه کېږدی، ځکه چې عدل د عالم د وجود اساس دی او نړی يه عدل سره ټينګه ده، هيڅ قوم تر هغې پورې برېمو ند لای نه شی تر څو پورې چې د دوی په منځ کې د عدل اصول قايم نه شي. په تاسو باندې له خدايه ويره فرض ده او د ذمو په ساتلو کې د خدای (ج) حکمونه په ټينګه مراعات کړی او د حق د خاوندانو حقوق وپېژنۍ .

په تاسو فرض ده چې په هغو ګټو کې چې ستاسو او ستاسو د ټولو وطنونو دوروڼو او ستاسو د هغو ګاونډو يانو په منځ کې وي چې په بل دين وي، ښه معامله وکړی او کلکه مينه ورسره وساتی. ځکه چې ستاسې ښېګڼې د دوی د ښېګڼو نه جلا نه ساتلی کيږی او د دوی ښېګڼې هم ستاسو د ښېګڼو څخه پرته او بيلې نه ساتل کيږی .

تاسو ته لازمه ده چې د دين پله او عصب د تيری او زياتی او د حقوقو د هتک وسيله ونه ګرځوی ځکه چې ستاسو دين تاسې د دې خبرو نه منع کوی او په د غسی کار سره مو د خدای (ج) او ډېر غذاب څخه ويروی او خپل عصبيت د خپل تش خواهش مه تابع کوئ، بلکه په دې ذريعه سره يو شی چې د نورو نه په قوت برم، پاچهي او ګټو رواو بشپړ وانسانی ښېګڼو سره ځکی لاړ شیء. خپل عصبيت ديو والی لاره کړی چې خپاره مو پرې راغونډ او يو بل ورورمو د لاس نه نيولی د نيمګړ تيا او ټيټوالی څخه يې د کمال درجې ته ورسوئ. ديو بل سره په ښېګڼو او ښو چارو کې مرسته وکړی او په بل چاباندې په تيری او ګناه کې ورسره مرسته مه کوئ .

# قضا او قـــدر

خدای(ج) خپل مخلوق په دې ډول پیدا کړی دی چې د زړه د عقیدی د جسم په چار و باندې پاچهی کوی ، نو ښی چاری دی او که بدې، ټولې د دینی عقیدې څخه را ولاړېږي او کله چې داخبره مو پر په تېرو ګڼو کې هم څرګنده کړی ده. ډېره لږه یوه عقیده د فکر و نو خوا او شا نیسی او نورې عقیدې او معلومات په ځای پسی را ولی . بیا د غه عقیدې د جسم په چار و کی داسی څرګندیږی چې د دغو عقیدو اغېزه د نفس سره لازمه وی .

کله یوښه اصل او د کمال یو مبنه قاعده وی چې د ښو و نې یا د شریعت د تبلیغ په وخت کی او ربدو نکی ته و رباندې یو څه شک او التباس پیداشی. یاد ځینو ښتو صفاتو او باطلو اعتقاداتو سره مخامخ شی او تکر و رسره وخوری، نو د لته د ده په سپېڅلی عقیدې پورې یو بل څه و نښلی.نو په دغو دواړو حالتو نو کې د دغې سپېڅلی او ښې عقیدې حقیقت او اغېزه بدلیږی .

کله دفکر دخطايې يادخراب استعداد له کبله په دغې سپېڅلې عقيدې پسې ناوړه او بدې عقيدې راځي. نو په دغه وخت کې بدې چارې کوي او معتقد نه پوهيږي چې عقيده يې څنګه ده! او نه پوهيږي چې دده اعتقاد څنګه او بنتي دی. څو ک چې په ښکاره شيانو غوليږي، هغه ګومان کوي چې دغه بدې چارې ځکه کوي چې دی لا اوس هم په دغه سپېڅلې اصل او ښه قانون باندې اعتقادلري. دهمدې ډول غلطې پوهې او خطاله کبله دخينو دينونو په اصولو کې ډېر خله تحريف او تبديل پيښ شوی دی. لکه چې ډېر خله په هر دين کې دبدعت دپيدا کېدلو علت هم دغه شی دی. او ډېرخله ددې ډول انحراف او بدعتونو له کبله طبيعتونه او يچاړيږي او ناوړه چارې ورځنۍ کيږي، نو که څوک په دغو عقيدو کې خدای (ج) هم شامل او داخل و بولي، نو پای يې هلاک او تباهي ده. او همدا په دې دين باندې دخينو هغو کسانو دپېغور سبب ګرځېدلی دی چې دهيڅ دين په حقيقت باندې او نه ديوې حقې عقيدې په ماهيت خبر وي، ځکه دی دخينو هغو سا دګا نو چار و ته ګورې چې همدې دين او همدې عقيدې ته منسوب دی. ددغو سپېڅلو عقيدو څخه يوه، دقضا او قدر عقيده ده چې داسلامي دين دعقايدو داساساتو څخه ګڼله کيږي. پر نګيانو په دې مسئله کې ډېرې خبرې کړې دي او راز راز ګومانونه يې کړي دي او داسې خيال کوي چې: دهر قوم په زړونو کې چې دقضا او قدر عقيدې ځای نيولی وی په هغوی کې يې همت او قوت له منځه وړی دی او ضعف او سستوالی پکې راغلی دی. دوی په مسلمانانو پسې راز رازناوړه خبرې جوړې کړې او بيا ددې ټولو علت يې په (قدر باندې عقيده) ښوولی ده نو وايي چې: (مسلمانان په بېوزلۍ او لوږه کې دي په حربي او سياسي قوت کې له نورو ملتونو ځنې وروسته پاتې دي بدخويونه پکې خپاره شوي دي. دروغ، نفاق، تيګی، کينه او بغض پکې ډېر شوي دي او اوس يې خبره سره بېله شوې ده، په او سنيو او راتلونکو حالاتو نه پوهيږي او دخپلو

کتو او تاوان نه بې خبره دي. په دومره ژوند بسیا کېږي چې ويې خوري، و يې څښي او ويده شي، هيڅ په دې فکر کې نه دي چې په نورو باندې په کومه ښېګڼه او فضيلت کې زيات شي. هر کله يې چې د خپلو رورسره په بدې کولو لاس بر شي، سپما پرې نه کوي او په خپلو منځو کې سره غلمېن شول او نور ملتونو يې يو په بل پسې سړي کوي او ښوي يې تېر وي. )

په هره پېښه باندې خو ښه دي او هرڅه چې ور باندې کېږي، مني يې. بې غمه په خپلو ورانو کنډرو کې پراته دي په خپلو ورشو ګانو کې څري او بېرته يې د خپلو استوګنو ځايونو ته راګرځي. پاچهان يې خپل وختونه په ساعت تېريو او شهوت کولو تېروي. حال دا چې په پاچهانو يې دومره فرض او واجب پراته دي چې عمرونه او کلونه يې د هغو په ځای کولو او ادا کولو لګېږي او دوی تراوسه پورې هيڅ هم يکی نه دي کړي. د خپلو ساعت تېرۍ او عياشيو له پاره زښت ډېر لګښتونه کوي. ليکن دا لګښتونه يې هيڅ په داسې لار کې لګولي نه دي چې ملت ته پرې کومه ګټه ورسېږي او د رګرده دملت مالونه په پټه وهي او لګوي يې. ملت ته به په سپکه سترګه ګوري، د عامو خلکو ښېګڼې په خپلو خصوصي ښېګڼو پورې نښتي بولي. ډېر خله ددوو اميرانو په منځ کې ديو بل نه کرکه کول تولله جامعه تباه کوي. ځکه هريو غواړي چې خپل مقابل راوپرځوي او کوم ګاونډی ورته په غليمي ودوري. مګر وروسته ورته څرګنده شي چې په دواړو کې قوت پاتې نه وي او مهلک ضعف ور باندې راغلی دی. نو خپلو ملکونو ته دومره بلا ګانې ننباسي چې دښمن نه وتلي وي.

مسلمانان وېرې ځپاره کړي دي او تر دې اندازې پورې بې زړه توب او سستوالی پکې راغلی دی چې د نړۍ غږ په اورېدلو هم لړزېږي او تش په ګوتو وړو ړلو هم خوږېږي .

نورو ملتونه عزتونو او دبدبو ته ورسېدل او دوی په ځای ناست هېڅ نه خوځېږي. او د خپل دين د حکمونو څخه يې مخالفت کړی او کوی يې. سربېره له دې چې خپل ګاونډيان په ستر ګو وينی چې له دوی څخه مخکې شول، بلکه هغه کسان هم له دوی نه مخکې کېږي چې د دوی د حکم لاندې وو. او اوس پخپلو چارو په دوی باندې و ياړی .

که د مسلمانانو په يو قوم کې څېنو ورونو ته يې کومه خواشيني پېښه شي او يا کوم تېری او زياتی ور باندې وشی، نو دوی د هغوی د خواشينۍ سپکولو او ليری کولو ته هڅه نه کوی او نه يې سرستې ته ور پاڅېږي. نه په دوی کې پټې يا ښکاره داسې لوېي ملي ډلې شته چې د هغوی مقصد د غيرت ژوندی کول، د مېړانې وينبول او د بېوزلو مرسته کول وی او د زورورو د زياتې او تيری او د پرديو د واکمنۍ څخه د دوی او د دوی د حق ساتل مرادوی.

په همدې علت پرنګيان ورته د غه راز نسبتونه کوی او د غسې خبری ور پسې وايی . پرنګيان ګومان کوی چې د دې خبر و منشاء په قضا او قدر باندې اعتقاد نه راپيداشوې ده او د دې نه پرته چې مسلمانان ټولې چارې د خدای (ج) قدرت ته سپاری بل علت نه لری . دوی وايی چې: که مسلمانان ټل په دې عقيده وی نو هيڅکله به په پښو و نه دريږی او هيڅکله به عزت ته و نه رسېږی او هيڅ وخت به بيا د پخوانی لويي او عظمت خاوندان نه شی او نه به له چا څخه خپل حق واخستلی شی. نه به د چا د ظلم دفع و کړی او نه به په خپلو کې د کوم پاچاد قوی کولو او خپل وطن د ټينګولو له پاره پاڅېږي او تل به ضعف د دوی په زړو نو بشپړه اغېزه کوی او طبيعتونه به يې سړ وی. چې په پای کې به ورک کېدل او زوال ورپه برخه شی.

څېنی به د څېنو له لاسه په کورنيو جګړو کې ورک شی او کوم چې پاتې

شول، هغه به د پردیو له لاسه وربیل شي. [و العیاذ بالله].

پرنګیان عقیده لري چې د قضا او قدر اعتقاد او د جبر په مذهب عقیده سره توپیر نه لري. جبر په عقیده وايي چې: «انسان په خپلو ټولو چارو کې مجبور دی او په خپله هیڅ واک نه لري». دوی خیال کړی دی چې د قضا په عقیده ولاړ مسلمانان ځانونه په هوا کې د بڼکي په څېر ګڼي، څنګه چې د باد خوښه وي، هماغې خوا ته ورسره ځي.

کله چې د یوه قوم په مغزو کې دا ټینګه شوه چې هیڅ خبره، او کار او هیڅ خوځېدنه او کیناستل زموږ په واک کې نه دي او دا ټول د یو جابر او پردي قوت له خوا اجرا کېږي، نو شک نشته چې قوتونه یې ځای پر ځای ودرېږي او د خدای (ج) ورکړو عقلونو او حواسو ثمره یې ورکېږي او د زړونو ځنې یې د سعي او کار باعث لیرې کېږي نو د دغسې قوم سره دا جوړېږي چې بېخي ورک او له منځه لاړ شي.

په همدې ډول د پرنګیانو یوې ډلې هم دا ګومان کړی دی او په ختیځ کې هم ډېر ناپوهان په دغه لار تللي دي. زه له دې څخه نه ډاریږم چې ووایم: د غو کسانو دروغ ویلي دي او هم تېرویستلي دي او په خدای (ج) او مسلمانانو پورې یې دروغ تړلي دي. لیکن اوس په نامه مسلمان داسې نه موندل کېږي چې د محض جبر په مذهب پسې تللی وي. که سني، شیعه، زیدي، اسماعیلي، وهابي او خارجي وي یو هم داسې فکر نه کوي چې زموږ څخه واک بېخي تللی دی او زموږ په خپلو چارو کې هیڅ واک نه لرو. بلکه له دغو ډلو څخه هر یوه مسلمانه ډله عقیده لري چې زموږ له پاره په خپلو چارو کې اختیاري برخه شته چې د هغې نوم کسب دی او دغه کسب دی چې د ټولو په نزد د ثواب، او عذاب ورباندې مرتبېږي او د دوی سره چې په همدغه خدای (ج) وربخښلې برخه باندې حساب کېږي. په همدې برخه د خدای (ج) د حکمونو په ځای راوړل او له نواهیو ځنې یې ځان ساتل ورڅخه

غوښتل شوي‌دي. چې هغه‌سړی هر راز ښېګڼې ته‌راکاږي او دهر راز بر ی سو ندلو لاروربښيي او په همدی ډول اختیار او واك باندې شرعي تکلیف ایښو دل شوی‌دی او په‌عدل‌او حکمت و رباندې پای‌ته‌رسیدلی‌دی .

هو ! په‌ملسمانانو کې‌دجبریه په‌نامه‌یوه‌ډله وه‌چې ویل‌به‌یې: هرانسان په‌خپلو ټولو چارو کی دومره‌بې‌واکه دی‌چې‌بیخی‌له‌واك همه‌لری او ددې‌له‌پاره هیڅ‌ضرورت نشته چې‌انسان خپله ژامه دخوړ لو او ژ وولو له پاره وخوځوی، که‌څه‌هم‌ژامې‌یې دډېرو سړ وله کبله‌بیوا که ړچیږی.

لیکن‌مسلمانان ددې‌ټولګی مذهب یوه‌لانجه منه‌سفسطه ګڼی.ددې مذهب خاوندان دڅلورسې هجری‌پیړی په‌پای کی‌ورك‌شول او هیڅ‌اغیزه‌یې‌پاتی نه‌شوه .په‌قضااو قدر باندې اعتقاد، کټ‌مټ په‌جبر باندې اعتقادنه‌دی‌او نه‌ددغه اعتقادمقتضیات‌په‌دې ډول‌دی‌چې دغو پرنګیانو ګومان کړی‌دی .

په قضاباندې‌داعتقادد‌پاره قطعی دلایل‌وجودلری، او دفطرت‌لارښوونه هم داده‌او څو ك‌چې‌لږ فکر لری‌هغه په‌اسانه تو ګه‌ځان ته‌داسعلومولای‌شی‌چې دهر نوی‌پیداله‌پاره یو نژدې سبب‌شته او داسبابو په‌لړ کې‌دهغو نه‌پر ته چې دده‌په‌واك کې‌وی ،بل‌څه‌نه‌وینی او ددغو اسبابو په‌سوابقو، داسبابو د نظام جوړونکی‌څخه پرته نورڅو ك نه‌پوهیږی .هر مخکینی‌سبب په‌وروستنی سبب کی‌داوی،عالم‌او زو رو ر خدای(ج)په‌تقدیر سرمځر ګندډخل‌لری .دانسان اراده ددغې‌سلسلې‌یوه کړی‌ده.اراده دپوهې او ادراك داغیزی‌نه‌پرته بل څه‌نه‌دی ادارا ك‌دهغو شیانو څخه‌دنفس‌انفعال دی‌چې‌حواسو ته‌وړاندی کیږی .

او پر هغو ار تیاو باندې چې‌په فطرت کې‌ایښو دل‌شوی‌دی، دنفس‌شعور دی.

دکو ن‌او وجو ددڅوا هروڅخه په‌فکر او اراده باندې‌تسلطلری، پوه خو لاڅه کوی‌چې‌هیڅ ناپوه هم‌و رځینی منکر بدلای‌نه‌شی.ددې سببو نو ستړه‌لکه چې ته

يې اغېزه ناکه گوري، دلوی‌وجو ددمدبر پەلاس کې‌ده چې‌تول‌شيان‌يې دخپل حکمت‌سره‌سم پيدا کړي او هر نوي‌پيدايي ،لکه چې‌دهغه جز وی، دخپل مثل‌تابع کړي‌دي‌په‌تېره‌بيا پەانساني‌عالم کی .

که‌موږ فرض کړو چې کوم ناپوه‌دعالم‌دصانع پەوجود با ندې داعتراف نه‌او ښتلی‌دی،نو داخو هيڅکله‌نه‌شي‌و يلای‌چې‌دطبيعت فو اعل او دز ماني‌حو ادث گو ندې په بشري‌ار اداتو کې کوم‌اغېز ه‌نه‌لري.نو ايا کېدای شي چې کوم شخص‌ځان ددې‌سنت‌څخه‌و باسي‌چې‌خدای(ج) پخپل مخلو ق کې‌پيدا کړی‌دی ؟.

داداسی‌خبره‌ده چې‌هغه‌څو کڅخو په ځای‌پر يږ ده‌چې‌حق‌ته‌ر سېدلی‌وی، بلکه‌حق‌لټوونکی هم‌و ر باندې اعتر اف کوی.دپر نگيانو ځينو پو ها نو او ددو ی سياست و الاو ، دقضاو اک ته‌غاړه‌ايښې‌ده او پەاثبات کی‌يې بيان‌او ږ د کړی‌دی . موږ دې ته اړ نه‌يو چې ددوی‌په‌فکر و نو با ندې شا هدان تېر کړ و .څکه‌تار يخ در و ايت نه‌پاس‌يو علم‌دی او دهر ملت پو هانو پکې‌خېړ نه کړی‌ده. تار يخ يو داسې‌علم دی‌چې دملتو نو او دقو مو نو تگلار ې‌بيانوی.ددوی‌جگړې او تيتهېدل، دطبيعتو نو لو يې پېښې، ددوی تغير او تبديل، عادات او اخلاق يې ، ددوی دفکر و نو منشاء بلکه‌باطن‌احساس‌او دوجدان‌خصايص‌دقومو پيدا کېدل، ددو لتو نو جوړېدل او دځينو و ر کيدل‌او له‌منځه‌يې‌داغېز و تلل‌او داسې‌نو ر مسائل‌څېړ ي.

دافن‌دوی‌يو ادبی فن‌بللی‌دی‌او دهغه ږېر ه‌گڼه‌يې‌ښو دلی‌ده. په‌دغه‌علم کې څېړ نه د قضاو قدر په‌عقيدی بناده او يقين اری‌چې دبشر قو تو نه د کايناتو دمد بر او دپېښو داړوو نکی‌په‌لاس کې‌دی او که دبشر دقدرت اغېزه نه‌و ای، نو هيڅ‌جگړه تيتهشوی نه‌و ای‌او هيڅ ښو ز لی به‌غښتلی شو ی‌نه‌و ای‌او نه‌به کو مه لو يې له‌منځه تللی‌و ای، او نه‌به‌کو مه پاچهی ړ نگه‌شوې‌وای.

په‌قضااو قدر باندې اعتقاد چې‌جبر و رسره سلگرې‌نه‌وی، زړو رتیا او ښو
چارو ته‌سخ کول‌او رځنې پیدا کیږی. اوانسان په‌داسې‌سهلکاتووړخېژوې چې دزسریو
زړونه ورڅخه چوې اود پړانگانو تریخې ورځنی اوبه کیږی.
دااعتقاد زړونه په‌ثبات ټینگوی، زیارونه او رېړونه پرې‌زغمی،
سختیو ته‌یې په‌سخه‌ورولی، دسخالارې‌ته‌یې سموی‌او هرڅه چې‌ورباندې‌گران
وی،دهغه‌نه‌یې‌تېر وی. بلکه‌دخپل‌سر او ښکلی ژوندڅخه‌تېر بدل‌ورڅخه غواړی
لنده یې‌داچې انسان‌سمی‌لارې‌ته‌سموي او ددې‌عقیدی همدالارده او بس.
هغه‌څوک‌چې‌په‌دې‌عقیده لرې‌چې‌دسړینی‌نیته‌تیاکلی شوې‌ده او درزق
ضامن یې‌شته،نوهغه‌به‌دخپل حق په‌دفاع،دخپل ملت‌او دین په‌شان جگولو او ملاتړلو
کې او په‌هر هغه‌څه کې چې‌خدای(ج) ورباندې فرض کړی‌دی ،دسړینی څخه
څنگه‌ویاړ شی. که‌خپل‌مال‌دالهی‌حکمو نواوبشری‌ټولنوسر مسم،دحق‌به قوی کولو
او دلویی په‌ټینگولو کې‌لگوی، هغه به‌دبېوزلی څخه‌څنگه وویریږی.
مسلمانان‌خدای (ج) په‌دې‌اعتقادسره ستایلی‌دی‌او په‌دې‌حق‌بیان کې یې
په‌فضیات‌سره‌یاد کړی‌دی. [سؤ سنان هغه‌خلك‌دی‌چې دوی‌ته‌ځینو خلکو وویل‌چې
ستاسې‌سره دجگړې له‌پاره خلك راغونډشوی دی،نوله‌دوی‌ځنی وویریږی،
دغو ویرولو ددوی ایمان‌او زړورتوب لاپسې‌زیات کړ او ویې‌وویل چې‌زموږ
له پاره‌خدای(ج) بس‌دی‌اوخدای(ج) څومره‌ښه کارجوړونکی‌و کیل‌دی .نو دوی
دخدای(ج) په‌لوی‌نعمت‌او فضل باندې واوښتل چې‌هیڅ رازبدې او نیمگړ تیاپه
کې‌نه‌وه‌او خدای(ج) دلوی فضل‌خاوندی ] .
مسلمانانو په‌پخوا وختونو کې په‌ډېره بیړه سره هېواد ونه فتح کړل او
ترلاس‌لاندې یې کړل، نوعقلونه‌ور ته‌حیران شول‌چې‌څنگه‌یې دولتونه‌ذلیل
کړل او په‌سلتونوزور ورشول او دحکومت‌اوواکمنی لمن یې دېرنی

له غرونو څخه (چې داسپانیې او فرانسې په منځ کې دی) دچین تر دېوالهٔ پورې اوږده شوې ده. سره له دې چې شمېر یې لږ ؤ او د هېوادونو دراز راز اقلیم سره بلد نه وو او د هغوی د طبیعتونو سره اشنا نه وو، د پاچهانو په سرونو یې خاورې واړولې او قیصران او کسراګان یې داتیاو کلونو څخه په لږ موده کې تر لاس لاندې کړل بېشکه چې دا یو خارق العاده کار او د معجزاتو څخه و. ښارونه یې ونیول لوی لوی غرونه یې تر پښو لاندې کړل. د ځمکې نه یې دومره دوړې پورته کړې چې په هوا کې یې ورځنی بله ځمکه جوړه کړه د غرونو څوکې یې داسونو د سمو لاندې مېده شولې او د غلیمانو له سرونو نه یې د هغو پرخاې خلې او غاښې ورول. هر زړه یې وربېږداوه او هر ترېخې یې وچاوه. ددې تولو چارو چلوونکې او راښکوونکې دقضا او قدر دعقیدې نه پرته بل څه نه و.

په دې اعتقاد سره ددومره لویو لښکرو په مخکې چې فضا یې په سر اخیستې وه او لوی ډګرونه یې تینګ کړي وو، د ډېرو لږو کسانو پښې تینګې شوې دی او هغوی یې د خپلو ځایونو نه لیرې کړل او شاته یې وتمبول. په دې اعتقاد سره په ختیځ کې تورې وځلېدې او پلوشې یې دلوېدیځ په وګړو باندې دجګړو په لویو ډګرونو کې پرېوتې.

دااعتقاد په دوی باندې باعث شوی دی چې خپل مالونه او ټول هغه څه چې خدای (ج) ورکړی دی، دخپلې کلمې دلوړوالی په لار کې وښندي او دېوزلې او لوږې څخه ونه ډارېږي. همدې عقیدې مسلمانانو ته دا کار اسان کړی دی چې خپل زامن، خپلې ښځې او ټول هغه کسان چې ددوی سره په کورونو کې اوسېږي، دنړۍ دلېرې هېوادجګړو ته په دومره خوشحالۍ ولېږي چې ګومان

کېږي د باغچواو ګلو نوسيل ته د روسۍ او لکه چې دوی په خدای (ج) باندې په توکل
کولو سره د هرې بلاځنې په امان او خوندي شوي دي او په دې اعتقاد سره دداسې
اعتماد کلالهخان ته چاپېره کړی وی چې ښځې يې په هغې کې د ننه د جګړې لښکر و
ته اوبه رسوي او خپنۍ نو رضرو ري خدمتونه يې کوي. ښځې او بچي يې په
هيڅ کار کې د ظلميو څخه نه بيليږي او په وسلو اخيستلو کې يې نه په ښځو باندې
کومه وېره راځي او نه يې بچي هيبت لاندې کوي.

دې اعتقاد دوی تر دې اندازې پورې جګ کړل چې کله به د دوی نوم يادشو،
نو زړونه به يې و يلي کول او دينو سر و نه به يې چوول. تر دې پورې چې
د غليمانو په زړونو کې وېرې لوېدلو به د دوی سره له جنګ نه پخوا سر سته کوله او
غليمانو به يې د دوی د تورې د برېښېدلو او د نېزو د برېښنا نه پخوا ماتې کوله
او له دې څخه ښکې غليمان به تښتېدل چې د دوی د اسونو پلونه يې د استوګنې
ځايونو ته ورسېږي. په پخوانيو ژړام او و ختنيو ته انګولا کوم چې: چېرې
ياستىء اى د رحمت ډلو او مهربانۍ خاوندانو دوستانو ! چېرې ياستىء تاسو !
اى د ظلمېتو ب ښېو او د قوت د غرونو خوکو ! اى د عزت ژامنو او په سختو
ورځو کې د ښوزلو فريادرسو ! ! تاسو چېرې ياستى ! ! ! چېرې يې اى غوره
شو يه ټولګيه ! چې خلکو ته به ورغلىء نوښې چارې به سو ورښودلې او د ناوړو
کارونو څخه به سو راګرځول ! !

چېرې ياستى ! اى لوړو جګو، په عدل ټينګو، حکمت بيانوونکو او د ټولنې
دو دانې سو سسانو ! ! ايا تاسو د قبرونو له منځ څخه هغو کسانو ته نه ګورىء چې ستاسو

څه و روسته څه چاری کوي؟ تاسو نه ګورئ چې ستاسو په زامنو او هغو کسانو څه وشول چې ستاسی پېښی کوی، ستاسو دلارو څخه واوښتل، ستاسی دلارې نه په څنګ شول او ستاسو لارېې ورکه کړه او په خوځوډلو ووېشل شول، ترڅو چې داسی حالت ته ورسېدل چې دافسوس نه ورته زړونه ویلی کیږی او دخواشینی نه اینی ور ته سوځی. دپر دیو ملتونو له پاره قربانی اوونهی شول او داسی دخپله لاسه جوړ کوراو انګړ نه څوک نشی شړلای!!

ایاستاسو دډلې څخه به کوم یو دقبرونو څخه داسی غبرونه کړی؟ چې داپېخبره خلك وخوځوی او ویده ویښ کړی او لارورکو ته سمه لاروښیي (موږ دخدای(ج) یو او خدای(ج) لرو به ورځو) .

زه یوه خبره کوم او دچادلانجی کولو څخه نه وېرېږم . دبشری ټولنی په تاریخ کی به دلو سړی ورځی نه تر دې وختهپورې یولوی فاتح او مشهور جګړه مارونه سوندل شی چې په منځنیو طبقو کی زیږیدلی وی او بیا په خپل همت سره لوړو درجو ته رسېدلی وی اونورو عبنتلو دې ورته سرونه ټیټ کړی او غاړی دی یې ورته ایښی وی او واکمنی دې یې دتعجب درجې ته رسېدلی وی. که چېرې فکر ددې پر مختګ سبب و لټوی، نو څرګنده به شی چې هرو سرو به دغه شخص په قضا او قدر باندې عقیده لری.

سبحان الله! انسان دخپل فطرت او عادت په تقاضا څو مره حریص دی او خپل ځان ورته څومره ګران دی! نو هغه څه شی دی چې سړه له دې یې دوېری ځایونو ته بې پرواګو زاروی او دسړ ینی کوډغالو ته یې ورځېر مه کوی ددې ټولو باعث دقضا عقیده ده او پر ته له دې بل څه نه دې چې زړه یې دې ته نیولی وی چې څه په تقدیر کی وی، هغه سر ته رسیږی او د څرګندو شیانو وېره کومه اغېزه نه لری .

تاریخ سوړ تهښو دلی‌ده چې فارسی کورش چې‌د پخوانیو په تاریخ کې لوسړنی‌فاتح دی،دده دلوړو فتوحاتو او بری‌سبب دقضااو قدر له عقیدی څخه پرته بل هیڅ شی‌نه‌وو . له همدې کبله‌له هیڅ شی‌څخه‌نه‌و یرېداو نه‌د ده‌په کللك‌عزم کې کنه‌سستوالی پېښېده .دیونانی سکندر په زړه کې‌همدغه عقیده‌ټینګه‌وه. دلویو مشهورو فتوحاتو خاوندتاتاری چنګیز خان هم په دې‌عقیده کلك‌ولاړ ؤ ،بلکه لوسړنی فرانسوی ناپلیون بوناپارت ترټولو خلکو زیات‌په‌دې عقیده‌ټینګ ؤ .دده‌همدغه‌عقیده‌وه چې‌په لږو عسکرو به‌یې ډېرې‌لښکرې‌ماتولی او بری‌به‌یې په‌برخه کېده او کوم کار ته به یې چې زړه‌و ، سرسته‌به‌ورسره کېده .

نودغه‌اعتقادخوسره ښه‌دی‌چې‌انسانی وګړی دوېری څخه ژغوری او داوېره لوسړنی مانع‌دی چې‌انسان‌په هر کار کې‌کمال رسېدلو ته‌نه پرېږدی.هو ! سوږ ددې‌څخه‌انکار نه‌کوو چې دځینو عامو مسلمانانو په زړونو کې‌دجبر عقیده‌ننوتې‌ده او ښایي چې‌دغه ددوی دځینو هغوخواشینیو سبب‌وی‌چې‌په‌دې‌وروستیو ختونو کې‌په‌دوی راغلی دی .

سوږ ددې‌زمانی‌دسپېڅلو پوهانو څخه په دې برخه‌کې دډېر زیار و یستلو هیله‌لرو چې داسپېڅلی عقیده دځینو ناوړو بدعتو نوڅخه‌وژغوری او خلکوته دښو پخوانیو لارې او دهغوی کارونه‌ور په‌یاد کړی اود هغوی په سنځ کې داسې‌شیان خپاره کړي چې‌زموږ امامانو (رض)ثابت کړی دی لکه شیخ غزالی او داسې‌نورشول چې‌شریعت زموږ څخه په کارکو لو کې توکل او قضاته ځان سپارل غوښتی‌دی‌او ځای په‌ځای کښیناستل اولتې بې‌سنځ کړې‌ده.خدا‌ی(ج) اموږته امرنه‌دی کړی چې فرایض او واجبات د توکل په‌دلیل سره‌پرېږدو .ځکه‌چې‌دغه د هغو کسانو دلیل‌دی چې‌ددین

نه‌وتلی او دسمی لارې څخه اوښتی دی. هیڅ مسلمان په دې کې شک نه لری چې په دې وختونو کې داسلامی ملت څخه دفاع په هر مکلف مؤمن باندې فرض عین دی.

مسلمانان خپلو هغو حقو عقیدو ته نه گوری چې دوی پرې راغونډ، عزم یې غښتلی او غیرت یې دپخوانی برم دبیرته راگرځولو دپاره وخوځیږی او دد یې له پاره چې پاخی علماء یې پوه کړی. داټول کار ددوی په غاړه پروت دی.

پرنگیانو چې دمسلمانانو دراښکته کېدلو او بیرته پاتې کېدلو په بر خه کی کوم فکر کړی دی، نو دهغې منشاء نه دغه او نه کومه بله اسلامی عقیده ده. دې عقیدی ته دوروسته پاتی کېدو نسبت داسې دی لکه چې دیوه نقیض نسبت، بل نقیض ته وشی. یالکه چې دتودوخې نسبت واوروته وشی او دسړو نسبت اورته!!

هو! په مسلمانانو کې دبری موندلو او عزت نه وروسته، یو څه پیدا شول مگر ناڅاپه یې دوه سختی صدمی ولېدلې چې یوه دختیځ له لوری د چنگیز او دده دلمسیو او تاتاریانو لوټ او تالاوه او بله دغرب له خوا ددوی په ښارونو او هر سیمه کې دارو پایانو جگړی وی. هر تکړه شخص چې لوسړ نی حال ته نظر و کړی، حیرانیږی او دطبیعت په حکم، خوب او وېره پرې راځي.

ددغو نه وروسته راز راز حکومتونو مستعمل کړل او چارې یې ناوړو کسانو ته وسپارل شوی. ددوی چارو ته داسې کسان وټاکل شول چې په سیاست باندې ښه نه پوهېدل او حاکمان او واکوالان ددوی په اخلاقو او طبیعتونو کې دفسا دچینجی شول او ددوی له کبله پرې خواشینی او بدبختی راغله. ضعف پکی پید' شو ددوی ډېر خلك دداسی جزئیاتو په کتلو بوختشول چې دیوی‌شیبی نه یې خوندزیات نه ؤ. هر یو دبل په بدو پسی ملاوتړ له او له هرې خوادیو بل په ضرر رسولو کې بوختشول چې هیڅ صحیح علت او کلك

سبب هم پکښې نه ؤ. او دې چاروته یې تر هغې پورې دوام ورکړ چې تر څو ضعف او نا امیدۍ د پښتو او لاسو نو نه و تړل او داسې کانۍ یې ورباندې و کړې چې نتیجه یې تولو ولیدله .

لیکن زه یوه خبره کوم او په رښتیاسره یې وایم چې دا سلت تر هغه وخته پورې نه سرې چې تر څو ددوی په زړونو کې داسې نو عقید و خای نیولی وی او په ذهنو نو کې یې خاپو نه ځلیږی او حقایق یې د لوړو پو هانو تر منځ یو تر بله اخیستل کیږی ، او کومې روحی او عقلی نارو غی چې ور باندې راغلی دی، هغه به حقې عقیدی و رڅخه لیری کوی او دژوندانه چارې به یې بیرته پخوانی حال ته راو گرځی او ددرنو زحمتو نو دګاللو نه به خلاص شی. دخپلو ملکو نو دخلاصو لو له پاره به دحکمت او رڼا په لار سم شی او حریص دولتونه به و ډاروی او په خپلو حدو دو د ر و لو به یې مجبور کړی او داځه د و سره دنه باو رکو لو خبره نه ده. ځکه چې تاریخی پیښې دا خبره تائیدوی. ثاسو عثما نی دولت ته و گورئ چې ددغو ده صد مو (تاتاری او صلیبی جګړی) څخه و روسته څنګه پاځېدل او ډېری نړۍ شاا و خواته یې لښکری ولیږلی، دفتو حاتو ډګر و نه یې ارت کړل، هېوادو نه یې لاندې کړل، دپاچهانو پوزې یې په خاورو و سولولې او ار و پایې دولتونو هم ورته سرونه ټیټ کړل ، حتی چې عثمانی سلطان ددولتو نو تر منځ دلوی پاچا (سلطان اکبر) په لقب مشهور شو .

بیادې ستر ګی و غړ وه ! ! دمسلمانانو په زړونو او طبیعتو نو کې به ددغو و روستنیو پیښو له کبله چې دبدعاقبت څخه یې ډاروی ، یو څه حرکت او تبدیل و گورې . داسې تبدیل دشرق او غرب د ډېرو سیمو د پوهانو په فکرونو کې موندل شوی دی او دغوره شو یو کسانو ځینی یې ډلې جوړې کړی دی

چې هغوی په خپلو ځانونو د شرع او عدل سره فرض کړې ده او په دې کې ډېره هڅه کوي چې د دوی فکر و نه په خلکو کې خپاره شي او خبره یې یوه شي.

او خپاره و اره سره راغونډه کړي. یو کوچنی کار یې دادی چې یوه عربي جریده یې خپره کړې ده چې لری کسان د لیکلو په ذریعه سره یو ځای شي او ځینې هغه خبرې څرګندې کړي چې د پردو لاندې دي.

موږ ګورو چې د دغې صالحې او غوره شوې ډلې شمېر ورځ په ورځ زیاتیږي. موږ د خدای (ج) نه په خپلو چارو کې بری او د خپلو حقو مقاصدو ټینګوالی غواړو او د مصر باني څخه یې هیله لرو چې په دې نېټې هڅې سره یې ټولو شرقیانو او په تېره بیا مسلمانانو ته ګټه او اغیزه ورسېږي.

# ښه او ټیټ خویونه

# او ددواړو اغیزی

(او نصیحت کوه، ځکه چې نصیحت مؤمنانو ته ګټه رسوی). (دآیت شریف ترجمه)

هسې وایی: انسان یو کمال لری او ور باندې فرض ده چې هڅه پسې وکړی. وایی چې انسان د نیمګړ تیاو ځای دی او په کار دی چې ځان ورڅخه په څنګ کړی، وایی چې د انسان کمال دا دی چې خپل ټول فضایل بشپړ کړی او نیمګړتیایی په ټیټ خوی ککړ والی دی. نو ښه خویونه کوم دی؟ او ټیټ خویونه کوم باله‌شی .

په انسان کی ښه خویونه هغه دی چې د یو بل سره مینه کول او زړه نژدې کول غواړی. لکه: سخاء پاک لمنی او حیا او داسې نور. ځکه دوه سخیان نه یو په بل رخه کوی او نه په کومه چاره د یو بل سره لانجې ته اړ کیږی، ځکه چې دهر یو د خوی عادت دا وی چې د حق له پاره قربانی او د ناحقو نه را ګرځول

غواړي، نو هر یو خپل حد پېژني او ور باندې ولاړ وي. او یو تر بله یې د مالي چارو په راکړه ورکړه کې لانجه نه پېښیږي. په همدې ډول د وه پاکلمنی هم د کوم شي نه د خوند اخیستلو په برخه کې سره نه نښلي، ځکه د هر یو خوی د شهوت پالنې څخه ډډه کوي او په طبیعت کې یې ښو چارو ته هڅه کول اغېزلشوي وي او همداسې نور. که چېرې ټولو هغو صفاتو ته نظر وکړو چې د اخلاقو پوهانو ښه او غوره صفات بللي دي، نو دا به در ته څرګنده شي چې د دوو ښو اخلاقو د خاوندانو ترمنځ د هغې اغېزې متعلق یو ځای کول دي چې دغه ښه خویونه ور څخه را وتلي دي. کله چې په دوه کسانو کې دغه ښه خویونه را یو ځای شي نو زړونه یې په ښو چارو او لویو مقصدونو کې یو والي او نژدې والي ته هڅه کوي. او په هره اندازه چې د ښه خوی خاوند وي هماغومره به یې ترمنځ یو والی ټینګ وي او د نورو ډېر د ښو خویونو د خاوندانو هم دغه حال دی. نو ښه خویونه د اجتماعي هیئت ترمنځ د یو والي سبب او د خلکو په منځ کې د ټینګوالي رسۍ ده چې هر یو پرې ځانونه نښلوي او منګولې پرې ولګوي چې تر څو ټول وګړي د یو شخص په څېر شي او په یوه اراده وخوځیږي او په خپل حرکت کې یوه غایه غواړي په ټولو چارو کې د ښو خویونو مجموعه عدل دی.

کله چې د انساني نوع په ټولګي کې دغه ښه خویونه ځای ونیسي نو هر شخص په خپلو چارو کې په هغو حدودو درېږي چې د بل چا د حق سره و نه لګیږي او هر څوک د بل په خیر کار وکړي. په دغو خویونو هر څوک د خاص وجود په څېر دی او د خدای (ج) په مهرباني په دغو خویونو کې داسې قوتونه ایښي دي چې د دهٔ وجود پرې ساتي او په همدغو قوتونو سره یې د نوع د بقا له پاره تناسل پیدا کړی دی. په دې برخه کې انسان د نورو حیواناتو په څېر دی لیکن

د خدای(ج) حکمت غوښتي دي چې انسان یې د نو روحو اناتو څخه په بل صورت سرممتاز کړی دی. چې هغه صورت او وجود ډیر لوړ او ډیر جګ دی. چې هغه هم د تو لني وجود دی. تر څو ډیر و افراد و څخه داسې یو څه جوړ شي چې تول په یو نوم سره یادشي او افراد په دې تو لنه کې د هغو نو په څیر دي چې په وظیفو او شکلو نو کی سره بیل وي او هر یو به داسې کار کوي چې دغه تو لنه پرې دپایښت او قوت خاوندہ شي او ددغه وجود ځنې ډیره ګټه و اخلې چې تر څو په پای کې ددغې کلي تو لنې د کار څخه فردته خپله برخه او ګټه ورسیږي لکه څنګه چې خدای(ج) دجسمو نو په غړو او جړو کې دغه امانت او قوت ایښې دی.

ښه څو یو نه په انساني تو لنه کی دژ و ندانه دقوت په څېر دي چې په هر هغه کې په بشپړه تو ګه ایښو دل شوی دی او هغه چاری پای ته رسوي چې قدرت یې لري، لکه چې په لاسو باندې د نیو لوا و خوړلو کار سر ته رسیږي او لیدل پرې نه کیږي، همداسې په ستر ګو کتل او در نګو نو او شکلو نو بیلو ل کیږي او دلاسو نوغو ندی دنیو لو کار ترې نه اخیستل کیږي ، دی هم په خپل حدو لاړ او خپله وظیفه ادا کوی دغه تو ل بیا په یو ژ و ندسره ژ و ندي دي.

که ستاسو خو ښه شي نو ویلای شم چې ښه خو یو نه په انساني عالم کې دشمسي نظام دعمومي جاذبې غو ندې دي. څرنګه چې په عمومي جاذ بې سره دستو ر و نظام ساتل کیږي او په جاذبیت کې دتوازن په ذریعه هر ستو ري په خپل مر کز کې ټینګ شوی دی او دستو ر و تر منځ یې یو نسبت ساتلی دی او په دې جاذبیت سره دلوی خدای(ج) په تقدیر سره په یو خاص مدار کې دده حر کت و ر باندې منظم شوی دی داددې له پاره چې د خدای (ج) حکمت دمو جو داتو په وجو د او بقاء کې بشپړ شي، همدغسې په انساني تو لنه کې د ښو خو یو نو حال هم دی

چې دانسان وجود پرې خدای (ج) دتیا کلی شوې سو دې او ددې نوعې بقاتر هغه وخته پورې ساتی چې ترڅو دخدای (ج) حکم ورته راورسیږی .

په هرقوم کې ایښودونکي، پورته کوونکی ساتونکي راښکونکی، تړل وهونکی او تول هغه کسان چې ددغه قوم چارې اداره کوی او شئونات یې سم ساتی ،دغه تول ددغه قوم خلک دی، لوړ سشران یې وی او که منځوسی او که کشران وی، دتولو حق تهولاړ وی او داسې چارې نه غواړی چې د تولو مقصدپرې رانسکور شی او نه داسې سطلب ته هڅه کوي چې د هغه د تولو سطلب راکوږ شي. یو هم دداسې کارڅخه نه تیریږی چې په تول قوم پورې اړه ولری چې په پای کې تول دیوې تینگی و دانی په خبر شی چې هیڅ راز جکړ او تو پان یې نه شی خوځولای او نه یې زلزلې غورځولای شي! د هر یو په قوت سره په قوم کې دوسره قوت راغونډیږی چې موقعیت یې ښه ساتلی شی، په دغه قوت سره پردی او نور په دوی باندې دیو والی ،لوړوالی او ولجه کولو څخه شړلای شي .

نو په داسې قوم باندې به ښه خو یو نه حکمر انی کوی او په داسې تولنه کې به ستر مقام لری .دیو قوم شان چې په دغه توگه وی ،نو وگړی به یې په خپلو منځو کې سره مخالفت نه کوی ،بلکه یو پر بل گر ان او سره مینه به کوی.او هیڅکله یې سره بیلتون په منځ کې نه راځی او سره یو موټی او متحد وی . د چارو په اختلاف کې ددوی مثال داسې دی لکه چې دیوی دایری دمحیط دیو ټکی نه دوه کسه شا په شا سره بیل روانشي او بیر ته دو اړه ددغه محیط د پاسه په همدغه ټکی باندې بیر ته یوځای شی او مثال یې دمطلب په پیلیدو کې د خپلو گټو په جذب کې داسې دی لکه: یوه رسی چې دداسې دوه کسو په لاس کې وی چې په زور کې سره سم او یوسر یې یو کس نیولی وی او بل سر یې بل تینگ کړی او هر یو یې

خپلی خو اته را کاږی،نو په ر اښکلو کی دهر یو ملګری، کهځه هم له یوې خو ایو تر بلهسره لیری کیږی مګر له بلیخو ا هر یو دبل لپاره ځای تینګوی او و رسره نژ دې پاتی کیږی، نو پهو اقعیت کېسره نهبیلیږی او نه سر هلیری کیږی او نهدیو ه ګټهدبل پهګټه کېلهمنځهځی .

ددغسیقو م تر منځ دار تباطاو ر اتکمثال داسی دیلکه :یوهدایره چېلهځو خو او ځخه نیمایی شوی وی چېمر کز یې دټولنی ژ وندون او یو والی دیچې یو شخص همددغه محیط نهو تلاینشی او دغه و ګړي دخپلو ګټو پهجذب او بشپړ و لو کېدهغول لښتیو مثال لریچېدسیندځخه ا و بهپکی ر اځی اومر ستهو رځخهاخلی .

ددېټو لنیهر و ګړیپهدېپو هیږی چېبشری نفو سپهځه خو شحا لیږ ی او دنو ر وحبو اناتو ځخه پهپر مختګ ،قو ت،لو یې مر تبی او ښو چار و سره ځنګه بیلیږی؟ دا کار هله کېدایشیچې یوقو م ددېښېګڼو ا وښو خو یو نو خاو ندوی .نو دديقو م هر فر د هځه کوی چېپخپل لیاقت کې و ر و ستنی درجې ته و رسیږی او هر یو و رځنی خپلهبر خه و اخلی.نو هر یو بل یو ازی نهپر یږ دی او نه دهغه دحقځخهدبل پهشړ لو کې سپما کوی ، بلکه دټولنی دهیئتدحقو قو ځخه کلکیمدافعی او ساتنی تهچمتو وی. او که داسې يېو نه کړ ل نو هر و مر و یې دځانسر ه خیانت و کړ ، ځکهچېدخپلو چار و د سمو ن دالا تو ځخه يېپو هاله و یجاړه کړ ه او دخپلمطلب یو سبب يېلهمنځه یو وړ .

نو لازمهدهچې پهدغو و ګړو کې یو هم سپک و نهګڼل شیاو نه يې چار و ته تاو ان و رسوی.او هر فر د پهقو م کیداسې و ګڼل شیلکه چې پهلوی ماشین کې یو کو چنی میخ وی. که چیری دغه میخ و لو یږی ،نوټو ل ماشین له کاره لو یږی .

نو ددې له‌پاره چې هغه اعجزه درته‌څرگندشي چې دمخه مو ذکرکړه، و په تاباندې فرض دی‌چې دښو خویونو حقایقو ته په‌ژورنظر سره وگورې .

په‌عقل کې‌یوه‌خبره‌جوړول ، دوهمو نو دقید څخه د فکرازادول ، پاکلمنی، سخا،قناعت پستوالی، وقار،تواضع،لوی‌همت، صبر،حلم، زړورتیا، دبل‌گټه‌دخپلی گټی‌څخه‌مخکی کول، دقوم‌له‌پاره دلوړتیاغوښتنه، ښه‌څوانی، رښتیا،په‌ښه‌خبره‌باندې‌ټینگېدل،امانت، دزړه‌نه کینه‌ویستل ، عفو، مهرباني، دښو پالل، غیرت، عدالت‌او دشفقت‌سره سینه ساتل داټول ښه‌خویونه دي .

ته نه‌گورې! که‌چېری‌په‌یو قوم کې‌دغه‌لوړ صفات عمومیت ومومي او یاپه‌وگړو باندې‌غالب‌شي،نو ایادیوو الی‌او بشپړ یوځای کېدونه‌پرته‌بل څه‌به پکی راشي؟.ایاددوو پوهانو، ازادو رښتینو ، وفادارو، سخیانو، زړورو، سلگرو ، صابرو،حلیمو،متواضعو، دوقارخاوندانو، پاک لمنو اومهربانو په منځ کی به دکومی کرکی‌او خلاف‌نښی‌و لیدل‌شي؟.

تاسو خبرشی‌او زمادې‌په‌خدای(ج)قسم‌وی‌چې که‌دیوقوم‌په‌څمکه باندې د دغوښو خویونو دتنفس بوی‌او وږمه ولگیږی او دغه‌څمکه‌مړه‌وی ، نو هرومرو به‌یې ژوندی کړي.او که میره اوسپېره ډاگ وی ، نوشین او زرغون به‌یې کړي. که دغه څمکه سوکړه‌وی ، نودرحمت ورښت به پری وووری‌او په دغه‌څمکه کې‌به‌دخدای(ج) نعمت بشپړشي . د داسې یو والی ودانی به‌پکې ودروی چې‌دبل او پردی د ننوتلو له پاره پکې هیڅ سوړه ونه‌موندل‌شي.په‌د ې ښو خویونوسره ترټولو ملتونو زیات وړ هغه ملت دی چې خپل‌پیغمبر یې ورته‌ویلی‌دی: (زه‌ددې‌له پاره رالیږل‌شوی یم چې‌ښه خویونه‌بشپړ کړم) .

ښه‌خوی دغو سرنو دپاره ژوندی‌چې‌جسم‌یې‌دپردیو او نااشناعناصر و د ننوتلو څخه‌ژغوری او هم‌یې‌د داسې سپړېدوا و بیلتون څخه ساتی‌چې پای یې‌و رک کېدل‌وی.(او ستاخدای(ج)په‌کلی‌توگه په‌زیاتی او ظلم سرمنه تباه کوی،په‌داسې حال‌کی‌چې‌وگړی یې‌ښه‌خلك‌وی.) (آدیت‌شریف‌ترجمه).

ټیټ‌خویونه‌یو رازناولی کیفیات‌دی، کله‌چې په زړونو پورې ونښلی نو بیلتون اولیری والی پکې‌پیدا کوی‌لکه: سپین‌سترگی، د بل‌عزت او پت‌ته ناوان‌رسول، ناپوهی، بوله‌توب،سپکوالی‌دحدنه‌زیات زړورتوب ،بې‌زړه توب ټیټوالی،بې‌صبری، کینه،په‌نورو‌ځان‌غټ‌گڼل،بې‌حایه‌ویاړ، لانجه‌ماری ،سلنډی او لافی‌کول، ټگی، دروه، دروغ، نفاق او داسې‌نور .

نو که‌چېری په‌دې‌خویونو کې په‌کوم یو باندې دوه زړونه ککړ شول، نو ترمنځ یې غلیمی اوسخته کینه پیدا کیږی اودبیلتون‌په داسې لارویې بیایې چې‌بیاپه هیڅ رازدیوځای کېدو هیله ترې‌نه‌کیږی . ځکه ددغو خویونو دهریو طبیعت‌داسې دی‌چې‌په هغو شیانو کې چې په‌ده‌باندې په‌هغو کی‌سرسته کول‌لاز مه‌وی لکه:دهغه‌سره‌چې‌په‌قومولی، دین ،خپل، کورنۍ او یاپه نوروچاروکې ورسره‌گډوی.په‌حقوقی حدودو کې تیری ورڅخه کیږی‌او یاورو سته پاتې‌کیږی دانسان‌په‌طبیعت کې دهغه چاڅخه کرکه اغېزل‌شوې‌ده چې‌په‌حقوقویې تیری‌کوی‌او یایې‌حق‌نه‌ورکوی .

که‌ستاخو ښه‌وی نودوه‌سپین سترگی‌یاناپوهان، و بېړېدونکی،بخیلان، کینه کښ، متکبران (چې‌هریو خپله‌چاره دبل‌نه‌ښه‌گڼی) لانجه‌ماران ، خاینان، ټگان، دروغجنان او یادوه‌منافقان په‌خیال‌کې‌راوړه !ایاکېدای‌شي‌چې دواړه په‌یو مقصد سره را غونډېشي؟ او یاددواړو غایه یوه‌شي؟ ایاد دغو ناوړو

خو یو نو څخه هر یو په خپله پەدې کې قضاوت نه کوی چې د بل نه په څنګ شی او کینه و رسره وساتی . که څه هم بل باعث و نه لری ، همدغه ناوړه خوی د هر یو د دښمنۍ لەپاره قوی باعث دی .

پەیو قوم کې چې دغه ټیټ خو یو نه خپاره شي، نو و دانی یې ړنګیږی او وګړی یې خپاره و اره شي. دخپر بدو څخه و روسته د ټولنې دوجود طبعیت غواړی چې پەدې ملت باندې یو بل، پر دی غښتلی و اکمن شی او په زور د یې و نیسی او دژوندانه په چارو کی یې په زیاتی کولو سره تصرف و کړي .

ځکه چې د دوی دژوندانه اړتیاوی ټولنیز تشکیل غواړی او دا کار په دې ناوړو خو یو نو نه ترسره کیږی .نو د باندې قوت څخه چاره نه لری چې د دې ټولنې دوجود د ضرورت تر وختەپورې وساتی .

کله چې دغه ټیټ خو یو نه دیو قوم په زړونو کې ځای و نیسی ، نو په منځ کې یې غلیمی ډیره کلکه شی. خلك پر ې ګومان کوی چې د وی ګوندې سره یو او راټول دی، مګر په زړ نو کی بەخپاره او لیرې وی. دوی به په خپلو کې ځینی پەځینو نور و زورور وی، مګر همدې زور ور و به یې پر دیو ته سر و نه ټیټ نیولی وی، پەخپلو ځانو نو بەدبادارى او حکومت کولو له پاره غلیمان راغواړی او په خپل وطن کې به د هغوی بەجړو ځغلولو باندې و یاړ ي . د پر دیو دراتگ لەپاره بەلارې جو ړ وی او قدرت به و ر کوی ، تر څو د پر دیو منګو لی په خپلو کو لمو کی ښخی کړ ی .

دخپلو قومی و ر و نو هر ه چاره بەو ر ته بدەبر یښی او لو یه چارەبه یې و ر ته سپکه ښکاری که چیری کوم پر دی یوه داسې خبره کوی چې تل به د دو ی د کو چنیو او لادو نو لەخولې او ر بدله کیږی، هغەبه د جا معو کلما تو او

نفیسو حکمتونو څخه بولي. او که چیرې کوم څوک یې د حقیقت په سیند کې غوټې ووهي او سلغلې او نازک اسرار ور ته راوباسي، نو هغه به په خلکو کې هم کوم پوه او پېژندونکی پیداشي او دا هم امکان نه لري چې په موږ کې باخبره وموندل شي. په دوی باندې به د بې ځایه فخر کولو مینه غالبه شي او په ټیټو چارو کې به یو ترېل ویاړي. د نصیحت کوونکو په نصیحت کې به شک کوي، که څه هم هغه ناصح ډېر پوخ دلیل تېر کړي. په واعظانو به ملنډې وهي، که څه هم دوی ته په ګټه رسولو کې ډېر اخلاص من وي. دا څه به کوي چې هغه کسان د ځان نه نا امیده کړي چې د دوی د شان او نوی والی له پاره زیارګالي هر ځای به ور ته ځنډونه پیدا کوي او غړونه به ور ته پکې دروي او د هغه ډېر ځولو اسباب به ور ته راغونډوي.

د ډول ډول ناوړو خویونو له کبله د ګوزڼو هلی بدن غوندې ښکاري چې د هډونو او غړو خوځېدل به یې سم نه وي او نه به یې کوم هډ وظیفې مطابق د ټا کلي مقصد له پاره خوځېږي. نو چارې یې د ضبط د حدو د او در بط د قواعدو څخه وځي. طبعیتونه به یې په دې ناوړو خویونو سره د ضرر از تاوان سبب کیږي، ځینو ته به یې د لیوني سپي ناروغي رسېدلې وي چې د ټولو نه مخکې په خپل ښښتن غوټه کوي. بلکه د (مطبق) لېونتوب غوندې وي چې لو مړی خپل پالونکی او روزونکی و ژني او بیا ور وسته خپل طبیب او هغه کسان وژني چې د ناروغي علاج یې کوي.

خلک یې د خوړونکي ناروغتیا په څېر شي، لکه جذام او لوی لونځ او داسې نورې خوړونکې ناروغۍ شولي چې وروسته د ټول ملت مخ و شکوي او هیئت یې وېجاړ او ټوټې کړي.

د غه قوم په حسیسو او ټیټو ورشوګانو کې څرې، ځکه چې ټیټو الی یې

پەنو ر و خو یو نو باندې غالب وی.نو خپلو ملیو ر و نو ته به ځانو نه پر سوی او یو دبر تیت پر دي ته‌بەسر شکته کوی ،د الاځه کوی چې پر دی لوی‌او ستر خلک‌وی .

لەدې کبله یې دپر دیو او نو ر و په مقابل کی په زړ و نو کی تیتو ا لی ځای نیسی‌او تر دې‌پو رې چې‌داتیتو الی یې‌ددپر و کلکو غلیما نو پەمقابل کی چې‌پەپای کی‌ملت و ر ك‌او هیئت یې‌له منځه لاړشی او پەبل قو م ،یا بل‌دین کې تالاپەتر غی‌شي. دادد و لتو نو پەاو ښتلو او دقو مو نو پەو ر کېدلو کې‌دخدای(ج)سنت‌دی (اودهمدغونیو لو په ځېر ستادر ب نیو ل هم‌دی.کو م و خت‌چې‌خدای(ج)وغواړ ی‌د کلو و گړی چې‌هغه هم کافر تیری کو و نکی‌وی . بېشکه‌چې‌دخدای(ج)نیو ل‌خو ږ و و نکی‌اودېرسخت‌زوروردی .(دآیت‌شریف‌ترجمه )

مو ږ ددغسی‌عاقبت نه‌پەخدای(ج) پو رې پناه‌غو اړ و ، ز مو ږ ملت‌او ټو لنه دې‌خدای(ج)ددغسی‌حال‌نەو ساتی‌مو ږ تەدو مر ه‌پاتې‌دەچې ستر گی و غړو و ښه خو یو نه پەځه‌ر ا غو نډېږی ؟او دناو ړ و خو یو نو ځنی‌انسان په څه‌خلاصېږی ؟ چې‌بشری ټو لنه‌یو و الی تەچمتو شي او ځانو نه پرې دفسادنه و سا تی .

(هر ماشو م پەښو او اسلامی‌خو یو نو سر ه‌ز یږ یږ ی.)(دحدیث‌شریف ترجمه ). او دهر شکل او هر راز ر نگ اخیستلو دپاره مستعده ماده‌ده . ایاځو گ په بشپړ و خو یو نو کې دتېر و شو یو پخو انیو او پلر و نو حدته‌ر سېدلای شي دغەبر خه بەدوی د کو م ځای‌نه‌تر لاسه کړي ، ځکه دوی هم داسې‌ز یږ ېدلی دی‌او هغسی خو یو نه‌یې دځان سر ه ر او ړی‌دی،لکه څنگه چې نو ر و ز یږ و لی د ی .

دحق‌پلټو نکو مو ږ تەدادر س ر ا کړی‌دی چې داخلاقو پەاصو لو کې

اعتدال ،دښو خو یو نو په ګانو سره ځان ښایسته کول او د چارو په اغېزو سره بدنی‌الات او قوتو نه‌ښکلی کول، ددین نه‌پرته بل‌شی‌لاس ته نه‌راځي او ددین‌اغېزه هغه‌وخت‌بشپړ یږی او دوی‌ورځنی برخه‌اخیستلای شي او یو سپېڅلی او ښکلی ژوندته‌پری رسیږی‌چې‌ددین‌سشران او ددین باروړونکی او ساتونکی‌یې‌خپلې وظیفی سرته‌ورسوی ، او امر او نواهی ورته‌وښیی او خلک‌یې‌عملی کولوته راوبولی. بېخبره‌ورځخه‌خبرکړی او دچانه‌چې هېر شوي‌دی،بیر ته‌یې وروزده‌کړی .

لیکن که‌ددین خدمتګاران خپلې وظیفی پریږدی او داعمالو په‌اجرا کولو کې‌سستی‌وکړی، نو په زړونو کې‌یې‌دایمان او یقین رڼا تیتیږی او د دینی‌عقایدو دغوښتنو څخه‌عقلونه غافل کیږی .دبې خبری‌پردې یې په ستر ګو راپریوځی، حیوانی شهوتونه پری حاکمان کیږی او دیوازینی ژوندارړتیاوی پرې واکمنی کوی.نو هغه وخت د غوره خویونوتله دنفس‌خواهش‌خواته‌کږیږی او دتیټوخو یو نو لښکر ې دخلکو ځنی‌چاپېره شی او‌عذاب په‌خلکو راښکته کیږی او بدبختی ورته‌رانوځی .

لکه‌چې‌مخکې موو ویل دادهرقوم دخرابۍ علتونه دی او اغېزه یې دانسان دپیدایښت نه تر دغې ګړۍپورې په‌ډېر وقوسونو کې دومره ډېره ځرګنده شوې ده چې‌شمېرل کېدای‌نه شی. او س هم په ځینو قومونو کې دتغییر او تبدیل نه‌وروسته دغه‌ناوړه خو یو نه پاتې‌دی چې‌دوی یې وژلی‌دی، لکه‌دهنددهېرو (سنګ)په‌خپل کې،چې‌اروپایان‌ورته‌د (باریا) خیل‌وایی .

(ورته‌وایه‌چې‌وګرځی په‌ځمکه کې،نووګوریء چې د هغو کسانو عاقبت څنګه شوچې ددوی څخه پخواوو) دآیت‌شریف ترجمه .

نو دین لکه څنګه چې داخرت نیکمرغی ته خلك راکاږی ،همداسی دنیاوی نیکمرغی همو ر په بر خه کوی .

زمانې دځمکې په ډېر وسیمو دمسلمانانو ځینې ټولګی واړول اود عزت ناجونه او جوغی یې ور څخه ګوزار کړی اودنوروقومونو په سرونو یې کېښودلی اونن ورځ دنوروقومونو سره په لانجه بوخت دی. مونږ نه شو ویلای چې په هغوی به غالب شی او که نه! چې په دغو ټولګیو کی ددې کارسوجب ضعف شو . دخدای(ج) ددې او ینا په حکم سره چې په خپل کتاب کې یې څرګنده کړی ده، دشرعی او امرو او نو اهیو دنه پر ځا ی کولو نه پرته بل علت نه لري(بېشکه چې خدای(ج) نه بدلوی د هیڅ قوم حالت« چې هو ساینه او خوشحالی ده» تر څو پورې چې هغه حالت چې ددوی په ځانو کی وی په بدحالت سره بدل کړی«چې هغه نارو ادی» . (دآیت شریف ترجمه.)

په دغه ډول قوم باندې کله همداسې کیږی .اوس هم څوك ددې څخه انکار کولای نه شی چې که څه هم دډېرو مسلمانانو عقیدې روغی او سمی دی ،مګر په خپلو ځینو چارو کی دځلاندشر یعت په لارسم نه ځی او له همدې کبله څو سره چې داملت په ښو خو یو نو او ښو چارو کی داعتدال دلارې نه کوږشوی دی، هماغو سره یې په قوت کې ضعف پیداشوی دی.( او کومه خو اشینی چې تاسو ته در اوړی، هغه ټوله تاسو ته د خپلو لاسونو دچارو څخه در پېښیږی .) دآیت شریف ترجمه .

مګر دوسره ده چې مسلمانان تل دهغو ښو خو یونو په اصولو ټینګ د ی چې د خپلو پخوانیو ځنی ورته پاتی دی او څه چې ورته شریعت راوړی دي،ښه یقین پری لري .دخدای(ج) کتاب په ژ بو لو لی ،دخپل پیغمبر سنت په

روایت او پوهی‌سره یو دبل‌نه نقل کوی‌او دراشد ینو خلفاو او دښو پخوانیو اشخاصو تګ لاره‌ددوی‌دخاصو کسانودزړو نوپه‌تختو باندې شکل‌شوې‌وی‌مګر داچې‌ځینی‌دشرع داحکامو‌څخه‌بې‌خبره پاتې‌شوی‌دی‌او په‌قوت کی‌یې کوم ضعف راغلی دی هغه دداسې عرض‌مثال‌لری‌چې‌بقانه‌لری‌اودداسې‌حال‌مثال‌لری‌چې‌تل به‌نه‌وی‌دانصاف په‌سترګه‌وګوره‌چې‌دقرآن په‌ایتونو کې‌څومره ښه او غوره خویونه‌شته‌او دمسلمانانو حرص‌ته‌پام‌وکړه چې‌دخدای(ج) دکتاب څومره تعظیم او درناوی کوی. نو دلته به‌دځان له‌خواپه‌دې‌کارقطعی حکم وکړې چې که‌چېرې داسلامی‌دین علما څرنګه چې دشرع دڅښتن وارثان دی، خپلوفرضو وظیفو ته‌ملاوتړی،او دخدای(ج) حکم‌یې‌په‌غاړه پروت او واجب دی.دغه‌حکم‌ددوی‌هغو کسانو ته‌متوجه‌دی‌چې‌پوهیږی‌او دوی‌دخدای (ج) په دې‌حقه‌وینا(او هر وګړو دې ستاسې یوټولګی داسی‌شي چې خلک ښو چارو ته رابولی‌او ښی‌چارې‌خلکو ته فرمایې او دناوړو چارو نه‌یې‌راګرځوی .او همدغه کسان بری موندونکی‌دی. )او بله‌یې‌په دې‌وینا کی : ( نوولې‌نه‌ځی له‌هرې‌ډلی‌نه‌دې‌وسنانو ته یوټولی ،ددی‌له‌پاره چې‌دغه. (تلونکی »په‌دین کی‌پوه‌پیدا کړي‌او ددې‌له‌پاره چې کله‌راستون شی، خپل‌قوم‌ته خبر ورسوی ، ددې‌له‌پاره چې‌هغوی‌وویریږی ) .

(دایت شریف‌ترجمه )

که‌دوی‌ددی‌له‌پاره‌راپاڅی:څه‌چې‌قرآن ویلی‌دی، هغه‌خلکو ته‌وښیی او خلکو ته‌دشرع دڅښتن او دراشد ینو خلفأؤ ښه‌خویونه او ښی چارې بیان کړی،نو هر وګړو به‌وګورې‌چې‌اسلامی‌ملت‌به‌یوځل‌ددرانده‌پیتی څخه‌پاڅې

او دپخوانی عظمت په بیرته راستنولو کی بهسره متحدشی او خپله‌لویه واکمنی او ددین هگی به‌دماتیدو څخه وساتی. داتول به په لږو خت او یو غږ سره وشی، دوی‌به‌لاژوندی ویچې دغه حال‌به‌وګوري .

شک‌نشته چې‌داسلامی دین کره‌او پاخه عالمان په‌دې پوهیږی : هغه‌څه چې‌په‌دې‌وروستیو وختونوکې‌مسلمانانو ته‌رسیدلی‌وی،دادخدای (ج)له خوا ددوی دنیمګړتیاو له کبله‌یوه‌جزا ده‌او خلك دخدای(ج)په‌مخکی کوم حجت هم‌نه‌لری. نو ددوی دهمتونو او دزړه دعزت اوملی سپیرانی څخه‌هیله‌کیږی چې‌دخپل مقصدمخه‌دد غی‌موری بندولو او راتولولوته راوګرځوی او ارتیدلوته‌یې پرېنږدی. او ددغی‌ناروغی علاج‌پخوالـه‌دې څخه وکړی چې کلك‌ځای‌پکې‌و نیسی.قوم‌ته‌دخدای(ج)احکام‌ور په‌زړه کړی ،دوروګلوی او مینی مزی یې په‌منځ کې‌مزبوت کړی‌او په هغه‌لاررو ان شی‌چې‌خدای(ج) په‌خپل کتاب کې‌حکم کړی‌دی او دخپل‌نبی په‌ژبه ویل شوي دي.دهغی نالمیدی‌دو رکاوی کوښش وکړی‌چې‌دځینو په زړونو کې پیدا شوې ده او خلك‌په‌دې‌قانع کړی‌چې‌څو کـه‌دې‌دخدای(ج)دمهربانی څخه نه‌نااسیده کیږی مګر هغه‌کسان چې‌زړونه‌یې ناروغ وی‌او عقیدې یې کړی وی‌او په داسې لاریې سم کړی‌چې خبره او دلیل‌یې سره‌یو وي دبل‌دتیری‌نه د ځان ساتنی حس پکی پیاوړی کړی چې‌دتیتوالی‌نه کرکه‌و کړی او دمینی روح‌پکی پوکړی چې‌وروسته‌له‌دې‌یو هم‌په‌خپل‌دین کې کومه‌تیته چاره و نه کړی او دخدای(ج) دوعدې حقیقت اوحقه وعده یې‌ورته څرګنده کړی‌لکه چې‌په‌دې و یناکی ویل‌شوي‌دي: (اوشته پرموږ باندې دمو منانو مرسته) دآیت‌شریف ترجمه.

# اسلامی یو والی

( او د خدای(ج) اورسول (ص)حکم ومنئ او په خپلو منځو کې جګړه مه کوی. ځکه چې بې زړه به شئ او قوت به مو لاړ شي) د آیت شریف ترجمه.

د اسلام د حکم سیوری د غرب د وروستنی ټکی د منځ نه د چین د تونکین تر خلیجه پورې لګېدلی دی. په سور (عرض) دقازان او سراندیب په منځ کې د استوا د کرښې لاندې رسېدلی ؤ.

نښتي هېوادونه او ښنګ په ښنګ ښارونه یې درلودل چې مسلمانان پکې اوسېدل. دوی په دغو هېوادو کې داسې ستر واکمن درلود چې هیڅ به نه مغلوبېده، پخپل قوت سره یې د لږې ځمکې نه پرته، نوره ټوله د ځمکې کره اداره کوله، هیڅ لښکر ورته ماتې ورکولای نه شوه، هیڅ بیرغ به یې چارا تیټولای نه شو. چابه یې خبره ماتولای نه شوه، کلاګانې او پخې ودانۍ یې یو تر بله نښتې وې ارتې او هوارې ځمکې یې په رازراز شنیلیو او ونو باندې شنې کړې وې. ښارونه یې د معمارۍ د فن په پخوا صولو برابر جوړ شوی وو.

د تو ل عالم ښارو نوددوی داوسېدو نکو په صنعتونواو نقشو باندې فخر کاوه‌د اسی د و یاړ اشخاص یې لرل چې په پو هنو او آ دابو کی د لوړ مقام خاوندا ن وو. و هر یو یې د فضل لمر ، د پو هنې سپو ږ مې ا و د لا ر ښوونی ستو ری و .

د ختیځ په یو ه څنډه کی یې دابن سینا ، فارابی او د دوی په څېر نو ر د ا سی عالما ن د رلو د ل او په لو ید یځ کی یې د ا بن ماجه ، ا بن رشد ، ا بن طفیل او ددوی غوند ې د ا سې نو ر پو ها ن وو. د دوی تر منځ په نو رو ښارو نو کی نو ر د ا سی پو ها ن ووچې پــــه حکمت ، طب ، هندسه او نو رو عقلی علو مو کی ډ ېر وړ ا ندې وو . د ، د شرعی علو مو د پاسه و و ا و شر عی علوم د ملت تو لو طبقو ته رسېدلی وو .

عباسی خلیفه گان و وچې تش په یو ه خبره به‌و رته دچین فغفو ر ( ۱ ) سر ټیټ‌وه د ا روړ، په پاچهانو کی به‌تر ټو لو لو ی و رځخه و یر یده .

په منځنیو پېړ یو کی یې‌د ا سی‌پاچهان لر ل لکه : محمو د غزنو ی ، ملکشا ه سلجو قی او صلا ح الدین ایو بی . په ختیځ کی یې لکه تیمو ر کو ر گا ن او په غر ب کی سلطا ن محمدفا تح ، سلطا ن سلیم او سلطا ن سلیم عثمانی غوندې اشخا ص د رلو د ل . د غه اشخا ص لا ړ ل مگر زمانې یې نو م اغیزه ور که‌نه کړای شوه.

---

( ۱ )فغفو ر دچین د پاچهانولقب دی . (مدو ن)

مسلمانانو داسې بېړ ی در لو دې چې سپین اوسو رسیندو نه او د هندنه چاپیر سیندېږ د خپل تصرف لا ندی کړ ی و واو تر د غه نژد ې و خته پو ر ی يې په دغو سیندو نو کی حکم چلېده . مخا لفینو ته به يې هم د دوی فا ضلانو او پو هنو ته غاړې اېښو دلی او د دوی د پاچهانو ا مرو نه به يې هم منل. او دنن و رځی مسلمانان هم ځانو نو ته مسلمانان وایی.

دوی ته دغه هېوادونه د پلر و څخه پاتی دی، ټول په دوی د کډدی، شمېر يې هم د دو مسو و میلو نو نه لېږ نه دی ،خلک يې چې په هر ځای کې دی، زړونو يې د دینی عقیدو دچینو څخه او به څښلی دی . او سړ ینی ته دورتگ په بر خه کی د هغونه دېر زړ ور اوگړ ندی دی چې دوی د نیاته هیڅ اهمیت نه ورکوی او ښکلا يې هیڅ گڼی او په دې برخه کې تر ټولو کلک دی .

قر آن و رته داسې محکم ایتونه راوړی دی چې د کتو نکو څخه يې د دوی پر عقید و بر هان او دلیل غو اړی.او هغه خلك غندی چې په گو مانو پسی روان دی او په وهمو نو باندې منگو لی لگوی.خلك ښو خو يو نو او غو ره صفتو نو ته رابو لی.په فکر و نو کې يې د حق نیلې غز پدلی او د فضل تخمو نه يې پکې شیندلی دی. د دوی عقل د دین په اصو لو رڼا، ذهن يې و یښ او بیخی مستعددی . د خپلو ښو خویو نو په لارد کمالو نو رسېدلو او سمېدلو ته نژ دې دي او ډیر ځله شرف ، خاص د خپلو ځانو گڼی. د ټو لو څخه جامعه خبره داده چې په خپل ر ښتینی کتاب کې و رسر ه داو عده شوې د ه چې د دوی شان به د نو رو عالمونو په څېر جگ وی که څه هم مخالفین يې ښه نه گڼی او دایی نه خو ښیږی چې په دوی دې د بل چاحکم

وی او دیو په فکر کې هم نه گرځي چې د بل حکم ته غاړه کېښېږدي که څه هم دغه حکم ډېر کلک او یا ډېر پوست وي.

څرنگه چې د دوی تر منځ داسې دیني وروگلوي ده چې دعقایدو په تسمو کلکه تړل شوې ده، نو هر یو یې گومان کوي چې د بل دواک لاندې دیوې ډلې کېدل، کټ مټ زموږ خپل پرهوتل دي دا یو احساس دی چې وجدان درک کړي او ځان ترې نه شي خلاصولای . له دې کبله چې هرزړونو کې یې دیني معرفت ځای نیولی دی او دخپل دولت دځلمیتوب په وخت یې ورڅخه لویه برخه خیستې ده، نو خپل ځانونه په پوهه کې مخکې او په فضل کې ډېر وړاندې گڼي دایې پخوانی شان و او اوس یې دغه حال دی !!

لیکن ددې تولو خبرو سره، په خپل یون کې پر ځای و لاړ دی او دنورو څخه په معارف ، پوهنه او صنایعو کې وروسته پاتې دی. حال داچې پخوا په دغو فنونو کی دنړی استادان وو. د هېوادونو اړخونه یې نیمگړی شول او پلوونه یې وشکېدل. سره له دی چې دین ورته امر کړی دی چې بل چاته به غاړه نږدي، بلکه ددین لوی رکن دادی چې د پر دیو حکم به پر ځان نه مني او خپل ملکو نه به و رڅني خلاصوی او دهر راز دبدبې دخاو ندسره دې پکی جگړه کوي. ایا دوی د خدای (ج) داو عده هېره کړه چې ځمکه به د دوی ته په میراث پاتی وی او د خدای (ج) نېه بندگان همدوی دی ؟ ایا ددې څخه بېخبره شول چې که څه هم بدکاران یې بدگڼي ، خدای (ج) یې په نورو شانو نو باندې ددوی دشان جگولو ضامن دی؟ ! ایا هېره یې کړه چې خدای (ج) دخپلې کلمې دجگوالی له پاره دمسلمانانو څخه دجنت په عوض کې ځانونه او مالونه اخیستی دی؟؟ نه، نه هیڅکله نه ! اسلامی عقیدی دمسلمانانو د زړونو مالکی دی

او په اراداتو یې حاکمې دي او دغو دیني عقیدو او شرعي خویونو کې خاص او عام ټول یو ډول دي .

هو کې! کومه نیمګړتیا چې د علومو په پالنه کې پیدا شوې او یا په قوت کوم ضعف راغلی دی، دا هر یو اسباب لري او ډېر لوی سبب یې دادی چې : په مسلمانانو کې یو تر بله سره د پاچهی غوښتو نکو مخالفت دی. ځکه مخکې مو څرګنده کړه چې مسلمانان د دیني قومولۍ نه پرته بله قومولي نه لري. نو په دوی کې د پاچهانو ډېر والی، په یو خپل کې د مشرانو د ډېر والي په څېر دی. یا په یو قوم کې د غرضونو او غایو او لانجو له پیلوالی سره سره د پاچاهانو ډېر والی دی. نو د مقابل د ماتولو په غرض یې د خپلې سرستی له پاره د خلکو فکر و نه بوختـ کړل او د دې له پاره چې هغه بل ته خپل زور و ښیي، نو خلک یې د غلبې موندلو په وسایلو وغولول لکه څنګه چې کورنۍ لانجې او جګړې یو قوم د صنایعو او علومو څخه بې خبره کوي، نو د دوی څخه هم خپل ټول علوم او صنایع هېر شول او د لاسه یې ووتل دا یې لاڅه کوې! چې څه یې غوښتل هغه هم په لاس ورنغلل او نه یې چې څه زده کړي وو، د هغو څخه سخکې لاړل. لکه څنګه چې موږ یې ګورو، لوږه او اړتیا پرې راغله او وروسته یې په قوت کې ضعف او خلل پېښ شو، د اسیرانو او واکمنانو د لانجو له کبله سره بېګانه او بېل شول او ډېر دیو د یرغل او تیرې کولو څخه غافل شول .

دا ټولې چارې د مسلمانانو د پاچهانو له خوا و شوې او پخپله دوی ته هم ډېر تاوان ورسېد، د جګړو په ډګرونو کې یو ازې پاتې شول او نوروملتونو هم ورسره ګاونډیتوب او مرسته و نه کړه. بر سېره پر دې د زماني په تېرېدلو سره یې نور فسادونه هم زېږونو ته ننوتل او په طبیعتونو کې یې حرص او

باطلې طمعې ځای ونیو. د هوس په لار روان شول او لوی لوی مقصدونه ورځنې ورک شول، د امارت او سلطنت په لقبونو او نومونو او د دنیا په لږ هوسا ژوند پسې ورو داسې شیانو یې قناعت وکړ چې په ظاهري ډول انسان پړسوی او غټ بې ښکاره کوي. د داسې پردیو سره یې دوستي غوره کړه چې په نوم او دین کې ورځنې بیل وو او د خپلو ورونو په مقابل کې یې د دې زړې شبحې (امارت) او بې بقا نعمت له پاره ورځنې مرسته وغوښتله .

دا هغه چارې وې چې د اندلس مسلمانان یې سره بیل کړل او د تیمور شاهي پاچهي دیوالونه یې په هند کې ونړول او نښې یې ورکې شولې او وروسته په دغو هېوادونو کې انګریزانو خپله پاچهي ټینګه کړه .

د دغسې ناپوهانو هوسونو په دغو اسلامي هېوادونو لوبې وکړې او دروغجنو ارزوګانو یې د هېوزلي او بې وسې په کنده کې وا چول. دغه چارې څومره بدې دي او لا اوس یې هم کوي هم دغه پاچاهان دي چې په خپلو خوندونو اخیستلو کې ډوب شوي دي او په شهوتونو پسې روان دي. همدوی دي چې د اسلامي ملت غونډه یې خپره کړه او حیثیت یې له منځه یووړ. د علوم و د پرمختګ مخه یې ونیوله او په صنعت، تجارت، کرنه او داسې نورو ګټورو چارو کې یې نیمګړتیا راوستله. ځکه چې په لوی لاس یې د خپلو وطني زامنو له لاسه دغه چارې وویستلې.

سرګډي وي په حرص او د خسایسو د پاره ځان سړینې ته ورکولو باندې !!! څومره تاوان او څومره ناوړې اغېزې لري. د خدای (ج) کلام یې شاته ګوزار کړ او د لویو فرضو څخه یې منکر شول. په داسې حال کې چې غلیم یې د دروازو په مخ کې ولاړ ؤ، سره مخالف شول او دا پرې واجبه وه چې په دې حالت کې سره یو ځای شوي او متحد شوي وای چې د لیرو پردیو یرغل یې بېرته په شا تمبولای وای او بیا یې د ښو ناتو دراګرځولو له پاره هڅه کړې وای .

دوی ته پېټو چارو، طمعی او یو په بل تش و یاړ څه گټه و رسوله ؟ دا یمی افسوس! بدبختی او دمړ ینی نه وروسته بدنوم یې وګا ته چې زمانه یی هم هیڅ کله له منځه نه شي وړلای !.

زما دې دحق په عزت او دعدل په پټ راز باندې قسم وی چې: که مسلمانان پخپلو عقیدو باتی ښي او کاریگر علماء یې هم کار وکړی، نو هرو مرو به یې ارو اگانی سرګندې او راغونډې شی. لیکن ډېر افسوس !! چې په دوی کې هغو مفسدانو خلل راوست چې خپله هر نیکمرغی دامیر یا پاچا په لقب کې گوری که څه هم دامنصب او وظیفه په داسې یو کوچنی کلی کې وی چې هلته په بل باندې دامر او حکم کولو شر ایط موجو دنه وی دا هغه کسان دی چې دمسلمانانو مخو نه یې دهغه څه نه راوړ ول چې خدای (ج) ور کړي و و او دخپلو حقیقی پاچاهانو او خلیفه گانو څخه یې بغاوت وکړ او تر دې پورې چې دهر یو دمخ نه یې کر که وکړه او ارزوگانی یې سر دبیلی شوې .

داسلامی حکم دغالبو لو له پاره اتفاق او اتحاد دمهدی دین یو لوی رکن دی او دمسلمانانو یوه لوی نی عقیده داده چې په دې خبر باور وکړي او په دې کې نه کوم استاذته اړوی چې ور ته یې وښیی او نه کوم کتاب ته چې بکې و لیکل شی او نه دې رسالو خپرو لو ته ضرور ت شته لوی خو پر ځای پر یږ ده خو د کوچنیو له خولو یې هم زګېر وی خیژی او له ستر گو بې دژ اړ ااو خو اشینی له کبله اوښکی بهیږی چې و لی دمسلمانانو فکر و نه بیل او ارزو گانی یې بیلی شوی دي. که چېری دغه پخپل سر اسیر ان او دپاچهی کولو طمع خوا ره نه وای، نو شرقی به یې دغر بی سره او شمالی به یې دجنو بی سره یو ځای کړی و ای او یو غږ ته به ټو لو په گډه لبیک و یلی وای، مسلمانان دخپلو حقوقو په ساتلو کې دفکر و نوله خو ځېدلو

نه‌پرته بل‌څه‌ته‌اړنه‌دی‌او دې‌ته‌ضرورت لري‌چې دفکری حرکت‌نه‌وروسته پەدې وپوهیږی‌چې ،دفاع ،دفکرونو بوو الی‌او دزړونو ګډون پەڅه‌بانديي میسر کیدای‌شي‌او دملت څخه‌لیدل‌شوی خطرو رباندې ورک کړی .

آیاتاسو روسیانو ته‌نه‌ګورئ چې‌دغه‌دری اصول پکې څوسره تینګ دي.دایوقوم‌دی چې‌دارو پادنو روقومونو څخه‌دصنایعو او فنونو په برخه کې وروسته‌پاتې‌دی او په‌خپلو وطنونو کې ثروتی چینی نه‌لري او که لري بې‌هم،خوداسې کار یګرهلته‌نشته‌چې راوبې‌باسی،نو له‌دې کبله‌بیوز لی‌اومحتاج‌دی لیکن‌سره‌له‌دې بې‌دخلکو فکرونه و یینرشوی‌دی او پوهیږی چې‌دقوم‌نه‌په څه فاع کیږی‌او ددفاع دپاره څنګه پاځیږی .څنګه سره‌متحد شی اوڅنګه خپل زړونه سره‌ټلو کړي. دمدې‌اصولو ورڅخه داسی‌دولت‌جوړ کړی‌دی چې‌لن‌ورته‌دارو پالوی‌لوی غرونه راغځیږی .

روسیه‌دحربي‌وسایلو فابر یکې نه‌لری،لیکن‌داخیستلواو راغونډولوڅخه بې‌لاس‌نیو لی‌نه‌دی‌عسکری‌فن‌پکی‌دو سره‌پرمختګ‌نه‌دی کړی‌چې‌دخپلو ګاونډیانو سره‌سم وی.مګر سره له‌دې په‌ځای‌ناست نه‌دی او دخپلو عسکرو دروزنی‌له پاره‌دنو روقومونو څخه حربی ماهرین راغواړی چې‌په‌پای کې‌روسی عسکر دوسره هیبت‌ولری‌چې‌نورتری‌ودار یږی‌او داسې‌یرغل‌وکړ ای‌شی‌چې‌دارو پا دولتونه‌وویږوی‌نوسوږڅه شی په‌ځای کینولی یوچې‌په‌داسی چاروکی له‌نوروسره سمږدلای‌نه‌شو چې‌هغه راته‌ډیرې اسانې‌دي او دنورو خلکو نه‌ورسره ډیره سینه‌هم لروچی‌هغه‌دملت‌شرف‌لو یی‌ساتل‌په‌لیره نمیګړتیا باندې‌ډ یره‌خوږ سختیا ښکاره کول‌او دهررازخلل اودرزڅخه‌دټولنې د یووالی‌ساتل‌دی.

کوم‌شیان‌وو چې‌فکرونه یې‌دخو ځېدلو نه وویستل‌اوهمونه‌یې د پورته کولوڅخه وغورځول؟ هو! دغه‌عیش‌پالونکی وو چې‌په‌ښو خوراکونو،

ښځلو، پستو کالیو او اغوستن، دپخو ودانیو په جوړولو، او په خدمتگارانو او نوکرانو باندې فخر کولو حریص دی او داحرص یې دې حدته رسېدلی دی چې دسبا ورځې کارته نه گوري او خپل لقب او رسم به تېنګک ساتي. یوازې په اخترونو، موسمي جشنونو نیولو، سرونو خوځولو او مخ اړولو باندې تکبر له کبله قناعت کوي. رسمي پاټې به په داسې تعریفونو او نومونو ککړې کړي چې د هغو له پاره به هیڅ رازمسمی نه وي.

همدغه غورځیدلی بدبختان ددغو زړو خیالي دودونو له کبله هرې تیټې چارې ته ولاړ او خوښ دی. دغه بدبختان پخپلو کورنیو چاروکې دغلیمانو لاس و هنه ترد ې اندازې پورې منی او غوره یې بولي چې هیڅوک به یې دسر ینې ښځه پرته په بل څه و نه مني. همدغه کسان دمسلمانانو په غاړو کې ځنځیر و نه او غرابو نه شول چې دازمري یې دخپل ښکار ښځه منع کړي او تړلی دي، بلکه دګیدړانو له پاره دیې ورځخه سرې جوړې کړې دي (لاحول ولاقوة الابالله).

ای پاتې شویو سړیو! ای دزړو رو زو زاته! او دپخوانیو نسله! ایا په تاسو زمانه تېره شوه او دبیرته مو ندلو وخت یې درڅخه تېر شو؟ ایاوس دناامیدی وخت راو رسېد؟ نه! نه خدای (ج) دې نه کا، نعوذبالله دامیدو خت درځنې تېر شوی نه دی. د «اد رنه» څخه ترپیښبو ره پورې اسلامي دولتونه دي چې پر له پسې پراته نښتي دي چې عقیده یې یوه ده او قرآن سره راغونډ کړي دي. شمېر یې د پنځوسو میلیونو څخه لږ نه دی. په تولو قومونو کې په زړه ورتوب او مېړانی سره ممتاز دی. ایادوی نه شي کولای چې لکه دنورو قومونو غوندې اتفاق وکړي او د اتفاق سره دنورو څخه و نیسي او له خپله ملکه یې و شړي؟ که اتفاق وکړي، نو د ا په دین کې کومه بدعت اونوی کار نه دی. ځکه چې اتفاق دد ین داصولو څخه دی.

ایاددوی‌حواس‌خوسره گرځېدونکي شوی‌اولوګی‌نیولی دی چې یو تربله سره خپلې اړتیاوی‌حس کولی‌نه‌شي؟ ایا هریوخپل وروړته نه‌ګوري‌چې‌خدای(ج) څرنګه حکم کړی دی‌چې (هروسړو سومنان سره وروڼه‌دی.)

دآیت‌شریف‌ترجمه ).

په‌دې یووالی سره‌داسې بوره(سد) ورته وتړی ء چې‌له‌هرې خوا څخه دسېلابونوسخه‌ونیسی. زه‌دچاڅخه داخواهش نه‌کوم چې‌داټول کارونه دې یوسړی وکړی‌او دغه ټولې چارې دې پرخپله غاړه‌واخلي. ځکه‌چې دا کار په‌یوازی وجود ډېرګران دی ، لیکن هیله‌کوم چې هرواکمن دې دخپل واک‌په‌ځای کې‌دېل دساتلولپاره هغوسره بشپړه‌هڅه وکړی‌چې ترڅو یې دلاسه کیږی،ځکه‌چې‌دده ژوند دهغه په‌ژوندپورې تړلی‌دی‌او بقا یې دهغه‌په‌بقا کې ده.برسېره پر دې‌چې‌دایې‌ددین سپه‌ده، ددې‌وخت‌ضرورت او اړتیاهم‌دا کارغواړي .داداتفاق وخت‌دی. خبرشيء چې زمانې‌تاسو ته فرصتونه‌درکړی‌دی او هغه‌ستاسو له پاره غنیمتونه‌دی. نوپام کوی‌ءچې‌وخت درڅخه تېرنه‌شي،ځکه چې‌بیاسړی په‌ژړانه‌ژوندي کیږی !په تشا فسوس باندې بیرته‌څه‌په‌لاس نه‌راځي او په‌زړه کې‌خواشینې ساتل،غم نه‌لیری کوی.

په‌دې کې‌هیڅ‌شک‌نه‌شته‌چې‌دبری سوندلو کونجي(کلی) په کار دی. رښتیا او خلاص مقصدته‌درسېدلو اندرپایه‌ده وبره دسړ یني نېټه‌نژدی کوی .نااسیدی او دهمت ضعف دهلاکت اوسړ یني سبب‌دی.(ورته‌وو ایه عمل وکړ یء «څه‌چې‌سو زړه‌وی»نو ژربه‌به‌خدای(ج)او رسول(ص)ستاسوعمل‌دشهود په‌علم‌سره وو یني‌او سومنان به‌یې هم‌وګوري.او ژربه بیابوتلی‌شيء په‌هغه سره‌چې تاسې کړی‌وی). دآیت‌شریف ترجمه .

خبرشيء! دهغو کسانو څني‌مه‌شي‌ءچې‌پاڅېدل یې‌خدای(ج)سه‌نه‌و ګڼلی،

نو د چارو څخه یې ونیول شوه او ورته وویل شول چې د ناستو په څېر ځای په ځای کینئ، او وبرېږئ چې د خدای (ج) د دې وینا څخه لاندې رانه شئ. (دوی په دې خوښ شول چې له وروستنه پاتې خلکو څخه وی او د دوی په زړونو مهر لګولی شوی دی نو نه پوهیږي.) د آیت شریف ترجمه.

بېشکه چې قرآن ژوندی دی او نه مري، چا ته یې چې د ستاینې لږه برخه ورسېده، نو هغه د ستایلو وړ دی او چې چا ته یې د ګناه برخه ورسېدله، نو هغه ګنهکار دی. د خدای (ج) کتاب نه دی منسوخ شوی نو ورته راوګرځئ او ستاسو په حالاتو او طبیعتونو باندې یې حکم کړی دی. (او خدای (ج) بېخبره نه دی ستاسو د چارو څخه) د آیت شریف ترجمه .

ښایي چې اوس به د مسلمانانو اکمنو د پخوانیو بدو چارو د عاقبت څخه عبرت اخیستی وی. پخوا له دې چې د هغو افراطیونو کانې په دوی باندې هم و شی، نو د هغوی چارې به یې کتلی وی .

زموږ هیله دا ده چې د هغه چا له خولې لومړی غږ وشی چې تر ټولو واکمنانو ډېر لوړ او جګ وی او د لوی برم او مرتبې خاوند وی او خلک یې و الی ته راغونډ او د خوب نه یې ویښ کړی .

موږ په دې کې هیڅ شک نه کوو چې په دې ښې او لویې چارې کې به کاریګر پوهان لوی لاس ولري او خدای (ج) هغه چا ته لارښیي چې خوښه یې شی. د خدای (ج) حکم له دې څخه مخکې هم چلېدلی دی او وروسته به هم چلېږي.

# يووالی او پر بل مشري کول

( يو مومن د بل له پاره د دېوال غوندې دی چې ځيني يې د ځينو نورو سره
کلک نښتي وي) د حديث شريف ترجمه .

دوه غټ شيان دي چې کله پرې ضرورت باعث کيږي او کله د غه دواړ خلکو ته دين ښيي او کله د روزني او ښوادابو ځني را پيدا کيږي او هر يو د بل سره لازم او ملزوم دي او ملګري يې کوي ، بلکه ورڅخه هيڅ نه بيليږي، په همدې دواړو سره ملتونه لوييږي ، غټيږي، پرمختګ کوي او لوړيږي. دا دواړه: هسي يووالی ته هڅه کول دي چې خلک راغونډ کړي. او بل يې د داسې مشري له پاره زيار ويستل دي چې بيرته د لاس نه ونه وځي.

کله چې خدای (ج) وغواړي، خپلو نه سره متحد کړي او ودانې يې تل ترتله ښز بوته وساتي نو خدای (ج) پکې د غه دوه لوی صفتونه پيدا کړي او سم مخلوق ورڅخه جوړ کړي. بيانو د دغو دوو صفتونو د ځای نيولو او ټينګېدلو په اندازه ژوند پکې د خپلې نېټې د بشپړېدو پورې ساتي .

که هريو قوم دخان دتينگولو ، زور پيدا کولو او دخپلې سينې د کلکولو له پاره بل ته لاس ور ونه غځوی ،نو يوه ورځ به پرې راشي چې سينه سره ړنګه او ورکه شي او دخمکې پر مخ يې نښه پاتې نه شي.

بېشکه چې غلبه لتمول د قومونو غذ ابلل کيږی، کله چې په ځانګړی ژوندکې بدن ته غذا ونه رسيږی نو ددوې حرکت ودريږی او بير ته مخ په ښکته کېدلو او تيتېدلو روان شی چې په پای کې مړينې او هلاکت ته ورسيږی.

هيڅ امکان نه لری چې يو قوم خان تينګ او مزبوت وساتی او په بل نژدې قوم باندې ددې له پاره يرغل وکړی چې دخپل قوم دلويولو له پاره ورځنی يوځه پانګه ترلاسه کړی.مګر دوی هغه وخت دتولنی دهيئت داړتيا وړ شيان په لاس راوړی شی چې يو تر بله سره متفق او متحدوی .

کله چې په يو قوم کې ديووالی له پاره هغه پيداشوه نو دازيری پرېوکړه چې خدای(ج) په نوروقومونو باندې ددوی له پاره مشری اوواکمنی دغيب په پرده کې پټې ساتلې دي.

کله چې موږ دهرقوم تاريخ راواړوو او دشته والی او نشتوالی حالات يې وګورو ،نوپه بشري تولنوکې به موږ دخدای (ج ) داسنت وموموچې يو قوم چې ديووالی نه ځومره برخه اخيستی وی، هماغومره به دشته والی برخه هم لری ،هرڅومره چې دزوراو غلبې خاوندوي، هماغومره به لويې ته رسېدلی وی.

د يوقوم شان او مقام تر هغه وخته پورې نه راټيټيږی چې تر څو په خپلو شتمنيو باندې لوبې و کړی او عبث يې کړی.په تياره باندی قناعت وکړی ، دخپلو ښارونو په دروازو کې ولاړوی او دد اړه مارانو ددراتګ سيل کوی ،

خدای(ج) هغه وختیو خپل او تېر لهمنځه وړی چې د بېلېدلو په خوا شیني ککړ شي . نو خدای(ج) پری هغه وختاو ږده خواری او کلک عذاب راولی او بیادتل له پاره ورکشي.

یو کېدل یو داسې پیوند او نژدیو الی دی چې دقوم هرغړی یې په ګټو او تاوانو باندې پوهیږی او دټولو طبقاتو خلک پوهیږی چې په دې ذریعه پاچهی اولو یې لاس ته راځی، نو دیو خوږ ځیز دخوند په څېر ورنه خوند اخلی. که اتحادونه لری ،نو دلو یې خواشینی دخوږ او درد په څېر به په خوږو اودرداخته وی. همدغه حس دی چې انسان مجبوروی دخپل قوم په احوال فکرو کړی او د خپل عمر په یوه برخه کې ځیرنه کوی چې څنګه به دده قوم لو یی او سشری ته ورسیږی او غلیمان او دارهساران به ورځخه څنګه وشړي ؟ او په دې برخه کې به دخپل شخصی ژوند دحالاتو څخه کم فکر نه کوي .دغه فکرڅه هسی تش اوشنله هم نه دې چې یو ازی د خیال په دیو الو نو کې راایسار وي او دژبو په سر و نو یې اوړي را اوړی بلکه دغه فکر یوه هسی رڼاوی چې بالاخره داسې عزم او کارترې پیداشی چې د هغه دسر ته رسولو له پاره تل هڅه کوی او لکه څومره دخپل ژوندانه دمو ادودپلټلو له پاره هڅه کوی، په دې لار کې هم هماغومره خپل قوت لګوي او یو تر بله ورته هیڅ توپیر نه لری ، بلکه په دې قوم کی داسی کسان هم راولځی چې دده په نظر دقوم برم او شان لوسړی درجه اعتبار لري او دشخصی ژوند چارې دویمه درجه بولی څه چې دګټو په راوړلو او دتاوان نه په بچ کولو کې کوري یو ازې په او سنیو وختو نو بهٔ اکتفانه کوي .بلکه پاخه پوهان یې دفکر کولو لارې لټوی او د خپل همت تورې وته دتېکو نه راوباسی چې تر څو په زیار و یستلوسره نوی قوت او تازه طاقت په لاس ورشي او دخاورو لاندې پانګی او شتمنی راوباسی او

د قوم د ژوندي ساتلو له پاره يې د عمر تر لازم حده پورې راغونډې کړي. لکه چې يو کره پوه شخص چې د خپل ژوند د لوازمو د ډېرولو له پاره تر هغه وخته پورې هڅه کوي چې تر څو په دې پوه شي چې دده د ژوندانه تياوې پرې تر ډېره وخته بشپړېږي، بلکه لا ورځ په ورځ زياتېږي او اوس يې وروستنيو اولادونو ته هم څه پاتې کېږي.

د قومونو د عمر لومړنۍ دوره د ښځو کلونو څخه کمه نه ده، بيا پسې نورې دورې راځي. دغه لومړنۍ دوره ډېره لنډه ده او دوړو کتوب او تېرو دلو کلونه دي. د کمال شروع په ورېسې دوره کې ده نو کوم شی دی چې د عاقلانو همتونه يې په پوهو ملتونو کې جګ کړي دي؟.

کله چې د ټولنې د خلکو پوهه د مخه ذکر شوي اندازې ته ورسېږي، نو به يې ګورې چې د عامو او خاصو همتونه جګېږي، خو يونه به يې ښه کېږي، اقدام به يې را کاږي او عزم به يې د کار و خواته بيايي. هر يو به مشري حکمراني او غلبه غواړي. نو همتونه يې سره يو ځای شي او عزمونه به يې د غوښتنو او پلټنو په لار کې سره متصل شي. نو په نژدې او ورځېر مه خلکو باندې به د غلبې موندلو له پاره د سيلاب غوندې وررو ان وي او تر څو چې خپل مطلب ته ورسېدلي نه وي، نو هيڅوک به يې مخه نه شي نيولای او د لومړي غلبې نه وروسته به يې پر ملتونو باندې يرغل د يو طبيعي غورځنګ په څېر وي چې د کاميابۍ د وسايلو د برابرولو نه پرته به بل کوم فکر ته اړ نه وي.

دا دوه شيان چې متحد کېدل او په بل باندې غلبه موندل دي د اسلامي دين دوه ډېر کلک رکنونه دي او په هغو کسانو باندې دوه فرض دي چې په دغه دين يې کلکې منګولې لګولې وي. څوک چې په د غو دوو فرضو کې

دخدای (ج) له حکم څخه مخالفت کوی، نو په دنیا کې به په سپکوالی سره د خپلی همدی گناه له کبله ونیول شی او په اخرت کې به په عذاب اخته وی.

دشریعت د ښښتنو پناده چې (ښښکه یو مؤمن د بل مومن له پاره دیوال دی چې ځینی یې د ځینونورو سره نښتی دی) یو مؤمن بل ته د هغو نومثال لری، کله چې یو خوږ شی، نو بل ته یې تکلیف رسیږی. په نهی کې راغلی دی چې: (یو تر بله سره ارتباط مه قطع کوی، اوسرشا په شا مه کیږی، او یو تر بله کینه مه ساتی او دخدای (ج) بندگانو! یو تر بله سره دوروڼو غوندې شی) دحدیث شریف ترجمه.

هغه کسان چې دتولنی څخه بیل شوی دی، په بربادی او هلاکت بې وپرولی دی ځکه که چیرې یو پسه له رمی بیل شی نو اخر د لېوانو خوراك شی.

خدای (ج) خپلو بندگانو ته امر کړی دی چې په خپل دین منگولې ولگوی او دبېلوالی او تگی نه یې منع کړی دی. دمسلمانانو سره یې دهغه څخه وروسته چې په خپلو منځو کې غلیمان وو، دوروگلوی په نعمت سرمنبګنه کړې ده الهی کتاب فرمایلی دی چې (خبره همدا خبره ده چې مؤمنان سره وروڼه دی) او دمخاطبینو څخه یې په خپلو آیتونو کې غوښتی دی چې د خپل منځی د مخالفت په وخت کی زر روغه وکړي، بیا یې په روغه کولو باندې ټینگار کړی دی که څه هم دباغی سره جگړه وي نو فرمایلی یې دی: (که چیری دمومنانو ددو ډلو ترمنځ جگړه راغله، نوای نوروسسلمانانو! تاسی یې روغه وکړی او که له دې دواړو ډلو څخه یوې پر بلې باندې تیری وکړ او دخدای (ج) او رسول (ص) حکم ته یې غاړه کښینښوده، نو تاسی دهغې ډلې سره تر هغه پورې جنگ وکړی چې پر هغه بلې باندې ظلم او زیاتی کوی او وه یې وژنی. ترڅو چې بیرته دخدای (ج) حکم ته راوگرځی او غاړه ورته کیږدی او په کوم څیز باندې چې مومنانو اتفاق کړی وی. خدای (ج) په همدغه کار کې دورشامله و حکم

کړی دی او په کومه خبره چې ستاسو غوندې پرېږ الحی. یو تر بله دیو والی حکم یې کړی دی : تاسې د هغو کسانو په څېر مه کیږی چې سره جلاشول او (جګړې) یې سره وکړې او د وی ته د اسلام دحقیقت ښکاره دلایل دمخه راغلی وو) .

هغو کسانو ته یې په دردناک عذاب سره وېره ښودلې ده چې دمو منانو دلارې څخه ګرځېدلې دی .نو حکم یې کړی دی: څوک چې دمسلمانانو دلارې نه پرته په بله لاره ځی ،دهغه ګرځېدلو جزا به ورته ورسوي او جهنم ته به یې ورسوی او جهنم دو رتګ ډېر بدځای دی .

په څرګندحکم سره یې په ښو چارو او پر هیز ګاری کې یو د بل سره مرسته واجبه کړې ده او دحق د کلمې او دامت د خلی د جګولو او لوړولو نه پر ته بله دو مرهلو یه او غټه چاره نشته چې په هغې کې سره مرسته و کړي. رښتیاو یو نکی صلی‌الله‌علیه وسلم‌خبرور کړی‌دی‌چې:(دخدای(ج) لاس‌دټو لنی ډلې سره‌دی)دمؤ منانو دمرستی له‌پاره‌یوازې الهی قدرت کافی‌دی په‌دې شرطچې سمه‌ټو لنه وی او مینه کول‌یې سره‌په‌رښتیاوی.ددینی رعا یت له کبله په‌اسلامی شر یعت کې‌داتفاق مقام‌او درجه دو مر ه‌لو ړ ښو دل‌شوی دی چې په‌یوه لو یه چاره کې‌دامت اجماع او اتفاق ، د خدای (ج)دحکم‌ا وعلم څرګند وو نکی او کاشف ګڼل‌شوی‌دی‌او په‌ټو لو مسلمانانو یې په اجماع عمل کول واجب کړی‌دی‌او و رځخه‌انکار یې ددین نه‌وتل او دایمان نه بېلېدل ګڼل‌شوی‌دی دشارع دهغو دلایلو څخه چې‌داتفاق مقام ته‌یې‌اهمیتو رکړی دی د صلی ا لله علیه و سلم د او ینا د ه : ( که ز ه خلف ا لفضو ل ته‌بلل‌شوی‌و ای،نو مابه‌دغه سو ګنداو خلف خو ړلی و ای ) .

خلف الفضول دهاشم،ز هره او یتم دخېلونو په‌منځ کی یو ډول قسم و چې‌عبدالله بن‌جدعان‌ته یې‌و فدو لېږ ه او یو تر بله یې‌سره په‌دې سو ګندو کړ

چې ظلم او تیری بهله منځه وړی او دمتجاوزنه بهحق اخلی. خلف الفضول یې ځکه بولی چې یوتر بله یې په دې تړکو قسم او سوگند وخوړ چې هیڅوک به نه پرېږدی چې دخپل حق نه زیاتی او تجاوز وکړی. او که چا په ظلم او تیری سره بل نه څه اخیستی وي، نو هغه به و رځنی اخلی او بیر ته به یې خپل خاوند ته سپاري. دغه دجاهلیت قسمو او شارع تصریح کړی ده: که چېری زه ور بلل شوی وای، نو مابه منلی وای .

دا اتفاق په واجبېدلو او دمسلمانانو بلکه دهغو ټولو پوستو په منځ کې چې دوی ته دبشری اصولو سره سم دذمې په غاړه ایښودلو راضی شوی او گاونډیتوب یې منلی دی په تګی کولو او دیو بل سره په اړیکو پرې کولو باندی دوېری او رښود 'و په برخه کې دډېرو خبرو او کرښو لنډیز دی، ځکه چې دسومنانو لاره دې دول معاملوته ځای ور کوی او پرې نه تنګیږی .

دحقی کلمی دجګولو، دملکدار ټولو او لو یې مشری او حکم چلولو ته درسیدلو په برخه کې به دقران شریف داسې آیت مو ندونه کړی چې په هغی کې دې دمسلمانانو څخه په دې لار کې ټینګه هڅه کول غوښتل شوی نه وی او ددې فرایضو ادا کولو په برخه کې به یې دهر ډول سستی کولو څخه منع کړی نه وی. د شریعت یو حکم دادی چې مسلمانان دې دخپل ملت د لو یو لو څخه تر هغه وخته پوری لاس نه اخلی چې تر څو هیڅ فتنه پاتی نه شی. او هر چېری دی دخدای (ج) حکم او هغسی نبوی حدیثو نه وی چې په دې خبرو کې دقرآن د آیتونو سره یو کیږی او علماؤ په کتابونو کې راغونډ کړی دی او شمیر یې دلته او ږد یږ ی دادی زموږ ددین حکم او هیڅ مومن او هغه کسان په دې کې شک نه کوی چې دغه رسې یې کلکه ټینګه کړې ده .

آیا کېدای‌شي‌چې سوږ دخپلو دیني فرایضو دادا کولو دعوی‌و کړ و ؟ دادعوی‌به سوږ څنګه و کړ و ؟ ځکه‌چې‌دلو یو دیني حکمو نو چلول‌دشرع په و لایت او و اکمنی پورې سر بو طدی ،نو که ذاتاً دغلبی سو ند لوا و یو کېدلوهغه فر ض‌نه‌وی، نو ایاو اجب او فر ض‌ذاتاً په‌دې‌دو اړ و نه‌بشپړیږی؟

لکه‌چې‌دمخه سو و یل‌نو دغه دو اړه به‌څنګه وی؟په‌داسی حال کې‌چې شر یعت په‌همدې دو اړو و لاړ دی او دادواړه‌یې پاخه‌ر کنو نه‌دی، نو که دغه‌دو اړه و نه‌ړ یږی ! نو ایادحساب‌او دخدای(ج)سر ه‌دمخامخ کېدلو په و رځ به‌څه عذرلر و ؟ هغه‌هم‌داسی و رځ‌چې‌دو ستی او مخو ر تو ب هیڅ ګټه نشی ر سو لای.ایا په‌داسې‌حال کې چې زموږ شمېر ددوه سو و میلو نو څخه کم نه‌وی،ددې‌دو ه‌ر کنو نو دنړ ولو نه‌و ر و سته‌موږ دشفاعت و ړ یو ؟ ایادار اته اسانه ده‌چې یو ازې له‌ځان سر ه کښینو اودخپلو زړ و نو سر ه په‌څېر نه بو خت شو او په‌دغه او سنی حال‌چې‌او س‌پرې‌اخته یو ،قانع او خو ښ شو ؟ .

داټو لی‌خو اشینی زموږ له‌هېوادو چاپېر ه شوې دی او زموږ قدر تو نه یې خر اب کړی‌دی.ددې‌غمو نو او غشو ر اګو زارو لو ا صلی علت ، زموږ تر منځ بیلتو ن ، شا په شا کېدل او در وا بطو پرې‌کول دی . حال داچې موږ‌خدای(ج)او نبی(ص)ددغو شیانو څخه‌منع کړی‌یو . که‌موږ یې دهغې‌کلمې حق‌اوغو ښتنه‌ادا کړ و چې زموږ په‌ژ به‌جاری‌ده او په‌ذ کریې زموږ زړ و نه داډه کیږی.نو ایا پر دی‌به‌زموږ هېوادو نه‌بیخی و شلولای‌شی؟ ایاد ظلم او تجاو ز تو رې به‌زموږ تر مخه و پړ کو لای‌شی ؟ ایادغلیمانو داو رتاو به زموږ په‌سپړ مو را ننو ځی ؟ .

خبر شیء ! ! چې‌زموږ یر غل‌ددوی‌په کلیو دی او ددو ی په ککر یو موحمله ده . داسلامی ملت‌په هغو شیانو یقین لری چې‌پیل یې کړی.لیکن ایادیقین

په ښښتن فرض نه ده چې د خدای (ج) فرض سرته و رسوی او هغه څه چې و ر باندې واجب دي ادایي کړي. په تحقيق سره مونږ ستاسو پخوانی و ازمایل. (آیا خلک گومان کوی چې په همدو سره به پرېښو دل شی چې و وایی: مونږ ایمان راوړی دی. حال دا چې دوی به و نه ازموېل شی. او هرو مرو په تحقيق سره مونږ هغه کسان ازمویلی و و چې له دوی نه مخکی و و، نو الله به هرو مرو په ظاهری علم سره هغه کسان معلوم کړی چې (په دعوی) رښتینی وی. او خامخا به الله (هغه) دروغجنان (په ظاهری علم سره) معلوم کړی) د آیت شریف ترجمه .

په دې کې هيڅ شک نه شته چې مونږ ته اسانه ده چې خدای (ج) د رښتین او صادق په ډول و پیژنی نه د دروغجن په ډول. داسې رښتیا به چېری وی چې دا زمېښت په ځای کې رښتین د دروغجن نه بیل نه شی ؟ مگر هغه وخت به ور نه بیل شی چې پخپلو چارو کی رښتینی شی. ایا یو مسلمان به په دې خوښ وی چې عمر یې زر کاله وی، مگر په خواری او سپکاوی کې وی ؟ او په دې هم ښه پوهیږی چې دژوند څخه تېر ېدل د ایمان نخښه ده. ایا دا زمونږ خوښه ده چې مونږ دی مومنان او مسلمان او لوړه کلمه دې هم زمونږ وی او پر مونږ دې داسې خواری او ذلت عمر تیریږی؟ زمونږ په مالونو او ښارو نو داسې کسان تیری و کړي چې زمونږ په مذهب نه وی او نه زمونږ مشرب ته را اوړی. نه مونږ د شریعت احترام کوی او نه په مونږ کې د ذمې نژد یوالی او معاهدې رعایت کوی ؟ بلکه زمونږ په ورکاوی پسې یې لښکرې را وستې وې او غواړي چې مونږ له خپلو وطنو نو څخه وشړي او خپل خپلو نه او تېر و نه و رته راولی ! !

نه ! نه ! هیڅکله داسې نه شی کېدای. بېشکه چې مخلصان په خپل ایمان ټینګ دی او د خدای (ج) د مرستې دوعدې په امید دی. چې هغه وعده په دې آیت سره

ثابته ده: (که تاسو دخدای(ج) سرمرسته وکړه، نو خدای(ج) به ستاسو مرسته وکړي او پښې به مو ټینګې کړي.) دآیت شریف ترجمه .

دخپلو مالونو او سرونو دقربانۍ څخه نه اوړي، حق را ښلو نکی دی، خدای(ج) حاکم دی او ضرورت قاضی دی. نوبل د تیښتې ځای چېرې دی ؟ .

هغه چې دخدای(ج) په رڼالارو ینی، پوهیږي چې د مخلصانو مونا نو ترمنځ، دخدای(ج) دمرستې او ددین دغالبولو له پاره دمتحد کېدلو او یو بل سره دمرستې کولو نه پرته بله لار نشته. ایا موږ ته روا ده چې بېرغونه مو نسکور دي، ملکونه مو تو تې شوي دی او موږ ورته ګورو ! څه مو چې په لاس وو، او س په هغو باندې پردي پچه ا چوي. بیا هم زموږ له خوا څخه نه کوم حرکت شته او نه په کومه خبره سره راټولېږو ! سره له دې بیا هم دادعوی کوو چې مو ږ مو منان یو په خدای(ج) او دهغه په پیغمبر محمد صلی الله علیه و سلم مو ایمان راوړی دی! ! دا څو مره دخجالت ځای دی! !

که چیرې زموږ په زړه کې دغه (۱) تیر یږی، ګومان نه کوم چې ددا سې یو مسلمان په زړه کې به دغه تېرمشی چې دژبې څخه یې اسلام شاهد (۲) راوځی .

یو وا لی ته هڅه کول او مشرتوب او حکم چلولو ته ځان جوړول او د اسلام دانګړ سره ډېر ه مینه کول داټول هغه صفتونه دی چې د مسلمانا نو په زړونو کې پټ پراته او ځای یې پکې نیولی دی. لیکن څر نګه چې په تېرو ګڼو کې مو ورته اشاره وکړه، دوی ځینو خبرو ویرولی دی او ددینی

(۱) په خدای(ج) او رسول(ص) ایمان (مترجم )

(۲) اسلامی کلمه (مترجم )

الهاما تو شخه یې بېخبره کړی‌دی‌ډېر وخت کیږی چې‌د حق غږ داو رېدلو نه غافل شوی دی او حقی خبرې یې هېری کړی دی ، لیکن نافرمانی یې نه‌ده کړې .دوی‌وشو یېدل ،لیکن‌لاره‌یې نه‌ده ورکه کړې.مگر وډارشول اوهکك پکك پاتې شول .

ددوی مثال داسې‌دی لکه‌چې‌په تورو شپو کې څوك چاته‌دیوې‌ناسعلو مې سیمی‌څخه‌خواب‌ورکوی‌او هریو سرسته‌غواړي‌او وایي‌چې‌دخدای(ج)دپاره! ! سره له دې چې تول سره یو ځای وی‌مگر یوهم لاره‌موندلای‌نه‌شی او نه یې شی‌پیدا کولای .

زه عقیده‌لرم چې که‌چېری تکړه او کره پوهان خپل پام دې خواته راواړوی چې دځینو مسلمانانو غږونه ځینو نوروته ورسوی، نو هروسرو به‌ددوی هیلی په‌نړ دې وخت کې ترسره شی.دا کارد وسره‌مشکل هم‌نه‌دی،ځکه چې‌خدای‌پاك‌ددرناوی له‌مخی بیت‌الحرام په تول له ځمکه کې خاص کړی‌دی او دوسی‌سره سم‌یې په‌مسلمانانو حج‌فرض کړی‌دی ، نو دغی ځمکی‌ته‌خدای(ج)دمسلمانانو دتولو خپلو نو اوقومونو خلك راغونډوی. نو دیومنلی‌شخص‌له‌خواچې‌ورته‌هره کلمه‌ووېله شی، هروسرو به د ځمکی تولی‌خواوې ورته ورپیږی‌او زړونه به‌ورته‌خوځیږی. داخوددینی عقاید و اړخ‌دی، نو که‌ددې‌سره دزړونو ویلی کېدل او دپردیو تیری او ظلمونه هم سلگری‌شی. او هغه‌خواشینی هم‌ورته‌وخپرل‌شی‌چې‌او س پرې اخته دی‌او

پردیو یې ښار ونه لوټ کړی دی او ساګانې یې تر سر یو رار سپدلی دی ، نو د مسلمانانو استعداد بهداسې حد ته راشی چې نژدې فعل او عمل ته راوو ځی . زموږ دا خبرې هغه خوک پیاوړی کوی چې دې مقصد ته هڅه کوی او په دې لار کې دېری سوندلو زیار باسی .

د هغه خدای(ج) د سر ستی هیله لرم چې هر قصد کوو نکی یې ناامیده کړی نه دی، خدای(ج) زما پالو نکی دی او خپل مطلب ور ځنی غواړم او بیر ته می د ته ور تګ دی .



# امید او دلو یی غوښتنه

(بیشکه‌شان دادی‌چې کافران دخدای(ج)دمهربانۍ څخه‌نا امیده کیږی )
«ابراهیم‌و ویل‌چې‌زه ناامیده نه‌یم‌اوڅوک‌چې‌دخدای(ج)درحمت‌څخه ناامیده کیږی، هغه‌کسان کافران‌دی‌چې‌لاره‌یې‌ورکه کړی‌وی»دآیت‌شریف‌ترجمه.

دغه‌دحکمتنا ک کتاب اینونه دی‌چې دغه‌رازاوسرڅخه خلک خبروی خدای پاک‌انسان په‌دغه‌رازسره‌خاص کړی‌او دنوروموجوداتوڅخه یې لوړ کړی دی‌چې ساتل شوی مقام ته‌پری‌ورسیږی او هغه ددسره ور کمال ته‌پری ورسیږی چې‌خدایې مهربانی‌ورته تیار کړی‌دی.

دخپل‌ځان‌سره کښېنه اوخپل پټ‌مناجات ته‌دې غوږ کښېږده، نو هروسرو به‌په‌خپل وجدان کې‌ددې‌له‌پاره چې‌دقومی وروڼو په زړونو کې‌ځای ونیسی‌او ورته خوږشی،یوه‌داسې غښتلی هڅه‌او دومره ډېر حرص وګوری چې‌تابه‌دعظمت اولویې مرتبی غوښتلو خواته راکاږي.بیادی‌سترګی دټولنی دهیئت خواته واړوه، هلته‌به‌هم‌دغه صفت موندګړې، لکه‌څرنګه چې‌په‌یویو فردکی‌یې دغه‌صفت‌شته،دغه‌ټولنه به‌هم‌داغواړي چې دنورو ملتونو په‌وګړ و باندې‌دې‌او چت‌وی.دایوفطری‌شی‌دی‌چې‌خدای(ج)دانسانانو دطبیعت سره اغږلی‌دی‌فردوی‌او که ټولنه.

دې‌لو یې سر تبی او لو ړ مقام ته‌رسېدل کو م امان کار نه‌دی چې څنګه یې و غو اړی ، هغه‌ته‌دې و رسیږی ځکه‌چې‌دی‌به‌خپل مطلب ته‌درسېدلو په لار کې ددا‌سې لو یو لو یو غر و نو سره مخامخ شی چې‌په سر به‌یې د اسی نر ی لار ې او کږلیچو نه‌و ي چې د تنګ په مخ کی به یې خند‌و نه کیږی او د پر مختګ مخه به‌یې نیسی. مګر چې د تنګ حر ص نه کمیږی او هغه نه ضعیفیږی تر څو چې‌او ږ ده مز لو نه و کړ ی او ډېرې‌ستو نزی‌و ګا لی. چې‌په‌پای کی‌لو ړ و الی ته‌و رسیږی او دلوی عز ت و ړ مه بوی کړي . که چیری دده‌په‌مخ کې‌یو داسې خنډپیداشی چې‌د‌تنګ‌مخه‌یې و نیسی او بیا‌ځای پر ځای کښېني، نو ګو ری به‌چې‌خو اشینی وی‌او په ز ړه‌به‌یې‌داسې تنګسه‌و ی چې ته به و ایې پر سر و شګو ر غړی .

دشر ف‌او لو یی سر ه‌مینه کو ل داسې صفت‌دی‌چې‌په ټو لو خلکو کې‌شته دېږو زلو نه نیو لی دامراو‌نهی دښتنانو پو رې‌هر یو‌په‌خپله‌طبقه کې د لو یی داسبابو په‌راغو نډو لو کې یو تر بله‌سر ه سیالی کوی او څو ک‌چې دغه صفت خر ابوی دهغه‌ځینی مخ اړوي.هر یو هغه کوي چې‌دنو رو نه په زړ و نو کې خپل اعتبار ز یات کړی‌چې تر څو دلویی و ر و ستنی پړ او ته‌و رسیږ ی .

څه‌چې دیو ې‌طبقی په‌نز دباندې لو ړ تیا بلله کیږی ،دهغی دحدو دو و څخه به‌تیر یږی او دبلی طبقې په‌حدو د کی به‌و ر داخلیږی. ډېر ه‌هغه به کوی چې ددې‌طبقې‌دخلکو څخه هم‌و ړاندې‌شی. او تر څو چې‌ژ و ندی‌وی، همدغې هځی ته‌دی‌دو ام و ر کړی. داو لی؟ځکه‌چې‌انسانې کمال کو م حداو اندا ز ه نه‌لری. دادچادو سې پو ره‌نه‌ده چې‌خپل ځان‌قانع کړی‌او په‌دې عقیده و لر ی‌چې ز ه د کمال‌و ر و ستنی پړ او ته‌رسېدلی یم .

سبحان‌الله! دانسان په‌ز ړه کې دشر ف سره مینه ساتل څو مر ه ز یات شوی

دی او ددی ارزو ګانو سره څومره علاقه ساتي چې د خپل ژوند سره او د وجود
وروستني پړاو يې ګڼي، تر دې پورې که شرف ته ورسيږي او که نه! ليکن
د په شاتللو يره ورسره وي او خپل ژوند به ورته تيټ او سپک بريښي.

تاسو به داسې بيوزلي ليدلي وي چې زاړه کالي يې اغوستي او د چا په
سترګو کې به هيڅ نه راځي، مګر کله چې ورباندې د کوم چا له خوا د تيري
کولو لاس اوږد شي، يا ورته بد ګټه خبرې وشي، نو په ده باندې
غضب په هغه درجه غلبه وکړي چې نژدې دې وي خپل ځان مړيني ته ورکړي.
سره له دې چې د غوښکنځلو او رټلو به دده په خوراک او څښاک کې هيڅ
نيمګړتيا راوستې نه وي او نه به يې د شپې تېرولو په ځای کې کوم خنډ پېښ
شوی وي.

په مختلفو قومونو کې په زرګونو خلکو خپل ځانونه مړيني او
هلاکت ته ورکړي دي او د خپل شرف او لويي په دفاع کې يې ځانونه وژلي
دي د خدای (ج) څه لوی شان دی، انسان ته تر هغه وخته پورې، ډوډۍ، او به او
اغوستن خوند نه ورکوي چې تر څو دا شيان پکې نه وي.

زه هسې سرتبې ته رسېدلی يم چې بل څوک ورته رسېدلي نه دي او ځينې
نور هم په دې خبر کړي، چې وايي: چې بېشکه په دې برخه کې تر ټولو نه
زيات لوړوالي ته رسېدلی وي. ته به وايي چې د خوړلو، څښلو او زېږولو
خوند دې له پاره پيداشوي دي چې د ويار او مباهاتو وسيله شي. نو آيا په نورو
خوندونو څه ګومان کوې چې بايد هغه اروم رو د خوند اخيستلو وسيله شي ؟!!

انسان څومره سختي او کړاو نه ويني، د پردېسيو زيار و نه ګالي، څومره
په خپل سر باندې لوبې کوي د جګړې ميدان ته ورډانګي، او سره له دې چې

دهرڅه نه دخو نداخيستلو لاس يې رسيږي، بيا هم خو سره خو ندو نه په ځانبندوی ،
دا ټول ددې له پاره چې دشهرت خاوندشي، وياړوګټي اوڅه چې خدای (ج) ورکړي دی هغه
وساتي ځکه دخدای (ج) مهرباني ده چې انسان يوازې دلويي په خاطر ژوند کوي اوددې
له پاره چې په خلکو کې لوی وګڼل شم او هرخو نددشرف له پاره يووسيله ده. بلکه دنيايي
ژوند يوه غرني لاره ده چې ژوندپرې ترهغه وخته پورې روان وي چې لويي
ته ورسيږي او داجل په پای کې به دورنژدې ستر ګوته رڅخه بيليږي او په
زړه کې به يوازې داافسوس کوي چې : ځه سې غو ښتل ورو نه رسېدم. هغه
لويي څه شي دی چې انسان په خدايي الهام سره پسې هڅه کوي او دحصول
په لار کې يې ځان دخطر سره مخامخ کوي. په لاس ته راوستلو کې يې زيارونه
او کړاوونه ګالي ؟. دا يو هسې شان او حيثيت دی چې څوک يې خاوندوی، نو
خلک يې په مشري ومني، په لوړتيايې يقين کوي او دخپل طاعت او اګې
دهغه لاسو ته سپاري. دا لويوالي به دده او هغو ټولو کسانو ترمنځ شريکوی
چې دده سره نسبت او خپلوي لري او ورته نژدې وي. که کورني يې وي
او که دده نورقوم. غواړي چې دده او دخپلوانو خبره يې په نورو کې نفوذ
وکړي او وې مني.
ددې شان په لاس ته راوستلو کې خدای (ج) ډېر لوی مکافات ټاکلی دی. له
يوې خوا ددې زيارونو په مقابل کې په لوړ ني ژوندون کې ، په هرڅه چې
دلويي غوښتونکي دګټي رسولو ګومان وي ، خدای (ج) پکې برکت ږدي او خير يې
ټولو خپلوانو او قوم ته ورسيږي .دا يو عجيب کار دی او دخدای (ج) بالغه
حکمت دی چې په يو قوم کې يو څوک دلويې مرتبې څښتن شي، نو ټول قوم
ته به يې دمشرۍ برخه رسيږي .
هو کې ! ايادی دخپلو خپلوانو اوقوم د مرستی نه پرته په بل څه دغه

مرتبې ته رسېدلای شي؟ (دادلوی او پوه خدای (ج) تقدیر دی.) که دده سره خپل خپل او خپلوان نه وی نو یو سړی یو ازې څه کولای شي؟ څوک چې غواړی دغلبې تخت او لویی ته ورسیږی، نو ورته پکار ده چې خپل ځان او نور خپلوان دهغه څه له پاره چمتو کړی چې دانسانیت په عالم کې فضیلت او کمال گڼل کیږی.

دد ې فطری خوی او الهی الهام خدمت ته دربدل ځو مره سخت دی او دشرف په لار کې دخلکو تکلیف گالل څو مره گران کار دی چې ځینی اړ تیاوی ترسره کوی. په خلکو باندې څو مره لوی باعث دی چې ددې لویی مرتبې له پاره څو مره کړاو ونه زغمي!! څه یو شریف باعث دی چې هر سخت کار په اروا حواسا نوی هر لیری نژدې کوی او هر غټ کوچنی کوی. هر زیږ پستوی او هرخوږ او دردورته هیڅ ښکاری، ځان سړ ینی ته ورکول او دژ وند نه بیلېدل خوښوی، د هر پاك او سپیڅلی ښندل او په هر گران ښه ځوانی کول خوورته بیخی اسان دی. دالوی باعث او فعال موجب ،اسیداو هیله ده!!.

هیله او امید کړاوونو په تیاروکې یوه ځلانده رڼا، یو مېړنی لاربنوونکی او په ناسعلومو مشکلاتو کې لویه لاربنوونکی نښانه ده. که په غزمونو کې سستوالی راغلی وی، نو پرې زوروراحاکم دی او که همتو نه بیخی ځای پر ځای لویدلی وی، نو دایی خو ځوی او راپا څوی یې.

امید هغه اشتها او ارزو نه ده چې کله ناکله په زړه کې وځلیږی او په دې تعبیر شی چې کاشکی داسی مال مې لرلای او دداسې پوهې او فضل خاوندوای، او نوربیغمه، هوساستونی سنغ ورته ملاستوای او ځان مې په هسی عبثو بوخت کړی وای چې دمطلب نه پرې لیری شوی وای. ددې ډول غوښتنی مثال داسې دی چې گوندې دلویی هیله من او غوښتونکی غواړی چې خدای (ج) خپل سنت دانسان په لوی او یاتپه ځان کې دده دتگ لاری په خاطر بدل کړی او خدای (ج) ورسره

خو شی په خو شی و ړ یاسهر بانی و کړي او څه بې چې زړه غو اړی هغه سر ته و رسیږی .لیکن دی پکی نه کو م تکلیف و ګالی او نه دې کو م کړ اوسر ه مخامخ شی ! ! .

نه ! خبر ه داده چې امید هر و مر و کار کو ل غو اړی او داو ر سر ه سلګرې ده چې ځان د کړ او ونو ز غملو ته چمتو کړی، دتکلیفو نو او تړ یکو سر ه ډ غرې و و هی. در بړ او تکلیف په وخت کې ځان د صبر او ز حمت سر ه عادی کړی .هغه در داو خو ړ چې دژ و ندانه د هدف په لار کې و ر پیښیږی ،سپک و ګڼل شی، حتی په خپلو سغز و داو سنی چې که ژ و نددز حمت دسیندنه خړ و ب نشی نو هیڅ ا ر ز ښت نه لری .دقصد کو و نکی له پاره په دې لار کې په مال ږ رسیږ ه سر ښندل او له ژ و نده تیر ېدل لو مړی قدم دی. دمال څخه مقصدد دنیاد پیښو څخه دژ و ندا نه دو دانی ساتل دی .

خر نګه چې جګو الی ته هغه کو ل یو فطری شی دی، همداډو ل اخر نی سعی ته په ر سېدلو کې ،امیداو دنفس تېنګار یو فطری امانت دی. لا کن دو مر ه خبر ه ده چې ددو اړو ثبو ت دټولو خلکو په فطر ت کې مو انعو او کړ اوو نو نه ر ایلو نکی دی. ځکه چې خدای(ج) د هر انسان په ز ړ ه کې اغېز لې ده چې لویی اودنور و په ز ړ و نو کې محبو بیت غو اړی، نو هر انسان هم غو ښتو نکی او طالب دی او هم غو ښتل شوی او مطلو ب دی .

ا نسانی عقل لاتر او سه دومر ه لوی شوی نه دی چې د هر چاد پاره دداسې کار کو لو درجه وټاکی چې هغه دده دپار ه دټولو په فکر یو ه لو به مر تبه شی حتی په خپلو ټولوچار و کې لوی او لو ړ شی :او د هغه بل له پاره دی د و مر ه نه وی. لیکن دوی په داسې حال کې چې لارې تنګی اودستو نز و نه ډ کې وی ،

په خپلو خواهشونو او امیدونو کې سره جګړې وکړي. د بشري نوع تر منځ په دغو متاو متونو او تصادماتو کې د خدای (ج) یو حکمت پروت دی، چې مجاهدین او صابرین یې پکې وپېژندل.

کله چې په یو انسان او یا قوم باندې ربړ او تکلیف راشي، نو په همتونو کې ضعف او ټیټوالی پیښیږي لکه چې په نورو خویونو کې د ناوړې روزنې له کبله فساد پیښیږي، په دغو دواړو خویونو (امیداو لویې غوښتنه) کې هم فساد منځ ته راځي او ډېر ځله دغه ضعف د نا امیدۍ مرحلې ته رسیږي.

(نعوذ بالله منها.)

نا امید کسان ډېر بد حالت لري. پخپلو ځانونو د ټیټوالي حکم کوي او نور هم لا پسې ټینګ وي چې لویې ته رسېدلای نه شو. نو ټیټې چارې به کوي او د رذایلو پروا به نه لري، د سپکاوي او رټلو نه به یې کرکه نه کیږي، بلکه هر څه چې پرې راځي په وړین تندي به یې مني. نو نو ل هغه احساسات او انساني وجدانیات به ورځنې لیرې کیږي چې انسان پرې د حیواناتو ځنې ممتاز شوی او بیل شوی دی. نو دوی به هم په هغه څه خوښیږي چې نور حیوانات پرې خوشحالیږي. د تشو، پوچو او په هوا کې زوړند واړتیاو څخه پرته به نور ضرورتونه په نظر کې نه نیسي. بیا هم کاشکې چې د بې مهارو او ښانو او نورو حیواناتو غوندې وای چې په شنیلی او وښو کې بې غمه څر بدلای. لیکن متاسفانه کله چې دوی خپل کار پرېږدي، نو خدای (ج) پرې داسې څوک مسلط کړي چې بیا به دوی هرو مرو د نورو له پاره کار کوي، نو د بار وړونکو بو ده وپه څېر به شي چې د خپلو وریو د شیانو څخه ګټه نشي اخیستلای. وظیفه به یې ډېره هغه وي او په قسمت کې بدبختي. د بل د نیکمرغۍ او هوسایۍ له پاره به کار کوي.

کوي. کر کیله، صنعت او نور گران کارونه به کوي او په دغو کارونو به دومره کلك بوخت وي چې گومان به کیږي د خپل ځان له پاره یې کوي، مگر د خپل کار گټه به نه شي اخیستلای او د خپل ټول کسب میوې ته به یې لاس نه رسیږي. د غه میوې به هغو ته حواله کیږي چې په دوی باندې پخپلو همتونو سره حکمونه او پاداري کوي. (د گرانو چارو او ناوړو شیانو دلیدلو څخه به دومره خواري او تېښتوالي زغمي. که چېرې کاشکې د دغو گرانو چارو څخه لږ غوندې د عزت په غوښتلو کې زیار گاللي وای، نو د عزت د بېرخې خاوندشوي به وای) بلکه د دوی د باداراتو په فکر د نا امیدو خلکو درجه د کار یگرو حیواناتو څخه هم ټیټه ښکاري. ځکه چې باداران یې د بداهت په حکم سره پوهیږي چې د دوی د انساني فطرت د تقاضا سره سم استحقاق څخه ځانونه را غورځولي، د خپل حق نه تیر شوي او په یو ټیټه باندې بسیا شوي دي. بلکه په دومره ټیټ ژوند باندې خوښ شوي دي چې د انسانیشان سره نه جوړیږي. د خدای (ج) په هغه نعمت باندې یې کفر وکړ چې (دوی یې په انساني شکل جوړ کړي وو) او په انساني نوع کې یې امانت اینبي ؤ، نو دغه باداران به و رسره داسې سلوك کوي چې څوك به یې د حیواناتو سره هم ونه کړي. موږ په دې خبره باندې په هغو ملتونو کې چې نا امیدي نیولي او د پردیو په لاس کښېوتي دي، ځرگند شاهد گورو. او گومان کوو چې داسې نور قومونه هم شته چې باداران یې و رباندې په پخواني وخت کې همداسې لوبې کړې وي او اوس یې هم پرې کوي، چې داسې چارې به څوك په خارو یو هم ونه کړي. داسې خلك زموږ نه لیرې نه دي او راسره نژدې دي. دا د تعجب ځای دي چې څنگه د فطرت اغېزه بدلیږي او له منځه ځي؟. څنگه یو سړی دلویې نه ټېر شي او ټیټوالي ومني؟ څنگه یو سړی دومره نا امیده شي چې نوره هیڅ امید ورته پاتې نه شي؟ حال دا چې

امیداو د لو یوالی سرہمینه سانل دانسان طبیعی خو یو نه دی .دژ و رې کتنی نه و روسته مو یږ د دې نسبت مو مو : —

انسان گومان کوی چې تولې چارې زمادقدرت او ادارې څخه راوځی او زما قوت زما دچارو پاچادی. زمادلاس نه بل داسې پو رته لاس نشته چې راسره سر سته و کړی او بایې په زو رسره دخپلې چارې نه واړو ی. نو کله چې و رته پر له پسې خنډو نه اوموانع پېښ شی او مطلب ته د رسېد لو لارې پر ې بندې شی، نو خپل قدرت ته مراجعه و کړی. نو گو رې چې هغه نشته او و روسته چې خپل قوت ته را و گر ځی ،نو گو رې چې هغه هم سست شوی دی. نو هغه وخت په خپله بېوزلې اعتراف کوی او ځای پر ځای کیني. نا امیده او خوارشی. ځکه چې په دې عقیده پیدا کړی چې دده قدرت د دې موانعو مخه نشی نیولای.

څرنگه چې دموانع قوت دده دقوت څخه ډېر زیات دی ،نو خپلې چارې ته هیڅ لار نه لری ، نو کله چې دموانع لاندې کو ل و ر ته محال شو ،نو امید قطع شی او تل تر تله په بدبختی کې ناامیده پر یو ځی.

لیکن که چېرې په دې یقین و لری چې دا عالم یو داسې مد بر لری چې دلوی قدرت څښتن دی او بل هر قوت د هغه غښتوالی ته غاړه ږ دی او هر وا کمن د هغه جگ حکم ته سرټیټو ی او ددغه لو ی قادر په لاس کې دخپلې پاچهی کو نجی گانی دی، څنگه یې چې خو ښه شی هماغسی کوی. نو هیڅ امکان نه لری چې ناامیدی پرې راشی او دناامیدی مرگ یې امیدو نه لو ټ کړي. ځکه که څه هم د یقین خاو ند دخپل قدرت ضعف ته گو ری،لیکن دده فکر د خدای(ج) دهغه قوت څخه نشی او بیلای چې هغه د هر قوت څخه جگ دی. نو په خپلو چارو کې هغه ته در یږی او دځان خو انه دناامیدی لار نه را پر یږ دی او هر څو مره غټ تکلیفو نه چې پرې راشي، دد ه همت دهغو دمد افعی ا و شړ لو

له پاره په دې قصدراپور ته کیږي چې د خدای (ج) قدرت د هغو ټولو څخه لوی دی. او که دده په مخ کوم ورته ټول کیږي نو خدای (ج) ته د دربدلو نه وروسته بل ور ورته پرانیستل کیږي. بیا هم نه نا امیده کیږي او نه بې زړه کیږي. ځکه چې په دې باور لري چې د عالم مدبر د دومره لوی قدرت خاوند دی چې زورور کسان مغلوب کړي او واګی یې د خوارانو په لاس کې ورکړي. غرونه ټوټې او درګی درګی کړي سیندونه وشلوي او بېوزلو ته دومره قوت ورکړي چې غښتلي د ککر یو او څړ یو څخه و نیسي. د خدای (ج) د قدرت د غه ډول اغېزې څومره ډېرې دي. نو عزم به یې ټینګ شي او بېرته به ونه ګرځي.

کمال ته د رسېدلو او برېسوندلو د پاره به پر هغه څه باندې زیاور باسي چې خدای (ج) ورته پکې د دنیا او خرت نیکمرغي تیاره کړې ده. هغه څوک چې په خدای (ج) او د ده په قدرت او جبروت باندې یقین لري، هغه نه نا امیده کیږي له همدې کبله خدای (ج) ورته د دغه حقیقت خبر ورکړی دی چې د هیڅ شک ځای پکې نشته او د ټولو ویو نکو څخه زیات حقیقت پکې پروت دی. (د خدای (ج) د رحمت څخه نه نا امیده کیږي، مګر کافر قوم) او بل ځای یې د خپل نبي (ابراهیم (ع)) د ویناڅخه حکایت کړی دی. (د لاروړکو څخه پرته، نور هیڅوک د خدای (ج) د رحمت څخه نه نا امیده کیږي.) نو خدای (ج) نا امیدی د کفر دلیل ګرځولی دی. هغه زړه ته به خنګه نا امیدي لاره موندله کړي چې په خدای (ج) او د ده په پشپړ قدرت ایمان لري او پرې غوته شوی وي.

له دې کبله موږ وایو چې د مسلمانان په خدای (ج) او هغه څه یقین لري چې حضرت محمد علیه السلام ورته راوړي دي او دې ته زړه نه ښه کوي چې د خدای (ج) د رحمت څخه دې نا امیده شي او خپل ځانونه شاندې راو نه ګرځوي. سره له دې چې ډېر هم دي او خپل ایمان یې دې ته نه پرېږدي چې خواري ته غاړه کېږدي، په زیاتې

اوتېرې خوښي او دخپلې کلمې دلوړو لو څخه بېرته په شا وګرځي. سره
له دې چې تراوسه پورې دهغو بلاګانو څخه ساتل شوې دی چې پر قومونه
پرېوتې او مايل شوې دی. ځکه چې دوی او س هم غټ پاچهان لري او ټول يې
دغه کې پر مخ لويه پاچهي شته اودا خبره حقه ده چې موږ وو ايو: دخداى (ج) دررحمت
ورونه ورته بېرته شوي دی او دخداى (ج) رحمت ته دپناه وړلو څخه پرته
په دې نورڅه نشته. دخداى (ج) درحمت وږمه ورنه رسېدونکې ده او ورته لازم
دي چې هغه وږمه خپلې پوزې ته را کاږي. فرصتونه هم تل شته او خپل لاسونه
يې دوى ته اوږده کړي دي او غواړي چې راپورته يې کړي بې خبره يې
وخوځوي او ويده يې ويښ کړي .

پرته له دې چه په يوه خبره سره راغونډ شي او دخپل ملت دا عزاز له
پاره يو تر بله سره ستره وکړي ، خپل او مرني مقام ته نه شي
رسېدلاى. دا کار دوى ته اسان دی. ځکه که چېرې ددوی تر منځ د يني ټولنه
مزبوته شي ، نو دنا اميدې او هغې ته دېلنې هېڅ موجب نه پاتې کېږي. بر سېره
په دې دخداى (ج) کتاب يې په مخکې شته او ورته وايي چې نا اميدي دګمراهانو
صفت دی. ايا دسمې او کږې لارې په منځ بله واسطه شته؟ (دحق لارې پر ښو د ل
لاروړ کې کول دي.) ايا نا اميدته کوم عذر شته ؟ ايا دوې دلوړې بادارې
نه وروسته دپر ديو په سر يې توب باندې خوښ دي؟ ايا په داسې حال کې به
دوی داهغه وي چې ديو پر دې، کينه کښ ، کنځل مار ، ناولي ، ناپوه ، تېښت او بې
حيا حاکم په مخکې ولاړوي او هغه ورته نږدې تېښتي ، او دشرم او عار خبرې
ورته کوي. ورپورې خاندي او ورته وايي چې تاسو بې عقل يا ستې ء
او استعداد مو نيګمړی دی. ورته وايي چې امکان نه لري چې تاسو دنورو قومونو
غوندې په شمېر او حساب کې راشئ. ايا که دانسان څخه انساني خاصه ليرې

شوي‌نه‌وي نو هغه به‌په‌داسې ژوند څنګه خو ښ‌شي‌چې په‌دومره کړ او ونو ککړ وي. ابادايې هېره کړه‌چې دوي‌دځمکې پر مخ څنګه‌ژوند درلوداودځومره لوړشان خاوندان‌وو. دومره ډېروخت همنه‌دي تېرشوي چې‌ګوندې تاريخونو دغه خبرې ورکي کړې وي. نه‌دغه‌نښې ورکي‌شوي دي‌اونه دځمکې‌دمخ نه‌لاتراوسه دمسلمانانو برم‌تللي‌دي .

که‌خلک اوعوام داعذرووړاندې کوي‌چې‌موږ نه‌پوهيږو او ددې نه‌بې‌خبره‌يوچې په‌موږ څه‌فرض شوي‌دي،نو پوهان او عالمان څه‌عذرلري ؟ دوي خودشريعت ساتونکي او په‌علوموکې ښه‌پياوړي‌او غښتلي‌دي .دوي دمسلمانانو په‌يووالي کي‌ولې زيارنه باسي؟ولې‌ددوي په راغونډولو او يوځاي کولو کي کوشش نه کوي؟ولې ددوي‌ترمنځ د ذات‌البينی روغی له‌پاره ځانونه‌نه‌وزګاروي؟ ولې‌دمسلمانانو داميدونو دقوي کولو له پاره خپل‌طاقتسپموي؟ ولې‌هغوکسانوته دخداي(ج)رښتيني‌وعدې نه وربه زړه کوي‌چې په‌طاعت کې‌صادقان وي او يقين پرې‌لري؟ ولې ورته‌دا زيرى نه‌ورکوي چې‌دخداي(ج)درحمت‌وږمې‌به‌ستاسو په اروا‌حو ولګيږي؟ .

هو کې؟داسې يوه‌ډله‌چې دايمان رڼايې زړه‌ته ننوتلې‌ده، ددې چارى دسرته‌رسولوله‌پاره په‌بېلوبېلو ځايونو کې دربدلي‌دي‌چې دوي‌سره راغونډه کړي او په‌يوه غوټه يې‌وتړي. مګرزموږ هيله دنوروومسلمانانوڅخه ده چې ورسره متفق‌شي‌او دمرستې‌لاس اوسټوورکړي‌چې ترڅو تولوته‌دخداى (ج) مرسته په‌ګډه‌سره ورسيږي.( که‌تاسو دخداي(ج)سره مرسته‌وکړه،نو خداى (ج) به‌تاسو سره‌مرسته وکړي او پښې به‌موټينګې کړي.)دآيت‌شريف ترجمه .

# ددولت اشخاص او د هېواد مشران

## دی څنګه کسان وی ؟

(ای مومنانو ! د خپلو مومنانو څخه پرته د راز دوستان مه نیسئی. ځکه پردی او نور د فساد رسولو نه پرته ستاسو سره هیڅ راز نیمګړ تیانه کوی په تحقیق سره غلیمی او کینه د دوی د خولو څخه ښکاره شوې ده او څو مره کینه او بغض چې د دوی په زړو نو کې پټ دی، هغه ددې نه لا ډېر لوی دی. په تحقیق سره موږ د دوی د نفاق علامې بیان کړي دي، که تاسی د عقل نه کار و اخلی ء . )

دآبت شریف ترجمه .

دوی وایي چې: ښار و نه، باچهی او سلک په ټینګو برجونو ، په سز بو تو کوتو نو ، په فعالو لښکر و ، په نو یو ، ښو او ډېر و وسلو ساتل کیږ ی! ! مو ږ وایو : هو ! دا هسی شیان او دساتنی الات دي چې هېواد او ښار و نه یې په استعمال او چلولو سره پرې ساتل کیږی. لیکن د غه الات نه په خپله کار کو لای شی او نه ملک پرې ساتل کیږي. نو ثابته شوه چې په دغو شیانو د هېوادسا تنه نه کیږی مګر هغه وخت چې و اګې یې داسې کسانو ته وسپارل شی چې د کار خلك او د پوهی او حکمت خاوندان وی .چې دروغی په وخت کې یې د روغو لو کار او زیار په غاړه اخیستی وی او د جګړی په مهال کې یې د خپل مقصد له پاره

استعمال کړ ی شی. یو ازې په دې هم کار نه کیږ ی چې تر څو د تدبیر او ضبط اشخاص او هسې پاخه او سپړ نی کسان و نه لری چې د ملک د ټولو چا رو سمون ته ملاو تړی، د امن لارې جو ړ ی کړي، د هوساینې فرش و غو ړ و ی، د وطن و دانې د عدل په قواعدو او رعیت د شریعت په حدودو و دروی بیا د خپل ملک مزیاو روابط د نورو هیوادو نو سره و گوری چې د هغو په ذ ریعه په خپلو منځو کې لازمه او وړ د سر ته و ساتې. بلکه تر څو پورې چې امکان ولر ی خپل ملک د غښتلی او سم سیاست په وزرو نو والوزوی او د یر لوړ مقام ته یې و خیژوی .

دغه کسان هیڅکله تر هغه وخته پورې د دې لوړو چارو د پرمخ بیولو وړ تیا نه شي پیدا کولای چې تر څو پورې د خپل ملک په مینه کې سوی زړونه و نه لری او تر څو پورې چې په خپلو وطنوالو مهربان او مشفق نه وی. او تر هغه وخته پورې چې په زړو نو او طبیعتو نو کې یې غیرت ځای نیولی نه وي. چې په پای کې د خپلو وجایبو، د ادا کولو د پاره یو ویښو ونکی حس و وینی او څه چې ورسره لازم او وړ نه وی، د هغه نه یې مخ را او گرځوی . که د ملک گټی ته لږ غوندې ضرر او خطر پېښیږی، نو زړه یې کلک پرې خو ږ یږی .

په همدې احساس او د غو صفاتو سره خپلې ټاکلی شوې چارې په داسې تو گه سر ته رو سوی چې څنگه و رسره ښایی او د هغه خلل څخه یې و ساتی چې د ډیر لږ څخه یې غټ فساد پیدا کیږی. نو د دو لت د غه اشخاص به د دغو خو یو نو په لر لو سره د خپل ملک ساتندوی او د ستر قو ت خاو ندان وي.

یو حا کم چې په هر قوم کې وی، د او ر ته اسانه ده چې خلک او لښکرر ا غو نډ کړی او ډ یر و لگښتو نو او نغدو پیسو شمېر زیات کړی ، لیکن د غه کار هغسې کسا نو ته کله ر سیږی چې مخکې مو و ر ته اشاره و کړ ه چې عا قلان

زړه‌سوانديِ،مهربان‌او سپیڅلی وي‌او دوطن مهمات دخپلو ژوندانه د ضرور یاتو او اړتیاو سره سم‌گڼي .

لابدې‌ده‌چې‌په‌دې‌لو یې‌چارې کې‌دفطرت دقانون‌او دطبیعت دناموس لحاظ‌او مراعات وشي!ځکه‌چې‌ددې‌ناموس‌مراعات ،فکر له‌خطاڅخه ساتي او پټې نرۍ‌خبرې‌ورته څرګندوي .وهغه‌څوک چې‌دغه قانون‌یې‌د خپلې چارې دسرته‌رسولو دلیل او خپل‌ځان ته‌دلارې موندلو لارښوونکی ګڼلی وي، په‌ډېره‌لږه خطاپخپل کار کې‌وروسته پاتې کیږي .

کله چې یوعاقل دېډول خطاووته په‌ژور نظر وګوري چې په انساني عالم کې‌پېښې شوې‌دې‌لو یې‌وي اوکه وړې!اوسببونه‌یې ولټوي، نو دد غو ټولوعلت‌به‌دفطرت دقانون نه‌کېږ یدل او په‌خپل‌مخلوق کې‌دخدا ی(ج)دسنتو څخه‌او ښتل‌وو مي.ددې‌ثابت ناموس‌حکم دادی‌چې‌هغه څوک‌په خپل‌وطن او رعیت‌باندې شفقت،مهرباني او غیرت‌کوي‌چې‌په‌خپله ټولنه‌کې‌ټینګه‌ستېه او د'سېجرړې‌ولري‌چې خپل‌اړیکې په‌هغوسره مزبوت کړي.د ایو داسې فطرت دی‌چې خدای(ج)په‌دغه سره خلک‌پیدا کړی دی .

بېشکه‌څوک‌چې دیوې‌ټولنې‌سره دنژاداو مذهب له‌مخې‌شریک‌وي ، دټولنې‌سره دخپل‌ځان‌او دځان سره‌دټولنې دنسبت مراعات‌کوي‌او د اګوښان کوي‌چې زماټوانه ځان دنسبي‌رابطې څخه‌نه وباسي .

نود ی په دي ټولنې باندې دتیر ی کو لو څخه ډېرد ی داسې شر ی لکه چې خپل ا نګړ ا و د کا له د حر یم څخه یې شړ ی (وګوره!ډېرځله‌به‌دې‌لیدلي‌وي‌چې‌داحس‌په اکثروو ګړ و کې‌پروت‌دی. که چېرې دیو وطن‌او یایو دین‌خاو نددبل وطن‌او یابل‌دین‌په‌خاو ندپسې څه دعیب خبره وکړي،نو هر و مر و د بل‌وطن او یادین خاو ندو ر څخه مدافعه‌وکړ ي.

لکه یوسوریه‌یې‌چې‌په مصری‌باندې او یا کوم مصری‌په‌سوریه‌یې باندې تنقید کوی.)

په‌دې باندې‌هرخوک پوهیږی چې که‌چیرې‌دده‌توکنی ته‌کومه‌گټه ورسیږده، نودده‌ته به‌یې‌هم‌برخه ورسیږی‌او که‌ورته‌ضررپیښ شو، نودی هم‌تری بچ کېدای‌نه‌شی. په‌تیره بیاچې‌داسې‌خوک‌وی‌چې‌دلویوچارو اوحکم چلولو واگی‌یې په‌لاس کې‌وی. ځکه‌چې‌دگټې‌په‌وخت کې‌به‌دده گټه‌هم ډیره وی او دخواشینې او تاوان‌په‌وخت کې‌به‌یې‌دنوروبه‌تاوان اوخواشینې هم‌ډیره‌وی. که‌دده توکنې‌ته کوم‌شرم‌اوږي،نوپه‌دې‌شرم کې به‌هم‌دده برخه ډیره وی.نودده اهتمام اوحرص‌به‌دخپلې‌توکنې‌دچارو په‌سمون اوروغولو کې دده‌دگټې دامیداو یادده دتاوان‌دویرې‌په‌اندازه‌وی .

دهېوادمشرته‌په کار دی چې خپلې ځینې‌چارې دې‌دوه‌ډوله کسانوته وسپاری، یا داسې شخص ته‌چې په داسې نژاد اوقوم پورې‌سربوط وی چې‌دضعف اوسستوالی ځنځه‌په‌امن کې‌وی .خوک ددغه هېوادپه نظام‌بوخت وی، دهغوی‌په‌زړونوکې دې‌هومره ډیرغښتې اومحترم‌وی‌چې ددغه نسبت په‌ساتلو کی‌دهرراز ضرراو تاوان‌رسېدلوپه دفع کې‌ځانونه سره کوی‌او فانی یې بولی، په‌دغوروابطودمذهبونو اودینونو اختلاف‌نه‌سستیږی .

یاداسې شخص‌ته‌چې‌په‌دین کې‌ورسره یووی‌او دغه د ینی توکنه دنژادی‌توکنې‌قایم مقام‌دبولی .بلکه په‌زړونوکې یې‌لوړه اوجگه وگنې لکه اسلامی دین چې‌دمسلمانانو په‌نظر کې ډیر لوی شی‌دی، که‌څه‌هم‌په دې دین کې‌ښاخونه او ډلې سره‌بیلی شوی‌دی‌لکه‌نسبی مزی‌او ربطی سره جلاشوی‌دی.ځکه هره‌توکنه (دنژاداو دین) دهېوادا و پاچهی ساتلوعلتونه دی اودایی دغیرت‌منشاگانی دي .

پر دي چې دوطني خلکو سره نه په نژ اد کې ار تباط لري او نه يې و رسره ديني روابط شته چې دنژادي روابطو ځای ونيسي ،نو په دغه وطن کې دوی داسې مثال لري لکه يو مزدور چې کورجوړوي او دا جرت اخستلو نه پرته بل څه مقصدنه لري.بيانو ره پروانه ساتي چې کوررو غ پاتې شو، که سېلاب يو وړاو که زلزلو ونړاوه داهم هغه وخت چې دغه پر دی په خپلو چارو کې صادقان وی او هم يې داجو رې دانداز ې سره سم کار کړی وی،او په ظاهری دودبرابره پو هه هم و لری ،ځکه دغه ډېر دی هم دهغې ټولنې دشرف په حيث شريف کېدلای نه شي چې دې پکی خدمت کوی .

اونه دهغې په خرابی سره ده ته کومه خرابی پېښېږی .ځکه چې دی و رځنی بيل دی. کله چې يې هلته ښه ژوند له لاسه ووت، نودی به ورځنی بيلېږی او خپل پخوانی ټاټو بی ته به دروسی .بلکه دی دخپلو چارو او خدمت کولو په وخت کې هم دمزدوری نه پرته په نورو ټولو چارو کې د خپلو زيږېدلو په ځای پو رې سر بوط وی.دا دعقل په بداهت سره څرگنده ده چې ددغه پردی په وجدان اوزړه کې داسې څه نه تير يږی چې د ې د ې سلک او وطن دو يجاړېدو څخه و دار يږی .نه ددې هڅه و رسره وی چې داته يې شان جگ کړی ، بلکه په فکر کې يې هيڅ باعث نه سو ندل کيږی چې د کو مې لاری څخه دې يو ښه کار سرته و رسوی .

دطبيعت دغو ښتنې سره سم ددوی دغه حال دی. که مو ږ داو منو چې دوی په رستياسره کار کوی او نور کوم غرض و نه نه لری،نو ستاسو په هغو پر ديو باندې څه گو مان دی چې دخپلو ښار و نو ځنې و بستل شوی دی او دلو ږ ی او بېوزلی له کبله راتښتيدلی وی او دبل چا په ځمکو کې دخپلو شپو او ورځود تېرو لو له پاره گرځی.ايا دوی په ر ښتياسره دخپل ژوند تيرولو له پاره کار کوی؟؟او که دروغ

وايي؟ وفا کوي که بېوفايي؟ دخپلې ذمې رعايت کوي او که خيانت؟ او که په دې خبرو برسېره دخپلو قومونو دمقاصدو له پاره خدمت کوي او دهغوی له پاره په نورو وطنونو باندې دخپل قوم دباداری او سرداری کولو لارې چارې لټوي؟ (دغه دهغو پردیو حال دی چې په اسلامي هېوادونو کې کارونه کوي! دوی په خپلو ځانونو کې دصداقت او امانت کوم باعث نهويني، مګر ددروغو او تېګی کولو باعث ګوري)

چا چې هغه تاريخونه کتلي وي چې دتېر شويو قومونو احوال تمثيلوي او سوبر ته پخپل مخلوق کې دخدای (ج) دسنتو نصې او په خپلو بندګانو کې دلوړېدو او ښکته کېدو احوال راښيي، نو هغه ته معلومه ده چې ددولتونو لوېدل ددې ډول اشخاصو په ذريعه ساتل کېږي چې، ددولتونو حق پېژني او دولتونه هم ددې ډول خلکو حق وپېژني او دپردیو په لاس کې یې هیڅ مهم کارونه وی ورکړی. نو دداسې دولتونو مقام هیڅکله نه دی ټیټ شوی او نه کوم ګړنګ ته لوېدلی دی. مګر هغه وخت دغه دولتونه ړنګ شوي دي چې پردي عناصر ورننوتلي وي او پردیسانو او پردیو ته یې لوېې وظیفې او غټ کارونه ورسپارلي وي.

دغه کار په هر دولت کې دړنګېدلو علامه ده. په تېره بیا هغه وخت چې ددغه دولت او ددغو پردیو ترمنځ کینه د هر یو دوینو سره ګډه شوې وي او په ختهه کې یې له اوږدو زمانو اغېزل شوي وي. هو کې! څرنګه چې په ځينو خويونو او طبيعي سجاياو کې د باند ينيو عوارضو له کبله فساد پېښېږي همداډول ديو دين او يا قوم دوګړو په غيرت کې دننه هم ضعف او بېوزلي رادوځاره کيږی او ددوی سره په سينه کولو او زړه سواندي یې يو تر بله

نیمګړتیامنځ ته راځي .له همدې کبله د هېواد د ښېګڼو سره د غټانو مینه هم لږېږي خصوصاً هغه وخت چې واکمن د هېواد په چارو عملي قادر نه وي لکه څنګه چې ښایي .نو په دغسې وخت کې ځانګړې ګټې په عامو فرایضو باندې مخکې کوي او له دې اسله د تولنې په نظام کې ګډوډي پېښېږي او فساد شروع کېږي .

لیکن سره د دې بیا هم د دې ډول ضرر تلافي د هغسې ضرر نه اسانه او نژدې ده، چې سبب یې پخپلو وطنونو کې پردیوته د لویو چارو سپارل وي .ځکه د خپل وطن او خپل نژاد خلک که څه هم اخلاق یې نارو غه او صفات یې خراب شي، بیا هم هغه څه چې د ده په فطرت کې امانت ایښود شوی او په خټه کې یې اغږل شوی دی، امکان نه لري چې هورک شي. نو که چېرې کوم ځل ناوړه کارو کړي، نژادي او دیني مزې یې بېرته خوځوي او بېرته یې ښو چارو ته رااړوي. هغه څه چې د دیني یا نژادي اړیکو څخه د ده په زړه پورې نښتي دي، تل یې هغې خواته راکاږي او د هغو کسانو سره یې یوځای کوي چې په دغو اړیکو کې ورسره نښتي وي. که څه هم یو تر بله سره لیرې وي .

له همدې کبله د شرق په واکمنانو او په تېره د مسلمانانو په مشرانو ډېر افسوس په کار دی چې د وې تر لیکلو او ادارې پورې خپلې ټولې چارې پردیو ته سپارلې دي، بلکه په پردیو اعتماد او ورسره دوستي یې د دې اندازې ته رسولې دي او هغه ډول خاص خدمتونه یې ورته سپارلي دي چې د دوی د کورونو په ګټو او غولیو کې سرته رسېږي .بلکه نژدې ده چې پخپلو وطنونو کې ورته له دې څخه هم راښکته شي.سره له دې چې په دې وختونو کې یې ورڅخه نورې ډېرې طمعې او داسې کینې ولیدلې چې په میراثي توګه ورته

پاتی‌شوي‌وی. په‌تجر بو و ر ته ثابته شو‌ه‌چي که‌څه‌و ر ته امانت کېښو دل شي خیانت کوی‌يې . که‌عز ت و ر کړ شي ،سپکوی به‌يې ،دښېګڼې په مقابل کې کفر ان او دسېی و ر کو لو په‌مقابل کې‌څپېړه‌و یني، ځان نژ د ې کو ل يې په‌لیری کو لو سر ه او اعتماد کو ل‌په‌تګی سر ه‌دی .

ز ه‌خبر ور کو م چې‌دختیځ وا کمنان‌دې‌دخدای (ج) هغو احکا مو ته غاړه کښېږ دی‌چې هغه هیڅ نیمګیړ تیا نه‌لری‌ایاد‌وی ته‌څر ګنده شوی‌نه‌ده چې خپل حس‌اووجدان‌ته‌و ګو ری؟ ! !ایا هغه‌وخت لانه‌دې ر اغلی چې‌و اقعاتو و ر ښو د لی اودوي‌پکی کارونه‌و کړل اوخواشینیوا و کړاوونو‌پرې‌دلالت کړی‌وی‌ایادغلیما نوپه ذر یعه او یاپخپله‌دخپلو کو رونو دړ نګو لو څخه‌لاس‌نه‌شی‌نیو لای؟ (داتاسوېږ چې دوستی و رسر ه کوی مګر دوی‌تاسو دو ستان نه‌ګڼي.) دآیت شر یف تر جمه .

بېښکه ددوی په‌چار و ښه پوه‌شوی‌ء او س‌تاسو ته ددوی په چار و کې کو م شک پاتی نه‌دې (که‌تاسو ته‌ګټه در و رسیږي،نو ر خه پړی‌و رځی‌او که بدد ر و او ري، پرې‌خو شحالیږی) دآیت‌شر یف‌تر جمه .

خپل وطنی،دینی‌او‌ملی‌ز امن‌تینګ‌وساتی‌او د هغوشیا نوڅخه یو څه‌و ر ته‌و ر کړی چې پر دیو ته‌يې و ر کوی‌ء.نو هر و سر و به‌په‌دې کار کې لو یه ګټه او ډېر ه‌سرسته مو نده کړی‌ء‌دخدای(ج) په‌هغو سنتو پسی لاړشی چه‌در ته يې‌لهام کړی‌وی او تاسو‌ته‌و ل يې‌په‌هغه فطر ت سر ه پیدا کړی‌يئ . په ا مر ا و نهی کې‌د خدای(ج)دبالغه‌حکمت مر اعات و کړی چې‌نه‌در ځنی لار و ر که‌شی ا و نه لانورپسی‌ټیټ‌اوښکته‌شی‌ءایاتاسونه‌و یني ؟ایانه پوهیږی؟ایاحس‌مو نه کړ ه؟ایاتجربه مو و نه کړ ه،تر کو مه‌پو رې ؟تر کو مه و خته‌پو رې ؟ ! ! مو ږ د خدای (ج) یو او یو ازې خدای(ج) لر ه و ر تلو نکی یو ! .

# د رښتينې ستاينې په خوښو لوکې

## د خدای (ج) څو مره حکمت دی

انسانی عالم د اعتبار کوو نکي له پاره يو کتاب دی او د يو خيرك شخص له پاره يو غټ دفتر دی. د انسانی عالم هره پېړی د دې کتاب يو مخ دی او د قومونو هر خيل يکې دېوې کرښې او يا يوې جملې مثال لری. په هر هغه څه کې زموږ له پاره عبرت دی چې الهی قلم پرې را ښکل شوی دی.

د تيو لو نه مخکې هغه څه چې موږ ته گټه رسوی دا دی چې موږ په بېلو بېلو دورو کې د خپلو نو د حالاتو څخه ځانو نه خبر کړو. قومو نو ته و کتل شی چې څنگه جگ شوی او پو رته شوی او لوړو ځايو نو ته ختلی دی. هغو مره چې ختلی او پو رته شوی دی چې نو رستر گی کار نه کوی. مگر بيا بېر ته دو مره ټيټ شوی، ضعيف شوی او دو دونه يې زاړه شوی دی چې اوس يې د روايا تو او حکاياتو نه پر ته نو ره هيڅ اغېزه پاتې نه ده.

ځینی قومونه دي چې په ننشت حساب وو ، بیاږي دشته والی ځانه په غاړه کی اچولی او په انسانی ټولنه کی یې داسی ځای و نیولکه چې په بدن کی سر ځای لري. بیا بیر ته راغونج شول او لویولو یو جګړ وورکې کړل. او ځینی ګورو چې ترنن ورځې پورې دعزت پر خوار وان دی او نژدې ده چې په ټول عالم باندې دلو یو قومونو له کبله خپل امر او نهی وچلوی .

ځینی کسان شته چې داډول شئونات او چارې دصورتونو او تمالونو غوندې ښکاري.

نو که خو ښ یې شي، طبیعت یې پرېښه کیږی او که خو ښ یې نه شی نو سخ ورځنی اړوی. لیکن دغه خلک ددې شیانو د ځر ګند بدلو د منشا او دانقلابونو له علتونو څخه بې خبره دی نو وایی: سبحان الله ! داسې وو اوداسی شول او دنړی پیښې په بخت او طالع پورې اړه لری او نیکمرغه خلک نیکمرغه کیږی او بدبختان پکې بدبخته کیږی. ځینی کسان شته چې نظر و نه یې حقیقت ته ورننوځی، نو په هغو شیانو خبر یږی چې د قومونو د پورته کېدلو او راتیتېدلو سبب کیږی، او په دې پو هیږی چې یو قوم ته یو ازې دهمدې قوم دخلکو په لاسونو خیر او ګټه رسېدلای شی. ځکه چې که چیری هڅه یې وکړه زیار یې وویست او خپل قیمتی شیان حتی خپل ځانو نه یې قربانی ته وړکړل ، نو بری یې ومونداو دخپل قوم او خپل له پاره یې لوړ تیاتر لاسه کړه. داهم ګورې چې دداسې خلکو یوه لوړه او ښه یادونه شته په زړونو کی دستاینې ځای لری او وروستنی او راتلو نکی خلک ورته په امتیاز او شرافت قایل دی. سره له دې چې دنورو خلکو ځنی په جسمونو او وینو کی بیل او مخالف نه وی، بلکه په نورو باندې په همتونو سره مخکی شوی وی . کله له دې کبله چې ددوی دښه نوم او تل ستاینې دسپوځنی نور کسان هم ، یوځه

راو شکوی، په دوی پسی اقتدا کوی، نو کله چې ددوی چاری تعقیب کړی او په دغه لار ځان سم کړی، نو په دغه وخت کی به ئې لا یو څو قدمونه ا خیستی نه وی او نه به لا دلارې سرته سم وررسېدلی وی چې ناڅاپه به ئې پښی و نښلی، په پرې شو وسرونو، غوڅو شویو لاسونو، بیلو شو یو بدنونو، خپر و وروویښتانو او تږو تږشو یو سینو کی به دغه لارو رته دغو شهیدانو په قبرونو سره کنداسه ښکاره شی چې حق یې غوښت او په سمه لار تلل.

ددې لارې دتګ نه خلاصون همنشته او نه بله لار شته، داسې ځنګلونه به ورته مخکی راشی چې دهیبتناکو زمرو یو غړمبها ربه ورته و اخیژ ی او مجبوربه وی چې دهمدې ځنګله دمنځ څخه ووځی. په همدې ډول دلو یو او سپیڅلو ارزوګانو خاوند هم ددغسی وحشتناکو او دهشتناکو پیښو سره مخامخ کیږی او دده په یوې ادنی مخاطرې باندې به یرغل او حمله وکړي.

په دې لارکی شرافتمندانه سرینه ځګه مرتبه ده. داسی هم پیښیږ ی چې کله عزم او همتسستشی او دخپلو پوند و په خوا بیرته شاپه شالا ړ شی او د ډېر بدحالت ته راوګرځی. دنو رو په شان په و رشو ګا نو کی خر ی چې ترڅو په پای کی دخوسا کېد لو ځای ته و رشی او دغه ځای د عدم او نشتو الې ځای د ی.

کله وی چې الهام و رته و رسیږی چې یو سړی یو ازې، قومونه د خپلو هیئتونو سره او انسانی نوع په خپلې ټولنی کی و رڅخه په ښه توګه لو یې چا رې غو اړی چې: په دغسی لاره کی دسرونو قربانی هم لالږه ده د اسی شیانو ته به یې را کاږی چې نه یې خو ښیږی، په مهلکاتو غلبه مو ندل و رڅخه غواړ ی او دهغو ټولو شیانو قربانی و رڅخه غواړی چې خدای (ج) په انسان کی امانت ایښی دی، لکه لوی قوتونه او لو ی خواص چې دانسان سره مرسته کوی، په

هغو سره ېي همت مدافعی ته راولاړ یږی او عزم یې وربا ندې پورته کیږ ی .

ښکه هغه څوک چې خدای(ج) په انسانی ژوند سره ژوندي کړی دی او هغه وخت چې کړاوونه او خواشینی وربا ندې فشار راولی، نو دهغو په زغملو کی یې لاحو صله زیاتیږی لکه یو متکبر چې په یوه خبره کلک ټینګ وی او ورسره په کلکېدلو کی دهغه لانجه او ټینګار لا زیاتیږی او غواړ ی چې هروسرو خپل مقابل قانع کړی .

داسې ډېر کسان شته چې دبل حیوان په څېر ژوند کوی او ډېری بدبختی او نا وړه حالت سره مخامخ وی او دټولو انسانی ښېګڼو او مز ا یا و څخه بې برخی وی .

ښکه چې عزت غو ښتونکی کسان ډېر کړاوونه او تکلیفونه وینی ، دلیوانو دماتو لو ځنی نه ویر یږی او کله چې دماتو لو څخه خلاص شی ، نو بیاد عزت په څوکه باندې هوساینه کوی او په داسی لوړځای با ندې منګولی او خپرې لګوی چې دلیوانو او ځیرو ونکو ځنا ورولاس نه ور رسیږی. هغه کسان چې ځانونه ټیټوالی ته راکاږ ی ، نو تل یې په ژوند کې وېره او ډار په برخه وی او هروخت له دې څخه ډار یږ ی چې کوم ښکاري به یې ښکار کړی او دسږ ینی په داړو او پنجو کی به ښکېل شی. دلو ړتیا په غوښتنه کی ډېر خلک مړه شول او دې مقام ته ونه رسېدل ، مګر ډېر غوښتو نکی او لیوالان یې دخپل امید پای ته ورسېدل ، لیکن هغه کسان چې دټیټ ژوندقصد یې کړی وی او په حیوانی ژوند باندې خوښ وی ، مو ږ یی ګورو چې څومره ډېر دبل دلاس څخه وژل شوی دی .

داخبری رښتیا او دسپیڅلی روح پوکل دی، هغه کسان په حرکت راولی

چې خدای(ج) يې ټينګ کړی او د عقل دنعمت خاوندوی. تل تر تله دخپل لوی مقصدله پاره دپخوانيوپه نښو او قدمونو پل پردی او روان به وی‌نو یا ورته ورسیږی او یا به دنیکمرغو او لویو کسانو په څپرسړه کيږی.

هيڅ يوه ټولنه کوم ښه او غوره صفت‌ته تر هغه وخته پورې‌په بنی بشر کی نه‌ده رسيدلی لکه: علوم‌او معارف، آداب او فضايل، قوانين او عادله نواميس، عسکری او دساتنی قوه شول ترڅو پورې‌چې وګړی او خلک يې دې حدته ونه رسيږی چې نور خلک ورڅخه ووريږی او وزړونه ورڅخه په هيبت کی‌شی. تر هغه وخته پورې‌چې‌په دغو سختو لارو روان نه شی‌چې‌په پای کی خپله ټولنه يو داسی مقام ته ورسوی چې‌ددوی دهمتونو وروستنی‌اولوړه پوړی وی‌او پخپله تګ لاره کې تل په الهی عنايت او مهربانی‌باندې اعتماد ولری.

دانسانی نوع او دټولو ملتونو خدمتګاران څه غواړی؟ هغه کسان‌چې خپل ژوند په هسی‌ګرانو چارو کی تیروی‌چې ګټه‌يې خپل ملت اوټولنې او یا هغو ټولوته ورسيږی‌چې‌په نوع کی ورسره ګډون لری. آیا خدای(ج) دهرڅه‌دپاره یوسبب‌نه‌دی‌پيدا کړی؟آیاداپخپلو بند ګانو دخدای (ج) سنت‌نه‌دی چې بشری اراده‌یو داسی‌حرکت ته اقدام نه کوی چې داراده کوونکی څخه پيدا شوی‌وی؟ اودیو مهم غرض تصور يې پکی‌نه وی کړی؟ اودیقین یاراجح ګومان‌نه وروسته دآثاربتیږی‌چې غایه وغرض دکار نه اخيستل کيږی؟ نو کله‌چې ژوند دروحی دردونو او کړاوونه په يرغلو نو کی تیریږی اوعمر دبدنی خوږ و او تکليفو نو په زغملو کی تیریږی، نوآیا دوی‌دخپلو چاروڅنې څه مقصد لری؟

که‌ددوی‌په نژادی‌یادینی ورونو کی‌داسی څوک وی‌چې دد نیایی پېښو

له امله‌دوی‌ته تکیف‌او کړ ا و پېښوی او دخپلو هغو مقصدو نو څخه‌یې منع کوی چې دمخالفینو په ضر رتماسیږی، یا و رته بدوایی ، ښکنځلی و رته کوي، پر ه‌ېری اچوی او لانجه و رسره کوی !!نو هغه څه‌شی دي‌چې دوی یی دخپل کوښښ وسختی گاللو څخه غواړی ؟!نه کوم خوند پکی شته چې یو و خت‌واخیستل شی او نه کوم‌داسی خوږ اودر دد ی چې ځا ن و رڅخه‌وساتلای‌شی!! نو داکو م‌غښتلی باعث‌دی‌چې د نفس په آرزو گا نو غالب شوی دی او د هر راز کړ او او تکلیف‌هڅه یې ضعیفو لای‌نه‌شی ؟!

هو ! خدای(ج)په انسان کی یو ه غښتلې آرزو پیدا کړې‌ده چې‌هغه دهر څه نه غښتلې ده‌او دانسان هغه ممتازه خاصه‌ده‌چې‌په هغی سره دنو روانوا عو څخه بیلیږی. (هغه درښتیانی ستاینې او دسمو لارو څخه د ښی یاد و نی مینه ده)زه و ایم‌دښی ستاینی سره هر راز مینه کول چې دهری لارې څخه وی ، یعنی‌په دروغ وی‌او که‌په رښتیا، ښه کارنه‌دی. ځکه چې‌په ناروا ، خیانت او ریاسره صفت غوښتل‌او دناوړو اعمالو په پټو لو سره دښو خلکو په صفت ځان ښودل او ښکاره کول ، ډیر بد صفت د ی. ا و د ا د فطر ت د نا روغی اودطبیعت د فسا د نه پید ا کیږی . ښه ستا ینه دروح غذا او دنفس مقو مه‌ده، خو هر څومره چې انسان لوړوانسانی کما لا تو ته‌نژ دې کمیږی، نو دخو ند اخیستلو دشیانو او دحسی او ماد ي خو ند و نو سره یې اړیکی کمیږی اودښو صفتو نو دپلټلو هڅه‌پکی ډ یر یږ ی خپل طاقت په د ې لار کی لگوی چې لو یی لو یې چارې سر ته و رسولا ی شی.

فکر و کړه! ښشکه چې‌په دې‌عالم کی‌پیاوړی اشخا ص دوه اجله لر ی : لنډ او نېته ایز اجل یې دزېږ بدو د و رځی نه د تا کل شو ی عمر تر پا یه

یو ړې وی. ددې بل اجل نښته ډېره اوږده او له هغه وخت څخه پیل کیږی چې د ښې چارې له پاره یې کومه داسې اغیزه او اثر وځلیږی چې ګټه یې خپلې ټولنې او یا ټولې انسانی نوع ته ورسیږی. ددې اجل او نښتې پای تر هغه پورې دی چې د هغې ښې چارې اغېزه یې د زړونو د تختو او د تاریخ د مخونو څخه ورکه شی.

یو پیاوړی روح دوه وجوده لری. یو وجود یې په یو خاص جسم کی دی او بل وجود یې په ټولو بدنونو کی دی. وروستنی یې هغه دی چې په حلول سره یې په هر روح کی دلوړوالی او لویوالی ځای ولری. شک نشته چې دا دوول اجل او داسې خپور او پراخ وجود، د هغه لنډ اجل او وچ ځانګړی وجود څخه بهتر دی. انسان ته پکار دی چې ادنی ژوند په ښه ژوند بدل او خرڅ کړي.

خبره رانه اوږده شوه، نو اوس یې لنډوم. ښه شکه هغه خدای (ج) چې هری نوع ته یې داسې یو څه ورکړي دی چې په هغه سره بشپړ کیږی. د بشر په خته کی دستاینی سره مینه اغږل شوې ده او دوی ته یې ښودلې ده چې خپل مستحق ته حق ورکړي. آیا تاسو د هرې ټولنې دژبو پر انیستلو ته نه ګوری چې د هغه چا ستاینه به کوی چې د هغې ټولنې دلویوالی او لویی سبب ګرځېدلی دی او یا یې لوېدلی ملت پورته کړی وی او په یوه خبره یې سره راټول کړی وی. یا یې پکی کوم نوی قوت پیدا کړی او د هغه قوم پیاوړتوب یې بشپړ کړی وی. یا یې په علم او صنعت کی مخکی بېولی وی. نو د خپلو زړونو په تختو او لوحو د دوی نوم لیکی او د تاریخونو په منځ کی دده صفت بیانوی. مجسمې یې جوړوی او د پلرونو نه زامنو ته نقل شوی یادونه یې ساتی. داجریان تر هغه پورې دوام لری چې ترڅو دغه ټولنه او عالم ورک او له منځه لاړ شی.

کله چې یوه تولنه دیو خدمتگار دحق نه منکره شي او دهغه دښو چارو
په ستا یلو کې نیمگړتیا وکړي ، نو همتونه ضعیفېږي او دعمومي ښېگڼو
هغه کمېږي . لاسونه يې د کارونو څخه پورته کېږي ، نود تولنې شتونات
او کارونه راښکته شي او په پای کې سره بېل شي او د سړينې خواته د روسې
بېشکه چې خدای (ج) هر نوي پیدا دیو سبب سره ښنلولي وي . نو کله چې
دیو ملت په نزد ښه او بد، سپېڅلي او ناولي ، غوره او ټيټ صفت او مصلح
او مفسد صفتونه برابر شول او تمیز پکې ورك شو او ښه ته يې ښه او
بدته يې بدونه ویل . نو چې خلکو کې يې لوړو کارونو او کمالاتو ته هغه له منځه ځي
په قوم کې دا ډول نیمگړتیا او عذاب د تیری کوونکو دتیري او
عذاب او دزورور دزورڅخه ډېر کلك او زیات دی . ځکه چې د ظالم او
تیري کوونکي ظلم او تیري تل تر تله نه وي او یوازې دزورورقوت تېنگوي
کله چې تول ملت دښېگڼې په مقابل کې اعتراف وکړي او دفضیلت ستاینه وکړي
نو هر وسر و به داسې کسان پکې پیداشي چې ددې مکافاتو په عوض کې به خپل
ملت د کړاوونو او ربړونو څخه خلاص کړي. کله چې په دوی کې د غه شریف
احساس ورك شي ، نو داملت هغه شخص ته ورته دی چې په داسې ناروغي
اخته وي چې بدن يې گلېږي او ويلي کېږي چې انجام يې مړينه او هلاك وي او بس.
په رښتیا سره به څنگه دانساني نفوسو له پاره نعمت نه وي چې په انسانانو کې
ورته جگ او لوړ خلك هغه وکړي ! بېښکه چې خدای (ج) د خپل پیغمبر سره په دې
آيت ښېگڼه کړې ده چې ورته وايي (سور ستاذکراو یادونه لوړ کړی دی .)

دآیت شریف ترجمه .

ستاینه به څنگه حقه نه شي چې طبیعت يې غواړي . څوك چې ددې نعمت مستحق

دی، هغه ته خدای(ج) دښوچارو د تازه کولواو نوی کولو لاره ښودلې ده. لکه چې خپل نبی(ص) ته يې فرمايلی دی: (په هغه څه چې د خدای(ج) نعمت دی، خلك پرې خبروه او ورته يې وايه) دآيت شريف ترجمه.

سترګې دې وغړوه! او دجګو او ټيټو سلتونو تاريخ ته پام وکړه. نو په دې برخه کې به هروسړو قاطع برهان وموسې: هغه ملت چې دجګو چارو قيمت پکې بې ارزښته او کوته شوی دی او دپياوړتيا شان پکې راښکته شوی دی، نو دسزبو تيا سببونه يې ورك شوی او ودانۍ يې نړېدلې ده او دغه ټولنه داسې تالې ده لکه چې پرونۍ ورځ تللې ده او دنعمتونو ورکاوی په کفران پورې کلك ارتباط لری.

زما سرمنبايې چې اوس، ددې سپيڅلې ډلې څخه دشکر او ستاينې په کلمه خپله خبره بشپړه کړم چې په دې سپېرو وختونو کې مخکې شوی دی، ځانونه يې دخطر سره مخامخ کړی او دمسلمانانو ديووالی هڅه يې په ځان فرض کړې ده. موږ په دې ډېر خوشحال يو چې شمېر يې هره ورځ ډېرېږی. دخدای(ج) نه ددوی په چارو کې ورته برې او دمقاصدو تينګوالی غواړو. بېشکه چې خدای(ج) زموږ ښه دوست او ښه مرستيال دی.

# شرف

دا یوه کلمه ده چې هر چا ورڅخه یو څه تعبیر کړی دی، مګر ډېر لږ یې د حقیقي معنی څخه بې خبر دي. یو ډله یې په لوړو ماڼیو، ښکلو کړکیو، ښایسته دېوالونو، ډېرو نوکرانو، داسونو په ساتلو او ګاډیو او بګیو په سپرلیو کې ګوري. بله ډله ګومان کوي چې د ښو کالیو په اغوستلو، رنګارنګ جامو، قیمتي ملغلرو او قیمتي ګاڼو لکه: الماس، یاقوت، زمرد او نورو باندې ځان ښایسته کول دي. د بلې ډلې په خیال کې داده چې شرف په القابو او خطابو لکه: بېګ، پاشا او لوړو نومونو کې دی لکه: د پلاني ډلې مشر او پلاني درجې دویم . . .

تر دې پورې چې یو سړی به د خپل ورور مال تښتوی، د خپلو خپلوانو او وطني ورونو شتمني به د دې له پاره لوټ کوي چې د شرف خاوند پرې ځان ته ماڼۍ جوړه کړي، ښه یې لوړه کړي، ښه یې ښایسته کړي او نوکران او خدمت گاران پرې ودروي. نو دلته دی گومان کوي چې ابدي لویوالی او دا یمي افتخار ته رسېدلی یم او زما سره جوړېږي چې اوس را ته خلك شریف و وایي. په همدې توگه به یو بل وي چې په ډېرو ناوړو کارونو به بوخت وي او یوازې په دې به خوښ وي چې ښایسته جامې وغوندي او ځان د خپلو سیالانو سره په ښو جامو اغوستلو کې سم کړي. او زړه ته به یې دا راځي چې اوس نو ما حقیقي شرف وگاټه.

یوه دریمگړې ډله پیدا کېږي چې ټوله ورځ او کړۍ شپه په دې کې چرتونه وهي چې زه به لقب او منصب څنگه مونده کړم او یا به یو نښان څنگه په سینه وټومبم که څه هم ښار و نه پرې ویجاړ، ټول نه پرې ذلیله او ملت پرې ټوټې ټوټې هم شي، نو کله چې خپلې هیلې ته ورسېږي نو وایي به چې زه د شرف د لوړتیا پې تد رسېدلی یم.

سوړ وینو چې دې ډول وهمونو د خلکو په زړونو کې د شرف د حقیقي معنی ځای نیولی دی او د دغو خلکو د حق پېژندنې سترگې تر دې اندازې پورې ړندې شوې دي چې دوی د خپلې خطا ادراك نشي کولای او څه چې د دوی په وهم کې حق گڼل شوې دي، د هغو څخه به وانه وړي.

ایا دا خلك په خپلو ځانونو کې څه گوري؟! په خپلو ماڼیو او نوکرانو باندې ویاړي؟ ایا دا خلك دومره پوهېدلای نه شي چې که څه هم یوې داسې ظاهري مرتبې ته ورسېږي چې عقل یې تصور نه شي کولای، مگر بیا هم د ده هغه ځان چې د هرڅه نه ورته خوږ او گران دی، په حقیقت کې یې هیڅ کمال گڼلی نه دی

او دغه‌ظاهری سر تبه‌یې چې گټلې‌ده، هغه‌په‌حقیقت کې پر دی ده.ددې‌داسې مثال دی‌لکه‌چې‌یو سړی‌دیو شي دلاس‌ته‌راو ستلو قصدو کړی ، لیکن‌گو تو ته لا نه‌وی و رغلی. ایا داسړی دې‌ته هم‌نه‌گوري چې‌داسې ډېر کسان‌دده اندازې ته‌رسیدلی او یاتر ده‌هم پو رته‌شوی دی ا و دزماني ا نقلا بو نو هغه‌شی‌چې‌و ربانديې خوشحاله‌ؤ ، و رځنې‌اخیستی دی‌او دی بیر ته پخپل پخوانی حال پاتی‌شوی د ی .

نو که ددغه‌سړي کو مه خوا انسانې کمال‌ته‌و رته‌نه‌وی، نو دی په‌نیتمو و گړو کی پاتی‌شی‌چې‌نه‌په‌زړ و نو کی ځای لری‌او نه‌به په مجلسو نو کې کوم نوم .

دی‌به‌په‌څه‌و پو هیږی ! ؟ که‌چیری‌ښکلی‌جامې و گانې ورځخه‌لیری کړی شی او دی‌یو ازې‌دځان سره کینی او د فضیلت گانه‌او دکمال ښکلاو نه‌لر ی ،نو ایادی‌او لو ځ لېړ فقیر انسر ه‌بر ابر نه‌دې؟ایاده‌ته‌،ه‌ځان په‌پټه کې د سندر غاړ و ښځو او ډمو په‌شان‌نه‌ښکار ی ؟ .

دډېرې‌جگې‌ر تبې‌خاو ند او په‌نښانو نو افتخار کو و نکی څه‌تصو ر کوی ؟ که‌چېرې در تبې او نښان‌داخیستلو نه پخو ادیو ځلاندحالت او یو لو ی کمال څښتن نه‌وی،نو که‌دده‌ځنی‌در تبې‌لباس او نښان‌واخیستل‌شی،نودی به هرومرو بیرته په هغې‌پخوانی خواری کې پاتې کیږی.دځینو ساده‌گانو په‌عقیده دغه رتبی او نښانو نه عینألوی و الی او شر ف‌دی.حال‌دادی‌چې‌لقب په‌ده‌باندې را زو رند دی‌او خلك ملقب(سړی)ته‌تعظیم نه کوی بلکه دلقب در ناوی کوی. ایادا لو یو الی داسې‌شی‌نه‌دی‌چې‌دده‌څخه په‌سلنه‌جلا کیږی؟ هو ! بلکه یو ظاهر ی شکل د ی .

که‌چېری یو څو ك دخلکو په‌زړ و نو کې دننه‌ځای‌و لري ، نو داشر یف

القاب یو لوی‌شان‌لرې‌او واقعاً ستر ګې‌پرې‌جګیږی.خو هغه وخت چې‌دعالم وګړي‌دده‌د کار له کبله دده‌په‌شرف قایل‌وی. ګو یادغه لقب‌دده‌په کار دلیل او یادده کار ته اشارت‌دی.لکه څنګه‌چې‌دالقابو حقیقی حیثیت هلته‌له‌منځه ځی‌چې‌دیو داسې کار له کبله یې‌نښان او لقب‌اخیستی‌وی چې‌د بشر پو هانو هغه کار غټ‌ګڼلی وی .

او س‌نو و ګو ره! فکر کوه چې‌خطانه‌شې او دحقی لارې‌نه‌لیرې‌لاړ نه‌شی. عثمان غازی‌چې‌دده غلیمانو و رته دزمری‌لقب‌و ر کړی ؤ ،ر تبه‌یې‌و مو نده او لقب یې و ګاټه.دده دو لت دغټانو د لو یې طبقی‌نه لو یې ر تبی ته‌و ر سېد، مګر دا کله؟ داهغه‌و خت چې‌دملی مدافعی له کبله‌یې‌په‌خپل روح سر ه‌مدافعه و کړه‌او دخپل‌دین او کلمی‌له‌پاره یې جهادو کړ او دده‌دښمنان‌او دو ستان ټو ل‌په‌دې شاهدان د ی .

په‌اسلامی ملکو نو کې‌ځینی امیر ان شته‌چې‌دیو بل دو لت‌لکه ( انګلیس) له‌خوا او ر ته همداسې شر یف القاب‌و ر کړ شوی‌دی، مګر دد'سې یو خد مت په‌مقابل کې‌چې‌دهغو عسکر یې خپل‌مملکت‌ته‌ر انو یستلی‌او ځان یې په‌دې ذر یعه انګلیسانو ته و ر نژ دی کړی‌دی چې‌او س‌ټو ل مسلمانان کو ښښ کو ی چې‌بیر ته یې‌و باسي، مګر و یستلی‌یې‌نه‌شی.او س نو تا سو د غاز ی عثما ن 'و ددغسی کسانو دنښانو نو فر ق‌و کړیء . ! !

ز ه‌ګو مان کو م که چېری دغو دو ړ و نښانو نو ته‌ځیر شې، نو پو ه‌به‌شې چې دنښان‌شر ف په‌عمل سر ه‌دی. که‌عمل شر یف‌ؤ نښان‌هم‌و ر سره ښا یې و شر یف‌دی او که‌نه! نو ز ه‌نه‌پو هېږ م چې‌دغسی کسان‌په‌څه‌شی غو لېدلی دی او دسمی‌لارې څخه‌یې اړ و لی‌دی؟دامنلې‌خبر ه‌ده‌چې دسر و و ینو په‌رنګ‌ر نګ

شوی‌جامی داسې‌شی‌دی چې‌ددې جامو داغوستونکو ښه‌نوم تل ترتله ښه ساتی او داسې‌ښه‌اثر ګټی چې‌ترابده نه‌ورکیږی.

په‌رښتیا سره‌هغو کسانو چې‌دخپلو ملتونو دلوی والی‌له‌پاره یې‌وینې تویې کړی‌دی، ددوی‌دنوم اخیستلو ته‌سرونه ټیټیږی. ایادوی نه‌پوهیږی هغه کسان چې‌خپل خوږ عمریې دیولوټ‌شوی‌حق او یادموجوده‌لو یوالی دساتلو له‌پاره په‌تورو کوتهواود محبس په‌تورو تیارو کې تېر کړی‌وی نوم‌یې‌دشرف دغره‌لوړې‌څوکې‌ته‌رسېدلی دی‌او نومو نه‌یې د ټولو نومو نو څخه لوړ دی‌او لوړ به‌وي.

زه‌ګومان کوم هغه کسان‌چې‌په‌دنګو ماڼیو کې‌ناست او دخپلو باغونو په‌ننداره بوخت‌دی او خپل‌شرف دخپلو ماڼیو په‌شرف کې‌ګڼی او خپل ژوندیې‌ددغو شیانو په‌ګڼه‌اخیستلو پوری محصور ګڼلی‌وی! نو ددوی له‌پاره پر ته‌له‌دې چې‌دخپلو کورونو په خلورو دېوالونو کې‌د ننه‌دغه‌نوم‌لری، په‌نړۍ کې‌هیڅ شان‌او حیثیت نه‌لری او بس.

دغسی‌دهغو کسانو حال‌هم دی‌چې‌خپل ژوند په‌عیش او هوساینه کې‌تېر وی‌او دوریښمو پاسته کالی اغوندي. دوی‌هم‌لاړل او څه‌چې‌ورسره وو هغه‌هم ورسره هلته‌لاړل چې‌دکوم ځای‌نه‌راغلی‌وو. اوس‌یې‌هیڅ پته نشته چې‌کله‌دنیاته راغلی‌وو، او کله‌ورځنی لاړل.

ایاسوږ اوتاسې‌چېرې اوریدلی‌دی چې‌کوم‌سړی‌چېری له‌دې کبله یادشوی‌دی چې‌پلانی نښان‌یې اخیستی‌ؤ یاپلانی‌رتبې‌ته‌رسېدلی‌و؟ هو کې! داوایی: دغه زده‌کړه یې‌وکړه او دغه کاریې وکړ ورکړه‌یې درلوده، جهادیې وکړ، جګړه‌یې وکړه، په‌کاریې پیل‌وکړ اوسرته‌یې ورساوه. یایې نورداسې کارونه وکړل چې‌ثابت او ښکاره‌اثریې پاتی‌شو.

کله‌چې په‌نړۍ کې لوی سکندر پادشی، ایاچېرې دچاپه‌زړه کی‌داهم تیر ېږی چې‌ښانې‌یې درلوده؟ په‌همدې ډول، کوم ناپوه او بوله‌به‌وی‌چې یو ښتنه و کړي،ناپلیون په‌څنګه ښانې کې‌اوسېده؟ یایې‌نوې جاسی‌او یا سو ښلی اغو ښتلی ؟ایادعالم ستر کسان دمانیو جوړولو او دهوساز و ندنه‌وروسته دشرف مقام‌ته‌رسېدلی‌دی؟ او که‌له‌دې‌نه‌وروسته‌دې‌مقام‌ته‌ورسېدل چې ښار و نه‌یې فتح کړل‌او غالب‌شول .؟

ډېر خلك‌غو لېدلی‌او و همو نو تېر ایستلی‌دی، دخپلو و طنو نو شان او لو یو الی یې‌په‌داسې‌نو مو نو خرڅ کړی‌دی‌چې‌نن مسمی‌نه‌لری او دوی‌گو مان کوی‌مو ږ شرف ته‌رسېدلی‌یو .نو ر خلك‌هم‌لاتر اوسه پو مشوی‌نه‌دی‌چې‌ر تبو او نښانو نو دخپل حدڅخه تجاوز کړی‌دی‌او غیر اهل‌ته و ر کړ شوی‌دی . نو که چېری‌دوی‌حقیقت ته‌غاړه کیږ دی اوستر گی و غړ و ی چې‌څه شي دوی‌احاطه کړی‌دی‌دوی‌به‌پوه شی‌چې‌په‌ډېر و تېښو اودسې یتوب نه لیر ی ځایو نو کی ددغو ر تبو خاو ندان‌دی.دوی به‌په‌دې پو مشی‌چې‌دشرف په معنا پو مشوی نه‌دی‌او و به‌وایی چې‌ښشکه مو ږ غو لېدلی‌و و .

که‌دوی‌و گو ري‌چې‌ددوی په‌وطن څه‌حال دی او څو مره خوارد ی او دوی او ددوی‌او لادو نو ته شر سندگی متوجه ده،نو یو دم‌او سمدستی به خپل نښانو نه‌و غو رځوی او دپښانو جاسی‌به و اغو ندي او د حقیقی شرف په پلټنه پسی به‌سنډی و و هی .

شر ف‌یو حقیقت دی‌چې شر یعتو نو تعر یف کړی او عقلو نو بیان کړی دی، څو ك‌چې‌دسړی په‌بنه‌وی هغه‌ددې‌حقیقت په‌پو هېدلو کې کو م‌شك نه کوی . مگر هغه څو ك چې‌په‌زړه یې‌پاك‌خدای(ج)سهر لگو لی‌وی‌او په ستر گو یې

پر دي راوښتي وي، شرف دشخص له پاره هغه قیمت دی چې ستر ګي و رته او ړ ی او زړ و نه و ر ته متوجه کیږی. شرف داسې ښایست دی چې دستر ګو د کسو او دفکر در ناخخه نه راو ځی بلکه ددې قیمتی خصلت اثر په کار سره علو میږی اثر يې هر و سر و په خپله ټولنه و یادنوع په همنوع کې سو جو دیږی. لکه دیوې تهلکی و خطر نه خلاصول ، دوطن نه ناپو هی و بدبختی لیرې کول ، دیو تللی حق دغو ښتلو له پاره خلك پو هول ، دوطن او ټولنی تېر لو ړ نوم خلکو ته یادول ، کار و زیار ته خلك متوجه کول ، دخلکو ویښول، عمو می ښېګنې ته لار ښوونه ، دعمو می غمنا کې شر خخه خلك خبر ول، داخلاقو ښایسته کول ، دعقلو نو پخول، خلك په یوه خبر سره راغونډول ، دځینو نو یو شرایطو پیدا کول زورقوت بیرته لاس ته راوستل له ضعف نه ځان خلاصول دسیرانی داور بلو ل په خلکو کې غیرت اچول او داسی نور .

نو هر څوك چې ددغه یو صفت خاوند شی، نو هغه سړی شریف دی. که څه هم دی په جونګړ و او کوډلو کی او سیږی او زاړه او ریتاړې کالی اغوندی دنیاتاتو په پاڼو شپې تېری کړی دوقر په خاو رو کی څملی ، دسر بالښت يې زیږه ډبره وی او یوه شپه هم و ربانديې هوسا تېره نه شی .

دایو داسې صفت دی، چې دده عمل ګانه، دده دفضل ښایست ، دده د کمال قیمت او دده د کو ښښ رڼاده. چاچې دالار و ر که کړې وی ، په دغه رڼالار مو ندلای شی ، ژ و بل زړ و نه پرې ر غیږی او و رڅخه نه بیلیږی. دی د خپلو روحی خصلتو نو لو ړه مانۍ ، ښایسته کړ کی او لوی ښایست او لو یه رڼالری. د اښا یست قطعاً پټېدلای نشی او حتماً ښکاره کیږی . داښکلانه پټیږی او لیدله کیږی . دنړی ښې خبری ده ته راجع کیږی او دې اند ازې ته يې رسوی چې دده ژ و ند او هلی ځلی دزمانې په تندي یو سپینه پلو شه وی .

هو کې ! دفاسد وطبعو خاوندان داسې انسانان پره بولی ، بدې خبرې ور ته کوی، دملامتی په غشی یې په سینه ولی. ددوی په نظر د داسې کسانو داعمالو رڼا نه سعلومیږی دهغوی دچارو دباغچو او گلونو عطر ددوی په سپږمو کې نه ننوځی. ځکه چې دغه خبرې ددوی دادراك نه ډېرې لیرې دی او ددوی حواس هم دهغوی اعمالو ته نه شی رسېدلای. ځکه دوی د اسې تېته روزنه اخیستی وی چې ناوړ ه شیان ورته شرف بریښی او هغه لوی گڼی.

دشرف دغه معنی چې شریعتونو بیان کړی او پوهانو ښود لې ده ، سوږ هماغسی بیان کړه. لیکن هغه کسان چې د شرف په دغه معنی نه پوهیږی ، هغوی چو اړ یانو ته ور ته دی چې دگل دبوی څخه تښتی او ناولتو بونو سره یې الفت اخیستی وی. کېدای شی چې په داسې عامل او فاضل پورې هغه ناپوهان چې داخلاقو کومه برخه نلری ملنډی و وهی او ده ته دضرر رسولو قصد و کړ ی لیکن په حقیقت کې دوی په خپل ځان پورې خاندی او دخپلو مصالحو او ښېگڼو په تاوان کې به وی چې په دوی باندې لاډېر وخت تېر نه وی چې دهغوی د زیار سیوه به پخه او ښکاره شی.

همدغه کسان به وی چې د همدې سیوو د خوړ لواو را شکولو قصد به یې کړی و ی بیابه نود لته دهغه چا په ستاینه بوخت وې چې دغه ونه یې ا یښې وي او میوه یې ورته ساتلی وی. دلته به پخپلو تېر وتنو پښیمانه وی او پخپلو بدو به افسوس ښکاره کوی او په زړونو کې به یې دانوغی وی چې ایاسوږ ولی و رسره دغسی کارونه وکړل دخپل وجدان په نقص او نیمگړ تیابه پوه شی .

دغه الهی عنایت او دغه کرامت خدای (ج) دیو شریف عمل خاوندته چې ترڅو پورې ژوندی وی او رپه برخه کړی دی او کله چې دده دژوندانه لمر پریوځی، هغه وخت هم دده دشرافت پلوشی نه پټیږی او دغه رڼا به د ده دهدایت په نوروستوروا و سپوږمۍ کې هم ترابده لګیږی.

هو کی! دی به مړ شی او دده جسم به دعدم په حجاب کې ننوځی، لیکن په روغوزړونو کی به دده ځای وی، دژ بو په خوکو به دده نوم وی. دخدای (ج) د رزق نه به متمتع وی. دده ژوند خو مره بهتر دی. (څوک چې غواړي بې چاری و کړی نو همدغسی دې کوی.) دآیت شریف ترجمه.

# تولنه او د مستبد حاکم
# واک

(او خدای(ج) په دوی باندې تېری او زیاتی نه دی کړی، لیکن دوی پخپله په خپلو ځانو نو باندې تېری کوی.) دآیت شریف ترجمه.

داسې یو ملت چې دخپلو چار و داجر اکو لو له پاره یې دخبر و غوته کو لو او مصلحت کو مه غو نډه (ملی شو ری) نه وی او دښېګڼو له پاره یې کو م مصلحت نه کیږی ، په عمو مې ګټو کې یې دملت دارادې کومه اغېزه نه وی او یو داسې حاکم ته یې غاړه ایښې وی چې دده اراده قانون او خپله خوښه یې نظام وی. څنګه یې چې خوښه شی، هماغسی یې چلوی او څنګه یې چې زړه وغواړی ، هماغسی، کوی .نو داسې تولنه په یو حال پاتې کېدای شی او نه یې تګ د ظبط لاندې راځی. نو هر و مر و پری کله دښکمرغی او کله دبدبختی، کله پرې دعزت او کله پرې دذلت و ار راځي.

لنهٔيې داچې هر څهدې‌تولنې ته‌رسېږی ،گټه‌وی‌او که‌تاوان،هغه تول دحاکم دحال تابع دی.نو که حاکم بې‌پوه‌وی ،فکر یې پوخ،همت یې‌لوړ مقصد یې سپېڅلی او طبیعت‌یې‌جگ وی‌نو تولنه هر وسر و دعدل په‌سیاست سره‌سمکی بیایې او دپو هنی‌ځلی پکی‌دروی،دمرښت او ښهایې‌تو بلارې‌ورته جوړوی ، دراز رازصنایعو دروازې ور ته‌پرانیزي، دژو ندانه په تولو لوازمو کې یې‌سپړنی کوی، په‌محکومینو وگړو کې یې‌دلویې اوشرف‌روح ننباسی او هغه کوی چې په‌ښوخو یونو لکه ،زړور تیا ،عزت،سپړانه،دبل دتیری ، زیاتی‌او تیتوالی نه کر که کولوسره‌یې ښایسته کړی،دعزت لوی مقام ته‌یې خېژوی .دهوساینی او اسانتیا لارې‌ورته‌پلټی‌او هر رازخیر او گټه‌ور ته‌راوړي .

که حاکم یې‌ناپوه،بدطبیعتی،تیټ‌همتی،و یر ندو کی،دضعیف‌فکر خاوند، احمق، خسیس النفس او کوږفکری وی،نو څپله تولنه‌په‌څپل تصرف سره دزیان او تاوان کندو ته‌و رگو زار وی‌او په‌ستر گو یې‌دناپو هی پر دې‌راخر وی، دلوږې او ښو زلی‌څپړې‌پرې‌راکاږی، پڅپلو اجرا'تو کې دعدل دلارې څخه وځی اود زیاتی کولوورونه‌ورته راپرانیزی. نو په‌همدغه وخت کې غښتلی دښو زلی په‌حقوقو باندې تیری کوی .نظام‌ویجاړیږی،اخلاق‌وارانیږی، ښه‌نوملەمنځه‌ځی‌او نااميدی غالبه کیږی .نو طمع کوونکی و رته‌ستر گی نیسی چې په پای کی یې غښتلی دولتو نه په څپلوښنگو لو کولمې‌څیری کړي.

په دغه وخت کې کەچېرې‌په‌تولنه کې‌ابرغو ندې دژو ندانه ساه‌پاتی وی او خدای(ج)غو ښتلی‌وی‌چې دی‌تولنی‌ته‌کوم خیر او گټه‌ورسیږی ، نو په خلکو کی دفکر خاو ندان او دهمت ښتنا ن راغو ندشی‌او یو دبل سره‌به سر سته‌و کړی‌چې‌دغه‌ذاولی و نه‌سمکی‌له‌دې چې‌بادو نه‌یې ، و ژو نکی او زهر

لر و نکی تخمو نه او پانی په تو لنه کې خپرې کړی او مخکې له دې چې تو لنه یې لامړه کړې نه وی او دعلاج امیدیې قطع شوی نه وی له بیخه و باسی. بیرته و کړی چې دې اوی ر نځ (خوړ و نکی) و هلی غړی مخکې له دې پرې کړی چې تو ل بدن ته یې لافسادنه وی رسېدلی او ژ و بل کړی یې نه وی .

ددې ناو لې و نې پر ځای یو ه داسې سپېځلی و نه کېنوی چې سته یې دلته وی او څانګې یې په اسمان لګېږی. او دافتو نو نه یو ر و غ پاتی داسې نیالګی و کر ی چې حقیقتاً (ناو لې یې په سپېځلی سره بدله کړی وی) دآیت شر یف تر جمه .

که دتو لنې شان ددې در جې نه ر اښکته شوی وی او خپلې چار ې یې یو ډېر ناپوه او کلك ظالم ته سپار لی وی څنګه چې دحا کم خو شبه شی هما غسې یې اړ وی او ر ااړ وی، نو خپله تو نه یې دسر یې تو ب په درد، دتیتو الی په کړ او او دشر م په بې پر دګی سر ه دنو ر وملتو نو په منځ کی و ډ ار و له .

داددې تو لنې پخپلو چا ر و کې د نیمګړ تیاجز اشو ه( او ستاپالو نکی او ر و زونکی پخپلو بندګانو هیڅ ر اڼ تېری کو و نکی نه دی.)دآیت شر یف ترجمه .



# له پښتنو سره یووالي ته د فارسیانو رابلنه

(کله چې خدای (ج) وغواړي یو قوم ته ګټه ورسوي، نو سره متحد یې کړي).

مونږ د فارسي جریدو ځنې خوشحاله یو چې په رښتیا سره خپل هیواد ته خدمت کوي او د خپلو مشرانو سره سم تګ کوي. زمونږ زیاته خوشحالي په دې ده چې زمونږ د جریدې ځینې هغه مهمې مقالې یې په خوږه فارسي ژبه ترجمه کړې او رانقل کړې دي چې د هغو نه دا هیله کېدای شو چې: د مسلمانانو فکرونه به وخوځوي عقلونه به یې هغې خواته واړوي چې د دوی ګټه پکې وي نو مونږ او د ملت په مینه کې هر یو مخلص وځنې ډېر تشکر کوو. په تېره بیا د اطلاع د جریدې څخه چې په تهران کې چاپېږي. دا یو داسې سمه لار ده چې ټولو اسلامي هیوادو ته یې ګټه رسېږي.

دوی ته لازمه ده چې زمونږ د هغه ډول فکرونو قدر وکړي چې د دوی

روغی قریحی او صفا ذهنونه ورڅخه مطالب را اخیستلای شی او لوړ عقلونه یې ورته لاربښي. په تېره بیا په هغو مقالو کې چې خلک اسلامي یووالي ته رابولي او د مسلمانانو ترمنځ دیني اړیکي ټینګوي. خصوصاً هغه خبرې چې د ایرانیانو او افغانانو ترمنځ اتفاق او یووالي راولي. دا دواړه ډلې دیوې ونې داسې څانګې او ښاخونه دي چې دیوې ستې نه رابیل شوي دي. چې دغه سته لرغونې اریایي سته ده.

دغه اړیکې د اسلامي حق دین په راغونډولو کې لا پسې ټینګیږي. د دوی ترمنځ دیوجز یې اختلاف نه پرته نور څه نه مو ندل کیږي او داسې څه نشته چې د دوی یووالي پرې وشلیږي او نژدې یووالي لیرې شي. روغ عقلونه روانه ګڼي چې دغه راز سپک نغایر دیوکلک تخالف سبب شي.

د ایرنیانو دهمتونو او لویو فکرونو څخه دا لیرې نه ده چې د اسلامي یووالي په نوي کولو کې د هر چا څخه مخکې ودریږي او دیني اړیکې وساتي لکه څنګه چې د اسلام په لومړیو وختونو کې د علومو په خپرولو، د احکامو په ساتلو او د اسرارو په کشفولو پسې پاڅېدلي وو او د شرع شریف په خدمت کې یې په هرې وسیلې سره نیمګړ تیا نه وه کړې.

نو ای فارسیانو! په پوهنه کې خپل نعمتونه یاد کړئ او په اسلام کې خپل اثار و ګورئ، لکه چې په لومړیو وختونو کې د سلام ساتندوی وی او س هم د دیني یووالي ستنې شئ. ستاسو سره دا مینه جوړ بیږي چې د اسلام د نیمګړ تیاو په بشپړولو کې د نورو خلکو څخه زیاته هڅه وکړئ. چې د اسلام د یووالي بنسټ ښه ټینګ کیږي دی. ځکه چې تاسي پخوا هم د نورو نه مخکې وی، تاسو د ټولو مسلمانانو څخه لایق یاستئ. د انظر ستاسو د سپېڅلو عناصرو او ستاسو دغزمونو د قوت ځني څه لیرې خبره نه ده.

زه‌گومان کوم‌تاسو نه به‌پته نه‌وی چې اوس ستاسی د غږ پوړ ته کولو
له‌پاره ډېر ښه‌وخت‌دی چې‌له‌افغانانوسره‌متحدشئ‌اوقسم وړسره وکړئ چې
دغلیمانو په‌مقابل کې‌وړسره په‌یووالی یوه کلکه مېنه‌او یوټینګ شپول شئ
چې‌دطمع کوونکو پښې‌وړخخه دې‌خوارا‌تېرې‌نه‌شی.

زه‌گومان کوم‌چې‌تاسوبه‌په هندی‌هېوادونوباندې د انګریزانو منګولی
ښخول هېر کړی‌نه‌وی .ایاداخبره تاسو نه‌پته ده چې په هند کی هرمسلمان
دپنجاب‌خواته‌سترګی نیولی‌دی‌او ستاسی دراتلو په‌انتظاردی ،خوپه‌دې شرط
چې‌له افغانانوسره‌یوشی.تاسو ډېرې تجربې کړی‌دی او نوې تازې پېښې مو
ولیدلی‌چې‌دهرې‌یوې‌نه‌عبرت‌اخیستل کیږی‌نوایاسمه ده‌چې‌اوس هم یوتربله
سره لیرې شئ؟!سره‌له‌دې چې‌پوهېږئ چې‌یووالی دبرم او شوکت
ستې‌ده. دادیووالی او توافق ساعت‌او نیټه ده. داستاسو دپاره په خپلو منځو
کی دقسم خوړلو او ټینګو معاهدو وخت دی.ستاسو غلیمان شرقاً او غرباً
ستاسی دښارونو څنی‌چاپېره شوی‌دی‌او هریو خپله توره تېره کوی او خپل غښی
جوړوی چې فرصت مونده کړی‌او ستاسو په‌ښارونو یرغل‌وکړي.

نو که په دې‌وخت کې‌موفرصت له‌لاسه ووت،په‌بل وخت کې به‌بې
ونه‌مومئ .انګلیس دمصر دمسئلی له کبله کلک‌په‌سو داکې دی،سره‌له‌دې‌چې
دعسکری قوت‌له‌مخې بېوزله‌دی‌او له‌دی اسله په‌فکر کې‌دوب پاتې دی‌چې نور
دولتونه وړسره وران‌شوی‌دی او ددوی دمقصدونو په‌خلاف روان دی.

د افغانستان پاچاامیرعبدالرحمن موږ پېژنو‌چې دزلمیتوب‌،دلوړی
وړځی‌نه‌دانګریزانوسره کله دښمنی لری‌او یوتربله یې داسې کینی‌او کرې
خبری شته‌چې‌نه‌وړ کیږی .بلکه وایو چې‌دانګلیس سره‌غلیمی دټولو افغانانو په
رګونو کې غوړځنګونه وهی او دو ینوسره یې‌ګډه‌شوې‌ده.نو که‌اوس دایران

او افغان‌حکومت اتفاق‌راشی، په‌ختیځ کی‌به‌دنو رو اسلامی خپلو نو په منځ کې یو نوی‌اسلامی قوت‌پیداشی‌او په‌دې سره به‌دمسلمانانو ارو اګا نې‌ژو ندی شی.

دایو وخت دی‌چې‌دپښتنو فکر و نه یې‌دمصر په‌مسئله کې دګاو نډیانو چار و ته راو یښ کړی‌دی‌او په ځای‌ناست کسان‌یې په‌حرکت راوستی دی.اوس دفارس دخلکو له‌پاره پو ره‌فرصت په‌لاس‌و رغلی دی‌چې‌په‌دې را بلنه کی افغانانو سره متحدشی.دا کار ډیر لوی‌دی‌او ډیره ګټه لری.یو لوی کار داد ی چې‌دایران پیاو ړی کسان دمقالو لیکلو او رسالو خپر و لو له‌پاره ملاو تړی‌او ددو اړو سلتو نو داتفاق ګټې خلکو ته ښرګندې کړی.ښښکه چې‌دا کار به‌په زړو نو لو یه‌اغېزه و کړی، په‌تېره بیا که‌دلو یو پو هانو اولو یو مجتهد ینو قلمی تو جه دې‌خو اته راواوړی.

انسانې‌نړی دفکر او خبر و نړی‌ده،نو په کتابو نو، رسالو او جر یدو کې دښه‌فکر دحکمو نو خپر ول‌دخلکو په‌تهذیب او دعقلو نو په رڼولو کې ډېره ښه‌اغېزه کوی‌او دخلکو تر منځ هغه کینی له‌منځه‌وړی‌چې‌ژو نداو اخر ت‌یې دو اړه‌و یجاړ وی.نو کله‌چې پو هان او فاضلان پاخیږی ،خطبې‌و وایی، و عظو نه، لیکنی‌او خپر و نې‌و کړی‌او په‌دینی حدو دو یې خبر کړی،نو دخدای(ج) فضل به ددوی دېری‌مو ندلو ضامن شی.

دافغانانو اوددوی دایرانی و رونو تر منځ څه بېلتون دی؟! هر یو په خدای(ج)اوبه هغه‌څه‌ایمان‌راو ړی‌دی‌چې‌محمد صلی‌الله‌علیه‌و سلم و رته‌راو ړی‌دی امیر عبدالر حمن دهغو تجر بو له‌مخی چې‌ددہ لاس‌ته‌و رغلی‌دی،لو مړ نی سړ ی دی‌چې دی‌اتفاق ته‌و ړاندې کیږی او مخکی کیږی . مو ږ شک نه‌لرو که‌چېری په‌دی‌راز پښتو باندې دایران پاچا په‌خپلو سیاحتو نو کې خبر شو او په‌خپلو

سفرو نو کې یې و لېدل، نو دی به هم په دې لار کې په و راندې کېدوا و هغه کولو کې نیمگړ تیاو نه کړي. شک نشته چې په لوی مقصد کې لو سړ ی اقدام کو و نکی په ټو ل عالم په تېر ه بیا د مسلمانانو په منځ کې دلو یې پیاو ړ تیا خاونددی او په دې نژ دې و خت کې به د دې سپو ه و څکی.

په همدې تو گه، لکه څنگه چې افغانان دایرانیانو سره داسلامی دیانت د مذهبو نو له مخې یو څه اختلاف لری، جر منیانو هم په عیسوی دین کی له نورو سره مخالفت درلو د. څرنگه چې دا فرعی او جز یې اختلاف په سیاسی یو والی اغېز ه لری، له همدې کبله په جرمنی سلت کی ضعف څرگند شو، سره له دې چې دارو پا په سیاست کې یې دگاو نډیانو سره کوم خبره نه درلوده، دگاو نډیانو دښمنی و رسره ډېری شوی. نو کله چې یې خانو نو ته پام شو او اساسی قوا نین یې و نیو ل او په عمومی ښېگڼو کې یې دوطنی یو و الی سر اعات و کړ ، نو خدای (ج) ورته بېر ته هغه پخوا نی قوت او شو کت راو ست او په هغه باندې دارو پا حاکمان شو ل او دارو پا دسیاست تله یې لاس ته و رغله .

سو ړ دښاغلو پو ها نو لکه داصفهانی جر یدې (فر هنگ) او د تهر انی جر یدې (اطلاع) دخاو نداو همدار نگه دنو رو جر یدو دخاو ندانو څخه هیله کو و چې دخپلو فکر و نو مخه، دې جگ مطلب ته راو اړ وی او په خپلو جر یدو کې د دې سو ضو ع له پار ه ارت ډگر و ټاکي او دایر ان او افغانستان په ښارو نو کې یې خپر ې کړی. د دې کار له پار ه همداو ړ ځې دی چې په پای کې دبری سو ند لو ښیانی و گو رو، که د خدای (ج) خو ښه وی چې د هر ډو ل عالم پا لو نکی د ی .

# په مومنانو باندی د خدای «ج» ازمېښت

( ایاداخلك گومان کوی‌چې گوندې په همدو مره خبره‌به پرېښو دل‌شي چې و وایی : مونږ ایمان‌راوړی‌دی‌اوهیڅ رازبه‌و نه‌ازموېل شی.حال دادی چې په تحقیق‌سره مونږ هغه‌کسان‌ازمویلی ووچې‌ددوی نه‌مخکی وو. نو هرومرو به‌خدای(ج) هغه‌کسان چې‌په‌دې دعوی کې‌رښتینی‌وی اوهغه‌کسان چې دروغجن‌وی. په‌ظاهری علم‌سره معلوم کړی.)دآیت‌شریف ترجمه .

ځینی بلکه‌ډېر خلك وایی‌چې مونږ ایمان‌راوړی‌دی.حال داچې ایمان ډېرې ښنی لری،بیانو گومان کوی‌چې‌خدای(ج) به‌یې‌په همدومره خبره‌پرېږدی چې تش په‌خوله‌ووایی اونوربه‌هیڅ نه‌کوی او دخپلو توهمونوسره‌به‌یې پرېږدی .دوی‌گومان کوی،چې‌گوندې خدای پاك‌سره‌له‌دې‌چې‌عادل‌قاضی‌دی، له‌دوی‌سره به دخپلوگومانونو په‌ډول معامله‌وکړی،مخکی له‌دې‌چې‌و یې‌ازمایی چې کوم‌یو پکی ښه کار کړی‌دی‌ترڅوچې‌خپل‌ځانونه‌ورته‌په‌خپله ښه‌ښرگند شی او په‌دې پوه‌شی‌چې‌ایاپه رښتیا سره مؤمنان دی‌او که‌دایوه تشه دعوی‌ده چې‌خپل‌ځان ورته ښایسته‌او ښکلی ځلولی‌ده‌او تشی‌ارزوگانی دی چې‌دوی پرې غولېدلی او پخپلو وهمونو کې‌تېرو تلی‌دی.سره له‌دی چې ددوی‌سره هیڅ نشته او بیخی‌یې‌زړو نوته‌ایمان ننو تلی‌نه‌دی‌بیاهم‌دوی گومان کوی چې څه‌ورسره شته .

تا سو يقين وكړىءچې داډول كسان پخپل گومان كې تېر و تلي دي .
پاك خداى(ج) ترهغه و ختهپورې يو غولېدلي په خپلهسر كښې كى نه پرېږدي چې ترڅو يې د ايمان پهدعوى كې و ازموي. دادديلهپارهچې غازيان مجاهدان او صابران پكښې و پيژني او دديلهپارهچې دخلكو لهپاره پر خداى (ج) كوم صحبت پاتې نه شي.

حاشا! او تو بهده! ! خداى(ج) حكيم دى، كتابونه او پيغمبران يې رالېږلى دى، وعدهيې كړې او وعيديې څرگند كړى دى. خلكو تهيې زېرى وركړى دى او وېره يې وربښودلى ده، و ينايې رښتيادهاو وعدهيې حقهده خنگه به هغسي خلكو ته دايمي نيكمرغى او نعمت وركړي چې پهتش خيال عقيده لرىاو اغېزه و نهلرىاو په تش گومان معتقد وىاو بنسټ ونهلري ؟

بېشكه هغه كسان چې پخپل خيال غولېدلي او د وهمونو پهتيارو كې هكك پك و لاړوى اوپهده باندېدخداى(ج) پهلاركې دهېروز يارونو ، خواښينيو او درند و پېټو ز غمل اسان نهوىدوي دهغو منافقانوپهڅېردي چې خداى(ج) پرى د تل تر تله بد بختى حكم كړ دى .

ايمانپههر راز هوسباندې زورور دى او دهرى ارزو پهمقابل كې غالب دىاوخپل روح دخداى(ج) دخوښى غوښتلو لهپاره پرسخ بيايى چې دايمان نه پرته بل هيڅ راښكو نكى او بېو نكى نهلرى. هغهخداى(ج) چې لهټولو ويو نكوځنى رښتياو ايى داسې فرمايي: اى پيغمبره هغه كسانچې پر خداى(ج) او داخرت په ورځ يې هم په پټه او همښكاره ايمانرا وړى وى. پهدې كاركې لهتاڅخه اجازه نه غواړي چې په خپلو مالونو او ځانونو سره پهجهاداو غزاكې لهنورو وروستهپاتي شي .

( اوخداى(ج) په پرهېزگارانو باندې ښهعالم دى. بېشكه خبره داده چې اى

پیغمبره له‌تاڅخه هغه‌څوك اجازه غواړي‌چې‌هغوی په‌باطن کې‌په‌خدای (ج)او داخرت‌په‌و رځ ایمان نه‌وی‌راوړی .او دقیامت‌په‌و رځ یې په‌زړونو کې شك وی ،نودوی‌به‌پخپل شك کې همداسې‌لالهانده‌او متحیروی).دآیت‌شر یف‌تر جمه.

داپه هغو کسانو باندې دخدای(ج)حکم‌او قضاده‌چې‌دخپلو ار واحواو مالونو په‌قر بانی کې‌دایمان‌دفر یضی‌دادا کولو له‌پاره‌اذن‌غو اړی،نو خدای(ج) پری‌حکم کړی‌دی‌چې‌دوی ایمان‌نه‌دی راوړی.

خدای(ج)اوپیغمبرانو یې رښتیاو یلی‌دی‌چې تینګی عقیدی‌هر و مر و داسې اغیزی لری چې په‌عزمونو او چارو کې‌څر ګندیږی او هر و مر و په فکر ونو او ارادو باندې اغیزه اچوی.هیڅ نه‌شی کېدای‌ترڅوپو ر ې چې‌معتقدو ی چې معتقدین یې‌دهغو څخه لیری کړی. دایمان‌په‌تولو شئو ناتو او حالا تو کی همدا حال دی.

ایمان داسې خواص‌لری چې و رځنی نه‌بیلیږی او د ا سې نښې لر ی چې و رڅخه نه‌لیری کیږی، هغسی لوی‌صفات لری‌چې و رځنی‌نه هیسته کیږ ی او هسی جګ اولوړخو یونه لری‌چې و رڅخه‌نه‌در و مې، رښتیانی‌مو منان په همدې صفانو سر ، دنو رو څخه په لوړ نی صدر کې‌بیلیدل او داسې کسانودوی په لو یو الی‌او لوړالی باندې اعتراف کاوه‌چې‌دعقیدې‌څخه به‌یې‌منکر و و .

هو کې !دوی هغه کسان و و چې د ازمیښتنی او خدایی‌ازمو ینښت خبر و ر کړ شوی و . ددوی‌ایمان‌لکه دسر و زرو دټو ټو غو ندې دهر راز خیری نه‌سوچه‌اوروان‌ووت‌او خدای(ج)و رته په‌صبر باندی ددایمی نعمتو نو ښېګڼه‌تیار ه کړه.څو مره‌ګر ان‌دی‌دخدای(ج)ازمیښت !څو مره‌سخت‌دی‌دخدای (ج)امتحان !او دخدای پاك په‌دې کې‌څو مره‌لوی‌حکمت‌دی‌چې‌ناولی‌د سپیڅلی‌څخه بیل کړي.

هو کې !دناوړو عادتو نو پر ښېو دل، ده‌پرو کړ اوو نو ز غمل‌اودمالو نو

ښندل دخدای(ج) یو وړو کې از میښت دی. هر څو بره چې سړ ینه پکې وی ځان دې و رڅخه په امان کې و ژغوری. ځکه چې په دې کارکې هر راز سړ ینه نجات دی او دایمان په ساتلو کې هر راز سړ ینه دایمي بقاده او دایمان دحقوقو په ادا کولو کې هر راز بد بختی لیدل تل تر تله نیکمرغی ده. بشپړ مومن خپل مال دایمان دغوښتنی په لار کې ښندی او دفقر او بېوزلی څخه نه ډاریږی، که څه هم شیطان ورته دخوار بدلو او بیوزلی کېدو وسوسه وراچوی.

دایمان دحق دادا کولو په لارکی هر څو مره لګښت، اسراف او تبذیر نه دی. که څه هم دمومنانو ټولهشتمنی پکې ولګیږی. په دې کې هیڅ شك نشته چې یومومن ددې ژوندنه پرته بل ژوند هم لری او ددې خوندو نو څخه پرته نورخوندونه هم لری. یومومن په دې ډول لیدل کیږی چې ایمان یې یوازی زړه ته رسېدلی وی. که څه هم بشپړ پای ته رسېدلی نه وی.

بېشکه چې دایمان په مسئله کې دخدای(ج) درحمت نه تېښته دایمی سپکاوی دی. دناوړې او ګرانی لاردلښکرو سره دټکر خوړلو او کړاوونو ځنی تښتېدل که څه هم دتصوررو روستنی پړاو ته ورسیږی ددایمی بدبختی موجب دی. نیکمرغی ددین نه پرته نشته او ددین دساتلو نه پرته غاړې الوځی.

بېشکه چې ایمان ډېر تکلیفونه او داسې فرایض لری چې اداکول یې ډېر ګران دی. مګر هغو کسانو ته ګران نه دی چې زړونه یې دتقوی او پرهېز کولو له پاره ازمو یل شوی وی. دایمان دفرایضو تېنګول په ډېر وو پر و او کړاوونو کې نغښتل شوی دی. ولی به داسې نه وی؟ ځکه چې دایمان یولومړی واجب دادی چې سړی دخپل ځان، مال او ټولو هغو شیانو ځنی تېرشی چې خوند ورڅخه اخیستل کیږی او دغه ټول شیان دخدای (ج) او امرو ته وقف کړی.

یومومن ترهغه پورې بشپړمومن کېدای نه شی چې ترخوخدای(ج) او رسول (ص)

ورته د خپل ځان څخه ورتېر او ګران نه شي. تر ټولو لومړی هغه څه چې یو مومن
د هغو خوږ او درد دلته حس کوي دا دی چې یو مومن په دې نړۍ کې پردېس
او بلې دنیا ته ورتلونکی دی چې هلته د دې ځای نه بېرته ژوند او دایمي دی.
یو مومن چې لومړنی قدم ږدي دا دی چې خپل روح په داسې ځای کې ښندي
چې د ایمان په کار شي او ایمان یې ورته رابولي او د انبیاوو او پیغمبرانو د ژبو څخه
پرته بل هیڅ داعي او رابلونکی نشته چې غږ یې جګ او د ایمان په لار کې
یې صحبت ښرګندوي.

تر څو پورې چې پښې تګ، سترګې کتل او لاس کار کوي، خدای (ج) د ایمان
په ساتلو کې عذر، علت او ناروغي نه مني. بېشکه چې په مونږ باندې د خدای (ج)
ازمېښت د خدای (ج) د سنتونو څخه یو راز سنت دی. (او د چا ځني چې خدای (ج) سمه لار
ورکه کړي، نو هیڅوك نه شي کولای هغه ته لار وښیي.) د آیت شریف ترجمه.

په بنیادمو کې داسې خلك موندل کیږي چې اسلام یې نه خوښیږي او په
کفر هم قانع نه وي. خلکو ته ځانونه په بیلابیل رنګونو او نااشناځېرو کې
ښیي. د زمانې د مشهورو ټګانو په څېر اوړي راوړي. نه په کوم حال خوښ وي
او نه په کوم ډول بسیا کیږي. د ژړا په وخت کې به خاندي او د تکلیف په مهال
کې به سلنډې وهي. د خوشحالۍ په وختونو کې به ژاړي او د عمومي خوشحالۍ
په وخت کې به ویرجن وي. دوی د یوې اغزنې ښانګې په څېر دي چې هرې خوا ته
یې اړوې اغزي وي. دوه رخې به یې ګورې مسلمانان دي، مګر
په مسلمانۍ کې به په یو مذهب هم ټینګ نه وي. ګهیځ به سنیان وي او غرمه به
شیعه ګان. دوه رخې په پای کې به یې ګورې چې وهابیان دي. بیا چې توره شپه
راوخېژي، دوی به دهریان وي او هره ناروا به روا ګڼي. په هند کې د ځینو

جریدو خاوندان همدغسی خلك دی. دغه جریدی دخلکو په نظر کی کوم اهمیت نه لری .

دوی غواړي چې په هند کې ځانو نه په داسی خبر و باندې انگریزانو ته نژدی کړي چې په هغو کې یې دخپلو هیواد واو هغه ملت تاوان وی چې دوی پکی زیږ یدلی دی. داددی له پاره چې دهغو ظالمانو حاکمانو له خوا ور ته ځه جایزه ورسیږی، یاددی له پاره چې په دوایرو کې دکومنوم خاوندان شی. نو دوی خپله سخه دې خواته راا ړولی ده چې دالعروة الوثقی په ځینو مقالوکې ځه تاویلونه وکړی او دناپوهی له کبله یې دحقیقی مطلب ځخه بلی خواته وا ړوی او کلمی او عبارتونه یې دخپلو ځایونو ځخه دخپلو نیتو ارزوگانو او بدو طبیعتو نو خواته راو گرځوی . خدای (ج) دې دوی وو ژنی چې ځنگه او ځو سره دروغ وایی. دغه خلك موږ پیژندلی دی چې دخپل قوم په منځ کې کوم داسې کار او مواد نه لری چې په هغو سره و پیژندل شی. ددوی خبره موږ ته دو مره مهمه نه ښکاری.

موږ دهند دهغو مهمو جریدو ځخه تشکر کوو چې دخپلو هیوادونو په خدمت کې په ر ښتیانې سره لار روانی دی او دالعروة الوثقی مقالی هندی ژبی ته له خپل اصلی مطلب سره سمی ترجمه کوی چې خپلو تولو وطنوالو ته پرې گټه ورسیږی. خدای (ج) دې مسلمانانو ته په دې وسیله خیر او گټه ورسوی .

# د هیواد دساتلو اسباب

(ایادوی په ځمکه روان نه دی چې هسې زړونه ولری چې فکر پرې وکړی . او یا هغسی غوږونه ولری چې خبرې پرې واوری او عبرت پرې واخلی .نو خبره داده چې سترګی یې ړندې نه دی ،مګر زړونه یې ړانده دی چې په سینو کی دننه دی .ځکه چې عبرت پرې نه اخلی.)دآیت شریف ترجمه.

خدای(ج)ډېر قومونه سره کړی دی،ډېر خپلو نه یې دځمکی دمخ نه پورته کړی او ډېر هېوادونه یې تباه کړی دی او تل تر تله دخدای(ج) عدل چلېدلی دی چې یو قوم په بل قوم سره بدلوی او په هره زمانه کې نور خلك راولی .

پاك خدای (ج) داسې حکیم دی چې رحمت یې په غضب باندی مخکی دی او دهرې چارې له پاره یې جزا ټاکلې ده . په خپل حکمت سره یې دهرنوی پیدا له پاره سبب پیدا کړی دی.( اوستاروزونکی او پالونکی په هیچا تیری نه کوی )

دآیت شریف ترجمه .

دخدای(ج) چارې خوشی، چټی او بې معنا نه دی. هیڅ شی یې عبث نه دی پیدا کړی. خپلو بندګانو ته یې په ځمکو کې په ګرځېدلو او تګ امر کړی دی. (ورته وایه وګرځی په ځمکه کې.نو وګوری چې ددروغجنو عاقبت څنګه شو .)

دآیت شریف شریف ترجمه.

دد ی له پاره چې د هغو کسانو په حال کی د حق حکم او دعدل حکمت و رته
ښکاره کړی چې سخکی تېر شوی دی او یاو روسته راتلونکی دی. چې په نتیجه
کې د خدای (ج) او امر و ته غاړه کیږدی ، او د شر یعتو نو په حدودو درېږی
او په دنیا کې په ګټه او په اخرت کې په ښکمرغی سره بری و مومی ء.

هغه څوك چې پوه زړ ،، غږ و لی سترګی او د پوهنی عقل و لر ی او دعالم
خبری یې پلټلی وی او دملتو نو دانقلاب په څرنګوالی او کیفیت یې فکر کړی وی
او د تېرو شوو قومونو په تاریخونو یې ژور غور کړی وی او دهغو قصو نه
یې عبرت اخیستی وی چې خدای (ج) سو ږ ته را لیږلی دی. نو ښه شکه حکم کوی
چې هیڅ قوم ته تر هغه پوری تکلیف نه دی پېښ شوی، نه پرې کومه بلار اښکته شوې
ده او نه ورته په کوم څه کی ضرر رو رپیښ شوی دی، چې ترڅو یې پخپل ځان
د خپله لاسه تېری کړی نه وی. ځکه چې د خدای (ج) د حدو د او محر ما تو څخه او ښتی
وی او او امر یې سپک ګڼلی وی، عادله امر و نه یې پر یښې وی، دحقو لار و څخه اوښتی
وي او کلمې یې له خپلو ځایو نو ځنې بدلې کړي وی ا که څنګه چې د لوی عالم خدا ی (ج)
په تقد یر سره په ټو ل ا جو نو باندې د غذاګانو، دواګانو، بېلا بیلو سمو نو او راز راز
هو اګانو اغېزه شته، همدا ډو ل د خدای (ج) حکمت غوښتی دی چې د تولنی په هیئت
کې د هری انسانی چاری او هر بشری حالت اغېزه شته. له همدې کبله پخپلو
بندګانو باندې د خدای (ج) یو رحمت دادی چې دحدو دو اندازه کو ل او دا حکامو
تاکل ددې له پاره لازم کړی دی چې خیر له شره او ګټه د تاو ان نه بیل شی. نو
پیغمبران یې را ولیږل او کتابونه یې را واستول. چاچې دالهی او امر و څخه
مخالفت وکړ، نو پخپل ځان یې تیری او زیاتی وکړ، نو ځان دی په دې دنیا
سپکاوی او په اخرت کې عذاب ته چمتو کړی.

بیشکه چې دژوندانه په حالاتو کې دطبیعي عواملو داغېزې سبب کله پټ وي او تردې پورې چې یو وخت مېړنې طبیب هم پرې نه پوهیږي . مګر دټولنې په هیئت کې د بنی ادسو دحالاتو پاغېز وباندې ، هریو دادراك خاوند که دلیدلو سترګي یې ړندې نه وي، پوهیږي .

ایاته نه پوهیږي چې په عمومي شېګنو کې درای او فکر اتفاق او په عمومي ګټو کې دمینې په روابطو سره یو ځای کېدل دغېبلتیا او هوسایني دلوازمو د بشپړیدو سبب دی او هم ددې نړۍ په ژوند کې او هم په اخرت کې ددایمي ګټې رسولو موجب دی. لانجه او تګی یې ذبیو زلی او کمزوری علت او د هرې دنیوي او اخروي ګټې څخه دبې برخې کېدو سبب ګرځولی دی او لانجه کوونکې به دنورو قومونو په منګولو کې ښکېل او ایسارشي. نو چاچې دقومونو په احوال کې پخوانۍ وی که او سنی په ځیر سره مطالعه کړې وي او دزړه په ناروغۍ اودسترګو په بې نظرۍ اخته نه وي، هغه دخدای(ج) دامردحکمت په دې وینا پوهیږي چې ویلي یې دي: (او ټولمنګولي و لګوی دخدای(ج) په رسی (قران) باندې) دخدای(ج) په دې وینا سره ددې نهې په سر باندې پوهشوی دی(په خپلو منځو کې جګړه او لانجه مه کوی چې بې زړه به شی او قوت به مولاړ شی.)دآیت شریف ترجمه .

لوی خدای(ج) د کارو یجاړ بدو او دحال دوړانېدو دسبب له کبله په هغه چابانډی اعتماد منع کړی دی چې په هغه باندې اعتماد کول ښه نه دی او باور کول په هغه چاباندې چې دباور کولو وړ نه وی .نو څوك چې پخپلو چارو کې په یو داسې چا اعتماد کوی چې هغه به هیڅ ډول ددغو چارودسرته رسولووړ او مناسب نه وی او نه پرې په حقیقي ډول سره ټولنه راغونډیږی نه ورسره ټولنه په کومې مزبوتي رابطې سره یو ځای کیږی ،نه دده په طبیعت کې داسې

څه وی چې دی یې دعام مصلحت او ښه کار له پاره پوره کړی وي یادعالم مصلحت او راز ساتنې شی او نه دده په طبیعت یو داسې صفت موجود وي چې قوم ته گټه و رسولای شی او د ضرر څخه یې بچ کړي. نو هیڅ شک نشته چې د دغسې شخص حال فاسد او نتیجه یې خرابه ده. که پاچاوی، پاچهی یې ړنګیږی او که حاکم وی حکومت یې له منځه ځی. ځکه چې او سنی پېښې شاهدې دی او د دغو لېدلو کسانو حالات و یاند دی.

دچاسترگوته چې د ړوندو الی ضرر رسېدلی نه وی، هغه په یوځل سترگو اړ و لو سره د خدای (ج) د نهی په راز باندې پوهیږی. لوی خدای (ج) فرمایلی دی: (زما او ستاسو غلیمان په دوستی سره مه نیسیء، په داسې حال کې ستاسې او د دوی ترمنځ د دوستی له کبله خبر و نه لیږیء. حال دادی چې په تحقیق سره دوی په هغه څه باندې کافران شوی دی چې تاسو ته د حق دین او قران څخه راغلی دی.)

دآیت شریف ترجمه.

او د خدای (ج) په دې وینا کې (تاسو د خپلو مومنانو څخه پرته د راز دوستان مه نیسی، ځکه چې پر دی او نور ستاسو سره په فساد او ضرر رسولو کې، هیڅ ډول نیمگړ تیا نه کوی.) دآیت شریف ترجمه.

نور نو اهی په بالغه حکمت باندی شوی دی او د دو اړو جهانو نو د ښېگڼو لار ښوونه یې کړې ده.

په هر سړی باندې پخپله ډله کې د ټولنی له خوا یو فرض شوی کار او یو واجب شته چې هغه ته هڅه کول ور باندې فرض او واجب دی. ځکه چې په دغه کار سره په دنیا او اخرت کې د ځان له پاره ښه ژوندتیار کړی. دا شخص دیو زړه خاوندی نو که پخپل زړه کې یې کوم غټ مقصود و پاله نو د نو روشیانو څخه به پرې ډېر جگ وی او که ځان د خوندا خیستلو په نعمتو نو او شیانو کې ډوب کړی او سر کشی پکې وکړی

نو دفرایضو نه‌بې خبره‌شو او خپل‌ځان ته‌یې ضرر و رساوه ، د خپلو ګټو څخه بې برخی‌شو دخدای(ج)عذاب او وبال پرې‌راښکته شو او د نیا او اخرت یې غبرګ لاړل .

کله‌داسې هم کیږی‌چې‌دده دناوړو چارو اغېزی ګاونډو یانو ته‌هم رسیږی . دحق دستنو څخه‌دده پداو ښتلو او دده‌دناوړو خو یو نو په‌بل‌او ر سره ګاونډ یان هم وسوځې او هغه‌نور کسان‌همو رسره و ریت شی‌چې‌په‌دغه ښاراو ملک کې‌و رسره اوسیږی .

په‌هر ملت کې‌دبډایانو او عیش پالو نکو همدغه حال دی .دغه خبرې هر روغ په‌غور ځنګ راولی، سترګی‌یې بینا کیږی او بې‌له شکه کو مه قصه چې مو ږ ته‌یې‌دعیش پالو نکی حال راښوولی دی،یو لوی عبرت‌دی. ( او مو ږ څو مره د کلیو او ښارو نو وګړی هلاك کړی‌دی چې په‌ژوند تیر و لو کې یې سر کشی کړې‌وه،نو دادی ددوی کو رونه چې دهلاکت نه و روسته پکی استو ګنه نه‌ده شوې، مګر ډیر لږ چې کوم پردیس پکی کو مه‌شپه تېره کړی وی . یو مو ږ ! همد امو ږ وارثان ،تر هغه‌پورې چې کله مو ږ همدغه ددوی غنیان ،غټان‌او متنعما ن په‌دنیوی عذاب‌سره و نیسو ،لکه وژل،قحطیانو رشول. په‌دغه وخت کې به‌دوی‌فریادونه کوی‌او تیتکی‌به‌وهی.نن‌و رځ فریادمه کوی‌ء او تیتکی‌مه‌و هیء .ځکه‌چې دتاسو سره به‌دعذاب څخه په‌خلاصون کې زمو ږ له خواهیڅ رازسرسته و نه‌شی.دغه ستاسی چارې‌وی‌او دغه دی‌په‌تاسو عذاب ځکه چې‌په‌ځمکه کې‌به‌مو په‌ناحقه‌سره خوشحالی کوله او په‌ناحقه به‌مو تکبر او لو یی کوله) دآیت‌شریف‌ترجمه .

دارازعواقب دهغه‌چادی‌چې دخدای(ج)واجبات یې‌پریښې او ورځنی‌او ښتی وی. ( او هر چاچې‌زمادنصیحت ځنی‌مخ وګرځاوه، نو بېشکه دهغه ژوندبه‌په

د نیا کې ډیرې تنګه شي او په قبر کې به په کلک عذاب سره اخته شي . مونږ به یې له قبره پورته کړو او محشر ته به یې دقیامت په ورځ ړوند راوړو )

دآیت شریف ترجمه .

انسان ته دپوهنې لږه برخه ورکړ شوې ده. انسان نه شي کولای چې پخپل حال پوري سربوطو ټولو ګټو شخه په ځانګړې توګه خبر شي او ډېرې نشي کولای چې د هغو ګټو په منابعو خبرشي او ترلاسه یې کړي . یاد هغو پټو ضررونو شخه خبرشي او ځان ترې وساتي. انسان ضعیف او بېوزلی پیداشوی دی. خدای(ج) ورته لارښوونه کړې ده چې دخپلو همنوعو ځنې مرستې وغواړي (مونږ تاسي ځانګړې ځانګې او خپلو نه خپلو نه ګرځولي یاستی ء. ددې له پاره چې یو دبل سره و پیژنۍ ء) دآیت شریف ترجمه .

مونږ یې مرستې او صبر کولو ته اړ پیداکړی یو او مونږ ته یې دیو بل سره دمرستې کولو لارښوونه کړې ده.

په خصوصي او ځانګړو چارو کې دعقل حکم په دغه ډول دی. نو عقل به په داسې چارو کې حکم و نه کړي چې یو سړی خدای (ج) دیوې ټولنې حاکم او والي کړی وی او دهغې ټولنې دټولو ښګېڼو واګې یې دده دارادې لاندې راوستلې وي. داشخص ددې ټولنې واکمن وی یعنې پورته کول او ټیټول یې دده په لاس کې وي. نو شک نشته چې داسې ځوک دپوهانو دفکرونو شخه استفادې او مشورې ته ډیر اړ وی. دی دهغو کسانو شخه دیډول استفادې ته اړتیالري چې سعی او هڅه یې یوازې دځانګړو چارو له پاره وي. بایدمصلحت ته ددغه واکمن داړتیادایرې ارتوالی ، دده دواکمنی او پاچهۍ دارتوالی اولوی والی په اندازه وی. و اقعاً چې خدای(ج) خپل دخطانه ساتل شوی نبی(ع) ته امر کړی دی او داسې تعلیم اولاریې ورته ښودلې ده چې (او ددوی سره

په‌چارو کې مصلحت کوه.) دآیت شریف ترجمه.

په بل ځای کې خدای (ج) د مومنانو صفت په‌دې ډول سره کړی دی (ددوی چاری په‌خپلو منځو کې په‌مصلحت سر ته رسیږي.) دآیت شریف ترجمه.

څنگه‌ سترگی به‌وي چې دسمې لارې څخه وا وړي. څنگه رڼا به‌وي چې دغه سمه‌ لار پرې ونه‌لیدله‌شي (ایا دوی فکر نه کوي په‌دې ویناکې چې قرآن دی. او که‌دوی ته‌داسې یو څه‌راغلی دی چې پخوا نیو پلرونو ته نه‌وو راغلي چې قرآن او رسول (ص) دی، نو ځکه انکار کوي.) دآیت شریف ترجمه.

بېشکه که‌چېری په‌هېوادونو کې حاکم او پاچایوه گړی خپل ځان ته وگوري، نو هر و مرو به‌وويني چې هر وخت دده ملکونو ته طمع کوونکو سترگی نیولی دی او دبشری طبع دحرص له‌امله گاونډیان بې دهېواد نیولو له‌ پاره حرکت کوي چې د ده ملکونه ورڅخه ونیسي، قوم يې ذلیل کړي. وگړی یې سر یان کړي، دځمکو د حاصلاتو او دزیار د میو و څخه یې خوندواخلي او د خپل قوم په‌خوله کې یې وا چوي.

نو په دغه‌واکمن او په‌هغه چابانډې چې دده سره په چارو کې گډ وي لکه وزیران، والیان، لښکری قوماندانان او په ټولو دفکر خاوندانو او هغو کسانو چې دغه پاچهی دهغوی په‌ کارونو ټینگه وي واجب دی چې ځانونه دغلیمانو دیرغل څخه‌ددفاع له‌ پاره تیار کړي، نو که‌دغلیمانو د شړلو دلوا زمو په تیارولو کې یې سستي وکړه او یایې دطمع کوونکو دسیلاب په مخنیوی کې اسانتیاغوره کړه یایې دخپل قوت په ټینگولو کې لنې وکړه او یایې دخپل برم په‌ډېرولو کې چې په‌هر ډول او هري وجهی سره وي سستي وکړه، نو خپله پاچهی یې په‌رښتیا سره سرېنی ته‌وړاندې کړه او خپل ځانونه یې

دتباهی‌له‌گړنګونو وغو رځول. دايوه‌هسی خبره‌ده‌چې پوه او ناپوه‌د واړه‌پرې پو هيږی او دددواړو عقل‌ورته رسيږی .

دخدای(ج)په‌دې‌وروسته وينا کی دځرګندولواو عم‌دنه تاکلو او ابهام پټ رازدی (او خپل ځانونه تياروی‌ء ای‌سوسنانو !ددوی‌په‌مقابل کې څو مره سوچې دلاسه کيږی. ) دآيت‌شر يف تر جمه

دقوت‌په‌تيارولوېې امر کړی‌دی‌او بيايې دزمانی دغوښتنو او ايجاباتو سره سم دطاقت او وسې حکم ته‌سپارلی‌دی‌چې‌دمهلکاتو څخه‌پرې‌وژ غورل شی.داد خدای (ج)حکم‌دی چې‌و يده ويښوی‌او بې‌خبره ته‌نصيحت کوی.(نو په‌دی قوم باندې څه‌شوی دی‌چې‌په‌هيڅ خبره باندې‌نه‌پو هيږی .)دآيت‌شر يف‌تر جمه.

هر حقدار ته حق‌ورکول او هر څه‌پخپل ځای کې ايښودل او هغسی کسانو ته دمملکت چارې سپارل‌چې‌دسر ته‌رسولو قدرت يې‌لری،مملکت‌پرې ساتل کيږی ،دپاچاقوت ډير يږی ، دوا کمنی ودانی‌ټينګوی‌او ستنی‌يې کلکوی دداخلی نظام‌دخلل‌نه‌يې خوندی‌ساتی‌او دټولنی وګړ ې‌له‌هرراز نارو غيوڅخه ژغوری .

دعقل‌بداهت حکم کوی او همدادحکمت‌عنوان‌دی‌چې‌اسمانونه‌او مځکې‌پرې ټينګ او په‌دی سره‌دهر موجو دنظام‌ثابت دی‌او داهغه عدل‌دی‌چې‌دشرع له خوا پرې‌ټينګار شوی‌دی: په‌دی‌و يناکې(بېشکه چې‌خدای(ج) تاسو ته په‌عدل او ښېګڼه امر کوي.)دآيت شر يف‌تر جمه.

لکه‌څنګه‌چې دسمی‌لاری‌څخه او ښتل اودنړی‌په هره سيمه کې ظلم‌او تيری استعمالول عدالت ورکك کوی او له‌منځه يې‌وړي، نوله دمدې‌امله الهی او امرو دعدل کلکه‌توصيه کړې‌ده او په‌خپل‌لوی کتاب کې‌يې زياتی او تيری منع کړی دی‌او داډول امرونه او نواهی واکمنانو ته‌ډير متوجه‌دی .

عدل یوهسې حکمت دی چې خدای (ج) یې خپلو بندګانو ته ښېګڼه ښودلې او د ډېر خیر او ګټې سره یې یوځای کړی دی، نو فرمایلی یې دی ( او هر چاته چې حکمت او ګټور علم ورکړ شو ، هغه ته ډېره ګټه او خیر ورکړ شو . )

د آیت شریف ترجمه .

دا حکمت د خدای (ج) د لویو صفاتو څرګندوی دی. پاک خدای (ج) عادل حکیم دی او په ډېرو باریکو او پټو خبرو او کارونو خبر دی. څوک چې په نړۍ کې ګرځېدلي او د ملتونو تاریخونه یې کتلي وي او په زړه کې یې رڼا وي، نو هغه پوهېږي چې دیوې پاچهۍ و دانۍ هغه وخت ړنګه شوې او تخت یې را نسکور شوی دی ،چې کله په کې شقاق او اختلاف پیدا شوی ،یا یې په داسې چا اعتماد کړی دی چې داعتماد وړ نه و ،یا پکې پردي عناصر را ګډ شوي یا د استبداد د فکر او مشورو د نه کولو له امله ،یا د خپل انګړ نه د پردیو د شړلو له پاره د قوت نه تیارولو له کبله یا یې چارې داسې کسانو ته سپارلې دي چې پر یې نه پوهېږي او په ناوړه توګه یې چلوي. نو په داسې حال کې په حکم کې هر و مرو تېری کېږي او نظام و یجاړ یږي .ځکه په دغو ټولو چارو کې د خدای (ج) دسنتو څخه کږېدل دي نو په خطا کو و نکو باندې د خدای (ج) غضب را پریوځي خدای (ج) له ټولو حاکمانو څخه ډېر ستر حاکم دی .

که موږ د قران په آیاتونو کې فکر و کړو او هغو پېښو ته اعتماد ورکړو چې اسلامي هېواد و نه یې ژوبل کړي دي ، نو پوه به شو چې په موږ کې داسې کسان شته چې د خدای (ج) د او امر و نه کاږه شوي او لاریې ور که کړې ده. داسې کسان هم په موږ کې شته چې د خدای (ج) ښوولې لارې نه و تلي دي. په موږ کې داسې کسان هم شته چې په نفسي آرزوګانو او د شیطان په قدمونو پسې تللي دي. (ځکه د غه عذاب په دوی باندې راغلی، چې خدای (ج) هیڅکله یو قوم

ته‌دو ر کړی نعمت بدلو ونکی نه‌دی، تر هغه‌پو ری چې‌دو ی هغه حال‌بدل‌نه کړي چې‌ددوی په ځانو نو کې‌دی . او بېشکه چې خدای (ج) د ټولو خبر و او ر بد و نکی دی‌او په ټو لو چار و ښه‌پو هیږی )دآ یت‌شر یف‌تر جمه.

په کلکو او کره و علماو باندې چې‌داست روح او دمهدی ملت مشران او راجلبو و نکی‌دی‌و اجب‌دی‌چې د هغو کسانو دو ینښو لو قصد و کړی چې ددینی‌فر ایضو ځخه و یده‌شوی‌دی.ناپو هان پو ه کړی، غافل و خو ځوی،ټو لو ته هغه نعمت و ر یاد کړی چې‌پلر و نو یې در لو د.دې‌ته‌یې متو جه کړی چې که‌دوی‌سم‌و و ،نو خدای(ج)و ر ته‌خو سر ه شیان‌تیار کړی د ی. ا و که چېږی دنبی‌صلی‌الله‌علیه‌و سلم او اصحابو‌په‌لا ر لا نه‌ړ ل نو دبد عاقبت ځخه‌یې و ډار وی په‌دین کې‌یې د هر هغه نوی کار او ناو ړه‌عادت‌ځخه‌ر او گر ځوی‌چې دخدای(ج) د کتاب سره سم نه‌وی‌اودپخو انیو ملتو نو قصی و ر ته و کړی چې کو م‌و خت دخپلو شر یعتو نو ځخه‌او ښتی‌او دخدای(ج)او امرېې‌پریښې‌وو(نو خدای (ج) په دوی‌باندی‌په‌دنیا یې‌ژ و ند کې‌سپکاوی‌او خو اری و ځکله .او هر و سر و د اخر ت عذاب ډېر لو دی. که‌چېری دوی‌په‌دې پوه‌و ای‌نو ایمان به‌یې‌ر او ړی‌و ای.)

دآیت‌شر یف‌شر یف‌تر جمه.

په‌علماءولا ز مه‌ده‌چې‌دخدای(ج)دوعدې‌په‌وریادولوسر ه‌له‌خلکوځنی‌نا امیدی لیری کړی‌او دخدای(ج) په‌دې و ینا کې‌یې‌و عده‌ر ښتیاده:(خدای(ج)ستاسود هغو کسانوسر ه‌و عده کړې‌ده‌چې‌ایمان‌یې‌ر او ړی‌دی‌اوښې‌چارې کوي ، چې‌خدای (ج) به هر و سرودوی په ځمکه کې د هغو کسانو په ځېر خلیفه گان‌اووا کوالان کړی چې‌ددوی‌نه‌پخواو و .او هر وسر و به‌دغلیما نوځخه‌ددوی‌و ېر ه‌په‌امن‌او خو شحالی سر ه‌بدله کړ و .)دآیت‌شر یف تر جمه .

داد‌پخو علماو و ظیفه‌ده‌او دوی‌په‌مسلما نا نو کی‌لرنه‌دی. په‌دوی سو داگو مان

نه‌راځي چې‌په هغو کارونو کی بهسستی و کړی‌چې‌خدای(ج) و رته‌سپارلی او په‌غاړه یې‌او راچولی‌دی. ځکه دوی‌ددین امینان دی‌او شرع په‌دوی‌ولاړه ده. دوی‌اسلام دبیرغ جگوونکی دی‌او په‌مومنانو باندی د خدای (ج) وصیت کوونکی دی‌اوهغوی ته دښوچارو سرسته‌وررسوی.خدای(ج) دې مؤمنا نو ته ددوی په لارښوونی سره‌گټه و رسوی.

(اوغواړومو بې چې‌خپله ښېگڼه اواحسان دهغه چاسره وکړو چې په ځمکه کی‌ضعیفان شوی دی اومو بې به یې‌دنو روځخه مخکی او امامان کړو. اومو بې به‌یې د مومنانو دوا کمنی وارثان وگرځوو.)دآیت‌شریف ترجمه.

انسان‌سره‌ده‌ي چې‌دلوی‌عقل،لوړفکر او غښتلی حدس خاوندد‌ی او په استنباط کې‌یې مېړنتوب او په‌استدلال کې‌یې مهارت شته،مگر بیابه هم لیدل کیږی چې‌په‌فکری‌ناروغی اخته‌وی اوډېرلږ خپلو مقصدونو ته رسیږی . د پېښواوحوادثو د علتونو تشا به او تنوع د شخص اوراتلونکو پېښو ترمنځ‌حایل واقع کیږی‌اوسمه‌لار په سترگونه‌ورځی . نو تېروځی او په فکر کې‌ډوب ړوندپاتی کیږی. دقیاس په‌مقدماتو کې ورته‌التباس پیدا کیږی او په‌نتیجو کې‌ورځخه اشتباه کیږی او داستنباط قیاس‌مختل کیږی . همدا علت دی‌چې ډېرخلك دممکن په‌استحالی او یادمستحیل په‌امکان‌باندې‌حکم کوی .

که چېرې دنن نه پخوا خلو یښت کاله مخکی د هند ښارونو ته یو بشپړ پوه او دسیاست په‌فنونو او دملتونو داحوالونو نه خبر یو شخص تللی وای او په شا او خوا سیمو کی یې گرځېدلی وای پاود مغلی اچهانو د اولادونو په احوال خبر شوی وای او لیدلی یې وای چې څومره خواراوبېوزله شوی‌دی.د(تیپوسلطان) کړوسی یې کتلی وای چې څومره خواران‌او غریبان‌شوی‌دی‌د.(لودی)پاچهانو زوزات یې **لیدلی**

و ای چې دخو سره سپکاوی سره مخامخ دی. یاد (کارناټک) دنوابانو او دسند د پاچهانو هغه تکلیفونه یې لیدلی و ای چې په دوی را غلی و و. هم یې دسر هتې لو یې قبیلې ته نظر کړی و ای چې په (پنونه) او (ستاره) او شاه او خو اسیمو کې او سیږی چې ددوی دلویو راجه گانو ځنی ځو سره ځو رو ونکی بلاگانی چاپیره شوی. بیا په دغو ښارونو کې دانگریزانو واک، غلبه او عبثلتیا کتلی شوی و ای، او ددوی هغه حربی الات یې تر نظره تېر کړی و ای چې ددوی دسر تېکو لو له پاره یې تیار کړی دی او پخی کلاگانی یې جوړې کړی دی. او داچې د دوی په سنځ کې د خپلو تګیو او چلونو سیاست په ځو سره سړ نتوب سره پرمخ بیایې، او په نورو وګړ و باندې یې د هغوی د ضعف او بې زړه توب له امله پرې څه حال راوستی دی! نو که ځوك په ځیر سره دې حالاتو ته پام وکړی، نو دو رسره مقدماتو او په ځکی پر توقیاسو نوله مخې به په دغو قومونو، دغو اشرافو، اعیانو او دپاچهانو په اولاد باندې ددایمی خوارۍ او سر یې توب حکم و کړی. بلکه ډېر وخت دسړی و هم حکم کوی چې دوی به حتماً او لزوماً ورك کیږی. ځکه ځوك چې دغه حالات په غور سره ځیرې دانگریزانو په لوی قوت او اقتدار او دهند یانو په ډېره بېوزلۍ باندې پوهیږی په هغه وخت کې دهیچا په زړه کې هم دا نه تېرېده چې زمانه په دوی باندې دغسې پېښې راولی. بېشکه چې روسې دقزردیحیری نه اخوا ډېری سیرې او ډاګونه و هلی دی او خپلی دښتی یې کچ کړی او پر له پسی دهند دحدودو خوا ته راروان دی.

په لوسړ نیو وختونو کې داد هیچا په زړونو کې نه تېریده چې دمصر په نیولو کې دانگلیسی حرص او طمع به ددوی ځنی دنورو دولتونو داو ښتلو او ګرځېدلو سبب شی. داسې ګومان کېده چې دوی به وغواړی چې

پر نس بسمارك به ددوى جگړى ته دولتونه راغونډ كړى او داسياست به پر مخ بوځى. داد هيڅ چا په خيال كي هم نه تېر بده چي د سو ډان په خلكو كي به د محمد احمد په نامه يو سړى راپورته كيږى او خلك به په ديني بلنه راغونډوى. كله يې چي انگليس ته څوډغرې ور كړى ، نو دهند يانو زړونه دي هم راپورته كړى او ويده دې ويښ كړى او ناست دي ودروى . همتو نه دى جگك كړى او په دوى كي دې دنا اميدى نه وروسته اميدونه ژوندى كړى او دده دعوت او رابلنه دې دهند په خوا او شا كي هم خپره شى .

هو كي ! انسان د كوم ځاى نه ددي پېښو څخه خبر بداى شى او داپېښى دغيب په پرده كي نغښتل شوى دى ، نو انسان پخپلو حكمونو معذور او په خپلو وهمونو كي مقصور دى .

سوډ گوروچي دانگريزى حكومت نه دغلميى دايرې چاپېر يرى او خلك ورته دضرر او شر له پاره يرغل ته تيار شوى دى . په اروپا كي كوم دوست او ترون كوونكى هم نه لرى ، او س دانگريزانو په دي خبرو څوك نه غوليږى چي سوډ دملتونو دگټو له پاره كار كوو او ددي له پاره پيدا شوى يو چي د عالم عمومى ښېگڼى دي په سوډ پورې مختصى وى ! تر دې پورې چي خوا ړه دوستان او ياران ور ځنى تښتى او ور څخه بېزاره دى . نو دا خبرې او دانگريزانو دغه غور ځېدنه دهند تر حدودو پورې د روسيى د راپورته كېدلو او مخكې كېدلو سبب شو .

درسمى جريدو له مخى په اروپا كي ددولتونو او خصوصاً دالمان د دولت مصلحت داده چي روسيه دى دهند دفتح له پاره ټينگه او غښتلې شى . ځكه دهندتر حدودو پورې دروسى سيلاب بهير تولى اروپا او په تېره بيا جرمن ته دارو پاځينو ځايونو ته دعسكرو دلېږلو نه ډېر بهتر دى . كه چيرى دهند په حدودو باندې

د روس او انګریز ترمنځ د تصادم ورځ را شي نو دا کار د اروپا د سیاست له لوله پاره هم ګټور دی.

داځکه د نه باور کولو خبره نه ده چې انګریزي عسکر به د لیر والی له کبله په لومړني تصادم کې په یو بدحال اخته شي. بله خبره دا ده چې دانګریزد پوځ زیات شمیر د هند خلک دي چې زړونه او ګوګلونه یې د دوی له لاسه ټوټې ټوټې دي او فرصت ته ګوري چې کله به یې لاس بر شي چې د دوی په ظالمانو حاکمانو لاس پورې کړي.

کله چې دانګریز د ماتې خبر خپور شو، نو په ټول هند کې به د بغاوت اور بل شي او د انګریزانو حکومت به په ټپله د هندیانو له لاسه ورک او تباه شي.

روسیه نه شي کولای چې په لومړي وخت کې د هند په ښارونو خپل کلک او اساسي حکومت ټینګ کړي. ځکه چې هغه هیواد بې شانه لوی دی او ځانګې یې هرې خواته غځېدلې دي او دادارې او ساتنې له پاره مسلیو نو خلکو ته ضرورت دی او د لیرې ښارو نو ځنډه یې راغونډېدنه ډېره ګرانه ده.

هو کې! انګریز په ډېرو پیړیو کې په هند قبضه وکړه، نو د روس دولت مجبوردی چې په هند کې خو مملکتونه جوړ کړي او د هغه هیواد پخوانی اشخاص یې لکه د مغلو پاچهانو اولاد، د سلطان ټیپو اولاد د سند د پاچهانو د (اوری) ، د کارنانټک او د مرهټیانو د راجه ګانو اولادونو ریې اداره کړي. د روس له پاره د دوی او د هند د مملکتونو ترمنځ یو ازې د تجارتي معاهدو تړون بس دی ، لکه ځنګه چې د روس دولت د ځینو خپلواکو اسلامي حکومتونو مملکتونو سره همداسې چلنداو تګ کوي. یو مصلحت دادی چې دایران او افغانستان دولتونه دې دواړه د امارت له پاره د روسیې سره متحد شي چې هر یو ته بېلابېله ګټه ورسېږي .

روسيان ددېله پاره سروېته نه دی راغلی چې عسکریې په وچو مېرو کې تباه او سره شي او نه یې د انگریز سره کوم اخلاص او مینه ددې تگ څخنې ستنولی شي او نه یې ددوی ترمنځ کوم اړیکې او معاهدې بیرته گرځولی شي. سره له دې روسیان ښه پوهیږي چې انگریزان عهد او معاهده نه لري. بلکه روسیان ددې له پاره راغلی دي چې دمشرق په ځمکه تجارتي دروازې او لویې او ښې اغېزې یې پرانیزي او په ختیځ کې د انگریز پاچهي رنگه کړي. ځکه چې انگریزي حکومت هیڅ ملت ته کومه گټه نه ده پریښې. د روسیانو دا حرکت دبرتانیې دحکومت له پاره لوی عذاب دی، لیکن په هندیانو باندې د رحمت وریځ ده او خدای (ج) به ددوی له پاره دغلیم نه انتقام او کسات واخلي.

نو هندیان دې په دې خبره خوشحال شي او د هند پخوانی امیران او شهزادگان دې ځانونه تیار کړي چې خدای (ج) و ربانده دخوارۍ نه وروسته عزت راولی او د سر یتوب نه وروسته به د ازادۍ او خپل واکې خاوندان شي او د هغسې حکومت دحکم نه به وژغورل شي چې نه په وروز ره سوی لري او نه د مشرانو درناوی کوي.

گومان نه کوو او هیڅکله به یې ونه کړو چې دانگریزانو له پاره به دگړۍ په ورځ نه دار و پا او نه دمشرق په دولتونو، نه په هندیانو او نه دبشر د نورو اصنافو نه کوم صنف، سرستیال او مدد گار موندلی شي. ځکه چې د ځمکې په مخ به کوم داسې څوك پیدا نه شي چې دانگریز دحکومت له خوا ورته ضرر رسېدلی نه وي.

دانگریز حکومت پوه دی چې داخطر نژدې دی او په دې پوهیږي نن چې داخطر ده ته په هند کې پېښېږي، نو ضرر یې یوازې په هند پورې اړه نه لري بلکه داخطر دبرتانیې ټاپوگان لړزوي ځکه چې د دغو ټاپوگانو ژوندا او لویوالی یوازې په هند پورې تړلی دی، نو انگریز به څنگه پخپل بدعاقبت خبر

او پوهنه شی. سرهله‌دی چې خپله عسکری بېوزلی وینی او په‌دې‌هم‌پوهیږی چې دهند دخلکو زړونه ورځنی او بښتی‌دی‌او دقهر او کینی نه‌ورته اېشېدلی دی.خدای(ج)دې‌په‌بیړه سرهغه‌چاره‌وکړی‌چې‌دبې وزلو او ضعیفانو خلکو خیر او گټه پکی وی.(او دهغو کسانو په‌خپرمه کیږی چې‌سرهجلا شول او ددین په اصولو کې‌یې‌اختلاف او جگړې‌وکړې .له‌هغه وروسته چې دوی‌ته د اسلام دحقیقت څرگندد لایل راغلی‌وو.دغو کسانو ته‌ډېرلوی عذاب تیا کل شوی‌دی).دآیت‌شریف‌ترجمه .

په هندباندې دروسیانو یرغل نژدی‌شوی‌دی. ځکه‌دارو پاپه سوله او امنیت باندې دهغو دولتونو سیاست او تینگار، دروسیانو دمقاصدو سره مرسته‌کوی‌او دایو ډول اسباب دی‌چې‌دوی ته‌یې تیاروی او خپل مطلب ته‌درسېدلو له‌پاره یې‌نژدې کوی‌او دایو نوی غوندې‌سیاست دی .

که‌دایران‌او افغانستان‌دولتونه‌په‌دې کې‌سرهمتحدشی،نودهر یوله‌پاره به پکې ډېره برخه‌اولویه گټه‌وی.بېشکه‌دانگریز دحکومت‌نه‌درهند یانو کرکه دروسیانوسرهلویه مرسته کوی، مگر په‌دې لار کې ډېرغرونه او پیچومی شته چې هغه‌دافغانانو او فارسیانو ددوستی نه پرته په‌بل څه‌نه وهل کیږی! په‌دې کې شک‌نشته چې‌هند دروس دعسکری ځایونو څخه‌لیری‌دی‌او په‌منځ کې‌یې‌دوسره نامعلومې‌او اوږدې‌لارې دی‌چې‌اوس و رباندې‌هیڅ خبر نه‌دی .

روس‌دې‌ته اړدی‌چې‌دهند دمشرانوسره‌په تماس او خبروکی شی او داورته ضروروده چې‌دهندیانو په‌اخلاقو، عاداتو او ارزوگانو باندی خبرشی. روسیانو ته‌هم ددې‌نه‌پرته‌درسېدلو له‌پاره بله‌لار نشته ، مگر هغه وخت وررسېدلای‌شی چې‌فارسیان‌او افغانان په‌تولوحربی‌سو له‌ایزوچاروکی له‌ځان سره ملگری او شریک کړی .

روس ترهغه وخته پورې دفارس او افغان دولتونو څخه دهند دروازې په بېرته کولو کې سرسته نه شي غوښتلای چې ترڅو پورې يې دځان سره په ولجه او ګټه کې ملګري او ورونه نه کړي. که داسې يې ونه کړل نو فارسيان او افغانان به دوار ه د روس د دې لوړ مقصد له پاره يو کلک خنډ او ټينګ مانع شي.

روس به څنګه دغه اجسام وشلوي چې د هند لارې يې نيولې دي. ځکه چې په دغو لاروکې د زمريو پنځه غالي پراته دي او روسيان به ور ځنې په تنګو لارو باندې څنګه هندته تېر شي. که دايې په زړه کې وي چې د هند ولجه او ګټه به يوازې د دوی وي او دوی ته به پاتې وي، نو د روسيانو ځنې داخبره پټه نه ده او ددې چارې ګرانو الي هم ورته معلوم دي چې ديو هېوادځنې ديو داسې لوی قوم ليری کول چې په پېړيو پېړيو هلته اوسېدلی او دېر لوړ عظمت او ويا ړ ته رسېدلی وي، ډېره ګرانه خبره ده او ډېر وسرستيالانو ته اړه لري . په دې چاره کې دفارسيانو ددولت او دافغان حکومت نه پرته نو رډ څوك نشته چې ورسره سرسته وکړي .نو دعقل له مخې داسمه نه ده چې مېوې يې يوازې روس وخوري. داکار پرته له دې چې هند ته د تجارت دروازې بېرته کړي په بل څه سرته نه رسېږي. نو افغانانو ته لازمه ده چې سترګې وغړوي او په يوسم فکر او روغ عقل سره دځپلی راتلونکي برخې غم وخوري او دايرانيانو ورونو سره اتفاق ته اقدام وکړي، ځکه چې ددوی ترمنځ کوم داسې زړه بدی نشته چې دعمومي ښېګڼو داختلاف موجب شي. ځکه دوی ټول ديوې ستې نه راوتلي ښاخونه دي او په يو داسې مزي سره تړل شوي دي چې هغه د ټولو نه اشرف داسلامي دين مزی دی.

بايد دوی په دې پوه شي چې د ی مخالفت ته دوام ور کول، په تېره بيا په دې وخت کې ددوی او هم ددوی دهندي مسلمانانو ورونو له پاره بد دی. نو

فارسیانو او افغانانو ته لازم دی چې د دغه راغونډو ونکی سزی او دقومی او
نژادي رابطی سراعات وکړي او فرعی مذهبی اختلاف داسلامی کلمی دتیتو الی
سبب و نه گرځوی او حقیقی اړیکی پرې او غوڅ نه کړي. ځکه چې دادعقل نه
لیری ده چې جزیي اختلاف دټولو دورکاوی او تباه کېدلو علت او سوجب شی.
گومان کوم چې دوا ړه قومونه به هر وسرو پوه شوی وی چې دغه اختلاف
په دوی باندې څه وکړل ددوی ترسنځ دافرعی اختلاف ځینو سیاستونو په
پخوا او ختونو کې دشقاق او خلاف اله گرځولې وه او کېدای شي چې هغو
سیاسیونو ورځخه په تېر و وختونو کې یوڅه سېوې هم راشکولی وی. مگر
اوس دتباهی او ویجاړ تیانه پرته کوم بله مېوه نه نیسی او گومان کوم چې
دابه هیڅ هوښیار نه پته نه وی.
دافغانانو غاړه نسبتی ده که په دې وخت کې هم دافرعی اختلاف ټینگوی.
بلکه ورڅخه تېر دې شی او خپلی لرغونی ستی ته دې وگوري. ځکه چې له هرې
خوا ورځنی خطر و نه چاپیر شوی دی او دفارسیانو سره داتفاق نه پرته دخلاصون
بله لار نشته. اوس دیووالی او یوځای کېدو وخت دی.
افغانان کوم عذر نه لري او نه دعلت او دلیل وړاندې کولو ځای پاتی
دی، په تېره بیا چې اوس دفارس په دولت کې دصدارت واگی دیو داسې لوی
سړی په لاس کې دی چې دډېر قدر، لوی شان او لوړې پوهنی خاوندی. دده
ځنی ډېرې چارې دیووالی او وحدت سزیت نه شي پټولی. راز راز او ډول
ډول چارې په ده باندې کوسه اغېزه نشي کولای. دده یو په ډېر وسر تبو کې
ښکاری او دیووالی حقیقت ورته د کثرت په مقامونو کې ځلیږی. نو یووالی
دده مشرب دی او یوځای کېدل دده مذهب دی. ساته داسې ښکاری چې بې لــه
استشنا دهر ایرانی له پاره سهربان پلاردی. دې غواړي چې ټول په یوې خبری سره

راغونه کړی. بې له دې چې دمذهب اختلاف ته وګوری او بې له دی چې په فروعو کی سره بېل شی او دیوی خاصی تولنی مراعات وکړی .

په افغانانو واجب دی چې په دی وخت کې خپل لاسونه خپلو دغو رونو سره دقسم کولو او معاهدو تړلو له پاره وروغځوی او فرصت دلاسه ورنه کړی. په دوا ړو باندې لازم دی چې خپل اتفاق دخپلو وطنوالو له پاره دغلیمانو دجګړی په مقصد یو مز بوت دیوال او چمتو والی وګرځوی او دخپلو وطنونو دخیر او ګټې له پاره دیو لوی فیض دسرچینی په توګه ورڅخه کار واخلی . نودوی به یو لوړ عظمت ته ورسیږی او خپلو راتلونکو نسلونو ته به یو دایمی لو یو الی پریږدی .



# په ملتونوکی دخدای(ج) سنتونه

## او په مسلمانانو باندی یی تطبیق

(بېشکه چې خدای (ج) د هیڅ قوم حالت چې عافیت او نعمت دی نه بدلوی، تر څو پورې چې دوی د طاعت هغه ښه حالت چې ددوی په نفسو او ځانونو کی وی بدل نه کړی. ځکه چې خدای (ج) د هغه نعمت بدلوونکی نه دی چې یو قوم ته یې ور کړی وی، تر هغه پورې چې دوی هغه حال بدل نه کړی چې ددوی په ځانونو کې وی) . دآیت شریف ترجمه.

دغه دی دحکمتناك کتاب ایتونه چې حقه او سمه لار ښیی او دگمراهانو خلکو ځنی پر ته نور څوك پکی شك نه راوړی. ایا خدای (ج) سره له دی چې د هر وعده کوونکی ځنی ډېر رښتینی دی او دهر وعیدور کوونکی نه زیات قادر دی له خپلی وعدې ځنی مخالفت وکړ ؟! ایا خدای(ج) خپلو پیغمبرانو ته دروغ ویلی دی؟ ایا خپل پیغمبران یې یوازې او هك پك پرېښی دی؟ ایا خپل مخلوق یې غولولی دی او ناوړه لاریې ور ته ښودلې ده؟ نعوذ بالله! ایا ځلاند ایتونه یې خوشی او عبث رالیږلی دی؟ آیا پیغمبرانو په خدای (ج) پورې دروغ تړلی

دی او یايې ور پورې بهتان جوړ کړی دی؟ ایاخدای(ج) خپل بندګان په داسې اشارتونو او داسې رمزونو سره مخاطب کړی دی چې پرې نه پوهیږی او فکرونه يې ورته نه رسیږی؟ ایاخلك يې يو داسې څه ته رابللی دی چې ورباندې نه پوهیږی؟ نستغفر الله.

ایاخدای(ج) قرآن په داسې توګه په عربی ژبه نه دی رالیږلی چې هیڅ راز کوږوالی پکی نشته او هر څه يې پکی بیلابیل څرګند کړی نه دی؟ او د هر څه څرګندونه يې پکې امانت ایښی نه ده؟ نه! نه! — صفات يې سپیڅلی دی او د هغو خبرو څخه ډیر لوی دی چې ظالمان او زیاتی کوونکی يې د ده په شان کې وایی: پخپله وعده او وعید کې رښتنی دی. نه يې کوم دروغجن رسول په رسالت رالیږلی دی نه يې څه عبث کار کړی دی او نه يې موږ ته دسمی لارې څخه پرته بل څه راښوولی دی او نه يې ایتونه تبدیل شوی دی.

اسمانونه او ځمکی ورکیږی، لیکن د خدای(ج) د کتاب پوخ حکم له منځه نه ځی او نه يې کوم باطل شیان د خپلی اغیزی نه مخکی او یا وروسته مخه نیولای شی خدای(ج) وایی: (او هرومرو په تحقیق سره موږ په زبور کی د نصیحت نه وروسته لیکلی دی دا چې پر دغه ځمکه به مالکان کیږی او زما هغه بندګان به يې میراث خواره وی چې دوی به خلك وی.) د آیت شریف ترجمه.

او فرمایلی يې دی: (او خاص خدای(ج) لره او دده رسول لره او مومنانو لره عزت دی او په موږ د خپلی مهربانی له کبله د مومنانو سره مرسته شته.)

د آیت شریف ترجمه.

او فرمایلی يې دی: (ددې له پاره چې خدای(ج) هغه دین په ټولو دینونو باندې پورته کړی او غلبه ورکړي. او کافی بس دی الله به شاهد او حق ثابتوونکی.)

د آیت شریف ترجمه.

دا هغه شی دی چې خدای (ج) یې په محکمو ایتونو کې وعده کړې ده او بېخي تأویل نه منی او د هغو کسانو نه پرته چې لا ریې ورکه کړې وي، تاویل یې نه شي جوړولای او بې له هغو کسانو څخه چې غواړي د غه کلمات د خپلو ځایونو څخه واړوي. دغه د دې خدای (ج) بخښلی امت سره د خدای (ج) وعده ده او دغه سمه لاره یې د قیامت تر ورځې پورې ورته جوړه کړې ده او د دغه امت د لوی والی او عزت کوم حد یې نه دی ټاکلی.

هم دغه امت دی چې خدای (ج) دلبر و نه ډېر کړی دی او شان یې لوړوالی ته ختلی دی تر دې پورې چې پښې یې د لوړو غرونو په سرونو باندې ټینګې شوې دي او د لوړوالی له پاره یې لوړ غرونه لړزولي دي. د هیبت نه یې د غلیمانو تریخې چاودلې دي. د وېرې نه یې د خلکو زړونه ویلي شوي دي. د را ښکاره کېدو په وخت کې ورځنی هر څوك په هیبت کې شوی دی او په سبب کې یې هر عقل حیران شوی دی. مګر اهل حقو ته یې سبب څرګند شو او وې یې ویل: یو قوم چې د خدای (ج) سره ؤ، نو خدای (ج) ورسره شو یوه ډله وه چې د خدای (ج) مرستې ته ودر بدها و د خدای (ج) د سنتو سره سم روانه وه. نو خدای (ج) ورسره خپله مرسته وکړه.

د دې امت لومړي ذخیرې نه لرلې، وسلې یې نه وې، د جګړې سپاهیان یې نه لرل، مګر د دې ټولو نیمګړتیاو سره یې د نورو ملتونو صفونه څیري کړل، ښارونه یې د پښو لاندې کړل، د مجوسیانو برجونه او خندقونه منع نه شو کړای. د روم کلاګانو او شپولونو یې مخه و نه شوه نیولای، ګرانو لارو دوی بېرته ستانه نه شو کړای. د اروزګانو اختلاف یې په همت باندې کومه اغېزه نه شوه کولای. په زړونو کې یې د نورو بلهایي توب کوم تاثیر وانه چولی شو. د پاچهانو لویو او ښکلو ماڼیو، رازرازصنایعو او فنونو ،

ددایر و ار تو الی د هغوی دقو انینو تینګو الی او داصولو تنظیم پکی کوم تغییر رانه وست او نه دنو ر و ملتونو د تګی دفنونو سیاست په دوی کومـه اغېزه و کړه.

د هر قوم و طنونو ته یې چې لاړې و رجوړې کړې، نو ددوی امر ته به یې غاړه ایښو ده او هغه به یې مانه د هیچا په زړه کې دا خبره نه تېر یده چې دغه و ړه ړله به ددغو لو یو دولتونو ار کان او نوسونه د عظمت د تختې له سخه و رک کړې د هیچا په زړه کی دا خبره نه تېر یده چې داوړو کی تو لګی به په دغو غټو ملتونو باندې زو رو رشی او زړونو کې به یې و رته دخپل دین عقیدی تینګی کړی او ددوی او امر و ، عاداتو نو او شر یعتو نو ته به یې غاړه کښېږدی لیکن دغه خدای (ج) بخښلی ډله ددغو تولوخبر و او بیو زلی سره هغی اندازې پو رې سخکی لاړه چې بل ملت به هغو سره پر سختګ نه وی کړی .

هو کی ! دوی یو قوم ؤ ، و عده یې ر ښتینی ګڼلې و ه نو خدای (ج) و ر ته په اجر و نو و ر کولو کې و رسره وفاو کړه او و عده یې و رسره په ځای کړه او په دنیا کې یې لو یې او په اخرت کې یې نیګمر غی و ر په برخه کړه .

نن ددې ملت شمېر نژ دې دوه سوو میلونو ته ر سیږی او حکمی یې دا نتهلانتیکی سیحطنه دچین تر اخره پورې غځېدلی او خپری دی. ښې حاصلنا کې خاو رې لری، فصلو نه پکی کیږی ، ښار و نه یې لوی او ار ت دی .لیکن سره له دې لیدل کیږی چې دنو ر و له خوا و لجه شوی ، سالو نه و رځنی لو ټشو ، پر دیو و ر باندې غلبه سو ندلې او په خیلو نو او ښاخو نو سره یې و یشلی دی ا و حکمی یې تو تې تو تې کړی دی .

نن پکې داسې څو ک پاتې نه دی چې څو ک یې خبرې ته غو ږ کښېږدی او یا یې امرو منلشی. تر دې پو رې که چیرې په کو سو ځایو نو کې پاچهان پاتې وی

هر گوېځ پهیوه‌خو اشینې اختهوی او دشپې بیاپه‌بله‌بلاونښتې وی .و ختو نه‌یې دهغو دردوو نکو اسبابو نو له‌کبله تنګ‌شوی‌دی چې‌په‌د وی باندې راغلی دی او وېره یې پراسیداو هیلی‌زیاته شوې‌ده.

داهغه‌استؤ چې لو یو دولتونو بهورته جزیې ورکولی او ددې له‌پاره چې‌خپل‌ژوندوساتی، نو دمسلمانانوپه‌مخ کې‌به‌ډېرواړه واړه کېدل.مګرنن خپله بقاوژوندپه‌دې کې‌گوری چې‌خپل ځانونه دغو پردیو دولتونوته نژدې کړي.ای‌خدایه !داځه لوی‌مصیبت اوناورین‌دی !!داځو مره لویه خواشینی‌ده! ددې‌تپتېدلو سبب‌څه‌دی اوددې‌ښکته کېدلو علت‌څه‌دی؟ ! ایا موږ په‌الهی وعدو بدګومانه‌شو ؟معاذالله.ایادخدای(ج)رحمت‌ځنې نا امیده شو ؟اوګومان کووچې موږ ته‌یې دروغ‌ویلی‌دی؟نعوذ بالله .

ایا زموږ سره‌دخدای(ج)دمرستې‌په‌وعده کې‌شک راوړو؟ سره‌له‌دې چې‌دغه وعده یې‌په کلکه سره کړې‌ده.حاشا،سبحانه! دغسی‌نه‌ده او نه به‌داسې وشي.نوموږ ته‌پکاردی‌چې خپلو ځانو نونه ته وګوروا ود خپلو ځانونو څخه پرته‌نورخوك پړه‌نه‌دی.ځکه چې‌لوی خدای(ج) په‌خپل رحمت سره دملتونو دتګ‌له‌پاره سنت تپاکلی دی‌چې په‌هغو پسی‌دې لاړشي او بیایې ویلی دی‌چې( هیځکله‌به‌دخدای(ج)په‌سنت‌او عادت‌کې‌کوم‌تغیراو تبدیل‌و نه‌مومې).

دآیت شریف‌ترجمه.

پاك‌خدای(ج)په‌خپلو تېنګوایتونو کې‌موږ ته‌راښودلې ده‌چې هیڅ ملت ترهغه‌پورې‌دعزت دتخت‌څخه‌نه‌دی لویدلی اونه‌ورك شوی دی‌اونو م‌یې دوجودد‌تختې‌څخه‌نه‌دی لوېدلی،مګرکله‌چې‌دخدای(ج) دهغوسنتونو ځنې‌او ښتی دی‌چې دبالغه حکمت‌په‌اساس‌باندې ایښو دل‌شوی‌دی.ښکه‌چې خدای (ج)دیو قوم نه‌عزت،پاچهی ،هوساینه ،ښه‌ژوند اواسن اوخوشحالی ترهغه‌پورې

نه لري کوي چې ترڅو دغه قوم پخپله دخپلو ځانونو څخه دعقل رڼا، دفکر روغوالی او دپوهنې ځلاليري نه کړي او دپخوانيو امتونو او هغو کسانو په حال کې دخدای(ج) دکارونو عبرت ته بې پام نه شي چې دسمې لارې نه اوښتي، سره او تباه شوي دي، په دې ډول چې هغوی دعدل دسنتو او رڼا، دحکمت له لارې، دسم فکر، درښتيا وينا او دسپيڅلي زړه ځنې وګرځېدل. ځان يې دشهوت پالنې څخه ونه ساته په حق باندې يې غيرت ونه کړ، دخدای(ج) سره يې دوستي ونه کړه، دحق له پاره يې ملا ونه تړله، عدل يې سپک کړ، همتونه يې دحقې کلمې دجګوالي له پاره راغونډ نه کړل. په باطلو ارزوګانو پسې لاړل، په فاني شهوتونو نسکور پرېوتل او سترې ګناه ګانې يې وکړې. نو عزمونه يې ضعيف شول او خپل طاقتونه يې دعادله سنتونو په ساتلو کې ونه ښندل او دحق په لار کې سرېنه باندې يې دباطلو چاروژوند غوره کړ. نو خدای(ج) په خپلو ګناهونو ونيول او داعتبار کوونکو له پاره يې عبرت وګرځول.

لکه چې مخکې مو ياد کړل په دغو ښو او ښايسته خويونو پورې يې دملتونو پاتې کېدل او لوېدل تړلي دي او ددې خويونو د نشتوالي سره يې سرېنه او تباهي سلګرې دي. دا يو ثابت سنت دی چې دملتونو په اختلاف سره نه اوړي او نه دقومونو په تبديلېدلو سره بدليږي.

لکه چې خدای(ج) په پيدا کولو او موجودولو، درزقونو په اندازه کولو او داجلونو په ټاکلو کې نه بدليږي.

موږ ته لازم دی چې خپلو زړونو ته وګورو او خپل ځانونه او خپل اخلاق وازمايو او دخپل تګ لارې وګورو چې په دې پوه شو وچې موږ دهغو کسانو په خويونو پسې روان يو چې زموږ نه پخوا اوسنان و واو که نه! ! ايا موږ دپخوانيو ښو کسانو په قدمونو پسې روان يو او که نه؟! ايا څه

چې سوړ لړل هغه راځنې خدای(ج) پخوا واخیستل چې سوړ له ځانه لیرې کړل او که نه!؟ زموږ سره خدای (ج) پخپل حکم کې مخالفتو کړ او که نه ؟! زموږ په حال کې یې خپل سنت پر ځای کړ ل که نه ؟،

حاشا! خدای(ج) ددې دوول نښو څخه ډېر لوی دی او زموږ سره یې په رښتیا وعده کړې ده. مګر سوږ یو تر بله سره ښیل شوو او پخپلو چارو کې مو لا نجې وکړلې. دخدای(ج) سنښت مو و نه کړ. څه چې زموږ پخوانیو کړی وو او هغوی ښه ګڼل، موږ پر ښنو دل او پخپل ډېر ښت خو شحال شوو، لیکن موږ ته یې ګټه راو نه رسوله. نو زموږ عزت یې په ذلت، لوی والی یې په ټیټوالی بدل ایی په بېوزلی او باداری په سر یې تو ب سره بدل کړ ل. دخدای(ج) حکمو نه مو شاته واچو ل او ځان مو دخدای(ج) دسرستې نه وژغوره. نو دناوړو چارو په سبب یې جزارا کړه. موږ ته دتو بې او زار یو له دروازې نه پرته بله دخلاصون لار پاتې نه شو،.

ښنګه به خپل ځانونه پرهو نه بولو! موږ ګورو چې پردي راځنې په زور سره ښارونه لاندې کوی، وګړی مو خواروی او زموږ د بېګناهو وروڼو وینې تویوی. مګر په داسې حال کې هم زموږ په یو تن کې حرکت نه لید ل کیږی.

ددې ملت داډېر شمېر او لوی لښکر د خپلو ځانونو او وطنونو دساتنې په لار کې خپل هیڅ زیاتی، مالونه، نه لګوی. ددنیاژوند په اخرت باندې غوره ګڼی. هر یو غواړي چې عمر یې زر کاله وای، که څه هم خوراک یې ذلت او خواری، غوښتنه یې ټیټوالی او دهستو ګنې ځای یې سپکوالی وی. زموږ روابط هم په ختیځ او هم په لویځ کې سره وشکېدل. نژدی ده چې یو تر بله سره پر ګړ شو. وروردوروسره غمشریکی نه کوی او ګاونډی

دګاو نهي په‌و ير خپه‌نه‌دی .په سو ړ کې‌يو دبل دسعاهد ې او ذمې سر اعات نه کوی. دخپلو لو يو نشانو نو احترام نه کو و.نه‌دخپل انګړ نه پر دی شړ و او ځنګه چې‌ر اته اسر شوی‌دی دمالو نو او سر و نو په‌قر بانی سر ه ددين عز ت‌نه کو و .

ايا هغه کسان‌چې‌دمسلمانانو جامې يې‌اغو ستې وی، داګو مان کوی‌چې خدای(ج) به‌تش دژبوپه‌وينا سره‌ورځنی‌خو بن‌شی؟ په‌داسې‌حال کې‌چې‌زړه‌ته يې‌خه عقيده نه‌وی‌رسېدلی؟ اياخدای(ج) په‌دې‌خوشحاله کيږی‌چې‌عبادت‌يې‌تش په‌الفاظو او خوله خوځو لو سره و شی.(نو که‌ګټه و رته‌و رسيږی پر ې‌خو بن‌او سي! او که‌څه تکليف و ر ته‌پېښ شی‌نو خپل مخو نه به‌اړ وی .دغسی کسان په‌دنيا او اخر ت کې‌ز يان کار اندی.) دآيت شر يف‌تر جمه.

ايا دوی‌ګو مان کوی‌چې‌خدای(ج) به‌مو دز ړ و نوپه‌خبرو کې‌و نه از مايې! او دايه سپينه‌نه کړی چې‌په‌ز ړ و نو کې‌يې څه‌دی؟ ايامو منان‌په‌دې‌نه‌پو هيږی چې‌تر څو پو رې سپيڅلی ، ناولی ، رښتينی او درو غجن سر ه‌پکی بيل‌نه کړی، دوی‌تش دخو لی په‌ايمان باندې نه‌پر يږ دی . ا يا هېره يې کړه چې‌ښکه خدای(ج) دمو منانو څخه‌ځانو نه‌او مالو نه ددې‌له‌پاره اخيستی‌دی‌چې مرستی‌ته يې و در يږی.او کلمه يې‌جګه‌شی‌او دخدای(ج) په‌لار کې هيڅ مو من په هيڅ ډو ل‌سر ه نه‌په‌مال او نه‌په‌ځان بخل کوي.ايايو مو من‌ځان ته هغه‌و خت‌مو من و يلای‌شی چې‌دايمان په‌لار کې په‌مال او روح سر ه‌يې يو قدم هم اخيستی‌نه وی .هر و مر و مو منان هغه کسان‌دی‌چې حال‌يې ددې آيت سر ه بر ابر وی : (خبر ه‌همدا خبر ه ده،مو منان هغه کسان دې‌چې کله‌و ر ته و و يل‌شی.:خلك ستاسې دضر ر رسو لوله پاره را غونډ شوی‌دی او و رځنی وو ير يږی . نو

ددغسې خبرې پهاو ر ېدلو سره ددوی ایمان لاز یا تیرړی او ټینګیږ ی )

دآیت شر یف تر جمه.

مو منان هغه څوك دی چې دغسې یو مهم كار ته ملاوتړی او اقدام و ر ته و كړی. نو وایی چې : (مو ږ لر ه خدای (ج) بس دی او خدای (ج) څو مره كار جوړوونكی دی.)

دآیت شر یف تر جمه.

څنګه به یو مو من د مړ ینی نه و و یر یږی، په داسې حال كې چې په دی هم پوهوی چې د خدای (ج) په لار كې و ژ ل شوی د خدای (ج) په نز د باندې ژ و ندی دی او تل تر تله به په نېمكر غی او د خدای (ج) د نعمت او ر ضا په خو شحالی كې وی. څنګه به یو مو من د خدای (ج) نه پر ته د بل چا څخه و و یر یږی چې خدای (ج) و ایي: (كه ېشپړ مو منان یاستی د بل چا نه مه و یر یږی او یو ازې ز ما څخه و و یر یږی.)

نو هر یو دې خپل ځان ته و ګو ري او د شیطان په و سو سو پسې دی نه ځی او هر څو ك دې خپل ز ړه د هغی و ر ځی نه سخكی و از مایي چې دو ستی او شفاعت پكی ګټه نه ر سوی . د هغو مو منانو سر ه دې خپل خو یو نه او صفات تطبیق كړی چې د هغوی څو یو نه او صفات خدای (ج) بیان كړی او څر ګند كړی دی .

نو كه په مو ږ كې هر یو د غه كار و كړی، نو هر و مر و به د ځان په ېر خه كې د خدای (ج) عدل او مهر بانی و ګو ر و . او مو ږ ته به سمه لار و ښیی. یاسبحان الله! ېښكه ز مو ږ ملت سر ه یو دی او د غلیمانو د تیری او ز یاتی په و خت كې یې د هغوی څخه ساتنه یو مهم فر ض دی. د غه خبر ه د خدای (ج) د كتاب په نص، د امت په اجماع او د سخكنیو او و رستنیو په تائید ثابته ده .نو په مو ږ باندې څه شوی دی چې پر دې ز مو ږ په ښار و نو باندې و ار په و ار یر غلو نه كوی او یو دو لت د بل نه و ر و سته پر مو ږ باندې ز و ر ر او ړی. هغه څو ك چې د ایمان

نبی‌لری هر چېری‌شته او دځمکی په هر ځای کې پراته دی ،مګر نه په‌دوی کې دینی غېږ راپورته کیږی‌او نه‌دبل‌دشړ لوله‌پاره پکی کومه سېږ انه‌شته.

ای‌دقرآن‌اهله !تاسو تر هغه وخته‌پورې هیڅ نه‌شی کولای چې‌تر څو دقران‌په‌احکامو برابر روان‌نه‌شئ‌او او امر او نو اهی‌یې په چار وکې دحکمت سره‌و رځنی داسې زده‌نه کړی‌ءلکه ځنګه‌چې ستاسو پخوانیو کسانو خپلی چارې په‌دغه تو ګه مخکی بېولې .

ای‌دقران‌خلکو !داستاسو کتاب‌دی‌نو داپکی ولولیء چې: (نو هغه وخت‌چې‌یو محکم‌سو رة‌نازل کړشی او په‌هغی کې‌جګړه یاده‌شوې وی،نو ته‌به‌هغه‌کسان وینی‌چې‌په‌زړونو کې ناروغ‌وی‌تاته‌به دمړینی‌له ویرې دهغو کسانوپه‌څېر ګوری‌چې‌بې‌سدی‌ورباندې‌راغلی‌وی.) دآیت‌شر یف ترجمه .

ایاتاسو نه‌پو هیږیء چې‌داایت دچاپه حق کې‌راغلی دی ؟دادهغه چا په حال‌نازل‌شوی‌دی‌چې‌ایمان نه‌لری.ایایو مو من په‌دی‌خوشحالیږی چې دد غه ایت مصداق‌وګرځی.دایمان دېرمدعیان په‌خپلو هغو چارو باندې وغولېدل چې‌دوی ته‌بنې‌او غو رهښکاره‌شوې‌دي.او یا په‌هغو چارو باندې تېرو تل‌چې خپلو ارزوګانوو رته ښې‌ښکاره کړی‌دی.(ایادوی‌په‌قران کې‌فکر نه کوی. یاددوی په‌زړونو باندې قفلونه لګېدلی‌دی.) دآیت شر یف‌تر جمه.

زه‌داخبره کوم‌او دچادنه‌منلو پروانه‌لرم: د هر چازړه‌ته‌چې ایمان و رسېد، نو دایمان په‌لار کې دټولو چارو څخه‌لو مړی دمال‌او روح په قر بانی ذ ه‌ډیل کیږی او په‌دې کې هیڅ عذراو دلیل هم‌نه‌وړاندی کوی.ځکه‌چې عذر وړاندې کول‌دخدای(ج) په‌سر سته کې‌دنفاق‌نښه‌او دخدای(ج)نه دلیری والی علامه ده‌ددې‌ټولو سره چې‌ددې‌است ګټه به‌دقیامت ترورځې پورې وي .

لکه چې موږ ته دا خبر د نبوت مقام هم راکړی دی. موږ چې دا اوسنی حال ګورو هیله کوو چې دا به عارضي وي له منځه به لاړ شي او ورک به شي.

که پرهیزګار علماء پاڅیږي، خپلې وظیفې ادا کړي او د خدای (ج) او رسول (ص) دپاره مومنانو ته نصیحت وکړي، د قران روح ژوندی کړي او مومنانو ته یې شکلي معناګانې وروښیي او د خدای (ج) هغې وعدې ته متوجه شي چې هیڅ راز مخالفت پکې نه راځي. نو و به ګوري چې حق به جګ او باطل به رانسکور وي. هسې رڼا به یې وګوري چې سترګې پرې رڼا کیږي او داسې کارونه به وکړي چې فکرونه به پکې حیرانیږي هغه حرکت چې موږ یې په دې ورځو کې د ډېرو مسلمانانو څخه ګورو، موږ ته ددې زیری راکوي چې خدای (ج) خلک دیو حق غږ له پاره تیار کړي دي چې دمسلمانانو کلمه پرې راغونډه او ټول موحدین پرې راټول شي. موږ امیدلرو چې دا کار به نژدې وي.

که مسلمانانو دا کار وکړ او د خپلو فرایضو دادا کولو له پاره سره راغونډ شول، نو توبه به یې ومنله شي او خدای (ج) به ورته عفوو کړي. ځکه چې خدای (ج) په مومنانو باندې د فضل خاوند دی. په علماو واجب ده چې د دې ګټې راوړلو له پاره بېړه وکړي. په دې برخه کې لویه ګټه د مسلمانانو راغونډول او متحدکول دي او په ټولو کې د لوی فضل او لیاقت کار د ادی چې تر ټولو لومړی اقدام ورته وکړي. (چا ته چې خدای (ج) لار وښیي، نو په لار سم شو، او د چا نه یې چې لار ورکه کړه، نو هیڅوک به د هغه له پاره کوم لارښوونکی ملګری موندلی نه کړي.)

# وهـــم

ای‌خدایه! زموږ له سترگو دوهم پردې‌لیری کړې چې حقایق هغسی وگورو لکه‌څنگه چې‌وی. چې‌په‌پای کې‌نه‌لارو رکه‌کړو اونه‌بدمرغه شو. خدایه! وهم‌وو ژنی! وهم کله‌نا کله دایرو هیندارەشی او هیبت ناك تصویر و نه ځلوی ا"و کله د خوشحالیو تمثیل کوونکی او حکایت کوونکی شي. وهم په‌هرحال کې‌دحقیقت حجاب‌او درناپه‌سترگو باندې‌پردەده. په‌ارادې باندې پاچهی‌لری او په عزم باندې حکم چلوی. شرورا جلبوی او خیر شړی. وهم ضعیف غښتلی ښیی او نژدی‌لیری ښکاره‌کوی. دامن په‌ځای کې وېرەاو دامیدپه‌ځای کې‌مړینه ښکاره‌کوی.

وهم، په‌وهم اخته‌شوی له‌ځانه بېخبره کوی‌او د خپل واقعی حس څخه بې اړوی. موجودیې په‌خیال کې‌معدوم راځی اومعدوم ورته موجود ښکاری. دوهم‌خاوندپه‌نامو جوده دنیاکې دی‌او په‌داسې عالم کې اخته‌وی چې‌نه‌لیدل کیږی. دوهم خاوندداسې‌وی لکه‌چې میرگیونیولی‌وی. په‌دې‌نه پوهیږی چې‌څه سې کړی‌دی‌او څه رانه پاتی‌شوی دی.

و هم یو ناو لی روح دی‌چې دانسا نی‌نفس سره‌گډدی او سړی د ناپو هۍ
په‌تیارو کې غو رځوی. کله‌چې‌حقایق‌پټشی نو و همو نه به‌حکم پید ا کوی
او ارادی‌به‌په‌خپل‌و اك کې‌را ولی. نو دو هم‌خاو ندان لا پسی دو ر کاو ی
خو اته را کاږی.نو په ژو رو‌ناسعلو مو کندو کې‌لو یږی ،لا ز نه‌سو مې ا و
نه پری‌بر ا بر یږی.

انگر یز یو ملتؤ چې‌قو تو نه یې‌را غو نډ،شمېر یې بشپړ او فتو حاتو ته
تیار ؤ.دا هم په‌داسې و خت کې‌چې‌ختیځ ملتو نه‌دخبرې‌په بېلو الی او دار زو گانو
په‌اختلاف سره‌اخته و و او دغر بیانو دحالاتو ،صنا یعو او گټو څخه یې بې
خبره و و.نو شر قیانو به هر ه‌نااشناخبره معجزه‌گڼله او هر ه‌نوی‌اختر اع به‌یې
سحر یا کر امت باله. انگریز په دغه و خت کې و خو ځیداو شر ق ته و رغی.
ډېر هېوادو نه‌یې و رځنی لاندې کړل‌او دشر ق او سېدو نکی یې دارو پاپه
نااشنا صنعتو نو باندې و وېرو ل‌او بې زړه‌یې کړ ل .داو هم په هغه و خت
کې لا پسی غښتلی شو چې ا نگلیس دوی‌ته‌ځینی حیلی او چلو نه‌هم و ړاندې
کړ ل. تر دې‌چې‌ددغو ېېو زلو نه یې‌زړو نه و و یستل‌او څه یې چې‌لرل د هغو
نه‌یې‌بې‌خبره کړ ل.بلکه‌ددوی دزړو نو او عقلو نو څخه‌یې‌پخوا نی خاطرې
لوټ کړی.مالو نه یې‌و رځنی و اخیستل ، دخپلو ځمکو نه‌یې و و یستل او
دخپلو و طنو نو نه‌یې‌و شړ ل .دانگلیس دو لت په‌دې‌لو ټ او و لجه مو ړ هو سا
او بډای‌شو او نن یې هر څو ك‌گو رې‌چې‌په‌لو یو او ار تو و طنو نو او هېو ادو نو
باندی حا کم‌دی.قو تو نه یې‌په دغو تو لو ځایو باندې و پشل شوی دی او
ځای‌په‌ځای‌پکې پر اته دی.

په‌شر قی و طنو نو کې یو ملك هم‌نه‌پیدا کیږی چې‌ددوی یو لږ غو نډ ې
شمېر به‌پکې وی‌حال‌دادی‌چې په هر ځای کې ضعیف او کمز و ر ی دی،نه دغلی

رسولو طاقت لري او نه د دفاع . په دغو ځايونو کې لږه غوندې ښکالو د دوی په قوت لړ زار او لی او یایې په یو ځل له منځه وړی. په دې خبره باندې انګریزی ملت ښه پوه شوی دی. او تل پخپلو ځایونو کی په لږ زا او وېره کې دی چې قوتونه یې ونه شلیږی او هېوادونه یې له لاسه ونه وځي. په عالم کې د هر راز حرکت څخه لږ زیږی په ختیځ یالو یدیځ کې چې هر مصیبت او درد پیدا کیږی د انګلیس په هغو قوتونو باندې لږ زار اولی چې دنړی په بیلو برخو کې و یشل شوی او تو تې تو تې شوی پراته دی. مګر د دې تو لو خبرو سره شرقیان په دې خبره نه پوهیږی او دوهم حجاب و رڅخه پټه کړې ده .

هر شرقی ته ځپل و هم وا یی چې انګریز لکه د پخوا په شان غښتلی او پیاوړی دی . د انګلیس او د شرقیانو مثال د اسی دی لکه چې یو سړی په بېغو له ځای کی تیر یږی او د یو سړه ، بې حرکته په لار کی پر اته زړی جسم وګوری نو وهم ورته په زړه کی دا خبره وا چوی چې دا یو څیر و ونکی او د اړونکی غښتلی ځناور دی ، نو د غه سړی پر ته له دې چې تحقیق وکړی چې زه د څه شی نه و وېرېږم ، د وهم د شک له کبله د لارې څخه بیرته راستون شی او په پای کی و لږ زیږی او ولویږی او دو پرې ی له لاسه سړ شی .

یادد غو لیدو نه و روسته و رځنی لار ورکه شی او د اشتباه سره مخامخ شی . بلکه کله لا داسی هم وشی چې د لارې د ورکولو او تېر وتلو له امله د سړ ینی د ځای سره مخامخ شی .

که چېرې و وایو چې دا وهم لکه ځنګه چې په شرقیانو مسلط دی په غربیانو هم مسلط دی ، نو تېر وتلی به نه یو . ځکه چې اروپا یان دانګلستان لیری ملکونو ته په هغسی نظر ګوری ، لکه چې د برتا نیی

تیاپو گانو ته‌گوري. دانګلستان حکومت ددې وهمې قبې په منځ کې پلټی وهلې، ددې خیالی لویو الی په تخت باندې ناست او کلایې له ځانه چاپېره کړې ده. انګلیس د خپل قدرت ضعف‌ګوري او تل یې د پټو لو هڅه کوي.

د وهم د پر دې نه‌بله لویه، تو ره او پېړه پر ده نشته، له‌همدې امله یې موږ ګورو چې په هرې نوی پېښه کې عسکری جلب‌ته اقدام کوی اوددې له پاره چې‌خلک ودا روی نو د خلکو په منځ کې اوازې او انګازی خپروی. خلک غولوی او په‌ستړ ګو یې پر دې راځروی او په همدې خبر و غولید لی د حقیقت نه یې خبره پاتی کیږی.

که چېری داسی نه وی! نوپه‌لږوستر ګو غږ ولوسره د غه پرده پورته کیږی او په‌انګریز باندی د تباهی قیامت جوړیږی. انګریز هندته‌د یو راغونډشوی قوت سره لاړ اود هند دخاورې په‌لویو ښارونو کې‌یې د فرانسویانو، هالینډیانو او پرتګالیانو سره په‌سخکی کېدلو کی په سیالی لاس پورې کړ. مګر انګریز د خپل مکر اوحیلی په برکت په د غو ښارونو کې‌د نورو څخه مخکې شو. کوم څه چې‌له‌انګریز سره په‌دې کار کی سرسته وکړه، هغه د هغی زمانی د هندیانو بې خبری‌وه، یایې د زړونو سپېڅلتیا وه‌چې پرې وغولېدل اود تېر وتلو له امله ورته رامات شول. په د غو ښارونو یې‌زوروا چاوه او هندی سیمې‌یې یو په بله پسې یوازې د خپل ځان کړې. نورودولتونو ته یې د یوڅو تنګو ویجاړو ځمکو نه پرته چې‌د یادولووړنه‌وی، نور هیڅ پری نه ښودل. هندیان تر

هرڅه زيات دانگريز په دې چل او مکر باندې د پر وغو لېدل چې ورته به يې ويل : موږ ددې تيرى کوونکو ( فرانسه، هالينډ او پرتگال ) دولتونو دلاسه ستاسو خلاصون غواړو ، ځکه‌چې دا زياتې کوونکي او متجاوزين غواړي چې ستاسود هېوادونو واکمنان شي او موږ انگريزان ستاسو دخپلواکۍ او آزادۍ نه پرته بله هيڅ ارزونه لرو .

اوس موږ گورو چې انگليس په‌اصلي هند، هندوچنين‌او برما کې په دوه سوه پنځوس مليونو خلکو باندې پاچهي کوي : دغه ټول دانگريز حکومت کول بدگڼي او غواړي چې ځان ورځنى خلاص کړي . او بل هر حکومت که عادل وي او که ظالم ، دانگليس نه يې ښه گڼي . دد غوملتونو هر وگړي دا تصور کوي چې په عالم کې‌به بل داسې حکومت نه وي چې په زور او زياتي کې دانگليس اندازې ته ورسيږي او دانگليس په اندازه دکبر او جبر خاوند وي . مگر سره له‌دغې کينې چې دد غو خلکو په زړونوکې ورته شته اوسره له دې چې دلويو ښارونو او پراخو ځمکو خاوندان دي اويوتر بله سره ټينگ اړيکي لري .

بايد ددغه تيرى کوونکي حکومت نه ځانونه‌خلاص کړي . بل هيڅ قوت نه موندل کيږي چې دغه رتلي حکومت ته يې غاړه کيږدي .

دانگليس‌ټولي عسکري قواوې پنځوسوزروته‌رسيږي ، مگر که چيرې دهغو کوچينو هېوادو قواوې سره راغونډې شي چې يوراز خپلواکي لري اود پاتې خپلواکۍ دلاسه وتلو باندې

ویریږی، نو د ریو لکو ته به ورسیږی. دا برسیره په هغه قوت باندې دی چې کهچیرې نور هغه هېوادونه وسلې ته لاس کړی او ملاوتړی چې دانګلیس حکومت په زورنیولی دی او خپلواکی یې بیخی له لاسه ورکړی ده.

نو کهچېری دغه وهمنهوی چېددوی تول حواس یې نیولی دی او پخپله مخه کی شیانو نه یې بېخبره کړی دی، بلکه د هغو نه هم بیخبره پاتی دی چې پکی موجود دی. نو دغه دلوړ قوت خاوندان به دیوه ضعیف قوم په منګول کی ښکېل نه وای چې تل ترتله وربانده دسپکاوی اوخواری عذاب څښی.

کهچیرې دوی لږ غوندې د اعتبارستر ګیوغړوی او په دې پوه شی چېخدای (ج) ورته طبیعیقوت ورکړی دی پهاوسنیحال کی دانګریز ضعف ته په ځیر سره پام وکړی، نو دخلا صېدلو امید به پخپل مخکی اود نجات ځای به د خپلو پښو لاندې و وینی او په دې به پوه شی چې د خپلو ځانونو او ښارونو خپلواکی یې نه په کوم ډېر کړاو اوزحمت پورې اړه لری اونه دډیرو سالونو قربانۍ اوګرانوو ینو تویولو ته ضرورت شته!!

پهاروپایې دولتونوکی داسی یو دولتهمپیدا کیږی چې دانګلیس‌نهله دې امله ویریږی چی پهلاس کی یې ډېر هېوادونه اوډېر داسی لوی ملتونه دی چې دوګړودشمیر له مخی یو دولت هم ورتهنه رسیږی اودقوت له پلوه دغه لیری وطنو نههم د برتانیی دتاپوګانو په قوت قیاسوی. دوی ګومان کوی چې انګلیس به ددغو هېوادونو د مدافعی له پاره هغوسره قوت

لری لکه چې پښپله په انګلینډ کی یې لر ی او یا به هغه ته نژدی وی .
دې ته نه ګو ر ی چې دا نګلیس وجودا و س دو مره او ږدشو ی او خپور شوی دی که
چیرې لېرغو نډې وخوځو ل شي نور ګونه به یې هرومرو وشلیږي او دځمکې په مخ
تو ل قوتو نه به یې توتې توتې شی . تر دې پو رې چې په هیڅ ځای کی
به و رته قو ت پاتې نه شی .

رعیت شو ی خلک یې د و مره تنګ شو ی دی چې حد نه لر ی .
هر ه شیبه ددې ا نتظا ر لر ي چې د باند ې څخه پر ې جګړ ه را شی
او ددوی سر ه په دې کی مرسته و کړ ی چې د ظا لمو حا کما نو نه
کسات وا خلی . که چیر ې هغه دولت چې له ا نګلستا ن ځنی ډا ر یږ ی
د چار ې حقیقت ته پا م و کړ ی ، نو په جګړ ه کو لو کی به کو مې
مشور ې او فکر ته ا ړ نه شی . ځکه چې خبر ه د و مر ه ښر ګند ه
شو ې د ه چې که د و هم حجا ب او پر د ې یې ستر ګی پټی کړ ې نه
و ي نو کو م د قیق فکر ته ا ړه نه لری . خدا یه تو هم و وژنې ! !

بېشکه چې عثمانیا ن د ا نګلیس دو لت ته د روس د و لت په څېر ګو ر ی
او دا یې فکر د ی چې د ا نګلستا ن د و لت پر د وه سوه ا و پنځو س
ملیو نو خلکو باندې حکم چلو ی. نو دا ګو ما ن یې کړ ی دی چې د دغه لوی شمېر
د خلکو دولت سر ه جګړ ه به و ر ته ضر ر پیښ کړ ی. دو ی کا شکی خپلې ستر ګی
هغی خو ا ته هم وا ړوی او د ی ته هم پا م و کړ ی چې د ا نګر یز
عسکر ی قو ت و ر ته معلو م شی . د ا چې څنګه به لښکر ی
دجګړ ې ډ ګر ته وچلو ی ، نو و رته ښر ګند ه به شی چې د ا ډ ېر
ملیو نه خلک د ا نګلستا ن د دو لت په قو ت کی هیڅ ا عتبار نه لر ی ،
ځکه چې د ا په حقیقت کی د هغو ی د غلیمانو قو ت د ی . د و ی

فرصت لټوي چې کله به د انګليس داطاعت نه ځانونه خلاص کړي!
نو کله چې دانګليس دولت د کوم بل دولت سره په جګړه پيل وکړي نو وبه يې وينې چې دانګليس د دولت د عسکرو سره دوه سوه او پنځوس ميلونه وګړي په جګړه بوخت شي. په تېره بيا دانګر يزد لاس لاندې پنځوس مليونه مسلمانان، عثماني دولت خپله قبيله او د تېښتې ځای ګڼي. دغه مسلمانان د هند په ښارونو کې ځانونه لوړنی جګړه مار ګڼي.
کاشکې عثمانيان په دې خبر وای چې دانګلستان دولت د هند د مسلمانانو سره ځان څومره پوست ښيي. ځکه چې دغه مسلمانان خپل ځانونه د عثماني دولت قسميان او سرستيالان ګڼي او هغوی د خپلو حقوقو څخه د پرديو شړونکي بولي.
تاسو پوه شی؟ زمادې قسم وی چې که چېرې عثمانيان په دې پوه وای چې دانګلستان په رعيتو باندې څومره معنوي حکومت لري! او دغه معنوي قوت يې د پوهانو او هوښيارانو په خبر استعمال کړې وای نو هيڅکله به يې دانګليس د کبرونو او حکمونو له امله د صبر کولونه ترخه غړپونه او ګوټونه تېر کړي نه وای.
اولکه د مصر دمسئلې غوندې به يې په خپلو چارو باندې افسوس کړی نه وای د مصر مسئله په حقيقت کې ډېره مهمه عثماني او يا اسلامي مسئله ده.
په دې کې شک نشته چې د عرابي په زمانه کې د مصر او سپډونکې دوه ډلې وو. يوه ډلې غوښتل چې د توفيق پاشا په رسم او دود باندې خپل پخوانی حالت وساتي او پرې ټينګ ودريږي.
بلې برخې يوه اړخ يې عربي ته مايل ؤ او بله خوا يې پخوانی دود ته

کړه وه. نو له همدې اسله دادو يمه ډ له په شک کي وه. دا خو ثابته ده چې دشک خاوندعزم نه لري. لو سړ نی ډ له تل په وېره کی وه. نو انګريز بې د کوسی حقيقی جګړې نه مصر ته ورننووت. دا جګړه يو ډول وېرول او دد وی سره لږ غوندې رغبت او مينه کول وو چې په څنګ کې يې يو څه د سيسی هم ورسره ملګرې وې.

دانګريز کارونه د مستعدو زړونو خوښ شول او ځای يې پکی ونيو. نو د خلکو د يو والي مزی وسپړ و د شو او خلک د عرابی نه واوښتل. ځکه چې په زړونو کی يو تر بله مينه پاتی نه شوه.

په مصر کی د هيڅ په دې باور نه ؤ چې انګليس به په مصر کی د توفيق پاشا د ټينګو لو نه پر ته بل څه ونه غواړي. او مصر به د يرغلونو ځنی خلاص کړی. مصر يانو دا خبره اسانه وګڼله سره له دې چې په لاس کی يې دا غښتلی او مز بوت صحبت موجود و چې د خپل تصرف لاندې ځمکه کی د شرعی باداری ښښتن د خپلی خوښې دې، دانګريز په حکومت يې نيک ګومان وکړ. په دې ډول انګريز بری وموند او پښی يې ټينګی شوی. تر څو چې کافی زمانه تېره شوه او دانګريز زړتګی او بد نيتی ښرګنده شوه. نو اوس د مصر په خلکو کی داسی څوک نه موندل کيږی چې د دوی خواته هڅه وکړی. بلکه داسی څوک به نه وي چې ددوی سره به کينه ونه لري او ددوی د ورکاوی ارزو به ورسره نه وی او په دې خوښ دی چې يو داسی کار وشی چې انګريز پرې سر شی. مګر وهم ورته د وېرې مجسمه جوړه وی او عزم يې له منځه وړی.

لکه چې د مصر وګړی د هغو اسبابو څخه بېخبره دی چې د هغو په

واسطه یې ددوی په ښارونو منگولې ښخې کړې او ځان یې ټینګ کړی دی. لکه چې مصریان گومان کوی، هغه وخت چه انگریز مصر ته ننوت، دانگریز په شړلو کی دوی ټول سره په اتفاق وواوانگریز په زورسره پکی راننوت اوټول یې مغلوب کړل. زه گومان کوم چې مصریانو هغه حال هېر کړی دی چې ددوی په منځ کی موجود ؤ او انگریز ددوی وطن ته د همدوی د مرستې نه پرته په بل څه شان ورننوتلی دی؟ دا وهم عجیب شی دی. همدغه کسان ووچې پوره دوه کاله لگیاووچې دانگریزی عسکرو د غلبې او د نیل پهوادی ورننوتلو له پاره یې هڅې کولی. کهد غــه گومان کوی چې دغه عسکر دخلکو په خوا رولو قادر دی او خلک د برتانیې دولت ته په غاړه ایښو دلو مجبورولای شی. نو په دې باطل گومان سره یې خپل ځانونه په لوی لاس غلیمانو ته سپارلی دی. او هغوی پکی نفاق اچولی دی.

آیا مصریان د یو متفکر په ستر گو د انگریز قوت ته نهگوری چې ترڅو په دې پوه شي د برتانیی‌له وسې دا پوره نه ده چې که چېری‌خپل ټول طاقت هم ولگوی، نومصر او سوډان ته دشلو زرو عسکرو څخه زیات‌نه‌شی‌لېږ لای‌ایامصریان‌په‌دې نه‌پوهیږی‌چې که‌دانگریز لښکر په‌سوډان کې‌بوخت شی او په ختیځ کې‌یوسپك حرکت پیل‌شی‌نوانگلیس‌به‌سمدستی‌وارخطااوقوت به‌یې لږشی او دې ته‌به‌اړشی چې دغه وطنونه‌خپلو وگړو ته پریږدی خدایه وهم ووژنې!

شك‌نشته چې انگریز دسمندری حربی‌قوت خاوند دی او څولکورځنی

منکر کېدلای نه شي، مګر د دغه سمندري قوت اغېز په امنیت او کراري کې
څرګند شوی ده. نه شي کولای چې د دوه فرسخو نه ډېر کوم کار وکړي.
نو که فرض کړو انګریز خپل سمندري پوځ په بندرونو کې اچوي، نو ایا کولای شي
چې د هغو د سیوري لاندې تل تر تله ځان ټینګ وساتي. ځکه که چېرې خلک
ور سره په ښارونو کې دښمني را واخلي نو دوی په وچه کې هومره عسکري
قوت نه لري چې طاعت کولو ته یې مجبور کړي. نو د وهم نه پرته نور هیڅ
نشته .

غربیانو له خپلو سترګو څخه د وهم پرده لیری کړې ده او په دې پوه شول
چې انګریز یو ضعیف مملکت دی چې د غښتلو حقوق یې لاندې کړي دي، تش
یو لوی غبرګ او یو زوړ تور سیوری دی. اوس دولتونه د دوی سره د جګړې له پاره
خوځېدلي دي. ځکه پوه شوي دي چې انګریز د ملتونو له پاره د شمېر له مخې یو
چنجی دی چې د بېوزلۍ په حالت کې روغوالی ویجاړوي او د جسم جرړې
تباه کوي.

پاتې شوه دا خبره چې د شرقیانو څخه د غه وهم ورک نه شي چې دوی هم له دې
حرکاتو څخه ګټه واخلي او خپلې چارې په خپلو لاسونو کې ونیسي. د یو مریي
توب نه بل ته لاړ نه شي او یو پردی بادار په بل پردي بادار بدل نه کړي. ای خدایه
د وهم پردې له سوبړ څخه لیرې کړې او پخپلو چارو کې سمه لار راته وښیې .
د بدو لارو او ناوړو چارو نه مو وساتې او د ډېره ګټه مو په برخه کړې .

# بې زړه توب

(هر چېر ته چې یاستيء سړینه به سو لاندې کړي، که څه هم په کلکو پخو کلاګانو او ماڼیو کې او سئ.) دایت شریف ترجمه

عیان شاهدي وايي او اثار په دې دلالت کوي، کوم انسانانو چې ځینې چارې کړي دي، عقلو نه ورته حیرانیږي او افکار ورته هك پك پاتې کیږي ناپوهان چې ورته نظر وکړي، نو وايي دا معجزي دي، که څه هم د پیغمبر نو په زمانو کې نه وي او دعاداتو خوارق یې ګڼي، که څه هم درسو لانو دلانجو په وخت کې نه وي. کله یې کوم بې خبره دافلاکو حرکاتو او دستورو اروا حو او دښو طالعو سمون ته منسوبوي. ځینې نیمګړي لاپکي وايي چې دا چاري اتفاقي او هسې پخپله شوي دي دوي ځکه داسې ګومانو نه کوي چې اسباب یې نه شي معلوم لي او حق ورته څرګند نه وي. لیکن هغه چا ته چې خدای (ج) پوهنه ورکړي وي او سمه لاري یې ورښودلې وي، نو پوهیږي چې لوی خدای (ج) حکیم او په هر څه خبر دار دی او دنوی شان او قدرت خاوند دی. هره چاره او نوي پیدایې یو سبب ته اړ کړي دي او هر کار عمل ته ضرورت لري. انسان یې دټولو کایناتو له منځه په یوي عقلي سوهبي او روحاني قوت سره خاص کړي دي چې په دغو سره ناآشنا چاري څرګندي کړي.

دهمدې مو هبې له کبله شرعي تکليف و ربانديې ايښو دل شوی دی او له همدې امله د پو هانو په نز د د ښو ستايلو او بدو يلو مستحق دی او هم دخدای (ج) په نزد دثواب او عذاب مستحق دی.

هر کله چې يو د پو هي خاوند صحيح قياس ته وگوري، نو دی به دانساني قو او په تشابه او د بشري فطرت په تماثل کې هسې يو څه وويني چې دعقلو نو په نز دی والی، بلکه يو شانته والی باندې دلالت و کړي. دا به و رته خپل روغ فکر څر گنده کړي چې خدای (ج) هر انسان کمال اخيستلو ته تيار کړی دی او داسې قوتې ور کړي دي چې ښې ښې چارې پرې کولای شي، سره دلږ غو ندې تو پير نه چې په هغه يو ازې يو ځير لک شخص پو هيږي. دادحير انی ځای دی: دهر انسان په ځته کې د کمال استعداد شته. په هر چا کې دا هڅه سو جوده چې و يار يو ازې د ده وی او دنو رو نه دې په لو يو چار و متمايز وی. او دهغه مطلق جو ادلويه سهر بانی او فضل دی يو ازې په د ه وي چې هيڅ يو پلټو نکی نه نا اميده کوی او نه کو م سو الگر او غو ښتو نکی شړی. ليکن هغه وخت چې قصد کو ونکی په خپل قصد کې رښتينی وی او دعز م خاو ند په خپل زيار کې مخلص وی. نو په دی کې څه علت دی چې د ښی آدمو لو يه بر خه او ډېر شمېر تيټ ژو ندلری او په ټيټو ځايو نو کې پاتې وی. خپل مقصود او هغه څه ته نه شي رسېدلای چې طبيعي هڅه يې غو اړي. په تېره بيا چې دغه خلک سو منان وي او دخدای (ج) عدل، وعده او وعيد تصديقوی. نو د ښو چار و د کو لو نه دثو اب اميدلری او د ناو ړ و چار و په کو لو سره يې دعذاب څخه و يريږي. دهغې لو يې و رځې په راتللو اعتر اف کوي چې هر چا ته دخپلو اعمالو جز او ر کوي. (نو هغه څو ک چې ديوې ذرې په اندازه دخير او نېکۍ چاره او عمل کوي. نو دهغه جز ا او اجر به و وينی

او هر هغه څوك چې ديوې ذرې په اندازه دشر او بدی كار كوی ،نوجزا به يې ګووري .)دآيت شر يف تر جمه.

څه شی دی چې خلك يې د كار كولو نه منع كړی دی او په كندو كې يې غورځوی. كله چې چارې دخپلو اسبابو نه راوو بستلی شی او حقيقتو نه دخپلو حدو دو او دو دونو څخه وغو ښتل شی نو دهغوله پاره به داسې علتمو نده كړو چې دهولو علتو نو سو راو دهر راز خلل منشاءوی ،چې هغه بې زړه توب دی .

بې زړه توب يو داسې شی دې چې دهيواد ونوستنی يې سستی كړی او ودانی يې ويجاړه كړی ده. بې زړه توب يو داسې شی دی چې دملتو نو دورو ګلوی سزی يې شكولی او نظام يې ګډو ډشوی دی. بې زړه توب داسې شی دی چې د پا چهانو عزمونه يې سست كړی دی ،نو تختونه يې نسكو رشوی دي. دعالمونو زړونه يې كمزوری كړی دی ،نو مانۍ يې نړولی دي .

بې زړه توب داسې شی دی چې دخير لټو ونكو په مخ د ښېګنې دروازې پورې كوی او دلا رو ونو دستر ګو نه دلار ښو دنې نښې پټوی .خلكو ته په ځان باندې دخواری پيټی ورړل او ديو زلی كړاو زغمل اسان ښكاره كوي . دسر يې توب درو ند پيټی ورته سپك ښكاری او انسان دهرراز سپكاوی او خواری زغملو ته تيار وی او هر راز ګرانو او درنو پيټو وړلو له پاره دشا ژوبلو لو ته چمتو وی چې دزړ ورتيا او اقدام په وخت كې به هيڅكله په دغسی كړ وا ونو اخته نه شی. بې زړه توب انسان په داسې شرم اخته كوی چې هر سپيڅلی روح او لوړ همت دهغه نه سر ينه ډېره ښه ګڼی. بې زړه ته دسختو خواريو او تنكسو تېرول اسان وی او په ټيټو حالاتو كې تنګ ژوند لو يه هوسا ينه او لوی نعمت ګڼی. يو شاعر ويلی دی. څوك چې خپل ځان سپك وګڼی ، نو د ټيټو الی عمرورته اسان بر يښی. ځكه چې مړی په ژوبلتيانه خوږ يږی .

داسې هم نه ده بلکه بې زړه هره ګړی دمړينې ترخه زهرغړ پوی مګر بیا هم په هر حال خو ښوی که څه هم ده ته دستر ګو نه پرته نور څه نه وي پاتې چې غلیمان پرې وګوري. یا خپل یو خوږ او ګران پرې نه شي لیدلای. ده ته د خپل ځان نه پرته نور څه پاتې نه وي چې په لو یو سپېرو غرو نو باندې یې وخېژوي او د احساس نه پرته چې ډېر درانه خوږ و ر باندې حس کړي. داد بې زړه ژوند دی چې هر څه یې په وچ قناعت سره بایللي دي او ګومان کوي چې ګوندې خپل مطلب ته رسېدلی دی او ارزو یې ترسره شوې ده.

بې زړه توب څه شی دی؟ د هرې هغې پېښې نه ځان په ځمکه کول دي چې د ده طبیعت یې نه مني. یو ه روحې ناروغي ده. د حافظې هغه ښه قوت چې یو طبیعي رکن دی د انسان څخه بیایي.

بې زړه توب اسباب لري!! که موږ د هر یو جو هر و ګورو، نو هر و مړو به و وینو چې د ټولو سبب یې د مړینې څخه وېره ده. هر ژوندی او ذیروح مړ کېدونکی دی. مړینه داسې و خت نه لري چې و پېژندل شي او نه داسې نېټه ده چې څوك پرې پوه شي. مګر د تیټ عمر بې زړه په دې حال کې هره شېبه ورته انتظار لري. سره له دې چې د مړینې نېټه د اجلو نو د مقرر وونکي څخه پرته بل چا ته معلومه نه ده. (او هیڅوك نه پوهېږي چې سبا به څه کوي او هیڅوك نه پوهېږي چې دی به په کوم ځای او کوم ځمکه کې مري.) د آیت شریف ترجمه.

د مړینې و ېره تر دې حده پورې ډېره وي چې د اوژوندي ناروغي انسان د دنیا او اخرت د نیکمرغیو او خوشحالیو څخه بې خبره کوي. هو !! انسان له خپله ځانه غافل کېږي نو ګومان کوي هغه شی چې خدای (ج) د ژوندسا تلو موجب ګرځولی دی یعنې زړه ورتیا او کار ته اقدام کول د ده د فنا او و رکاوي سبب دی

ناپوهه گوښان کوي چې په هرقدم کې سرېنه ده. سړ ه له دې که څېړی یوځل هغوشیانوته وگوري چې ددهٔ مخکې دي: لکه انساني اثار، یا هغوشیانوته چې دلویو مقاصدو خاوندان پرې برياليشوي دي، یا هغو کلکو کو لیوته نظر و کړي چې په خپل سز له کې يې ترپښو لاندې کړي دي، ده ته څر گندوي چې دغه و پړي خالص و همونه، دغو لانو غږ و نه او دشیطانانو و سوسې دي او په ده باندې يې پر ده غو ړ و لي ده. نو هیبت نیولی، دخدای (ج) دلارې نه يې گر ځولی او دهرې گټې نه يې بې برخی کړی دي.

بې زړه توب يو داسې دام دی چې د زماني حالات او مهلکات يې د دی له پاره غوړ وی چې خلك پری هلاك کړي او سلتو نه و ر باندې و ډار وي. دهرې تيتې چارې علت دی او د هر بدخوی منشاء ده. دټو لو بدبختيو بنسټ دی او په دنيا کې دټو لو فساد و نو جر ړی او مکر و ب دی بې زړه تو ب د هر راز کفر سو جب او باعث دی. دټولنو او ډلو تر منځ در ز پيدا کوی او دخپلوی سزی پرې کوی.

لښکر يې ماتوی، بيرغو نه يې راښکته کوی او پاچهان پاس له اسمانه په ځمکه راغور ځوی. خاينان په وطنی جگړ و کې و لی خيانت کوی، ؟ ايادا بې زړه تو ب نه دی نو څه دی! چې په تيټو ستر گو خپل لاسو نه ډډ و اخيستلو ته او ږ دوی. کله ديو څه له پاره مثال راوړل ليری ښکاری، مگر که څېړی فکر و شی نو دبېو زلی څخه دډار علت په حقيقت کې دسړ ينی ځنی و ړ ه ده. دغه حالت په در و غ و يلو، نفاق او هغو نار و غيو کې هم اعتبار لری چې دانسان ژ و ند و يجاړ وی. و ړ ه د هر انسانی فطرت خاو ندله پاره شرم دی. په تېره بيا هغه چا ته چې په خدای (ج) او رسول (ص) او داخرت په و رځ ايمان لری او هيله لری چې د خپلو چار و ښه اجر و سو سی او دعزت مقام ته و رسيږ ی.

لازم دی چې داسلامی ملت وګړی دخپل دین دغوښتنی سرهسم دټولو خلکو نه زیات ددې تېټ خوی (بې زړه توب) څخه ځانو نه وژغوری او له ځان نه یې لیری کړی، ځکه چې دادخدای(ج) درضا په لار کې یولوی خنډدی اوسو منان د خدای (ج) دخوښی نه پرته نور څه نه غواړی. دقرانلوستونکی پوهیږی چې خدای (ج) د سړینی سرهسینه دایمان نښه ګرځولې ده او دمعاندانو زړونه یې پرې ازمایلی دی او دهغو کسانو په حال کې چې سومنان نه دی داسې فرمایې :(ایاتادهغو کسانو حال ته نه دې کتلی چې دوی ته وویل شول ،دجګړې نه لاسونه ونیسی او لمونځ سم اداکوی،او زکات ورکوی. نو کله چې ورباندې جګړه فرض شوه، نو په دغه وخت کې ددوی یوه ډله دخلکو څخنی و ویرېدله. په داسې توګه چې لکه څوک دخدای(ج) نه و ویرېږی او یاددې نه هم زیات. او وېې ویل (ای زموږ ه خدایه او ولې دې پر موږ جګړه فرض کړی ده، او ولی دې موږ تر هغې نژدې نېټې پورې وروسته نه کړو.) دآیت شریف ترجمه.

دخدای(ج) دکلمی دجګولو دپاره ،دحق په لار کې ځان مخکې کول او دسرو نوقربانی دایمانلوسړ نی نښه ده. الهی کتاب یوازې په دې اکتفا نه ده کړی چې لمونځ اداشی، زکات ورکړ شی او لاسونه دمنهیاتو څخه ونیول شي داهغه او امر دی چې سومنان، کافران او منافقان ټول پکی شریک دی، بلکه یوازینی دلیل یې دحقی کلمی دجګولو او الهی عدل په لار کې سامښند لګرځولی دی بلکه دایی یو داسې رکن ګرځولی دی چې ددې څخه پرته بل کوم یو دوسره اعتبار نه لری .

څوک دې ګومان نه کوی چې بې زړه توب او اسلامی دین دواړه په یو زړه کی یو ځای کېدای نه شی . ددې د ین هره ټوټه ، زړورتیا تمثیلوی او ټول د زړوروتوب تصویر دی. بېشکه چې د دی ستې

اساس د خدای(ج) له پاره اخلاص دی او دخدای (ج) دخوښی له پاره دهر څه هیسته کول دی .

مومن هغه څوك دی چې په دې ستیقن وی چې د سړینی نیتې د خدای(ج) په لاس کی دی . هغسی یې اړوي چې څنگه یې خوښه شی . د فرضو په اداکولو کی سستی د نیتې زیاتوالی ته کومه گټه نه رسوی . او اقدام اوورتگ یکی یوه شیبه نیمگړ تیاهم راوستلای نه شی . مومن هغه څوك دی چې ددې دوه صفاتونه پر ته خپل نو رڅان تهنه گوري چې یا به د معزز باداار غوندې ژوندکوی او یا به خدای(ج) ته ئژ دې بختور سری اوروح به یې ډېر واوړو ځایونو ته خیژی او د مقر بو ملایکو سره به یوځای کیږی .

څوك چې غواړی بې زړه توب په هغو شیانو باندې د ایمان سره یوځای کړی چې محمد (ص) راوړی دی نو خپل ځان یې وغولاوه او خپل عقل یې تېر ویست او هوس پرې لوبې وکړې . حال دادی چې د غه راز انسان هیڅ ایمان نه لري .

له همدې اسله سوړ دانبیاو دورثه وڅخه هیله کووچې حق واوروی ، د خدای (ج) ایتونه بیان کړی او د خدای(ج) د کلمې د جگولو له پاره ورته دا قدام اسر وکړی . د سستوالی او ناستې نه یې منع کړی او د خدای(ج) د واجباتو اداکول ورته وښیې . سوړ عقیده لرو که چیری پوهان ددې فریضې (امر بالمعروف او نهی عن المنکر ) دادا کولو له پاره لړ وخوځیږی او عاسو خلکو ته د قران شریف معنا گانی وښیئی او راژوندی یې کړی او د مسلمانانو زړونو ته یې ننباسی ، نو په ملت کی به یې د اسې اغیزه

وگورو چې تل ترتله به یادیږی اویوه ورځ به یې وویئو چې په دې دنیا کی به بیا هغه پخوانی لویې پیدا شی چې دلوی خدای(ج)لویی ده. ځکه مومنان له دې کبله چې د پخوانیو څخه ورته پاتې ده او په زړونو کی یې د اسلامی عقاید و اغېزی شته، نو داړوعظ او حرکت نه پر ته بل څه ته اړنه دی یو ځل به د زمر یو په څېر راپاڅی او خپله ورکه کړې به ومومی او موجود به وساتی او د خدای(ج)په نزدستایل شوی او محمود مقام ته به ورسیږی.

# په سوډان کې د انګریز

# رېز د یدل

انګلیسي جرایدو یو تلګراف نقل کړی دی چې د دونقلانه ستندار د جریدی ته رارسېدلی دی بیا یې مکرر کړی او مفاد یې خو ورځې پر له پسې ثبت کړی دی چې حاصل یې دا دی: «د دونقلاپه بناراو دانګریزی لښکر و تر منځه د محمد احمد د را تګ خبری کیږی او دا خبر په ټولو لښکری ځا یونو کې خپور شوی دی چې ده د وه لښکره تیار کړي دي. یو یې د صحرا له خوا راځی او بل یې د نیل په غاړو رادروسی. او هر سرو به انګریزی لښکر وته یوه داسې ډغره ورکړی چې درد به یې و نه زغملی شی. نه دې اسله په دې عسکرو کې ډېر اضطراب، ناراسی او تشویش پیدا شوی دی. په تېره بیاد دونقلا په لښکر کې زښت ډېر تشویش پیدا شوی دی. دا وېره یوازې د ډاراو هیبت څخه نه ده پیدا شوی، بلکه له دې کبله چې کله یې یقین راغی او دا ورته ثابته شوه چې سلطان، د محمد احمد په کارونو خوښ دی. بلکه په دغو خوا او شاکی ټولو مسلمانانو ته اغوال رسیدلی دی چې دجګړې له پاره ځانونه تیار سی کړی او انګریزد یو کلک او بدبخت غلیم په څېر وګڼي او داسی مقاومت دی ورسره وکړی چې د هر رازوسلې څخه استفاده وکړی.

موږ پوهيږو چې ټول مسلمانان او وطنوال دا په ځان فرض گڼي چې دانگريز د پر مختگ مخه ونيسي اوددوی په لار کې تر خپلې وسې پورې خنډونه پيدا کړی .ځکه چې دين او وطن په موږ باندې حق لری ددې مبارکې چارې له پاره سلطانی حکم ته اړتيا موجوده ده.الهی شريعت او طبيعی ناموسونه په هر ملت او وطن کې دوطن ساتنه غواړی او دخپل انگړ نه د نورو د منع کولو غوښتنه کوی.په دې لار کې سړ ينه رواکوی ،بلکه دبا غيانو او ظالمانو په مدافعه کې يې واجبوی. هر عاقل دې ته را بولی چې ځان دحيله کوونکو له چلونو څخه وساتي او دهغو بدو او ناولو اروا حو څخه ځانونه وژغوري چې په ځينو صورتونو او شکلونو سره ځليږی او په خپلې ظاهری ښکلا سره دخلکو عقلونه له منځه وړی او په خپل ښکاره صورت سره دستر گو رناوی ورکوی .

دغه ډول کسان دشر او فساد زيږندی دی او دفتنو او فساد بادونه ترې پيدا کيږی دغه دپر ديو ارواح دی چې دوطنونو دحرمت سپکاوی يې کړی دی ، اخلاق يې و يجاړ کړی دی او خلک يې ذليل کړی دی.دوطن نه مدافعه طبيعی شی دی او دژوندانه فرض دی،طبيعت ورته داسې هڅه کوی لکه چې خوړلو او څښلو ته يې کوی.نو ځکه څوک چې دغه فرض ادا کوی دهغوی څوسره ستاينه کيږی .

هو کې! تاريخونه د دوی د ښکلو صورتونو په ښو او صافو سره ډک دی او هغه وخت يادېږی او ځليږی چې يو کتونکی دهغو خائيانو په تمثالونو باندې تېر يږی چې دخپلو فطرتونو څخه او ښتي وی او ددايمی لعنت او تل تر تله شرم صورتونه يې ورته جوړ کړی وی. همدا سبب دی چې شيان په اضدادو سره پېژندل کيږی .

موږ یو ازې خاین هغه خوک نه ګڼو، چې وطنونه او ښارونه په نغدو پیسو خرڅوی او غلیم ته یې د روغو یا ناچلو پیسو په مقابل کې ورسپاري (هغه پیسې چې وطنونه او ښارونه پری خرڅ شوی دی، ټولې ناچلې وی)، بلکه خاین هغه دی چې د خپل وطن په خاوره کې د غلیم قدم د ټینګولو له پاره پرېږدی. حال دا چې په شړلو یې قادر وی. همدغه خاین دی چې په هر ځای او هر ټولنه کې پیداشی او خپل ځان هر رنګه ورښیی.

هغه خوک چې دیو داسې فکر او تدبیر قدرت لری چې د غلیمانو حرکات وځنډوی او د خپل دغه قدرت څخه کار نه اخلی، خائین دی او هغه څوک چې خپله کار نه شې کولای، مګر یو کاریګر ته د لارښوونې قدرت ولری مګر دومره هم نه کوی، نو دا هم خاین دی.

څوک چې دنن ورځې کارسبا ته پرېږدی او د غلیمانو په لیری کولو کې په خوله یا په لاس کې سستی کوی نو هغه هم د خیانت په ګناه اخته شو. هر وطنی او ملی خاین د انبیاوو او رسولانو په وینا سره ملعون دی او د ټول عالم په نظر کې بد دی. د خیانت ګناه څومره لویه ده. (د وطنونو په شئوناتو کې مساهله).

په هر څه باندې چې ډیره زمانه تېره شی نواغېزه یې ورکیږی او رسم او خاپ یې له منځه لاړشی، مګر د خیانت داغ زمانی نغښتلی نه شی او نه یې ډېرې مودې او زمانی پټولای شی.

د غښانو، پاچهانو او اسپراتورانو نومونه ورک کیږی، مګر د خاینانو نومونه له منځه نه ځې. د خاینانو نومونه د زمانی په مخ یو ډول ناولتوب دی او د امکان د عالم پر مخ یو خیری دی. د خاینانو نومونه تل تر تله په بدو کې پټ نغښتل شوی دی، قلم، د خاین ناوړه او صاف نه شی بیانولای، نو خلکو ته یې لویه ګناه ور په زړه کیږی.

او س‌مو ږ بیر ته خپلې خبرې ته را ګر ځو .مو ږ تل په دې یقین لر و چې شاهانه ذات چې د ټو لو مسلمانانو د پاره لوی پلار ،د دین ساتندوی او د شر یعت ضا من دی له ټولو خلکو نه لو مړی د ده ته لازم دی چې په اسلا مي ښار و نو کې د غلیما نو حر کت ته نظر و کړی اود هغوی د مخنیوی او د چار و دو یجاړو لو په لار کې خپل زیار او کو ښښ و نه سپموی .

داسې نه شي کېدای چې سلطان بېغمه کېني او داسې پو هه ا و لو یه ټو لنه چې د ټو لو څخه و رته زیات اخلاص لری او د ده حکو مت ته یې غاړه ایښې ده، د پر دیو د حکو مت لاندې عمر تېر وی ا و زړه یې په عثماني، اسلامي او مصري حقو قو باندې د انګریز د ظلم او ناو ړو چار و له امله تنګ شوی دی. په دوی باندې د انګر یز تېری او ظلم داسې حد ته رسېدلی دی چې نو ر یې نه شي زغملای اوامکان لری چې د خلکو زړو نه نو ر هم پسې لا تنګ شي او په زړو نو کې یې و رته کینی را و پاریږی چې د صبر زغری و رستې شی او د زحمت زغری و رته و یلې شی .

نو ای سنسر یانو ! دامو ښار و نه دی ،دامو مالو نه دی، دامو نامو سو نه دی، دغه سو د دین عقیدې دی او دغه سو اخلا ق اوشر یعت دی، غلیم ستا سی دو اك په و اګو منګول و لګو له او په چل سره یې لو ټ کړی ء .غلیم د ر سره د دو ستی د بیر غ لاندې جګړه و کړه، بیایې د ر باندې تنګسه را وسته ا و ټو لې چار ې که عسکری وی ، که مالی ، که اداری او قضایي، د ر څخه و نیو لی او هیڅ شی یې د رته پرې نښو د او د خپل هېو اد د خدمت کو لو نه یې محر و م کړی ء. سره له دې چې تاسو د خپل هېو اد د خدمت کو لو له پاره د هر چانه مستحق یاستی .

کاشکی ! چې په تېر و وختو نو کې سو شړ لې و ای، غلیم د با ند ینی سیاست د ښو له امله په امن کې نه دی او ستاسو داخلی قوت لا تر او سه و رك

شوی نه دی. غواړي چې ستاسې زړونه ځانته راواړوي او د خلکو سره پاسته
وچليږي. نو هغه وخت به بيا څنګه شي چې پښې يې ټينګې شي، دلته بيرغونه
ودروي او فضا ورته د مخاليفينو څخه تشه شي.

تاسو د دوی د پرښو دلونه څه امید کوئ او ور څخه څه هیله لرئ
چې خپلې واګې مو ورته سستې کړې دي؟ او د ده د معارضې نه دربانديې څه هيبت
راغلی دی؟ تاسو چې د دوی نه د کوم خير او ګټې اميدلرئ، نو هغه
فاسد او هم او باطل خيال دی! تاسو په خپلو سترګو وليدل چې ستاسو کارونه
يې درړنګ کړل، هوساينه يې در څخه واخيستله، خلک يې د خدمت کولو نه
محروم کړل، ستاسو په زرګونو کورنۍ يې بېوزله او فقيرې کړې، ستاسو
ښارونه يې غليمانو ته وبخښل، ستاسو کرنې، تجارت، صنعت او داسې نورو
عامو ګټو ته يې ضرر ورساوه او ستاسو په مخ يې د کسب او کار دروازې
وتړلې. نو اوس يې نيت دی چې ستاسو په ديني چارو لکه او قافو کې هم ګوتې
ووهي. اوس يې قصد کړی دی چې ستاسو يووالی ورک کړي او ستاسې قوت
له منځه يوسي. کله يې چې ستاسې لښکرې وشړلې، نو دا يې په دې لار کې
لومړنی کار ؤ نو پای به يې څنګه وي؟

د څه شي ځنې وېريږی؟ ايا د دې څخه ډاريږی چې: که د خپل وطن حقوق
ادا کړئ او غليم مو له خپلې سيمې وشړئ، نو مالونه او د خپلو چارو نتيجې
به مو نيمګړې شي؟ هو! ستاسو د ځينو په زړونو کې به هم دغه خبره تېريږی!
ليکن دا ډېره عجيبه ده! تاسو چې له کومه څه نه ويريږئ، نو په هغه کې بې
له دې هم د خپلې ناستې له کبله پراته ياستئ! مالونه، مېوې او فصلونه مو هسې
نيمګړي شوي او د خواشينيو سيلابونه دربانديې راغلي دي او افسوسونه مو
زيات شول.

که تاسو خپل ځان له دې څخه هم زيات خوار او تيت وساتئ، نو غليم به لا ډېر نور تاوان هم درو رسوي او ډېر کارو نه به مو و يجاړ او تباه کړي. که د غليم پښې ستاسو په سنځ کې ټينګې شوې، نو يو بل ای به هم درکې ښو زلې پاتې نه شي او هر يو غټ به مو وړو کې شي.

که چېرې درته دروغ ښکاري! نو خپل مستقبل په اوسنۍ هينداره کې وګورئ او خپل حال مو د پخوانيو په تاريخونو کې مطالعه کړئ. ايا تاسو له دې نه و پرېږئ که چېرې خپل فرض ادا کړئ نو ژوند ته به مو کوم خطر پېښ شي. امکانلري چې داډول و هم ستاسو يوې ډلې ته پېښ شي.

په دې پوه شئ چې ستاسو غليم اوس کمزوری دی، قوت ورځنې تللی دی دولت نه ورته راغونډ شوی دی او په هره شېبه کې دده د چارو نتيجې او دده د تصرف دعوا قبو حساب ورځنې غواړي. بيا هم دی لکه چې نور ډاروي، تاسو هم وېروي. انګرېز په خپل تګ کې ګړندی دروسی او خو سره زړېې چې دلاسه کېږي ځان د مقصد ځای ته رسوي. هرې خواته ګورې چې د ځان له پاره کوم د هوساينې او امن ځای ولټوي.

داخو هر چاته ښکاره ده چې څوک منډې وهی نو هغه په لمده ځمکه ښوېږي او پر سخې غورځېږي. خو که تاسې په دغه وخت کې يو لږ غوندې مقاومت وکړئ او د پښو نه يې ونيسئ. يا تاسې ستاسې سيمو ته دده دراتګ سره خپله کړکه او ناوضايت ښرګند کړئ او د خپلې ناخوښۍ غږ پورته کړئ. نو ګورئ به چې په اوبو کې به يې ښو رهله و راپه ښرګنده شي، ورېځ به يې سپېره دوړه او توره به يې پخه او بېکاره ښکاره شي. نو دده د تګ سخه به ونيسي، په ده باندې به غښتلي شئ ددې په رابېکلو او هيسته کولو سره به د دولتونو د پاره

یو غښتلی صحبت شيءاو دعامو او خاصو حقوقو دبې احتراسي له کبله به يې ملزوم او پړ کړيء. دخپلو کارونو څخه به يې دظلم او تيرۍ لاس وباسي اوداسې معاهده به درسره وکړي چې په هغې سره به ستاسې او دټولې ارو پاحقوق وساتل شي.

لیکن که چېرې تاسو خپل غلیم پر یږدئ، چې خپل ځای ته ورسیږي او کار یې پوخ شي، سو ډان بهانه کړي او دمصر دلوړو سیمو څخه خپلې لښکرې چاپېره کړي! (خدای (ج) دې یې دې ته نه رسوي.) نو هغه وخت به خبره ډېره سخته شي او مخنیوی به یې گران شي. ددمسره دجگړې له پاره به ددولتو نو دلیل ضعیف شي. ځکه چې نور دولتونه دیو غښتلي دلیل په توگه ورته داوایي چې دی ددې خبرې توان نه لري چې په ځان یې دمصر هوساینه او اصلاح فرض کړې ده! یعنې که انگریز په مصر کې نه وی نو هلته به نظام گډوډ شي.

که چېرې غلیم هلته ټینگ شو او تاسو کرار کېناستی ء، انگر یز خپل قدرت څرگند او دخپلو پاتې کېدلو له پاره یې خپل دلیل پوره ثابت کړ ای شو چې په تاسو باندې حکم وکړ ای شي. نو په تاسو باندې یې دخپلې باداری بری وموند ستاسې وینې، مالونه او دژوندانه ټولې چارې دده دظلم په منگولو کې کېوتلې.

او س تاسو کولای شيء چې غلیم ته ضرر ورسوي اودی درته زیان نه شي رسولی، نو که لږ نور وخت هم تېر شي، نو خبره به معکوسه شي او د مقاومت نه به یې عاجز شي بیا به په دې سبب سره سباستاسو دخوارولو دپاره دده په لاس کې دتیرۍ او زیاتی متروکې وو ینيء.

که تاسې دمړ ینې او یادخوارۍ ځنې وېرېږيء نو ایااوس له تا سو څخه لیرې دی؟ چې ستاسو یو شمېر بې گناه کسان په باطلو شبهو سره نیسي سپکوي یې، خواروي یې او ډېر درڅخه وژني. غلیم به درسره ډېر زړد هغو خبرو

حساب و کړي چې په زړونو کې مو تېرې شوي دي او هم به ستاسو په رګونو او بدنونو کې دوينو دخوځېدلو او جريان پوښتنه د رڅخه وکړي! لکه څنګه يې چې په نورو هېوادونو کې ستاسو دنورو ورونو سره کړي دي او کوي يې ،تاسو سره به هم هماغسې وکړي او هيڅ يو به مو هسې پاتې نشي.

تاسو دخپلو چارو خاوندان ياستې. ستاسو سره يې دغسې نيت دی. کولای شيءچې دراتلونکې وېرېاوداوسنې ضررڅخه دڅان ژغورنې په غرض دخدای(ج)نه مرسته وغواړئ .نو که خوښه مو وي پخپلو ځانونو زړه وسېزيء او که نه؛نو دهغې بلاسره مخامخ شوي ءچې ورڅخه وېرېدلېء.

ای زماقومه! تاسو دخپلو کتابونو څخه دخپلو پخوانيو له خبر وځنې خبر نه ياستيء! چې وايي :زړورتيادهر چاخوښه ده،تردې چې غليم يې هم ښه ګڼي او بې زړه دهر چا حتی دمور او پلار هم بدراځي. پوهېږئ چې هيڅ قوم پسه تيتوالي کې او هيڅ خپل او قبيلې په ظلم او تيرى کولو کې عزت مو ندلی نه دی.

ولې خپل ځانونه دنورو په څېر په دنيا يې درجه کې سم نه ګڼيء. ايا تاسو دنورو غليمانو سره په څه کې يو شان نه ياستيء؟ اياتاسې په هغو باندې درښتينې ايمان او صحيحو عقيدوله کبله جګ نه ياستيء .ايا تاسو هغو زړورو ته ورته نه ياستيء چې وطنونه يې ونيول او او س په خلکو باندې باداري کوي؟ ايا تاسو دادعوي نه کويءچې زيات شريف عنصر او ښکلی جوهر ياستيء ؟ نو اياکه تاسې دخپلو حقوقو داخيستلو له پاره ملاوتړيء نود غليمانو له لاسه به درته څه تکليف درورسيږي .

دسړينې څخه دوی هم ويريږي او دزيان څخه هم دوی ډاريږي .دوی هم ستاسو غوندې خوږ يږي.تاسولا دخدای(ج) نه اميدلريء ،مګر دوی ترې بې برخې

دی.ستاسی غلیم دځه له پاره خپل مال او سر په خطر کښې اچوی؟ ددې له پاره چې په تاسو باندې غلبه مونده کړي.له ځه امله تاسو نه وړاندې کېږیء.او دخپلې مېړانې ځخه موکار نه اخلیء، چې خپل شئونات او چارې پرېږو ساتیء.

دایوه ډېره عجیبه خبره ده، ایاتاسو ته دخپل یو شاعر و ینادر یاده کړو، «یومنل شوی اولوړ سړی روغ نه پاتی کیږی چې ترڅو یې له هری خوا نه و ینې ونه بهیږی.» دانه ستاسې دنصیحت ځای دی او نه د کوشش چې لوړ تیاپرې وسوسیء او نه مو لو یو چاروته دپر مختګ ځای دی. او س خبره یوازې دژ و ند ځخه په دفاع کې او دژ وندانه دضرو ریاتو په ساتنه کې ده. نو که لوړ ژ وند او جګ همتونه نه غواړې، نو دهغې راتلونکی بدبختې تصورو کړیء چې لااوس سو یې اغېزی ولېدلې موږ د هغو وروستنیو چارو ځنې دخدای(ج) ځخه پناه غواړو چې تاسو به یې و وینیء.استغفر الله.

زه امید کوم چې تاسې تل لوی،جګ او لوړیاستیء. دین د رځخه مېړانه غواړی او دهری بلاپه لیری کولو او شړلو کې در ځخه دغیرت غوښتنه کوی.

بېشکه ستاسو ددین خاوند صلی الله علیه وسلم د هغو چارو په ترڅ کې چې ورته وړاندې کیږی،ستاسی هغو چاروته گوري چې دحقی کلمې دجګولو او دغلیمانو دسنګولو ځنې سو دهغې دخلاصون په برخه کې کړی دی.خدای(ج) ترڅو پورې چې رښتینې درکې و نه پېژنی او صابران درکې معلوم نه کړی، هسې مونه پرېږدی.

(ای مومنانو! دخدای(ج) سرستو نکی شيء او په شیطان پسې مه ځیء ځکه چې دی مو ښکاره غلیم دی. که مومنان وی ء نو نه به سپک او نه به غمجن شیء او تل تر تله به لوړ یاستیء.) دآیت شریف ترجمه.

# یوه بله خبره

څرنګه چې دامجله ددوولویو عالمانو او فیلسوفانو (په ځانګړې توګه سیدصاحب او استاذعبده) په نامه یاده شوې ده په تېره بیا چې زه دسیدصاحب دلوړوالي او لویوالي دپېلوشو لاندې بېخي زیات راغلی یم، نو له دې امله یې په ترجمه کې ډېر وور او نریو خبرو ته ځیر وم. دا مې په خیال کې ساتله چې هسې نه ددوی دحکمت او فلسفې نه ډکو خبرو کې چېرې و ښویېږم او په ترجمه کې تېر وځم، نو دا څو خبرې مې په ځان لازمې وګڼلې چې ښاغلو لوستونکو ته یې وکړم. :

۱— په ترجمه کې دهرې ژبې دخاصو خبرو او اصطلاحاتو له امله ډېر ځله داسې پېښېږي چې یو لفظ په ځینې مطابقي او سمې معنی سره ترجمه کېدلای نه شي ، بلکه په التزامي معنی سره ترجمه کېږي. مثلاً ددې مجلې دیوې مقالې دخبرو په ترڅ کې: چې یوسړی په دنیا کې ښې چارې کړې وي، نو دهغه نوم

به‌تل تر تله پاتی‌وی ...اوخنگه‌خنگه به‌وی....نو وایی‌چې ( و خشعت لذ کره الاصوات).نو اوس که‌چېرې‌داجمله دخپلې معنی‌سرسمه تر جمه شی‌نو داسې به‌لیکو:«غبر و نه به‌و رته تیتېږی.»حال داچې په‌پښتو کې دغسې‌جمله هیڅ معنی‌نه‌ور کوی.نو که داسې‌تر جمه‌شی:« کله‌یې چې‌نوم‌یادیږی نو سر و نه به‌ورته ښکته کیږی.»په‌دې‌جمله به‌بیا هر څوك پو هیږی.

په دی ډول‌ځای‌پر ځای همدغسې نورې جملې هم‌قیاس کړی‌ء.لېکن‌سره له دې ،څوسره چې‌زمادلاسه‌شوی‌دی،دار ازجملې سی‌پخپلې معناسره تر جمه کړی‌دی، په‌دې‌خیال‌چې دمعنی په‌التزامی تر جمی‌سره چېرې‌اصلی مطلب‌بدل نه‌شی ،او خدای(ج)مه کړه ددغو امامانو ارواح‌ناهوسا کړم.

برسېره‌پردې دعربیت دقواعد و په‌لحاظ دیوحرف اوادات دخپلې معنا هغوسره سراعات‌شوی‌دی چې‌لوسړی‌دهر تو ری معنی لکه‌سببیت، استعانت، استیناف او داسې‌نورې کتل‌شوی‌دی .بیاپه‌پښتو کې‌هم په‌هغی معنی تر جمه شوی دی‌او یوحرف لکه(واو)او (فأ) بې‌خپلې معنی‌او حتی‌الفلام‌بې‌خپل مشارالیه پاتې‌شوی‌نه‌دی. او دغسې نورې وړې‌او کوچنۍ نحوی خبری‌هم دعربیت ا و هم دپښتو په حیث .

۲—دنااشنالغاتو دحل له‌پاره د(مختارالصحاح) او (المنجد) نه کار واخیستل شو ،تر دې‌پورې‌چې مثلاًجبن‌او خوف که‌څه‌هم په‌ظا هر کې سرادف بلل کیږی.په‌یوې‌معنی سره‌تر جمه نه‌شو ل.بلکه لوسړ نی‌د(بې‌زړه توب) او دویم دوېرې په‌معناسره‌تر جمه‌شو ل .

۳—دآیتونو په‌تر جمه کې‌احتیاطاً دخپل وطنی تفسیر (چې زموږ علماو نوی جوړ کړی‌دی)څخه سرسته‌و اخیستله‌شوه.هو کې! دبنا غلو لوستو نکو

په نظر کې به د ځینو مقا لو په ځنګ و کې یو څه تعلیق و بر یښې
لیکن زه باید په هغه و نه نیو لی شم. او د تر جمې نیمګړ تیاو نه ګڼله شی. ځکه په
د غسی ځایو نو کې په یوې خبرې باندې په فلسفی او منطقی تو ګه استدلال او
بر هان شوی دی. علمی او منطقی خبری چې په هر ه ژ به وی او په هر ر نګه
سلیسو او روانو عبار اتو و لیکلی شی، بیا هم دفنی او مسلکی کسانو څخه
پر ته نو رخو ك پری ښه نه پو هیږی .حتی زه و یلای شم چې دا مجله د دوی
د ځینو ا فکا ر و یو متن دی او بایه چې دچا پید لو نه و ر و سته
و ر باندې د پو ها نو له خوا را ز راز شر حی، حواشی او تبصری و لیکل شی
او مغلقات یې حل شی . (مترجم)



# غلط نامه

محترم لوستو دی مخکې له دې چې د کتاب په لوستلو پیل و کړي دغه لاندې غلطۍ دې سمې کړي :

| ناسم | سم | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|
| ودروح | دروح | دریم | ۸ |
| ملگروسر | ملگروسره | دریم | ۱۱ |
| کتات | کتاب | څلورم | ۱ |
| سرق | شرق | ۲ | ۱۳ |
| داسیو | دامیر | ۵ | ۱۹ |
| هري‌نه‌شود | پري‌نه شود | ۶ | ۲ |
| له‌ده‌پره | له‌ده سره | ۶ | ۳ |
| تر و | ترخو | ۶ | ۲۱ |
| خاوی | خا و ری | ۸ | ۲ |
| دردر ساله | دارساله | ۱۱ | ۸ |
| نښلاه | نښلاوه | ۱۳ | ۶ |
| عبدالعظم | عبدالعظیم | ۱۶ | ۱۴ |
| دورلود | درلود | ۲۱ | ۱۱ |
| ږگا و ه | ږ کاوه | ۲۴ | ۲۰ |
| ناړی | ناوړې | ۲۷ | ۱۰ |
| ستاذ | استاذ | ۲۸ | ۱۳ |
| شوی | نه‌شوی | ۲۹ | ۱۱ |

PROPERTY OF ACKU

| ناسم | سم | صخ | کربفد |
|---|---|---|---|
| فلاصوی | خلاصون | ٣٣ | ٧ |
| خیر ه | خبره | ٣١ | ٢٢ |
| خدای هغه(ج) | خدای (ج)هغه | ٣٥ | ٣ |
| ړاتیا | اړتیا | ٣٨ | ١٠ |
| وساندلی شی | وسوندل شی | ٥٩ | ١٣ |
| لەدلوستلو | دلوستلو | » | ١٩ |
| سلایونه | سیلابونه | ٥٩ | ٢١ |
| کاورکر ی | کاروکړی | ٧٢ | ١٥ |
| ترهنځ | ترمنځ | » | ١٣ |
| پەد | پەدی | » | ١٣ |
| پوهانون | پوهان | ٨٦ | ١٦ |
| لفمطی | لفظ معنی | ٩٧ | ١ |
| غزیز | عزیز | ١٠٠ | ١٧ |
| اسو ړتۀ | سو ړته | ١٢٢ | ٢١ |
| لەپا ره ره | لەپا ره | ١٢٣ | ٣ |
| دهغول | د هغو | ١٣٠ | ٨ |
| سر | سر ه | ١٣١ | ٧ |
| ادیت | دآیت | ١٣٢ | ٣ |
| دپن | دین | » | ١٣ |
| صعف | ضعف | ١٣٣ | ٣ |
| پەنو م | پەقوم | ١٣٥ | ٣ |

| ناسم | سم | مخ | کرښه |
| --- | --- | --- | --- |
| دژاړ | دژړا | ۱۳۶ | ۱۷ |
| فاع | دفاع | ۱۳۷ | ۹ |
| خلاص | اخلاص | ۱۳۹ | ۱۸ |
| دواړ | دواړه | ۱۵۱ | ۳ |
| تیتکه | تینګه | ۱۵۷ | ۱۳ |
| دبیوزلوسه | دبیوزلونه | ۱۶۳ | ۱۲ |
| قایمقامد | قایم مقامه | ۱۷۸ | ۱۸ |
| لهام | الهام | ۱۸۲ | ۱۶ |
| اغوښتلی | اغوستلی | ۱۹۷ | ۴ |
| داښلا | داښکلا | ۱۹۸ | ۲۰ |
| وکړ ی | وکړی | ۲۰۰ | ۷ |
| سلام | اسلام | ۲۰۵ | ۱۷ |
| کله | کلکه | ۲۰۶ | ۲۰ |
| دحددوو | دحدودو | ۲۱۶ | ۱۱ |
| پاود | اود | ۲۲۵ | ۱۹ |
| اچهانو | پاچهانو | ۲۲۵ | ۲۰ |
| درهندیانو | دهندیانو | ۲۳۰ | ۱۳ |
| نوړ | نور | ۲۳۱ | ۱۲ |
| ځانونونه تهٔ | ځانونوته | ۲۳۸ | ۱۳ |
| هندوچنین | هندوچین | ۲۴۹ | ۷ |
| دپیغمبرنو | دپیغمبرانو | ۲۵۶ | ۵ |
| اغوال | احوال | ۲۶۳ | ۱۳ |

# کو ر و د ا نی

دپښتو ټولنې دخپر ونو لــــوی‌مدیریت له ښاغلی خیر محمد ساد

نــــه تشکر کوی چــی ددی کتاب (عروة الوثقی) په نقل او تصحیح

کی یی ډیر زیار ویستلی او دغــه‌متن یی چاپ ته‌تیار کړی دی.

موږ ددغه زیار منته کوو اوکوروداني ور ته وایو.

PROPERTY OF ACKU 1507

# *AL-ORWATUL WOSQA*

Translated by : Qazi Obaidulla

***Pashto Academy***

دولتی مطبعه